د محبت خان د دوه سوم تلین په مناسبت

۱۲۲۳-۱۴۲۳ هـ ق

دنواب محبت خان پښتو دیوان

سریزه اوسمون

د

سرمحقق زلمي هیواد مل

۱۳۸٤

د نواب محبت خان دوه سوم تلین

۱۲۲۳ - ۱۴۲۳ هـ . ق

د نواب محبت خان بريشي پښتو ديوان

سريزه، سمون او لغتنامه

د

سرمحقق زلمي هيواد مل

PROPERTY OF ACKU 14049

خپروونکی

د افغانستان د علومو اکادمي

د ژبو او ادبياتو مرکز

د پښتو ادبياتو انستيتوت

۱۳۸٤ هـ ش

اهدأ

ګران استاد کانديد اکاډمسين پوهاند ميـر حسـين شـاه تـه چې: پـه لومړي ځل يې د نواب محبت خـان د پښـتو ديـوان پـه بـاب معلومات او دده يو پښتو غزل د افغانستان په مطبوعاتو کې خپاره کړل .

د کتاب پېژندنه:

- **د کتاب نوم** : د نواب محبت خان بړيخی پښتو ديوان
- **شـــاعـــر** : نواب محبت خان بړيخی
- **مـــــدون** : سرمحقق زلمی هيواد مل
- **ډيزاين او کمپوز**: د نشراتو درياست د کمپيوټر څانګه
- **دکمپوزدچارو متصدی**: محمد جاويد امان
- **د چاپ کـال** : ۱۳۸۴ هـ . ش ۲۰۰۵ م
- **دچاپ شمېر** : ۱۰۰۰
- **دچـاپ ځای** : د پوهنې مطبعه، کابل

مننه او کوروداني

دافغانستان د لنډ مهالي اداري د ۱۳۸۱/۳/٦ نېټې د (۴۰) ګڼه فرمان پر بنسټ د افغانستان د علومو اکادمي ته دنده ورکړه شوې وه چې د څلورو ژبو (پښتو، پارسي، اردو،عربي) د شاعر او ليکوال نواب محبت خان د دوه سوم تلين (۱۲۲۳ - ۱۴۲۳ هـ. ق) د نمانځنې په مناسبت په سيمه ييزه کچه يو دوه ورځنی علمی – څېړنيز سيمينار جوړ کړي او همدارنګه د دغه سيمينار په ويار يو شمير آثار په ځانګړې توګه د نواب محبت خان پښتو او دری ديوانونو د چاپ سپارښتنه هم شوې وه، چې له نيکه مرغه د نورو بريالو ترڅنګ په دې بريالي شوو چې د افغانستان د علومو اکادمي د ژبو او ادبياتو د مرکز د علمی غړي او په فرهنګي چاروکې د دولت د سلاکار وزير ښاغلي سر څېړونکي زلمي هيوادمل په نه ستړي کيدونکي هاند او هڅو او ځانګړې پاملرنې په پايله کې د نومورې نواب ((رياض المحبت)) او ((پښتو ديوان)) ترلاسه کړو.

ښاغلی هيوادمل صاحب چې د سيمينار د تدوير د عالی کميسيون غړی هم و، له زياتو مصروفيتونو سره سره يې تياری وښود چې د نواب محبت خان د پښتو ديوان متن به له سمونو وروسته چاپ ته چمتو کوي نومورې دا کار وکړاو يوه مفصله او مغټمه سريزه يې پرې وليکله، وې پانګه او د اشعارو فهرست يې ترتيب او اثريې په بشپړه توګه چاپ ته آماده کړ، په دې برسيره يې داثر د درست او صحيح چاپ په منظور د اهتمام چارې هم په خپله ترسره کړې او د ترس په اصلاح او سمونه کې يې پوره پوره زيار پرځان ومانه چې دادی د نومورې دانشمند وزير د هر اړخيز زيارثمره ((دنواب محبت خان برېڅی پښتوديوان)) زمونږ په لاس کې دی، چې له هره حيثه د ځانګړي ارزښت لرونکی دی. زه د

افغانستان د علومو اکادمي د رئيس ښاغلی د سرځېړونکی مرستيال عبدالباری راشد او مشرتابه هيأت په استازيتوب؛ په فرهنگی چاروکې د سلاکار وزير ښاغلي سرځېړونکی زلمي هيواد مل څخه چې له پريمانه فرهنگی او اداري مصروفيتونو سره سره يې دغه ارزښتمن اثر د چاپ ډگرته راوايست؛ ډيره منه کوم؛ په داسې حال کې چې دده فرهنگی مينه ستايم، ده ته د لوی څښتن (ج) له دربار څخه د افغانی فرهنگ د غوړيدو په لارکې د لازياتو بریاوو هيله هم کوم .

و من الله التوفيق

د سرځېړونکي مرستيال نصرالله ناصر

د افغانستان د علومو اکادمی علمی منشي

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

په ۱۴۲۳ هـ ق کال د پښتو، دري، عربي او هندي ژبو د شاعر او درياض المحبت دليکوال نواب محبت خان د مړينې دوه سوه کاله پوره شول. د افغانستان د حکومت له فرمان سره سم د افغانستان د علومو اکادمی ته وظيفه ورکړل شوه چې دنواب محبت خان د دوه سوم تلين په مناسبت دې بو منظقه يې سيمينار جوړ کړي.

د نواب محبت خان د تلين په مناسبت د سيمينار جوړ ولو په حکومتی فرمان کې داهم راغلی وو، چې ددغه تلين په مناسبت دې دده دري او پښتو ديوانونه هم چاپ شي.

دتلين د نمانځنې د علمی چارو د تدارک کميسيون د نواب محبت خان د پښتو ديوان د چاپ چارې ماته راوسپارلې وې او د اکادمی درياست درسمي ليک له مخې ژه د سيمينار د علمي چارو د تدارک د کميسيون له دې فيصلی خبر شوم.

دنواب د پښتو ديوان يوازينی معلومه نسخه د بريتانيا په کتابخانو کې وه، ما سملاسی په کابل کې د بريتانيا سفارت ته دده د پښتو ديوان د فوتو کاپی درالیږلو په باب وليکل او ورسره مې دده دپارسی ديوان او رياض المحبت د مايکرو فلم غوښتنه هم ترې کړه. زما له غوښتنی درې څلور مياشتې وروسته په کابل کې د بريتانيا سفارت، دانډيا آفس لايبريری له ذخيرې — چې اوس په برټش لايبريری کې ساتل کيږي — درياض المحبت او دفارسی ديوان په نامه ديوې بلې نسخی مايکرو فلمونو راواستول. هغه وخت په کابل کې د مايکرو فلم لوستو ماشين فعال نه و او نه چا داحوصله درلوده چې د رياض المحبت په شان د پنځه کتاب مايکرو فلم دې په ماشين کې ولولي، نو ځکه د اکادمی د غوښتنې له مخې ما د دوکتور فاروق وردک په وساطت د UNDP له موسسې څخه وغوښتل چې د رياض المحبت د مايکرو فلم فوتو ستيټ نسخه تهيه کاندي.

څه موده وروسته دUNDP له خوا فوتوستيټ شوې نسخه د څيړنې لپاره اکادمی ته وسپارله شوه. د پارسي ديوان په نامه چې کوم مايکرو فلم راغلی و له دې مايکرو فلم څخه اکادمی په خپل لګښت عکسی نسخه تهيه کړه، خو کله چې عکسي نسخه وليدل شوه، نومعلومه شوه، چې دا د محبت خان پارسی ديوان نه، بلکه د خيالات زمانی نسخه ده.

اما د پښتو ديوان معضله حل نه شوه. د ۱۳۸۱ هـ ش کال په مني کې مې بيا د بريتانيا سفارت ته وليکل چې ستاسو په راکړل شويو مايکرو فلمونو کې دنواب محبت خان پښتو او پارسی ديوانونه نه وو،داخل مې د دوکتور ميکنزی له فهرسته د پښتو ديوان د خطی نسخې د ضبط نومره او د کتابخانی نوم او نور مشخصات ټول وروليکل اوداخبره مې هم پرې زياته کړه،چې دنواب محبت خان د دوه سوم تلين د سيمينار جوړيدل همدې ديوان ته معطل دي.

له پرله پسی یادونو او مکررو غوښتنو سره سره د ۲۰۰۳ م کال په مارچ کې د فوتوستیټ نسخې پرځای د پښتو دیوان مایکرو فلم کابل ته راورسید او د بریتانیا هغه وختنی سفیر جلالتمآب RonNash دا مایکرو فلم پخپله راوړو او په ډیره مهربانی یې ماته وسپاره.

د مایکرو فلم دلوست د ماشین نشتوالی له یوې خوا او زما ورځنی مصروفیتونه له بلې خوا، بیاهم زه مجبور شوم چې دا مایکرو فلم هم عکس کړم. د ښاغلی کاوون کاکړ په مرسته د محبت خان د پښتو دیوان د مایکرو فلم عکسی نسخه جوړ شوه او ماپرې خپل کار پیل کړ. شاو خوا پنځه میاشتې می پردې متن له یوې خواکار کاوه اوله بلې خوا مې کمپیوتر ته د کمپوز لپاره سپاره.

ترکمپیوتر او تصحیح وروسته دادی چاپ ته تیار شو او اوس داسریزه پر کارم، خومخکې تردې چې پدې سریزه کې د نواب محبت خان پرژوند، آثارو او دده پر دیوان څه خبرې وکړم، په کابل کې د بریتانیا د هغه وختنی سفیر جلالتمآب RonNash ؛ دوکتور فاروق وردک، ښاغلی کاوون کاکړ،د Bodleian Library له مسوولینو د زړه له کومی مننه کوم چې د نواب محبت خان د دیوان او نورو آثار د مایکرو فلمونو د عکسي نسخو په تهیه کې یې له ماسره مرسته کړې ده.

ترمننو وروسته اوس ددې وار رارسیدلی دی چې پر نواب محبت خان دشوي کار جاج واخیستل شی او هغه مآخذ ارزیابی شی چې پدې سریزه کې تړې استفاده کیږي.

پر محبت خان دشوي کار جاج او د مآخذ و ارزیابی :

دمحبت خا پرژوند دده احوالو هندی تذکرو ته لاره پیداکړېده؛ ده پر خپل ژوند خپل آثار د شرقی هند د کمپنی ځینو افسرانو ته ورکړي او د نولسمی

پیړۍ په لومړۍ نیمایی کې اروپا ته رسیدلی وو. اما دده په پلرني وطن افغانستان کې د شلمې پیړۍ د څلویښتو کلونو د لومړۍ نیمایی تروروستیو لسیزو پورې چا دده نوم نه پیژاند او نه یې فرهنګی او علمی شخصیت ورمعلوم و.

دغی لنډې توضیح ته په پاملرنه پر نواب محبت خان دشوی کارجاج په لاندی ډول اخیستل کیږي:

(۱) په هندی تذکره نګارانو کې میرحسن په لومړنیو کسانو کې شامل سړی دی، چې په خپله (تذکرهٔ شعرای هندی) نومې تذکره [۱] (د ۱۱۸۸ هـ ق تالیف) کې یې محبت خان د شاعر په توګه یاد کړی دی.

د اسرار محبت د مقدمې لیکوال دوکتور نسیم احمد په میر حسن پسې دګلزارابراهیم (۱۱۹۸-۱۲۰۱ هـ ق تالیف)لیکوال نواب علی ابراهیم خان خلیل دویم سړی بللی دی، چې دشاعر په توګه یې د محبت خان یاد په څه تفصیل سره کړی دی؛ د نواب ریخته دیوان او اسرار محبت دواړه یې یاد کړي دي او د اسرارمحبت نمونه یې هم راوړې ده، اما که د تقدم مسأله په پام کې ونیسو نو د طبقات الشعراء (۱۱۸۸-۱۱۸۹ هـ ق تالیف) لیکوال مولوی قدرت الله شوق باید د ګلزار ابراهیم تر لیکوال د مخه یادکړو، ځکه دده تذکره د میرحسن سره همزمانه تالیف شوې ده، خو البته دایوه خبره پکې شته، چې مولوی قدرت الله دنواب محبت خان شرح حال په تفصیل سره نه دی راوړی؛ سره له دې چې دده د مرتب دیوان د موجودیت یادونه یې نه ده کړې، خو دنواب ۱۲۳ بیته یې دده د کلام د نمونې په توګه راوړي دي .[۳] د اسرار محبت د مقدمې لیکوال، سرور [۴] او مصحفی [۵] هم د نواب معاصر تذکره نګاران ښوولي دي چې د نواب احوال یې راوړي دي، خود (دیوان محبت) او (اسرار محبت) یادونه یې نه ده کړې. له مصحفی او سرور سربیره بهګونداس هندی هم دنواب معاصر و او

دنـواب پرژونـد يـې دده احوالـو تـه پـه خپلـه تـذکره کـې ځـای ورکـړی دی. بهګونداس لیکلی دي : ((با مولف ربط دوستی دارند)) دا یادونه په دې ګواهي لي چې بهګونداس د نواب محبت خان پروژند دده احوال په خپلـه تـذکره کـې راوړي دي.

له دغو یادوشویو تذکرو سره په نورو ډیرو زړو تذکرو کـې هـم د نـواب احوال راغلی دي، لکه د میرزا علی لطف په ګلشن هند (۷)دمیر قدرت الله قاسم په مجموعهٔ نغز (د اختتام کال ۱۲۲۱ هـ ق) . دلته ما یوازې څو تذکرې یادې کړې،که نه وې دغسې تذکرې خو را زیاتې دي؛ داتذکرې د نواب د ژوند پیښو او احوالو په باب ډیر څه نه لري، زیاتره دده د سخاوت،مروت، اخلاقو او زیرکۍ په باب بیانونه لري؛ په ځینو کې یې د پلارنوم نه دی ښوولی او په ځینـو کـی یـې لکهنو ته دراتګ ذکر نه دی شوی، ځینو یې د آثارو یادونه نه ده کړې، ځینو یـې بیا په آثارو کی یوازې دیوان ریخته ښودلی دی، ځینو د دیـوان ریختـه تـر څنګـه ډسیسی او پنون د قصې یادونه هم کړې ده. پـه عـام ډول دا تـذکرې د نـواب د احوالو او آثـارو پـه بـاب تکـرار خبـرې ډېـرې لـرې او ډیـر څـه مورتـه نشـی راکولای، خو په خاص ډول کولای شو ددغو تـذکرو لـه ځینـو نکتـو او یـادونو دنواب د شرح حال د بشپړ تابه په مراتبو کې کارواخلو.

په لرغونو آثارو کې له تذکرو سربېره د روهیلکهنډ په تاریخ پورې ځینو مربوطو تاریخي او نورو کتابونو کې هم د نواب محبت خان په باب ځینې یادونې او بیانونه شته، لکه په ګلستان رحمت، د عجایب اللغات مقدمه، سـیرالمتاخرین، عمادالسعاده، ګل رحمت، اخبار الصنادید او د نـواب پرکـور نـی لیکـل شـوي ځینې نورتاریخي آثار.په معاصردوران کې ځینوهندې لیکوالو د نواب محبت خان په باب مقالې کښلې او د نواب حافظ رحمت خان او روهیکهنډ پـه بـاب کښـل

شو یو کتابونو کې هم دنواب محبت خان په باب ځینی بیانونه راغلی دی، لکه : دالطافبریلوی په حیات حافظ رحمت خان او د مفتی ولی الله په عهد بنګش کې .

دمعاصرانو لیکنې د ځینو ناسمو خبرو تر څنګه د نواب د احوالو، آثارو او سیرت په باب د کار خبرې هم لري او سړی‌کولای شي د محبت خان په باب څیړنو کې ښه استفاده ځنې وکړي .

د معاصر دوران نورو هندي آثارو او حیات حافظ رحمت خان نومي کتاب کې چې د نواب محبت خان په باب څه معلومات راغلی دي، د دولسمې دا واخرو او دد یارلسمې پیړۍ د تذکرو له موادو په مراتبو زیات دي، اما په هند کې د نواب پر ژوند او آثار و له ټولو یادونو، بیانو نو او مقالو نسبی بشپړه لیکنه د دوکتور نسیم احمد ده چې د نواب محبت خان د اسرار محبت د مثنوي په پیل کې د مقدمې په توګه چاپ شوې ده.په دې مقدمه کې ده دنواب محبت خان په باره کې د لیکلو شویو- ده ته په لاس ورغلیو- آثارو نقادانه ارزیابي هم کړې ده اودنواب دژوند اوادبی سیرت په باب یې مستنده څیړنه وړاندې کړې ده.

(۲) زمادمعلوماتو له مخې دنولسمې پیړۍ په مستشرقینوکې پروفیسوربرنارد دورن (۱۸۸۱ – ۱۸۰۵ م) او هاتری جارج راورتی (۱۸۲۵– ۱۹۰۶م)دنواب محبت خان له نامه سره آشنا وواوددە ریاض المحبت یې لیدلی و او د ریاض المحبت په باب لنډې تبصرې لري.

دیو دلیان لاییربري د خطی نسخو دفهرست په لومړی او دویم ټوکونو کې او د پروفیسور وبلومهارت د برټش میوزیم د خطی نسخو په فهرست کې د نواب محبت خان د آثارو د ځینو خطی نسخو د معرفی په شرح کې دده د ژوند او آثارو په باب ښې د کار یا دونې هم راغلې دي.

په معاصرو مشرقينو کې دوکتور ميکنزي په خپل فهرست کې د نواب د پښتو آثارو هغه خطی نسخې معرفي کړې دي، چې د بريتانيا په کتابخانو کې محفوظې دي؛ فقيد ولاديمير واسيلو ويچ کوشيف (۲۰۰۱ م) درياض المحبت مطالعه کړې او په خپلو دواړو فهرستونوکې يې دده دغينو آثارو خطی نسخې معرفي کړی دي[۱۰]

(۳) د افغانستان مطبوعاتو ته د نواب محبت خان نامه دشلمې پيړۍ د لومړۍ نيمايی په وروستۍ لسيزه کې لاره پيداکړې ده.

لوی استاد اروابناد پوهاند عبدالحی حبيبی (۱۳۲۸-۱۴۰۴ هـ ق) په خپله يوه رساله نومور کې مورخين کې نواب محبت خان د يونو مورکی مورخ په توګه پرمورِ راوپيژاند. د استاد دا رساله لومړی ځل په کابل کالنۍ کې چاپ شوې ده، او دويم ځل له څه اضافو سره په ۱۳۵۹ هـ ق کال په مستقل ډول د کابل پوهنتون له خوا چاپ شوه. په دې چاپ کې د نواب محبت خان د ژوند پيښو په باب نورې اضافې خبرې هم راغلې دي؛ دده د فارسی شاعرۍ يوه لنډه يادونه يې کړې او يو پارسی غزل يې هم ورته را وړی دی. دلته ددې خبرې يادول لازم دي، چې نواب محبت خان مورخ نه و او نه دده کوم تاريخی اثر تراوسه ليدل شوی دی، دا نظريه – چې دی مورخ ښيي هم د مستشرقينو او ځينو خپرونکو له غلط بيانيو را زيږ يدلی ده، البته پدې شک نشته چې د رياض المحبت د ځينو توکيو په تشريح کې تاريخی خبرې راغلی دی، خو داکتاب تاريخی کتاب نه، بلکه يو فرهنګ دی. ځينو ځپرونکيو رياض المحبت په دريو وبر خوويشلی دی او ويلی يې دی چې په يوه برخه کې يې د پښتنو د تاريخی احوالو بيان راغلی دی؟ اصلی خبره داده چې نواب محبت خان د رياض المحبت د دويم باب په بيلا بيلو رديفونو کې د نورو لغاتو ترڅنګه د ځينو پښتني

قبیلو او سیمو نومونه هم راوړي دي او لنډه شرح يې ورته ليکلی ده چې دانه کومه جلا برخه او نه رياض المحبت درېيمه برخه لري، بلکه دانومونه د دويمی برخې په ترڅ کی توضيح شوي دي.

دغه راز استاد حبيبی چې د بلومهارټ د فهرست د پښتو خطی نسخو (دلندن ميوزيم) ترجمه د شلمو کلونو په کابل کالنيو کې د پښتو ادب ورکې پاڼې په نامه نشر کړه، پدې ترجمه کې هم د نواب دشرح حال په باب لنډې، خودکار خبرې راغلي دي او دده د رياض المحبت د برټش ميوزيم خطی نسخه پکې معرفی شوې ده. ددې ترجمې له يادونو هم چا استفاده نه ده کړې.

د پوهاند صديق الله رښتين (۱۲۹۸-۱۳۷۸ هـ ش) د پښتو ادبياتو تاريخ غالباً دويم مستقل اثر دی، چې د نواب محبت خان په باب پکې لولو : نواب محبت خان د حافظ رحمت خان زوی دی، يو عالم سړی و، په عربی، اردو، فارسی او پښتو ژبو کښې يې اشعار درلودل، وايي چې په سنسکريت هم پوهيده او په فارسی کښې هم ځينی تاليفات لري، ده په پښتو کښې په (۱۲۲۱ هـ ق) د رياض المحبت په نامه يو خورا مهم کتاب ليکلی دی، دا کتاب د پښتو يو مهم لغت دی او د افعالو ګردانونه هم لري. راورټی انګريز ليکلی دي چې دا کتاب د پښتو يو لغوي او ګرامري کتاب دی [۱۱]

نوموړی استاد رښتين په خپلو نورو متفرقو نو شتو کې د نواب په باب ځينی يادښتنو نه نشر کړې دي او په خپل بل مستقل اثر د پښتو نثر هنداره کې يې هم ځای ورکړی دی [۱۲] د پښتو نثر هنداره نومي کتاب کې د نواب محبت خان راوړل پدې دلالت کوي، چې دی به د پښتو نثر نګار و، خو دده کوم پښتو منثور اثر تراوسه نه دی ليدلی شوی، دی يې د رياض المحبت د تاليف پر اساس د پښتو نثر نګار په توګه پدې کتاب کې معرفی کړی دی، حال داچې

ریاض المحبت د پښتو نثر کتاب نه دی، بلکه ټول تشریحات یې په پارسي ژبه دي .

کاندید اکادمیسین پوهاند میر حسین شاه لومړنی عالم دی چې د شملې پیړۍ د شپیتمو کلونو په پیل کې یې په انګلستان کې د نواب محبت خان پښتو دیوان وکوت؛ یادښتونه یې ترې واخیستل او کله چې بیرته هیواد ته راستون شو، نویې دانګلستان د کتبخانو له ځینو پښتو خطی نسخو د خپلو اخیستو یادښتونو د نشر په ترڅ کې د نواب محبت خان د پښتو دیوان په باب اخپل اخیستی یادښت په ورڅه کې نشر کړ او دده یوه پښتو غزله یې هم راوړه [۱۳]

د استاد میر حسین شاه له دې یادښته څخه یوازی د ۱۳۷۰ هـ ش کال په یوه څېړنه کې استفاده شوې ده او نور نوچا ترې استفاده نه ده کړې .

بل منظم اثر چې د نواب محبت خان په باب بیان لري، روهیله پښتانه نومیږي. د نواب په باب ددې کتاب لیکنې ترنورو افغانی لیکنو یو څه زیاتې دي خوټولې پر خارجي منابعومتکی دی، هغه تیروتنې چې د مولف په منابعو کې راغلې دي دغه اثر ته یې هم سرایت کړي دی [۱۴]

له دې سربیره په متفرق ډول په ځینو نورو کتابونو او مقالو کې هم د نواب محبت خان په باب یادونې راغلې دي. دا یادونې زیاتره د نواب محبت خان د ریاض المحبت په باره کې دي. په ۱۳۵۶ هـ ش کال کې د ریاض المحبت په باب د کوشیف څېړنه په پښتو ترجمه او په کابل کې چاپ شوه [۱۵].

له ۱۳۵۶ هـ ق کال راپدیخوا زما په ځینو آثارو کې د نواب محبت خان او دده د آثارو په باب ځینې یادونې راغلی دي، لکه :

په فرهنګ زبان و ادبیات پښتو لومړی ټوک کې، د هغه کتاب له غوښتنو سره سم د نواب په باب پوه یادونه راغلې ده؛ کومې خبرې چې ماد نواب په

بـــاب دفرهنـــګ پـــه لـــومړی ټـــوک کـــې راوړې دي،هغـــه زيـــاتره دحيات حافظ رحمت خان د کتاب د خبرو لنډيز دی؛ په آثارو کې مـې يـې يـوازې ريـاض المحبـت او آمدنامـه ښـوولې دي [۱۶] د ديوانونـو او اسـرار محبت يادونه مې يې نه ده کړې .

- د هند د کتابخانو پښتو خطی نسخې نومي اثر په متن کې مـې د هنـد پـه کتابخانو کې د رياض المحبت درې موجودې خطی معرفی کـړې دي او پـه تعليقاتو کې می د نواب محبت خان او رياض المحبت په باب يوکوچنـۍ يادښت راوړی دی [۱۷] .

- پـه فرهنـګ ادبيـات دويـم ټـوک کـې مـې د نـواب د پښـتو ديـوان او رياض المحبت په باب يادښتونه خپاره کړي دي [۱۸]

د پښتو دادبی تاريخ خطی منابع نومي اثر کې مـې د ريـاض المحبـت دهغـی نسخې پيژندنه راوړې ده چې د سـنت پترزبـورګ د ختيځپـوهنی دانسـتيتوت پـه خطی نسخو کې موجوده ده.[۱۹]

- دروانې هجری شمسي پيړۍ دشپيتمو کلونو په پای کې ما دنواب محبـت خـان د پارسی شاعری په باره کې يوه مقاله و ليکله، چې عنوان يې و (نواب محبت خان دری پردازی از ديار هندوستان) دا مقاله د ژوندون په مجله کې چـاپ شوې ده. کله چې ما دا مقاله ليکله د نواب د پارسی ديوان د خطی نسخو په باب له ماسره معلومات نه ووا‌و مقاله مې دده د متفرقو خپـرو شـويو پارسـي آثار و په استناد ليکلی ده .

- په ۱۳۶۹ هـ ش کال کې ماد سر محقق علمی رتبې ته د ترفيع لپـاره پـه هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو د پيدايښت او پايښت د مسألی څيړنه د تبسس پـه توګه وټاکله او پردې موضوع مې کارپيل کړ. دا کتاب پـه ۱۳۷۰ هــ ش کـال

کې پشپړ شو ،پوره نوم يې دی : - په هند کې د پښتو ژبې د ايجاد او ودې پراوونه – ددې کتاب د پشپړ تابه په مراتبو کې مې د نواب محبت خان د ژوند پيښو څيړنې ته هم اړتيا وه، د موجود اسناد و په رڼا کې يونسې اوړده څيړنه دده د ژوند پيښو او آثارو په باب پکې راغله . د مرګ کال يې تصحيح شو؛ د پښتو ديوان په باب يې معلومات پکې راغلل؛ يوه پښتو غزله مې يې هم راوړه. د نواب حافظ رحمت خان په شهادت چې ده کومې تاريخي قطعې په پښتو، پارسي، هندي او عربې ژبو ويلي دي او دده ورور نواب الله خان (۱۲۴۸ هـ ق مړ) د عجايب اللغات په مقدمه کې راوړې دي؛ زمونږ څيړنو کې داقطعې په غلطه د نواب الله خان بلل شوي دي. زما په هماغه کتاب کې دا قطعې داصلي ويونکی نواب محبت خان و بلل شوې او دده په پښتو آثار و کې دې لاندې قطعې هم ځای ونيو:

چې حافظ رحمت شهيد شه په ژړاشه هرسړی
مـــردوزن له ډيـــره درده په ناروشه په هی‌هی
زه په فـــکر د تـــاريخ کې مســـتغرق وم
ناګهانه هاتف غږ کړ چې رحمت و دنبي دامت دی [۲۰]

زما د معلوماتو توله مخې په پښتو څيړنو کې دا قطعه لومړی ځل په ۱۹۷۲ م کال د پيښور د پښتو اکادمی د پښتو مجلې کې د پروفيسور محمد نواز خان طاير په يوه خبره شوه مقاله کې [۲۱] د نواب الله خان وبلل شوه او له هغه ځايه بيا په روهيله پښتانه [۲۲] روهی ادب [۲۳] او پښتانه شعراء پنځم ټوک [۲۴] کې هم د نواب الله يار خان په نامه ضبط شوې ده. د نواب الله خان د عجايب اللغات د مقدمې له دقيق نه لوسته داتيروتنه پيښه ده، کې نه وي نواب الله يار خان د عجايب اللغات په مقدمه کې ښکاره ليکلی دي : «... تاريخهای

شهادت خان شهید تصنیف نواب محبت خان مرحوم هندی و پښتو و فارسی و عربی نوشته میشود)) [۲۵] پوهاند رښتین د عرفان مجلې د ۱۳۵۵ هـ ش کال د لسمې ګڼې په ۶۰ مخ کې دا قطعې د نواب محبت خان بللی دي، ځکه ده دنواب الله یار خان د عجایب اللغات مقدمه لوستی وه .- په روهیله پښتانه — کې د پښتو مجلی د یادې شوې په استناد دا قطعه د الله یار خان بللـه شوې او د الله یار خان په بحث کې یې راوړې ده خو ورسره یې د استاد رښتین د مقالې حواله ورکړې او دایې ویلي دي چې رښتین داقطعه د محبت خان بولي.

- په ۱۳۷۶ هـ ش کال کې زمایو پارسی اثر (رشد زبان و ادب دری درګسترهٔ فرهنګی پښتو زبانان) په پیښور کې خپور شو. ددغه اثر په یوه برخه کې هم د نواب محبت خان د پارسی شاعری په باب لنډې خبرې راغلې دي [۲۶].

- په افغانستان کې چې د نواب محبت خان په باب کوم کارونه شوي دی، په ابتداء کې ټول په خارجي منابعو متکی وو. زیاتره دراورتی او ورپسې دحیات حافظ رحمت خان پرلیکنو. د نواب د خپلو آثار و په استناد لیکنې او یادښتونه له ځلوپښتمو کلونو زمور مطبوعاتو ته لاره پیداکړه. پوهاند میر حسین شاه په انګلستان کې دده پښتو دیوان و کوت؛ استاد رښتین هند ته په خپلو سفرونو کې د نواب محبت خان د ریاض المحبت او د نواب الله-خان د عجایب اللغات خطی نسخې وکتې؛ د شپیتمو کلونو په جریان کې هندوستان ته زما سفرونه وشول؛ ما هم په رامپور او کلکته کې د ریاض-المحبت دري نسخې وکتې او د عجایب اللغات نسخه مې هم وکتله نو همداوختونه د نواب په باب څه یادښتونو د داخلی منابعو په اسناد هم چاپ او خپاره شول. له ځینو محدود ویادښتونو او آثارو پرته په افغانستان کې د

نواب محبت خان په باره کې خپاره شوي يادښتونه، ضمني څېړنې او يادونې نيمګړې اوله تيروتنو سره ملې دي .

۴- په پښتو نخوا، پاکستان او ايران کې د شلمې پيړۍ د دويمې ځمايې له لومړۍ لسيزې د نواب محبت خان په باب ځينې ليکنې خپرې شوې دي، دالیکنې زياتره د کتابونو په ترڅ کې راغلې دې او په يوه نيمه مقاله کې هم يادشوې دي.

- د ادبيات سرحد په دريم ټوک کې مور د نواب محبت خان په باب ځينې خبرې مومو، چې زياتره د نويو معلوماتو په رڼاکې سمې نه خيژي اما بيا هم پدې سيمه کې دا کتاب لومړنی اثر دی چې نواب محبت خان ديواردوژبې شاعر په توګه مطرح کوي [۲۷]

- عبدالرؤف عروج په ۱۹۷۱ م کال په کراچی په اردو ژبه يوه تذکره جوړه کړې او چاپ کړې ده، چې (تذکرۂ فارسی گو شعرای اردو) نومېږي. ددې تذکرې په ترڅ کې هم د نواب محبت خان لنډ شرح حال او دده د پارسي شاعرۍ نمونې راوړل شوې دي [۲۸]

- په ۱۹۷۲ م کال په کوټه کې د چاپېدونکې (اولس مجلې) د نومبر او دسمبر په ګڼه کې د اروابناد عبدالحليم اثر يوه مقاله چاپ شوه، په دې مقاله کې د نواب محبت خان په باب څه مطالب بيان شوي دي. دا مطالب هم زياتره د مستشرقينو او ځينو نورو خارجي منابعو په رڼاکې ليکل شوي او د نواب محبت خان په باب موجودې اشتباوې پکې تکرار شوې دي.

- په ۱۹۷۷ کال د پروفيسور محمد نواز خان طاير روهی ادب لومړۍ ځل په دووټوکونو کې چاپ شو. ددې کتاب په دويم ټوک کې يې د رياض المحبت د معرفي په ترڅ کې دده پرژوند او احوالو هم څه خبرې کړې دي

د اردو او پارسي کلام ځينې ټوټې يې هم راوړې دي؛ په دويم چاپ کې يې هم دغه بحث راغلی دی.

- تاریخ شعرای روهیلکهنډ نومی کتاب په ۱۹۸۹ م کال په کراچی کې چاپ شوی دی، په دې کتاب کې د روهیلکهنډ د سیمې دیو شاعر په توګه دنواب محبت خان شرح حال راغلی دی : دکتاب مولف سید تعظیم علی نقوی د ځینو هندی تذکرو په استناد دده پروژند او احوالو خبرې کړې دي او دده شاګردان يې هم ښوولي دي [۲۹]

- اروانباد پروفیسور افضل رضا په خپل یو اثر (اردو کی قدیم پشتون شعراء) کې د نواب محبت خان شرح حال د اردو ژبې د یو شاعر په توګه راوړی دی او دده دشرح حال په تکمیل کې يې له پخوانیو اردو تذکرو او په اردو ژبه کښل شویو معاصر آثارو استفاده کړې ده او دده داردو شاعری ځینې نمونې يې هم راوړې دي [۳۰]

- په ایران کې د چاپ شوې دانشنامهٔ ادب فارسی په څلورم جلد دربیمه برخه کې يې نواب محبت خان د پارسی ژبی د یو شاعر په توګه معرفی کړی دی. دده داردو، پښتو، او پارسی دیوانونو خطی نسخې يې ښوولې دي، د بودلیان د کتابخانې د فهرستونو او هندی تذکرو په استنادیې د محبت خان داحوالو او آثارو په باب معلومات راوړي دي [۳۱]

داو، پر نواب محبت خان شوی کار چی مایې لنډجاج واخیست، په دغو کارونو کې ځینې ښې ځیرنې او لیکنې شته او ځینې له غلطیو ډکې او تکراري لیکنی هم. مایې ددغه جاج په ترڅ کې ځینې تیروتنې یادې کړې او ځینې به يې د مقدمې په تورو مباحثو کې یادې شي .

زه په دې سريزه کې له دغو يادوشويو آثارو – چې په خارجي منابعو کې راځي – هم استفاده کوم او له ځينو داخلي منابعو چې دده خپل آثار دي هم ګټه اخلم، ددغو دواړو ډولو منابعو په مرسته زيار باسم دده د ژوند او احوالو يوانځور وړاندې کړم.دده آثار وښيم او په فکريې څه خبرې وکړم .

کورنۍ او نسب :

د نواب محبت خان پلار حافظ رحمت خان نوميده او نيکه يې شاه عالم خان، غورنيکه يې محمود خان او ترنيکه يې شيخ شهاب الدين مشهور په کوټه بابا و. نواب محبت خان ويلی دی : ((زما پلار حافظ الملک حافظ رحمت و)) دغه شيخ شهاب الدين د خلاصة الانساب له قوله : ((از مضافات قندهار از موضع پشين و شوراوک که وطن اصلی ترين و برېچ است بيجا شده آمده در ضلع اتک و لنګر کوټه استقامت نمود ...)) [۳۲]

نواب محبت خان هم په خپل ديوان کې دغې موضوع ته داسې اشاره لري:

که اجداد مې د پښين د شوراوک وو *

روهيلی يم چې مې پلار راغی له روهه [۳۳] وايی چې شهاب الدين د قادريه طريقې پيرو؛ د کشف او کراماتو خاوند و. شيخ شهاب الدين دچنج هزارې په شاهی ډير کې ښخ دی.

شيخ شهاب الدين دري زامن درلودل : پايې، محمود او آدم. پايی يې مشر له يوې؛محمود او آدم يې دبلې مور وو. محمود چې په موتي مشهور و، د کمالزو له سردارانو سره يې قرابت ټينګ کړ، په شهامت پورکې يې استوګنه اختيارکړه اوهلته مړشو.له ده پنځه زامن پاتې شول چې يو پکې شاه عالم خان و [۳۴].

د شاع عالم پو توريالی، بهادر، عالم او حافظ زوی، لکه چې د مخه يې

بیان تپر شو نواب حافظ رحمت خان و، چې زمونږ د شاعر نواب محبت خان پلار دی.

د نواب محبت خان کورنۍ برېخې په برېخو کې بدلزي او په بدلزو کې بیاددوی کورنۍ له شیخ کوټه بابا سره د نسبت په اساس په کوټه خیلو مشهوره ده،لکه چې نواب حافظ رحمت خان په خلاصة الانساب کې د شیخ شهاب الدین د احوالو په ارتباط کښلي دي: ((جدامجد این جانب است که خیل وگروه مایان بدومنسوب است که آنهارا کوټه خیل میگویند)).

بل ځل د خپل ځان په باره کې لیکی : ((بنده عاصی پر معاصی امیدوار مغفرت، حافظ رحمت ابن شاه عالم کوټه خیل بدلزی، برېخ سړه بنی)).

په دې ارتباط د نواب محبت خان خپله وینا داده :

زه په اصـــل کې برېخی شـرخبون یم
بدلزی هم کـوټه خیل یم وکـــړه پوهه
عـــزیزان مـــې کـــه ترین وابدالی دي
زه په شـــمار دیوســـفزویم له ګروهه

(خطی دیوان)

دنواب محبت دادوه لوړ بیته زما په پوهـه توضـیح تـه اړه لـري، ځکـه حافظ رحمت خان ویلـی:(برېخـي سـړه بنـی) او نـواب محبـت خـان ویلـي دي (برېخـی شـرخبون) داخبـره داسـې توضـیح کیـدای شـي چـې د پښـتنو پـه شجرة النسب کې د سړه بن د زوی شرخبون په اولاد کې برېخی هـم شـامل دی (۳۴) نوځکه داد وارې خبرې سـمې دي، برېخـی سـړه بنـی پښـتانه دی چـې د شرخبون په اولاده کې راځي. داخبره سمه ده چې په نسبی سلسلو کـې تـرین او ابدالی (د ترین یوښاخ) د برېخو عزیزان دی خوده ویلي چې زه دیوسفزو

(شپارس)

په ګروه کې شماریم. داخبره د حافظ رحمت خان په خلاصة الاسباب کې داسې توضیح شوې ده : ((ودیګران که فرزندان و نبیره ګان وی (شیخ شهاب الدین) از اول تا آخر در قوم یوسفزی خصوصاً در قوم منـدړ معـزز و مکـرم بـوده ذوی ـ الاعتبار، منصبدارو جاګیردار بودند و باسرداران قوم مندړاکثر باکمالزی خویشی و دوستی داشتند)) (خلاصة الانساب خطی).

په ادبیات سرحد دریېم ټوک کې یې راوړي دی چې حافظ رحمت خان (شیرانی) و (۱۳۷ مخ) داخبره سمه نه ده؛ په همدی بحث کې تاسې ولیـدل چې حافظ رحمت خان خپل ځان برېښی بللی دی.

د حافظ رحمت خان مشران زامن عنایت خان، محبت خـان او عظمـت خان دده د دویمې مایني له بطنه زوکړي دي چې د ملک خدا داد خـان لـور وه، (حیات حافظ رحمت خان، ۳٦۵ مخ) .

نواب محبت خان چې په ریاض المحبت کې د کمالزو د نیاخ پـه بـاب خپله تشریح لیکي، هلته کاړي : ((کمال زیی : قومی است از اقوام افغانـان کـه اجداد مادری مولف این کتاب از این قوم بودند)) (۳٦)

په پښتو دیوان کې یې هم ویلي دي :

څه عجب کـــه همه ډک یم له کماله
چې کمال می وه نیکه زه یې نوسی یم

پښت په پښت مې ټول نوسي د کمالزو دي
لـه پلـــوه د مـــور زه هـــم کمالزی یم

کمالزي په مندړو پورې نښلي او حافظ رحمت خان په دې باب لیکلـی دي: ((از منوین مندړ دو فرزند به وجود آمدند یکـی عثمـان، دویـم اتمـان و از

عثمان بن منو نیز دوفرزند به وجود آمدند یکی امان که اولاد و یرا امان زی میگویند؛ دویم کمال که اولادویراکمالزی میگویند»(خلاصة الانساب، خطی).

هندوستان ته د نواب محبت خان دکورنی تګ :

د محمود خان یاموتی تر مړینې وروسته یې د زامنو ترمنځ دده د جایداد ترکې او تقسیم پرمهال شاه عالم خان ته داؤد خان نومی غلام هم په برخه کې ورسید. ده داوخت اولادنه درلود او داؤد خان یې د خپل زوی په دود وپاله. کله چې داؤد خان ځوانی ته ورسید، نو هندوستان ته د تګ شوق ورسره پیداشو. شاه-عالم خان یې هندوستان ته له تګ سره مخالف و، خو داؤد خان یوه ورځ په پټه له کوره و تښتید او د اورنګزیب (۱۰۶۸-۱۱۱۸ هـ ق) د زوی بهادرشاه په زمانه کې کټهیر ته ورسید. په کټهیر کې له نورو افغانانو سره یوځای شو هغه مهال د هند مغولي حکومت ضعیف شوی و. راجاګان او جاګیرداران په خپلو کې سره په جنګونو اخته وو او ددې جنګي ماشین د چلولو لپاره سپاهیانو ته اړتیاوه ؛ هر راجا زیارایست چې ماهراوجنګیالی سپاهیان په خپلو لښکرو کې وګو ماري .

داؤد خان چې یو جنګیالی او زړه ورسړی و. هر جاګیردار او راجاپې خواهښتي و. هغه مهال دی له ځینو ولایتی افغانانو سره یو ځای دبدایون دیوې پرګنې له یوزمیندار سره نو کر شو؛د نورو پرګنو له زمیندارو سره یې جنګونه کول او بری یې په برخه و. د همدې بلوسو او تاړاکونو په سلسله کې ده بانکولی نومي ځای هم لوټ کړ او ددې لوټ پرمهال ورته داوو یا اتو کالو په عمر یو هلک هم لاس ته ورغی. داؤد خان د زړه سوي او مهربانی سلوک وکړ او خپل متبنی (زوی نیو) یې ومانه؛ نوم یې علی محمد پر کښېښود،د ښوونې او روزنې لپاره یې ورته معلم مقرر کړ، ښه یې وروزه. د داؤد خان تر وژل کیدو وروسته د داؤد خان ملګرو سردار وټاکه او دغه علی محمد بیاد روهیلکهنډ د افغانی

ریاست بانی شو، دی د پښتو شاعر هم و (په هندکې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پراوونه، ۳۷۳-۳۷۴ مخونه).

د څوکلونو په دوران کې داؤد خان ډیر شهرت پیداکړ او دده دشمان و شوکت خبرونه تروطنه پورې ورسېدل. له افغانستان نه ډیر افغانان ده ته د نوکرۍ لپاره ورغلل، شاه عالم خان ته هم داوړ خبرونه ورسیدل، دی هم دحال د معلومولو لپاره هندوستان ته ورغی او په کتهیر کې یې له داؤد خان سره ولیدل، داؤدخان ډیرعزت ورکړتردرنې میلمه پالنې وروسته یې په ډیردرناوي رخصت کړ.

څوکاله وروسته بیا شاه عالم خان د داؤد خان دلیدو لپاره هندوستان ته ولاړ، داؤد خان بیا شاه عالم خان له ځان سره وساته او د رخصتېدو په وخت کې یې دده د کور د مصرف لپاره د کال دوه زره روپۍ ور مقررې کړې او دابې ورته وویل چې داروپۍ به تل ده ته رسیږي.

شاه عالم له داؤد خانه رخصت شو او دافغانستان خواته وخوځېد، کله چې د هلی نه ورسید د آسانو سوداګرو ونیو او د خپلو آسانو هغه پیسې یې ځنې و غوښتې چې دده زوی نیو داؤد خان ته یې وې.

شاه عالم خان ترڅه مودې پورې له دوی سره بندي و او دابې ورته ویل ترهغې چې ستا متبنی زموږ پیسې رانه کا، موږ تا نه پریږدو؟ شاعالم خان خپل هر څه دغو سوداګرو ته پریښوول او دی تش خالي لاس بیرته داؤد خان ته ورغی. د سوداګرو د آسونو د پیسودنه ورکړې له امله یې داؤدخان ډیرو راټه او پیسې یې سوداګروته واستولې. دې پیښې پر شاه عالم خان ډیر ژور اثر وکړ او داؤد خان ته یې وویل چې پدې ملک (هندوستان) کې ستاداوسیدو له امله د خدای (ج) پر مخلوق ظلم کیږي، نوځکه زه تا بیرته له خان سره وطن (افغانستان) ته بیایم، خوځنګه چې داؤد خان دلته پیسې پیداکولې او وطن ته

بیرته ستنبدو ته تیارنه و، نو ځکه په پته یې د شاه عالم خان د وژلو تابیا وکړه او ځلوروتنو ته یې ددې دوژلو لپاره څه پیسې ورکړې ؛ دا قاتلان د شپې دده د خوب ځای ته ورغلل او دې یې وواژه، په سبایې داؤد خان څه نمایشي فریادونه وکړل او دشاه عالم خان جسدیې خاوروته وسپاره. د شاه عالم خان قبر د بدایون په څوفرلانګي کی د آنولې د سړک پرغاړه واقع دی، داپښنه د فرخ سیر په زمانه کې واقع شوې ده .

د شاه عالم خان له وژلولا کال نه وتیر. چې داؤد خان د کمایون د راجا د یې چند له خوا ووژل شو.او پرځای یې زوی نیو علی محمد خان د هغه ځای د افغانانو سردار شو د نواب محبت خان د نیکه — شاه عالم خان — د وژل کیدو پر وخت یې پلار حافظ رحمت خان (۱۱۲۰ هـ ق زوکړی) د ځلورو کالو و او دپښتوانی شرقی افغانستان په شهامت پورکې اوسیده. په لس کلنی کې یې قرآن عظیم حفظ کړ او لږ وروسته یې نور ضروری کتابونه او فقهه ولوستل، په ځوانی کې یې د آسونو له تجارت سره شرق پیداشو او له سوداګرو سره په آسانو پسې بدخشان ته ولاړ، آسونه یې له ځانه سره راوستل او ببرته خپلې سیمې ته راغی. دی د خپلو ذاتی سوخصایلو او د خپلې کورنی د اثر رسوخ له امله پرتو لوخلکو ګران و.

د تاریخ روهیکهنډ (۱۸٦٦ م کال چاپ) مؤلف نیاز احمد هوش لیکلي دي چې نواب علی محمد خان داسې فکر کاوه چې که اکثر روهیله افغانان ماته د داؤد خان د متبنی (زوی نیو) په سترګه ګوری او زما اطاعت نه کوي؛ له خپلو مشاورینو سره له مشورې وروسته دې نتیجې ورسید چې حافظ رحمت خان له افغانستانه را وغواړي نوبیا به روهیله دده له فرمانه هیڅکله هم سرغړونې نه کوي . نواب علی محمد خان په حافظ صاحب پسې متواتر لیکونه واستول او

دی یې هندوستان ته راوباله .

حافظ رحمت خان له خپلو ځینو نـزدې کسـانو او ملګـرو، لکـه شـیخ کبیر، ګل شیر خان او ځینو نور وسره هندوستان ته ورغی، کلـه چـې آنـولې تـه ورسید نواب علی محمد خان له خپلو خلکو سره دده مخې و ووت په ډیـره ښـه وضع او ځانګړي شان یې ده ته هر کلي ووایه او له خپله ځان سره یې دیره کړ.

په ګلستان رحمت کې راغلی دی : د نواب علی محمد خان زړه ته یوه روځ ورغلل نه چې حافظ رحمت خان د داؤد خان دځای ناستی په توګه د خپـل پلار د قتل انتقام له ماواخلي ؟ او د کوم مقصد لپـاره چـې دی مـا راغوښـتی دی هغه فوت شی؟ نو د صفایی لپارهٔ یوه ورځ د نورو افغانو پـه مـخ کـې . حـافظ رحمت خان را وغوښت او دا موضوع یې ورتـه پـه ډیـر ادب پـه دې ډول یـاده کړه:((داؤد خان خپل پلار شاه عالم ووازه، سره دده چې زه د هغـه اصـلی زوی نه یم خو څنګه چې یې د زوی پـه توګـه پـاللی یـم او اوس بالفعـل دده مـال او جایداد زما په واک کې دي، ددې لپاره چـې د آخـرت پـه ورځ کـې داؤد خـان ددې شنیع فعل له مواخذې څخه وژغورم نوله تا څخـه هیلـه لـرم چـې له دې درې خبرو څخه به یوه منې.

۱- که بدل اخلي نو : ((اینک من واینک تو و اینک شمشیر))

۲- که خون بها غواړې د څوزره روپیو همیانی حاضرې دي قبولې یې کړئ.

۳- یایې خون وبخښئ .

د نواب علی محمد خان په ځواب کې حافظ صاحب په ډېـره حوصـله او سنجیده ګی وویل :

((ستا او د داؤد خان ترمنځ کوم نسبت او قرابت نشته نو ځکه قصاص نشی جایز کیدای؟ ذ خون بها اخیستل د عـالي همتـو او عـالی فطرتـو لپـاره بـې

دی یې هندوستان ته راوباله .

حافظ رحمت خان له خپلو ځینو نـزدې کسـانو او ملګـرو، لکـه شـیخ کبیر، ګل شیر خان او ځینو نور وسره هندوستان ته ورغی، کلـه چـې آنـولې تـه ورسید نواب علی محمد خان له خپلو خلکو سره دده مخې و ووت په ډیـره ښـه وضع او ځانګړي شان یې ده ته هر کلي ووایه او له خپله ځان سره یې دیره کړ.

په ګلستان رحمت کې راغلی دی : د نواب علی محمد خان زړه ته یوه روځ ورغلل نه چې حافظ رحمت خان د داؤد خان دځای ناستی په توګه د خپـل پلار د قتل انتقام له ماواخلي ؟ او د کوم مقصد لپـاره چـې دی مـا راغوښـتی دی هغه فوت شی؟ نو د صفایی لپارهګیوه ورځ د نورو افغانو پـه مـخ کـې . حـافظ رحمت خان را وغوښت او دا موضوع یې ورتـه پـه ډیـر ادب پـه دې ډول یـاده کړه:((داؤد خان خپل پلار شاه عالم وواژه، سره دده چې زه د هغـه اصـلی زوی نه یم خو څنګه چې یې د زوی پـه توګـه پـاللی یـم او اوس بالفعـل دده مـال او جایداد زما په واک کې دي، ددې لپاره چـې د آخـرت پـه ورځ کـې داؤد خـان ددې شنیع فعل له مواخذې څخه وژغورم نوله تا څخـه هیلـه لـرم چـې له دې درې خبرو څخه به یوه منې.

۱- که بدل اخلي نو : ((اینک من واینک تو و اینک شمشیر))

۲- که خون بها غواړې د څوزره روپیو همیانی حاضرې دي قبولې یې کړئ.

۳- یایې خون وبخښئ .

د نواب علی محمد خان په ځواب کې حافظ صاحب په ډیـره حوصـله او سنجیده ګی وویل :

((ستا او د داؤد خان ترمنځ کوم نسبت او قرابت نشته نو ځکه قصاص نشی جایز کیدای؟ ذ خون بها اخیستل د عـالي همتـو او عـالی فطرتـو لپـاره بـې

ارزښته دي؛ د خان شهادت نشان د قتل مواخذه له تاځخه اخيستل د شرعي او عرف له پلوه جواز نه لري که به داسي واى نو به مى له تاسره په رانه وچولى، خندا اوڼبه زړه ملاقات نه کاوه. زما د پلټنې له مخى دشاه عالم خان دقتل په پيښه کې ته لاس نه لرې او زه له ولايته هندوستان ته ستا دليدو او ملاقات لپاره راغلى يم؛ زه له څه غرضه پرته، خاص د خداى لپاره ؛ ستا د خاطر او ډاډ لپاره دا خون بخښم . د حافظ رحمت خان په دې شريفانه خبرو او عالى همتى نواب على- محمد خان ډير خوشحاله شو او د حافظ رحمت خان محبت او عزت يې په زړه کې نور هم ډير شو. (حيات حافظ رحمت خان، ۵۵-۵۶ مخونه) څه موده چې تېره شو حافظ رحمت خان افغانستان ته دبيرته تګ اجازه ځنى وغوښته، خو نواب على محمد خان ترې بيلتون نه غوښت او په بيلا بېلو بانويې ټالاوه، بالاخر مجبور شو چې هندوستان ته د بېرته راتګ په شرط د تلو اجازه ورکړي.

په هندوستان کې تر درې کلن قيامه وروسته حافظ بيرته شهامت پور ته ولاړ، اما نواب على محمد خان دى چېرې پرېښود، پرله پسې ليکونه يې ورته استول او دى يې هندوستان ته رابالە .

حافظ رحمت خان خپلې پخوانى وعدې او دنواب على محمد خان پرله پسې ليکونو مجبور کړ چې بيا هندوستان ته ولاړشي. له افغانستانه بيا هندوستان ته روان شو اوآنولې ته ورسيد، داخل يې نواب على محمد خان ترلومړي ځله زيات قدر او عزت وکړ او دايې هم ورته وويل چې خپله کورنى له افغانستان راوغواړه او دلته مستقل و او سه .

د منتخب تاريخ افغانى دليکنو له مخې، حافظ رحمت خان د نواب على محمد خان ددې غوښتنې په وړاندې لاندى درې شرطونه بيان کړل:

۱ - ستا اولاد، خپلوان، عزیزان او نور افغانان چې ستا څه ډول خوشآمد کوي، ددغسې چلند توقع له ما څخه مه لرئ.

۲ - زه ستا دنورو نوکرو او چاکرو په شان رفتار نه خوښوم او نه ستا د فتر ته ځان ښکاره کوم.

۳ - ماسره په سخته ژبه خبرې مه کوه، زه د سختو او زشتو خبرو برداشت نه لرم.

د حافظ رحمت خان دغه شرطونه نواب علی محمد خان په ډیر احترام ومنل او تردې وروسته حافظ صاحب خپله کورنۍ هندوستان ته را وغوښته او په آنوله کې مقیم شو[۳۶].

زمونږ د شاعر کورنۍ پدې ډول هندوستان ته راغله او پدې هیواد کې استوګنه شوه چې د راتلو لنډه د استان یې. ما لوړ بیان کړ.

زوکړه او نوم :

د نواب محبت خان په ماکتلو آثارو کې ما کومه داسې اشاره نه ده پیداکړې چې د هغې پراستناد دې زه دده د زوکړې نیټه وکاږم . زما په لاس کې چې کوم مآخذ دي په هغو کې قدیم اثر چې د نواب محبت د زوکړې په باب معلومات راکوي هغه حیات حافظ رحمت خان (د ۱۹۳۳ م کال تالیف) نومی کتاب دی. د حیات حافظ رحمت خان په ۳۷۲ مخ کې راغلې دي چې نواب محبت خان د خپل پلار د شهادت پر کال د ۲۴ کالو و . حافظ رحمت خان په هغه جګړه کې شهید شوی دی، چې د ۱۱۸۸ هـ ق د صفر په ۱۱ مه په کړه-میران پورکې پیښه شوې ده (په هندکې د پښتو ژبی ... ۳۸۹ مخ).

پدې حساب نو که مورِ ۲۴ له ۸۸ څخه راوباسو ۶۴ پاتېږي او د نواب محبت خان د زوکړې کال باید ۱۱۶۴ هـ ق وبولو. د حیات حافظ رحمت خان

مؤلف الطاف بريلوي د خپلو د غو خبرو مآخذ نـه دی ښـوولی او دايـې نـه دي ويلی چې د حافظ رحمت خان د شهادت پروخت د نواب محبـت خـان دعمـر د څرنګوالی د اخبرې ده په کوم استناد کړې دي؟ امـا د اسـرار محبـت د مثنـوی مؤلف دوکتور نسيم احمد له کښښو داسې ښکاري چـې د حيـات حـافظ رحمـت خان ځمؤلف د نواب محبت خان د عمر د څرنګوالي دا خبرې د سعادت يار خـان په ګل رحمت خان کې راغلی دي. په ادبيات سرحد درييم ټوک ۱۳۷ مـخ کـې يې د نواب د زوکړې سنه ۱۸۰۹ ښوولې ده چې سمه نه ده، عجيبه خولا داده، چې پدې کتاب کې يې دده د زوکړې او مړينې د کلونو د ښـوولو لپـاره همـداد ۱۸۰۹ م کال سنه ورکړې ده ؛ خو غالب ګمان دادی چې دا به طباعتی تېروتنه وی. دانشنامهٔ ادبيات فارسی ۲۱۸٦ مخ کې يې دنواب د زوکړې کـال ۱۱٦۵ هـ ق ښوولی دی چې زما په پوهه سم نه دی.

په ځينو آثارو، لکه ادبيات سرحد درييم ټوک اوله دې ځايـه پـه (اردو کی قديم پښتون شعراء) کې يې د نـواب محبـت خـان د زوکـړې ځـای پيښـور ښوولی دی، داخبره هم سمه نه ده، خپله نواب په خپل پښتو ديوان کې ويلی دي:

روهيلي يم چې مې پلار راغی له روهه
پيدا شوی که هر څو په هندوستان يم

بله خبره چې پدې ارتباط په کولو ارزي، داده چې د نواب محبت خـان پـلار او نيکونه په پيښور کې نه، بلکه په چچ هزاره او بيا د منـډرو او يوسـفزو پـه سـيمه شهامت پورکې اوسېدل. ما کتلو آثارو کې د شاعر نوم محبت خان راغلـی دی: په پښتو،پارسی او اردو اشعارو کې يې د تخلص په توګه زيـاتره (محبـت)راوړی دی‌خو په (مجموعهٔ نغز) نومې تذکره کې يې دده نوم محب الله خـان ګښـلی دی او په حاشيه کې محبت الله خان راوړی دی [۳۷] خـو د نـواب محبـت خـان پـه

خپلو آثارو او دده د کورنۍ د غړیو او د نورو نویو او زړو لیکوالو په آثار و کې دده نوم محبت خان راغلی دی نه محبت الله خان یامحب الله خان .

د پرورښت محیط :

د محبت خان دزوکړې پروخت دهند مغلی امپراتورۍ د اضمحلال په حالت کې وه او په دهلی کې ناست مغل باچا حتی له خانه دد فاع قدرت له لاسه ورکړی و، هرځای بغاوتونه او سرکشۍ وې؛ د محلی راجاګانو، مهاراجا ګانو، جاګیردارو او زمینداروترمنځ جنګونه روان وو او یو دبل د پرګنو او جاګیرونو د نیولو لپاره یې یوپر بل لښکرې خیژولی؛ د هند په ګوټ ګوټ کې د محلی ریاستونو حکمرانۍ وې اودمرهټه وودعروج اومخ پرزیاتیدونکي قدرت زمانه وه.

دهند په ځینوسیمو کې د شرقی هندد کمپنۍ تر پوښ لاندې د بریتانویانو د سلطې د پراختیا او ټینګیدو هڅې جاري وې او دهند په شمال غربی سرحدونو کې د افغانستان ځوان واکمن اعلیحضرت احمد شاه بابا درانی د افغانستان طبیعی سرحدات ټینګ کړي وو او دخپلو طبیعی سرحداتو د خوندې ساتلو لپاره یې لښکر کښۍ کولې.

د هند په ځینو برخو کې دنورو افغانی ریاستونو تر څنګ د روهیلکهنډ افغانی ریاست هم قایم و او د نواب علی محمد خان (۱۱۶۲ هـ ق مړ) له مرګه دوه کال تیرو و او د روهیلکهنډ رسمی نواب سعد الله خان و، خود ریاست ټولې چارې د محبت خان د پلار حافظ المللک نواب حافظ رحمت خان ترنظم لانې وې، تردې چې په ۱۱۷۶ هـ ق کال کې د نواب سعد الله خان ترمړینې وروسته د روهیلکهنډ د ریاست رسمی نواب همدا حافظ رحمت خان شو.

د محبت خان د زیږیدو پروخت په روهیلکهنډ کې یوښه او ګوارا فرهنګی محیط آماده و؛ په روهیلکهنډ کې د پښتنو شاعر انو یوه ډله موجوده

شوې وه، نواب علی محمد خان خپله هم د پښتو شاعرو. نواب حافظ رحمت-
خان، محمود خان، عبدالصمد پیر زاده او مسکین د روهیلکهنډ په ریاست پورې
ترلې شاعران وو، چې د پښتو نظمونو نمونې یې د عبدالقادر خان ختک د دیوان
دیوې خطی نسخې — چې اوس په برټش لایبریری کې ساتل کیږي — په پای کې
راغلي دي. دا نظمونه لومړی ځل مـا د نومـورې خطـی نسـخې لـه مـایکرو فلـم
استخراج کړل او (په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پراوونـه)
اثر په څلورم فصل کې نشر شول (۳۶۰-۴۷۱ مخونه) دغه وخت له افغانستان
څخه هم ځینی شاعران او لیکوال روهیلکهنډ ته تللـی وو او لـه دې نـوابی سـره
منسلک وو، لکه: پیر معظم شاه د پیر فاضل شاه زوی؛ حـافظ رکـن الـدین ابـن
منیر؛ کاظم خان شیدا او نور ... د هغه وخت اردو ژبیو شاعرانو هـم لـه افغـاني
ریاست سره تړاو درلود.

د روهیلکهنډ نوابان (علی محمد خان او حافظ رحمت خـان) سـره لـه
دې چې خپله شاعران او لیکوال وو، نور ادبیان او شاعران یې پالل؛ لـه علمـا وو
یې سره یې مینه وه؛دروهیلکهنډ په ټولو ښارونو کې یې مدرسې جاري کړې وې .

د حیات حافظ رحمت خان دلیکنی لـه مخې د حـافظ الملـک نـواب-
حافظ رحمت خان د حکومت په دوران کې په روهیلکهنډ کې پنځه زره علمـا او
فضلا په مساجدو او سرکاري مدرسو کې پـه تـدریس مشـغول وو. مدرسـینو او
شاګردانو ټولو ته تنخواوې ورکول کیدې او پالنه یې کیده.

نواب سعادت یار خان په ګل رحمت کې راوړي دي: « به استماع خبر
قدرشناسی و دین پروری حافظ المللک صدها علمای معتبر مثل مولانا عبـدالعلی
لکهنوی و غیر هم در تمام شهر های کثهیر مجتمع شده مواجب کثیرهٔ زیـادی از
حاجات از سرکار می یافتند. د مدارسو او مساجدو کـه یـرانې ایشـان انسـرکار

ترتیب یافته بود به فراغ خاطر بـه درس و تـدریس اشـتغال میورزیدنـد و در هـر مدرسه کتب ووظیفهٔ طلبا از سرکار تعین مییافت))[۳۸]

محبت په دغسي سیاسی او فرهنګی شرایطو کې دیو سـر لښکر او بیـا نواب په کور کې پرورښت و موند.

زده کړې او مهارتونه:

له لوړه تفصیله سړی پوهیدای شی چې محبت خان په داسې شرایطو کې وزوکېد او د خپلې کورنۍ په غیږ کې ستر شو او وروزل شو چې دده کورنۍ پـه اقتصادی او سیاسی لحاظ په مساعد و شرایطو کې واقع وه او فرهنګی محیط هم سالم و.

دوکتور نسیم احمـد لیکلـی دی چـې محبـت خـان د عربـي او فارسـی متداول تعلیم د هغه وخت د نومیالی عـالم مـلا بحـر العلـوم ترنګرانـی لانـدې د نظامی درس له نصاب سره سم پای ته ورسوه.

د الطاف علی بریلوی د کښنوله مخې محبت خـان د خپـل پـلار حـافظ الملک نواب حافظ رحمت خان د خاصې توجه له برکته پـه عربیـه علومـو کـې دومره مخته و چې له زیاتو علما وو یې میدان ووړ (حیات حـافظ رحمـت خـان ۳۷۲ مخ) پښتو یې مورنۍ ژبه وه، فارسي یې د رسمي او فرهنګي ژبې؛ عربی یې ددیني ژبې او اردو یې د مراو دې او محیط د ژبې په توګه تـردې حـده زده وې چې په دغو څلورو سرونسرو ژبو یې شعروایه او لیکل یې پرې کول.

دکتـور شـاه عبدالسـلام لیکلـي چـې دده مـورنۍ ژبـه پښـتو او فارسـی وې(۳۷) دا خبره ځکه سمه نه ده، چې مورنۍ ژبه دوې نه، بلکـه یـوه وي، د محبت خان مورنۍ ژبه پښتو وه ؛ نورو څیړونکیو هم دا خبره کـړې اوویلـی یـې دي چې د محبت خان مورنۍ ژبه پښتو وه (د اسرار محبت مقدمه، ۱۲ مخ)

ویل کیږي چې له پښتو، فارسی، عربی او اردو سربیره په سنسکریت ژبه کې یې هم مهارت در لود؛ ډېر ذهین او ذکی سړی و ؛د آثارو له مطالعی یې ښکارې چې متداوله علوم یې لوستي وو.

له ژبو او علومو علاوه د سپه ګرۍ او موسیقی پرفنونو هم پوه و، دنواب محبت خان دپوهې،سخنورۍ اوسخندانۍ په باب دنواب الله یار خان په دې لاندې خبرو دابحث پای ته رسوم: « اعلم العلماء و افضل الفضلا و ملک الشعراء و جامع جمیع علوم و ماهر جمیع فنون، فخراین خاندان، بلکه جمیع قوم افغانان نواب محبت خان»د عجایب اللغات په مقدمه کې د الله یار خان له خوا محبت خان ته داور کړي القاب، دده په باب د نور تذکرو له کښنو هم ترډیره حده ثابتیږي، دورورولۍ احساسات که یې یوې خوا ته کښیږدو زما په پوهه د محبت خان په باب د الله یار خان خبرې له وا قعیته لرې نه ښکاري.

سیرت او عادات:

د مخه مو ولوستل چې محبت خان د حافظ الملک نواب حافظ رحمت خان په کور کې وزوکید؛ دده د سرداری او نوابی په کور کې لوییده چې د زده کړو شو او د پلار په خاصه توجه ور وزل شو. مروجې زده کړې یې و کړې، ژبې یې زده کړې، د سپاهیګرۍ او حرب په فنونویې ځان پوه کړ، او ورسره د موسیقۍ شوقمن او په موسیقي پوه سړی هم و.

ددغسې معنوی سیرت خاوند شخص دسیرت د ځینو نورو اړخونو او عاداتو په باب څو خبرې هم ښایې دده د شرح حال د بشپړیدو له جریان سره مرسته وکړي.

د محبت خان کومو معاصرو لیکوالو چې دده شرح حال لیکلی دی زیاترو لیکلی دي چې محبت خان یو وجیه، شکیل، سخي، خلیق او متواضع سړی

وه. د سیرالمتا خرین مؤلف لیکلی دي : ((محبت خان په صورت او سیرت د سرداری وړدی)) د عمادالسعادت مؤلف لیکلي دي : ((د نواب محبت خان په څیر غیرتی او دلیاقت خاوندرئیس ښایې ډیر لږ ترسترګوشی)).

وایې یوځل جهاندار شاه له دهلي څخه لکهنو ته راغلی و، آصف الدوله له جهاندار شاه سره دملاقات لپاره نواب محبت خان هم راوغوښت جهاندار شاه چې د نواب محبت خان و جاهت ولید، نو حیران پاتی شو، دده یې ډیره ستاینه وکړه، د مظفر الدوله او شهباز جنګ القاب یې ورکړل؛ یوه ورځ یې خاص ملاقات ته هم وباله. په هند کې کښل شویو زیاترو زړو آثارو کې دده د نیک سیرت، ښو اخلاقو او متانت په باب یادونې، اشارې اوډېر بیا نونه مومو، له دې برسېره په کورنۍ کې هم له ځانګړي احترام برخوردارو، پرخپلو کشرانو مهربان او د کورنۍ د یووالی د ټینګښت حامی و. نواب الله یار خان د عجایب اللغات په مقدمه کې دده دسیرت دغه اړخ ته داسې اشارې لري : ((نواب محبت خان در شفقت و یګانګیت مجسم بود)) د هندي آثارو مطالعه دده دسیرت د لا ښوولو ترڅنګه موږ ته داهم رابنیي چې محبت خان هم د خپل پلار په څیر له علما وو او شعراوو سره مینه درلوده، له ډیرو شاعرانو او لیکوالو سره یې قلمی مراوده موجوده وه (۴۰) ډیر و شاعرانو یې کورته تګ راتګ کاوه او ډیر و شاعرانو دده له درباره سره تړاو درلود.

دشیخ قلندر بخش جرآت دالاندې بیت ددې مدعا شاهدي لي:

بسکه گلچین تهے سدا عشق کے هم بستان کے

هوے نوکر بهی تو نواب محبت خان کے [۴۱]

دوکتور جمیل جالبی په تاریخ ادب ادو کې لیکلي دي چې جعفر علی حسرت د استاد په حیث د نواب محبت خان له دربار سره منسلک و. کله چې

نواب محبت خان د دا درسی لپاره له لکهنو څخه کلکتی ته تللی و، نوې حسرت په و صف کې یوه قصیده وویله؛ دا قصیده د حسرت په دیوان کې شته. پدې قصیده کې حسرت له نواب محبت خان سره د خپل عقیدت او محبت اظهار کړی او له ده څخه دلرې والي او مهجورۍ خبرې یې پکې راوړې دي[۴۲]

دمحبت خان دواده په مبارکۍ کې دمیرعوض علی مدعا شاه جهان آبادي ویلې قصیده، د دوی له کورنۍ سره د هغه دوران د شاعرانو د پیوند ښکارند وې کوي، د مدعا د قصیدي یو بیت دادی:

جشن نواب فلک رتبه محبت خان هے

جس کی شادی می هی سب جمع بزرگ و کوچک [۴۳]

د محبت خان د ژوند بحرانی حالات :

محبت خان د خپل عمر څلیریشت کاله د خپل پلار د سرداری او نوابۍ په ماحول کې تېرکړل؛ د عمر په څلیریشتم کال کې نه یوازې دی ، بلکه دده ټوله کورنۍ له بحران سره مخامخ شوه. د ۱۱۸۸ هـ ق کال د صفر د میاشتې په ۱۱ نېټه د انګریزانو او شجاع الدوله له لښکر و سره په جګړه کې د محبت خان د بهادر او توریالی پلار حافظ المللک حافظ رحمت خان د شهادت واقعه پېښه شوه .

ددې غمجنې واقعې له امله د روهیلکهنډ ټول افغانان، د حافظ خپلوان، دوستان او کورنۍ له ډیرو رنځونو، کړ اوونو او بدو ورځو سره مخامخ شول. ددې ناورین پرمهال زمور د شاعر نواب محبت خان حال ، د تاریخی کتابونو له مخې داسې بیانیږي:

مولوی نجم الغنی خان رامپوری په اخبارالصنادید کې راوړي دي:

د پلار تر شهادته وروسته نواب محبت خان له شاه ابوالفتح – چې د هغه زمان له مشهورو مشایخو څخه و – سره یو ځای د یکشنبې نیمه شپه په پیلې بهیت کې له خپل استوګنځی څخه را ووت او شجاع الدوله ته یې د تګ اراده وکړه. د بلې ورځې نزدې ما بنام محبت خان دشجاع الدوله لښکر ته ورسید؛ شجاع الدوله محبت خان ته مرتضی خان و استاوه او دملازمت ډیرې ته یې بوته. د صفر ۱۳ مه د دوشنبې ورځ سهار محبت خان له شجاع الدوله سره وکتل او په دې کتنه کې د محبت خان ورور ذوالفقار خان هم و. شجاع الدوله دوی دواړو ته وویل بنه وشول چې تاسې راغلئ ! بیا یې د ریا او تذویر په ډول زیاته کړه: زما او د حافظ جیو ترمنځ ډیر محبت و، دغه ورځ چې مخې ته راغله، ددې فکر هم نه کیده. حافظ جیوهم ملامت نه دی څه چې شوي داټول د عبیدالله خان کشمیری او دحافظ جیو د خوریی خان محمد خان له لاسه دي، بیا یې دواړو وروڼو ته خلعتونه راوغوښتل. محبت خان ورته وویل سباته ستاسو لښکرې پیلی بهیت ته رسیږي. که مو زمور سرفرازي منظور وي، نود ا خلعت هلته مرحمت کړئ چې زمور قربیان دا حال وویني. نو به ډاډه شي.

شجاع الدوله دا خبره ومنله او سملاسی یې محبت خان پیلی بهیت ته واستاوه. د محبت له روانیدو وروسته یې حبشی غلام شیدي بشیرته – چې د پیلی بهیت په لاره کې دیره و- احوال ولیږه چې محبت خان پیلی بهیت ته روان دی، په هره پلمه چې وي دشپې یې له ځان سره وساته او سبا سهارې له ځان سره بوزه او پیلی بهشت محاصره کړه، هیڅاته د دوتلو اجازه مه ورکوه.

شیدی بشپړ حکم مطابق د صفر په ۱۴ مه پیلی بهیت محاصره کړ، د بنار هغه اوسیدونکي چې د مخه وتلی وو هغه بچ شول ، پاتې خلک په بلاکې کښیوتل.

شجاع الدوله خپله له انګریزی فوجونو سره یوځای په دوو دریو کوچونو کې د صفر په ۱۶ مه پیلی بهیت ته ورسید او د هغې کلاتر څنګه یې خیمې و دروله چې د حافظ رحمت کورنۍ پکې محصوره وه.

په ټول ښار کې ډنډوره وړغبده چې ښاریان دې آسونه او وسلې سپاهیانوته ورکړي او دوی دې له ښاره ووزي، خپل مال اواسباب دې نه پټوي- د شیدي بشیر سپاهیانو د خلکو مال اواسباب ځني واخیستل ډېر یې له ښاره وایستل او ځینې یې قید کړل، تردې وروسته شجاع الدوله محبت خان ته حکم واستاوه چې د حافظ صاحب خزانه را وښیه.

محبت خان ځواب ورکړ: ((که خزانه وای، نو دې ورځې ته نوبت نه رسیده؛)) تردې وروسته شجاع الدوله بل حکم ورکړ چې د یوې دوو ورځو لپاره محلسرا خالی کړه، ټول متعلقین له ځانه سره لښکر ته راوله، د ښځینه وو ګانې او جامې پریږدئ، ځو زموږ سړی د خزانې تلاښ وکړي؛ له تحقیقاتو وروسته به تادهر ډول احساناتو سره د پیلی بهیت په کلاکې ځای پرځای کړم)) .

له دې حکم سره سم محبت خان دصفر په ۱۸ مه دمحلسرادښځینه وو، بچو او خپلو ورو نو ځخه زروزیور، اسبابونه او نور هرڅه واخیستل او شیدي بشیرته بې وسپارل، داغوستو جامې یې په کوروکې پریښودې، خپله په آس سورشو.دشیدي بشیر له سړیو سره د شجاع الدوله کمپ ته ورغی، تردې وروسته د شیدي سړیو د حافظ رحمت خان کورنۍ، ښځې او کوچنیان په ډیره بې حرمتۍ له حویلۍ ځخه وایستل او هغې ډیرې ته یې ورسول چې د شجاع الدوله په کمپ کې وه .

له دې بندوبسته وروسته محبت خان ته د رضاخان په وسیله، د شجاع الدوله دا پیغام ورسید: ((مانن غوښتل چې تاته د سرلوړۍ خلعت

درکړم، خود هغې ناروغۍ له وجې چې له تېرې شپې راپیداشوې ده، طبیعت مې ښه نه دی ناارام یم که په یوه دوه وروځو کې ښه شوم، نو پخپله وعده به وفا کوم)).

شجاع الدوله د امهال د حافظ رحمت خان هر څه ضبط کړل، شیدی بشیریې له خپلو سړوسره د پیلی بهیت د چور – تالان لپاره پریښود او خپله له انګریزی فوجونو سره بریلی ته روان شو او دحافظ صاحب کورنۍ یې له ځانه سره بوتله .

شجاع الدوله او دده سړي خورو لبنکرو په پیلی بهیت، بریلی، آنوله او بسولي کې د ټولو نامورو افغانانو کورونه لوټ کړل او په پای کې یې د حافظ رحمت خان او دوندی خان کورنۍ، ښځې او کوچنیان له نورو ډیرو بې ګناه سردارانو، عالمانو او فاضلانو سره په کراچیو کې کښینول او د سالار جنګ ترنګرانۍ لاندې یې له بسولي څخه آله آباد ته ولیږل او دا له آباد په کلاکې یې قید کړل. محبت خان هم داسیرانو له کاروان سره آله آباد ته ولیږل شو؛ د ټولو اسیرانو د لګښتو نو لپاره د ورځې سل روپۍ مقرري شوې [۴۴] چې پدې مقرروۍ شویو روپیو کې د محبت خان او نورو وروڼو، عظمت خان، منګل خان، حرمت خان، محمد یار خان ، الله یار خان، غلام مصطفی خان او اکبر خان برخه ۴۰ روپۍ وې .

داله آباد په کلاکې د روهیله کورنیو ترنظر بندۍ وروسته شجاع الدوله د ګړهوال غرونو ته متوجه شو، ځکه داوخت د نواب علی محمد خان زوی نواب فیض الله خان په لال ډانګ نومی ځای کې د پاتې روهلیه افغاني فوجونو پر تنظیم او د جنګ پرتیارۍ بوخت و.

که څه هم شجاع الدوله افغانانو ته د ماتې او د دوی د لښکرو د انتشار اراده درلوده، خو نا څاپه يې په فوج کې د طاغون و با خوره شوه، خپله هم ناروغه و او د موسم د خرابۍ په وجه دده ناروغي هم زور شوه او له ناچاري يې فيض الله خان ته د سولې پيغام وليږه او ورسره يې د محبت خان د غوښتلو لپاره د اله آباد حاکم ته پروانه واستوله (د دوکتور نسيم احمد په قول) او غوښتل يې چې محبت خان د نواب فيض الله خان په وړاندې و دروي او د روهيله وو زور مات کړي؛ خومولوی نجم الغنی خان بيا په اخبارالصنادید کې د روهيلکهنډ ګزيټر په حواله ليکلی دي چې د شجاع الدوله او نواب فيض الله خان ترمنځ د سولې د معاهدې په وخت کې روهيله وو د حافظ رحمت خان او دوندي خان د کورنۍ پر خوشی کولو ډيرتاکيد کاوه، نو ځکه شجاع الدوله يې د خوشي کېدو حکم وکړ او محبت خان يې له اله آباده راوغوښت، خود سولی کارواېي دده تروا پسی پخوا سرته رسيدلې وه.

دلال ډانګ د معاهدې تر لاسليک وروسته شجاع الدوله بې ځنډه له خپل لښکر سره دخپل پايتخت فيض آباد له لورۍ رهی شو؛ د لارې په اوږدو کې چې کله دی سنبهل ته ورسيد نو د ۱۱۸۸ هـ ق کال درجب ۲۲ مه وه او محبت خان چې يې پخواله له آباد راغوښتی و، په سنبهل کې ورسره يوځای شو او شجاع الدوله له ځانه سره روان کړ او د ۱۷۷۴ م کال د دسمبر په ۵ مه فيض آباد ته ورسېدل.

د توقع پر خلاف شجاع الدوله له محبت خان سره ډير بنه سلوک وکړ او د مهر بانۍ په ډول يې دده د خرڅ لپاره د مياشتې زر روپۍ مقرري کړې او د زرو سپرو ديوې رسالې د عنايت وعده يې هم ورکړه، خو مرض يې ورځ تربلې شدت پيداکاوه، تردې چې شجاع الدوله د ۱۱۸۸ هـ ق کال د ذيقعدې په ۲۴-

مه د ۱۷۷۵ م کال د جنوری په ۲۶ مه ومړ او دده مشرزوی آصف الدوله یې پر ځای کښینوست.

آصف الدوله د فیض آباد پر ځای لکهنو خپل پایتخت وټاکه؛ د نورو امراوو او وزیرانو په څیر محبت خان هم له آصف الدوله سره یوځای له فیض آباده لکهنو ته راغی؛ وایي چې قلندر بخش جرآت او خواجه حسن هم پدې سفر کې له محبت خان سره ملګري وو.

له شاهی روایاتو سره سم آصف الدوله د خپلی تخت نشینی په ویاړ غریبانو او مسکینانو ته خیراتونه او صدقې وویشلې او ورسره یې څه بندیان هم خوشی کړل، خو د نواب حافظ رحمت خان او دوندي خان له کورنیو سره یی هیڅ رعایت ونه کړ، بلکه ددوی سرکاري اخراجات یې بندکړل او برسیره پر دې یې د محبت خان او ذوالفقار خان د نیولو او بهرته د اله آباد کلاته د لیږلو اراده هم درلوده، خو د سالار جنګ دورور مرزا علی په مشوره آصف الدوله خپله دا ارداه پرینښووه.

آصف الدوله د حافظ رحمت خان د کورنی جایز حقوق هغوی ته نه ورکول، خود ایسټ انډیا کمپنی په مداخله او دجان برسټ، په منځګړتوب مجبور شو چې د حافظ رحمت خان اولادې ته د کال ٦٥ زره او د دوندي خان اولادې ته د کال ۳۵ زره روپی منظورې کړي.

تردې وروسته محبت خان په لکهنو کې داوده د سلطنت د وظیفه خوار او د کمپنی دوسیله دار په توګه استوګن شو . (د اسرار محبت مقدمه ۱۱-۱۲ مخونه) د نواب حافظ رحمت خان ترمړینې وروسته محبت خان د خپلی کورنی مشرو.

نواب الله یارخان دعجایب اللغات په مقدمه کې په دې باب کښلې دي :
((اخوی صاحب مشفق قدردان، سراپا شفقت و احسان نواب محبت خان که بـه مصحلت وقت اقامت در شهر لکهنو انداخت، بعد از شهادت خان شـهید رئـیس این خاندان بودند)) (د عجایب اللغات مقدمه).

په لکهنو کې د محبت خان مشاغل :

داسې ښکاري چې نواب محبت خان په لکهنو کـې لـه اسـتوګن کېـدو وروسته ټول ژوند د کتابونو په مطالعه، لیکلو، لوسـتلو او شـعرویلو تېـر اوه؛ لـه شاعرانو، ادیبانو او علما وو سره یې ناسته ولاړه او او مراوده درلوده او د لکهنو په علمی او ادبی محافلو کې محشور و.

د (حیات حافظ رحمت خان) مؤلف الطاف علـی بریلـوي کښـلې دي چې نواب محبت خان ته د شعر وسخن شوق غالباً، په لکهنو کـې لـه میشـتید و وروسته پیداشوی دی (د ۳۷۲ مخ حاشیه) مګر ماته داسې نه ښکاري، ځکـه د خپل پلار د شهادت کومې تاریخی ټوټې چې ده په څلورو: عربی، فارسی، اردو او پښتو ژبو ویلي دي، د ښکاروي چې د نواب محبت خان د شعرویلو استعداد پـه لکهنو کې له میشتیدو پخوا غزونې کړې وې او پدې لاره د مخه روان شـوی و؛ له شاعرانو او ادیبانو سره یې روابط تردې وخته پخوا قایم شـوي وو. د نـواب د شاعرۍ په باب د (ګلزار ابراهیم) دالیکنه : ((او در سـن شـعور شـعرو شـیوهٔ سخنوری را مرغوب داشتند)) مور ته دارابنـیي چـې محبـت لـه تنکـی ځـوانی د شعرویلو او سخنوری خواته رغبت درلود او د خپل استعداد د ازمینښت پرمیـدان ورګډشوی و

داخبره باید ضرور ومنو چې په لکهنو کـې د اسـتوګنې پرمهـال ده ډیـر فارغ وخت درلود چې مطالعه وکړي؛ په ادبې محافلو کې برخه واخلي، شعر

ووايي او آثارو وليکي، ده خپل ټول آثار په لکهنو کې بشپړ کړي دي.

محبت خان د ځلوروو ژبو شاعر او ليکوال و، څه چې له ده مورِ ته راپاتې دي، نه يوازې د پښتو، بلکه د سيمې د ځينو نورو ژبو د ادبياتو په تاريخو کې ده ته د مطالعې ځای ورپه برخه کوي اوس نو داوخت رارسيدلی دی، چې دده را پاتې آثاردر وپيژنو او خبرې باندې کړو.

(۱) عربی آثار:

د ځينو تاريخی آثار و کښنې او دده موجود و پښتو، فارسی او اردو آثارو مطالعه دارانبيي چې نواب په عربی ژبه تسلط درلود او پدې ژبه يې شعر هم وايه، ګلستان رحمت وايي چې محبت خان په عربی ژبه شعر ويلی دی؛ الطاف علی بريلوي د (حيات حافظ رحمت خان) په ۲۸۸ مخ او ۳۷۴ مخ کې د محبت خان دوې عربې منظومې ټوټې راوړې دي، چې يوه يې د حافظ رحمت د شهادت تاريخی ټوټه ده او د نواب الله يار خان د عجايب اللغات په مقدمه کې هم راغلې ده، نور عربي آثار يې ماته نه دي ښکاره.

دوکتور سيد لطيف اديب په خپل اثر (چند شعرای بريلی) کې ويلي دي چې دانډيا آفس لايبريری (اوس برټش لايبريري) د مخطو طانو په شعبه کې د محبت خان د کلياتو يوه نسخه موجوده ده چې په دې نسخه کي د محبت خان له اردو او فارسی کلام سربيره دده زيات پښتو او عربي اشعار هم راغلي دي. دا خبری داسرارمحبت په مقدمه(۱۴ مخ)کې هم اخيستل شوې دي. تردوی دمخه مفتی ولی الله هم په انډيا آفس لايبريری کې د محبت خان د ديوان د نسخې د موجوديت يادونه کړې ده (عهد بنګش ۴۱۳ مخ) او ما په خپل اثر (په هند کې د پښتو ژبې ..) (۴۰ مخ) کې د مفتی ولی الله خبرې د د يوان ريخته په برخه کې اخيستې دي ، نه هغه وخت او نه اوس د انډيا آفس لايبريری

فهرست راته میسر و، چې مې ددې خبرې زیات تحقیق کړی وای. اوس صرف د همدغو خارجي منابعو په استناد دومره ویلای شو، چې د انډیاآفس په نسخه کې – که وي – د نواب محبت خان عربي شعرونه هم راوړل شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې د لندن په انډیا آفس لایبریری کې د محبت خان د کلیات دنسخې د موجودیت تایید دوکتور شاه عبدالسلام په خپله مقاله (دیوان نواب محبت خان محبت) کې کړی دی او دایې هم ویلي دي چې پدې کلیات د عربی، فارسی، پښتو او اردو شعرونه راغلي دي.

(۲) اردو آثار :

تر اوسه پورې د نواب محبت خان دوه مستقل د اردو اثره لیدل شوي دي:

الف : اردو دیوان : ددې دیوان یوه خطی نسخه په رامپور رضا لایبریری کې خوندي ده، چې ټول مخونه یې ۲۲۰ دي او په هر مخ کې یې دوې غزلې راغلي دي. دا دده د اردو غزلومجموعه ده. د ګلزار ابراهیم د لیکنې له مخې دا دیوان په ۱۱۹۶ هـ ق کال تدوین شوی و،په ګلزار ابراهیم کې راغلی دي: ((کلا مش درسایر اقسام نظم ریخته مدون است)) د انګلستان د بودلیان لایبریرۍ کې چې دده د اردو دیوان کومه خطی نسخه شته پدې نسخه کې غزلې، رباعیات، قصیدې او قطعات راغلي دي او په پای کې یې د اسرار محبت مثنوی هم شته. دوکتور نسیم احمد لیکلی دي چې محبت خان د اردو شاعرۍ په ټولو مروجو اصنافو کې خپله طبع ازمویلې ده. دده د اردو دیوان یوه خطی نسخه په بنګال ایشیاټک سوسایټی کې هم شته. دده د اردو دیوان منتخبات ډیر و تذکرو کې راغلي دي، مګر بشپړ نه دی چاپ شوی.دی په اردو شاعرۍ کې د جعفر علی خان حسرت شاګردو (دانشنامه، ۴ / ۲۱۸۶) اما میر حسن په تذکرۀ شعرای هندی کې لیکلی دي چې له خواجه حسن او میا حسرت څخه

اصلاح اخلي، زياتره پخواني تذکره ليکونکي او اوسنی تـذکره نگـاران پـه اردو شاعری کې د محبت خان استاد حسرت بـولي، الطـاف علـی بريلـوي دده اردو کلام سليس او روان ښوولی دی.

ب : اسرار محبت : د نواب محبت بل مستقل اردو اثر، اسرار محبـت نومېږي. دا اثر په اصل کې د هندوستان په فوکلور پوری مربوطه کيسه ده، چې نواب د رچرود جانس انگريـز پـه غوښـتنه پـه اردو مثنـوی کـې نظـم کـړې ده. دامثنوی په ۱۱۹۶ هـ ق کال کې نظم شوې، خو له بيا کتنې يې په ۱۱۹۷ هـ ق کال کې فارغ شوی دی او داکال يې په خاتمه کې هم د نظم کال ښوول شـوی دی. ددې مثنوي ټول بيتونه ۵۹۲ دی؛ دا مثنوی يوځل ډير پخوا به ډبرين چاپ، چاپ شوې ده.تحقيقی متن يې دخطی او چاپي نسخوله مخې دوکتور نسيم احمد برابر کړ دی او په ۱۹۹۶ م کال د انجمن ترقی اردو (ی) هندله خوا پـه دهلـی کې چاپ شوی دی. پر دې متن دوکتور نسيم احمد يوه علمی او تحقيقی مقدمه هم ليکلې ده، چې زما د معلوماتو له مخې د محبت خان په باب د شويو کـارونو په لومړي صف کې د دريدو ځای لري.د نومورې دوکتور نسـيم احمـد وينـا ده، چې : د اردو ادب په تاريخ کې د محبت خان نوم د اسـرار محبـت د مثنـوی پـه وجه ژوندی او ځليدونکی دی (د اسرار محبت مقدمه، ۱۴ مخ).

(۳) **فارسی آثار** :

نواب محبت خان د فارسـی ژبـې ليکـوال او شـاعر دی، مانـاداچې پـه فارسی يې نظم او نثر دواړه ليکلی دي : پـه عربـي، اردو او پښـتو ژبـه مـور ددە يو ازې منظوم آثار لرو، د نواب په فارسی آثارو کې معلوم کتابونه دادي:

الف : ديوان : د محبت خان د فارسی ديوان د يوې غنيمت نسـخې پـه باب اطلاعات مور ته دوکتور شاه عبدالسلام راکوي ؛ دانسخه په رامپور رضا-

لایبریري کې خوندي ده.

دده د فارسي دیوان دانسخه ٦٧٣ مخونه لري او په دې بیت پیل شوې ده:

عطاکردی چوگویایی خداوندا محبت را ❊ذکرخویشتن کن هرنفس گویا محبت را

د رامپور نسخه پر ۵۸۵ غزلو او ۱۹ قطعو مشتمله ده؛ دانسخه نور شعري ډولونه نه لري؛ په پای کې یې دا عبارات راغلي دي: «قد تم هذا الدیوان من تصنیف نواب مستطاب معلی الالقاب ذوالشوکت و الاقبال صاحب الحشمة و الاجلال فرمان روای کشور معانی، کشور کشای ممالک سخندانی، حافظ الملک محبت خان، بهادر دام اقباله وضاعف اجلاله به خط اضعف العباد نذیر الدین حسن شایق فی نصف محرم الحرم ۱۲۱۰».

وایي چې ترلوړې افتتاحیه لیکنې وروسته، د دیوان د تکمیل تاریخی قطعه راغلې ده چې د مقاله نګار د دوکتور شاه عبدالسلام په قول له وروستی مسرې : (گفتا که بگو و الادیوان محبت خان) څخه د دیوان د بشپړ تا به تاریخ راوزي.

د محبت خان د فارسی دیوان یوه بله نسخه د انګلستان په بودلیان لایبریری کې خوندي ده. د دانشنامهٔ ادب فارسیٔ په قول دانسخه د محبت خان په خپل خط ده، چې په ۱۲۱۵ هـ ق خطاطی شوې او شاعر خپل دوست ګوراوزلی ته په لکهنو کې ورکړې ده. په دې نسخه کې، لکه د رامپور نسخه غزلې اولې توتې راغلې دي.

د فارسی دیوان بله خطی نسخه یې تر اوسه ماته نه ده معلومه، دده د فارسی اشعارو منتخبات پدې وروستیو دووسو و کالو کې په تذکرو کې چاپ شوي دي، خو فارسی دیوان یې بشپړ نه دی چاپ شوی، دی په فارسي شاعرۍ کې د میرزا محمد فاخر مکین شاګرد ښوول کیږي . (دانشنامه ۲۱۸۶/۴)

(څلویښت)

الطاف علی بریلوی لیکلي دي چې دده په فارسی شاعری کې بلاغت او مضمون آفرینی دلیدو وړده. د محبت خان فارسی غزل د قدیم فارسی غزل روایات خپل کړي دي او کړه وړه یې په دولسمه پیړۍ کې دهند د فارسی شاعری دي، پر ځینو غزلویې د تصوف رنګ غالب دي.

پروفیسور شریف حسین قاسمی په خپله یوه مقاله (فرزندان حافظ رحمت خان کی فارسی تصانیف) کې د نواب محبت خان د فارسی شاعری د خصوصیاتو د څرګندولو په ترڅ کې داهم ویلي دي: ((د محبت خان کورنۍ چې له کومو لوړو ځوړو تېره شوه، د دِ غو حوادثو نقش دده پر ذهن او دماغ ډیر ژور دی، دده په اشعارو کې ددې حوادثو اغیزې ډیرې څرګندې دي)).[۴۵]

پروفیسور قاسمي د خپلې دغې مدعاد اثبات لپاره ځینې له فارسي دیوانه دا لاندې بیتونه انتخاب کړي دي :

اهـــل خـــرابه را به تمـــاشا چه احتیاج
ویران دلی چو هست به صحرا چه احتیاج

نفـــع و ضـــرر نمـــاند به بـــازار او مرا
سودم زیان شده است به سودا چه احتیاج

چشمم ای ماه شب وروززبس گریان است
خـــلق گویند که امسال عجب باران است

در مـــحبت تو مـــرا آه ندانی صادق
باوجودی که مرا نام محبت خـــان است

ز سرگـــذشت محبت هر کـــه پرسیدم
به عارض اشـــک پیاپی چکید و هیچ نگفت

اروابنـــاد اســـتاد حـــبيبي په فارسي شـاعري کـې دده اســـتادي مـــني (نومور کي مورخين، ۳۷ مخ).

دده دالا ندې فارسي غزل دلوستو ده :

گـــرکشش مـــن اثـــر داشـــتی يـــار به ســـويم گذری داشتی
آن که جهان را به نگه زنده کرد کاش به ما هـــم نظری داشتی
زيـــستی بی تـــو اگـــر مـــثل تو مادر گـــيتی پســـری داشـــتی
دانهٔ مهرار بـــدلـــش ســـرزدی نـــخل اميـــدم ثـــمری داشتی

گررخت از پرده برون آمدی
شـــام محبت سحری داشتی

ب : آمدنامه : په حيات حافظ رحمت خان او عهدبنګش کې يې راوړي دي، چې محبت خان د آمدنامې په نامه د فارسي ژبې د قواعدو يو کتاب ليکلی و. ما خپله داکتاب نه دی ليدلی، دا کتاب ما صرف په دې لاسوند چې د فارسي ژبې قواعد ښيي، په فارسي آثارو کې وښود، کيدای شی د ارائې ژبه يی اردو وي.

ج: رياض المحبت : د پښتو يو فرهنګ دی، خو دا رائې ژبه يې فارسي ده، نوځکه مې دده په فارسي آثارو کې راووړ.

نواب محبت خان د رياض المحبت په مقدمـه کـې ددې کتـاب معرفـي داسې کړې ده:

((اين رساله مشتمل بر دو باب، باب اول در مشتقات و باب ثانی در متفرقات و هر واحد متضمن بربيست و هشت روضه و هر روضه منقسم بر فصول و ابحاث هر قدر که باشند .))

له مستشرقانو نيولی تر دِيـرو پخوانيـو او اوسـنيو څيړنکيـو پـورې ددې کتاب په باب مختلفې خبرې شوې دي، چاګرامر او د قواعدو کتاب، چا فرهنګ

چا ګرامر او فرهنګ او ځینو بیا درپیمه برخه هم ورپورې تړلې ده او درپیمه برخه یې ورته تاریخی بڼوولې ده.

د نواب محبت خان ورور، نواب الله یار خان دعجایب اللغات په مقدمه کې لیکلي دي: ((چنانچه در قاعدهٔ این زبان (پښتو) کتابی که موسوم به ریاض المحبت است))

پروفیسور ډورن چې د خپلې خریستومانی ((د پښتو اشعارو منتخبات)) په مقدمه کې پر ریاض المحبت کوم انتقاد کړی دی، دا انتقاد د ژبې په ګرامري مسایلو پورې اړه لري، نه په لغوی، ده لیکلی دي: ((ریاض المحبت ... دا اثر لکه څومره چې د ژبې له اصلی ویونکي څخه هیله کیدای شی دافغاني ژبې په باره کې بشپړ او ډاډ ور معلومات نشی ورکولای او ددې ژبې د افعالو پر کړکیچن او مشکل جوړښت باندې درناڅولوپه برخه کې مناسب خدمت نشی کولای...)) [۴۶] د دورن دا لوړې خبرې خپله پدې شاهدي ورکوي چی دی ریاض المحبت ته د ګرامر په ستر ګه ګوري.

هانری جارج راورټي د خپل پښتو ګرامر په مقدمه (۴۷) کی اساساً ریاض المحبت د عجایب اللغات په څیریو فرهنګ بڼیي، خود ریاض المحبت کومه لږ معرفي چی یې کړي ده،هلتهٔ ویلی دي : ((دا یوغټ او جامع کار دی، په څانګړی ډول دا کتاب د پښتو افعالو (صرف) ته وقف شوی دی، دا افعال د خپلې بې قاعده ګۍ املە نهایت ګران دی)).

سرمحقق عبدالله بختانی د نواب محبت خان د دوه سوم تلین د سیمینار په مناسبت د مقالې لپاره، ددې کتاب مطالعه کړې ده او دخپلې مطالعی په نتیجه کې د ریاض المحبت په باب وایي :

د ریاض الحبت دواړي برخې (لومړی باب او دویم باب) یې دیوه

(دري څلویښت)

فرهنګ یا لغتنامې دوه بابه دي.

په لومړی باب کې یې (چې مؤلف مشتقات بولی) اوترې مشتق شوي افعال او صفات یې توضیح کړي دي او په دویم باب کې چې د مؤلف په قول متفرقات دي، اکثر اسماء، صفات او لږ مصادر او افعال هم راوړي او د دویم باب خصوصیت دادی چې په دې باب کې مؤلف د افغانی اقوامو او اماکنو د نومونو معرفی او لږ و ډیر شرح کوی، [۴۸] ریاض المحبت په پیل کې یوه مقدمه لري، چې ترحمد و نعت او د کتاب د تالیف د اسبابو له بیانولو سربیره یې له کتاب سره ترلی ځینې ضروري مطالب پکې توضیح کړي دي.

لنډه داچې ریاض المحبت په لوی سرکې د فرهنګ په بڼه ترتیب شوی دی، لغات یوازی معنی شوي نه دي، بلکه د هر لغت ګرامری خصوصیات یې هم بیانولي دي، دې کارته یې په لومړی برخه کې ډیره توجه کړې ده، یاپه بله وینا ریاض المحبت یوداسی فرهنګ دی، چې فرهنګ نګار د مشتقاتو په باب کې د خپلو راوړیو توکیو ګرامری تجزیه او تشریح په داسی ډول کړې ده، چې د فرهنګ دا برخه یې د عملی تشریحی ګرامر درجې ته رسولې ده، همدا علت دی،چې پروفیسورمیکنزي داکتاب ګرامروفرهنګ بللی دی.سرمحقق عبدالله بختانی هم په خپله مقاله کې دې موضوع ته داسی اشاره کړې ده : ((مؤلف در اکثریت لغات صیغه ها و اشکال صرفی کلمات را از قبیل جمع، مذکر و مؤنث، زمانه در فعل، صفت و غیره را نیز شرح داده و ضبط نموده است و باذکر خصوصیتهای ګرامری قاموسش را از دایرهٔ ترجمهٔ لغت به لغت فراختر ګردانیده و خواننده را با خصوصیتهای ګرامری کلمات نیز آشنا ساخته است)) (خراسان، ۵۱ ګڼه، ۳۷-۳۹ مخونه) په ریاض المحبت کې دموادودتشریح ډول داوړ دی:

اچول : بآ الف ممدو ده وجیم عجمی وو و هر دو مفتوح ولام ساکن

به معنی انداختن، مصدر متعدی است ؛ نه اچول بزیاتی نون نفی مفتوح به سرکلمه باقی حروف حرکات مذکوره به معنی نه انداختن مصدر منفی است .

بحث فعلی ماضی معروف و مثبت و منفی : اچولی و به معنی انداخته بود، صیغهٔ مفرد مذکر غایب مثبت؛ اچولی نه و، نینداخته بود، صیغهٔ مفرد مذکر غایب منفی . اچولی وو، انداخته بود چیزها را.

استاد رښتین یو ځای لیکلی دي چې د ریاض المحبت لومړی برخه : ((د هر مصدر ټول مشتقات او افعال بیانوي؛ ددې کرامریو عجیب صفت دادی چې اصطلاحات یې داوسني وخت سره سم دي. د مثال په ډول: ختلی به وي ماضی مشکوک فیه بولي، ختلی دی قریبه بولي؛ وخوت مطلقه بولي)) ریاض المحبت محبت مؤلف په ۱۲۲۱ هـ ق کال پشپړ کړی دی او د بشپړ تا به تاریخی قطعه؛ مؤلف د کتاب په پای کې ویلې ده، چې ۱۲۲۱ هـ ق کال تړې را وزی. همداد کتاب د تالیف کال دی، بله توجیه پکې زما په فکر ځای نه لري. د پښتو نثر هنداره (۱٦۸ مخ)کې چې دریاض المحبت دلیکلو کال ۱۲۲۰ هـ ق راغلی دی غالباً طباعتي تېروتنه ده، ریاض المحبت تر اوسه نه دی چاپ شوی، درې خطی نسخې یې په هندوستان کې [۴۹]؛ یوه یې دروسیې پتربورګ د ختیځپوهنې په انستیتوت [۵۰] او څلورې په برټش لایبریري کې خوندې دي، چې د برټش لایبریرې تر تاسیس د مخه له هغو څلورو څخه درې په انډیا آفس لایبریري کې او یوه په برټش میوزیم کې وه [۵۱]

(۴) **پښتو آثار** :

دده په مستقلو پښتو آثارو کې تراوسه دده یو دیوان مو ته معلوم دی؛ دا دیوان او دده پښتو آثار، لکه څنګه چې شایې تراوسه په پښتو څېړنو کې نه مطرح شوي او نه څېړل شوي دي په پخوانیو هندي تذکرو کې چا د نواب

محبت خان د پښتو شاعرۍ يادونه نه ده کړې؛ دده د کورنۍ له ځينو ليکوالو پرته چا دا ويلې هم نه دي چې نواب پښتو شعرونه ويلي دي، په هند کې اوسيدلي پښتانه قاسم علی خان افريدی (۱۲۴۱ هـ ق مړ) په خپل ديوان کې د نورو پښتو شاعرانو ترڅنګه محبت خان هم داسې يادکړی دی :

که نواب محبت خان که کريم خان وو

او که بل و کاظم خان معروف شيدا (۲۵۲)

پدې کې شک نشته چې د پښتني فرهنګ ته مربوطو آثارو کې دده په باب ځينې متفرقې يادونې راغلې دي، خودی تراوسه په پښتو منظمو تذکرو کې ديوه پښتانه شاعر په توګه نه دی معرفي شوی او نه يې د پښتو کلام نمونې خپرې شوې دي .

ځنګه چې ما د مخه ددې مقدمې په پيل کې وويل، زمونږ ځيرنو کې تر اوسه، دده يوه پښتو غزله او يوه تاريخي قطعه – چې يې د خپل پلارپرک ويلې – او د ميکنزي له فهرسته دده ديوان د پيل دوه بيته چاپ شوي دي؛ د پښتنو په فرهنګي حلقو کې د نواب د پښتو شاعرۍ دنه مطرح کيدو او دده له شاعرۍ د خلکو دنه خبريدو و يوه عمده او اساسي دليل دادی چې دده د پښتو ديوان نسخې نه دهند په نيمه وچه کې اونه افغانستان کې ليدل شوې دي.د خوشحالۍ خبره ده، چې د افغانستان د علومو اکادمي دا توفيق وموند، چې دده پښتو ديوان چاپ کړي اودپښتو شعرعلاقمندان او ځيرونکي دده له پښتو وينا او افکارو خبر کاندي .

د نواب محبت خان د ديوان يوازينۍ معلومه نسخه د انګلستان دبودليان د لايبريري د خطی نسخو په مجموعه کې ساتل کيږي [۵۳]

د ديوان دانسخه به غالباً د مؤلف په خپل خط وي دا نسخه يې د ۱۸۰۱ م کال داکتوبر په لومړۍ ورځ د سرګور اوزلی ته په لکهنو کې اهداء

کړې ده. د نسخې په پای د ګور اوزلی یادښت په انګریزي ژبه راغلی او لانډې ترې په فارسي لیکل شوي دي: « دیوان محبت در زبان پښتو، تصنیف نواب صاحب مشفق کرم فرما نواب محبت خان، پسر نواب حافظ رحمت خان مرحوم از دست مصنف به این جانب مرحمت شد» رقیمهٔ ګور اوزلی.

پدې نسخه کې د شاعر (۴۲۷) غزلې او په پای کې دوې چاربیتې راغلې دي؛ چاربیتی د پښتو ولسي شعریو ډیر مشهور شعری ډول دی، چې پښتنو له خانه سره هند ته هم وړی دی؛ کله چې د هند پښتنو خپله ژبه له لاسه ورکړله او اردو یې خپله کړه، نوبې بیاپه اردو کې هم چاربیتې وویلې، د هند په اردو شاعرۍ کې د چاربیتې صنف پښتنو شاعرانو رواج کړی دی.

د نواب محبت خان په غزلو کې زیاتره - د غزل له معمول قدیم شرقی معیار سره برابرې - دلږو بیتو لرونکې غزلی ډیرې دي او لږ پکې د ډیرو بیتو لرونکې اوږدې قصیده وشمه غزلې دي.

که د قافیو له ځینو تېروتنو – چې کله کله دایطاعیب ځینې مردایږي – تیرشونورنو داغزلې د دولسمې پیړۍ دا و اخرو او د د یار لسمې پیړۍ دا وایلو پښتو شاعرۍ کې د مروج غزل خوند رنګ لري او په هندکې پیداشوي او لوی شوي دې پښتانه شاعر، د شرقی شاعرۍ او د پښتو شاعرۍ در وایاتو حامله پښتو شاعري کړې ده.

دده د دیوان له مطالعې ښکاري چې ده د پښتو د ځینو زړو شاعرانو د دیوانونو مطالعه کړې وه خود ده په خپله یوه غزله کې یوازې د مرزا، خوشحال بابا او عبدالرحمن بابا یادونه په دې ډول کړې ده :

څخو پوه شه په کـلام د شاعـــرانو
چې دهرشاعر په څه رنګه مـــقال دی
نصحیت رنګین رحمن لري په شعرکې
او مـــرزا لـــه تـــصوفه مالا مال دی
دخوشحال په سفینه څـــخو رندي ده
له شکوې دزمانې څه پکې قـــال دی
مـــحبت پـــه انداز چې ویـــل کاندي
هم رحمن دی،هم مرزادی،هم خوشحال دی

شـــاعر پـــه خپلـــه لـــوړه وینـــا کـــې صـــادق دی، د رحمـــان بابـــا (۱۰۴۲-۱۱۲۸ هـ ق) نصایح او اخلاقی مضامین، د مرزا په څېر د عرفان پـه څم کې رنګېدلې خبرې او د خوشحال (۱۰۲۲ – ۱۱۰۰ هـ ق) ځینې رندانه شو خی اومستی د محبت په دیوان کې ځای ځای خپل ځان ښکاره کوي.

د رحمان بابا د غزلو په زمکه ویل شوې غزلې د محبت پـه دیـوان کـې ډیرې موندلې کیږي؛ د خوشحال بابا او د مرزا له فکره متاثره غزلې هم لري. ده یوازې د خوشحال درندانه او مستانه غزلو په زمکه غزلې ویلې دي خو د بابـا لـه فکره، انقلابي روحیې او سترو عالی لوړو مفکورو نه دی متاثر؛ پـر محبـت خـان راغلیـو واقعـاتو او المیـو تـه پـه پاملرنـه بایـد دی د خوشـحال لـه انقلابـي او عصیا نګرې شاعرۍ ډیر متاثروای، خود هند پرزمکو دیواو سیدلي شـاعر نـه دا توقع څه بعیده ښکاری او ددې بعد یود لیل هم ښایې شاعر تـه د خوشـحال بابـا هسی محیط او ماحول نه موجودیت وبولو.

د نواب محبت خان په دیوان کې د رحمان بابـا د دیوان د لاندې غزلـو په زمکه ویل شوې غزلې موندلې کیږي :

(اته څلویښت)

رحمان بابا :

هـــغه ژوی چې مین وي څـــه به خوب کا
چې مجنون غوندې کړمن وي څه به خوب کا

* *

چې په سترګو کې یې خاروي څه به خوب کا
چې په زړه یې غم دیار وي څه به خـــوب کا

* *

کـــه په ګنج د شـــاهي فـــخر شـــهریار کا
عـــاشقان یې د دلـــبرو په رخـــسار کـــا

* *

عـــاشقي مـــې یې پـــه زړه وکـــړ ګـــذربیا
بیلـــتانه مـــې لمـــبې بلـــې کـــړې په سربیا

* *

زه داهـــسې دیوانه و مـــجنون چـــا کړم
له رواجـــه له رســـومه بـــیرون چـــا کړم

* *

کـــه نـــظر کا څـــوک په کار د درویشـــانو
مـــدام او ســـه خـــریدار د درویـــشانـــو

محبت خان :

چې په خیال یې ستا جمال وي څه به خوب کا
چې جمال دې یې په خیال وي څه به خوب کا

* *

(نه څلویښت)

د ګـــلزار څښـــتن که حظ په خپل ګلزار کا -
محـــبت د ګـــلرخانـــو په رخـــسار کـــا

*

ګـــدایان دیـــار د در پـــه ګـــدا یې کـــې
هغـــه فـــخر په شاهـــی چـــې شـــهریار کا

*

مـــی د مـــینې کـــړم له خـــانه بې خبربیا
او د عـــشق لنبې مـــې بلې کړې په سربیا
نه پـــوهیږم چـــې له عقله بیرون چـــا کړم
چامې هـــوش له ســـره یوړ مجنون چا کړم

* *

همیشه دی تودبازار د درویشانو مدام اوسه خریدار د درویشانو

د خوشحال د رندانه غزلو پرپله ویل شوې غزلې:

خوشحال بابا :

باغ وای د ګـــلونو پکې ناســـت وای زه اوته
ګـــل وای غوړیدلې باندې نماست وای زه اوته

* *

تـــوره چې تیریـــږې خو ګـــوزار لره کـــنه
زلفې چـــې ولول شـــی خو خپـــل یار لره کنه

*

ما خوب لیده په خدای ږو چې زه ته سره پخلایو
خـــوږې خوږې خبرې د زړه حال وبله وایو

*

ساقی تل به دا ساعت وي کـــه به نه وي

له جـــهان به مـــهلت وي کـــه به نه وي

*

خسته زړه مې چې نګار هورى هورې وي

هـــر بلبل مې چې بهار هورې هورې وي

*

خورې شونډې دې شکرې نه دي څه دي

کښلي غـــاښ دې مرغلرې نه دي څه دي

محبت خان :

خوب مې لید بیګاه چې سره ملاست یوزه وته

کـــله په کټ ځملو کله ناست یوزه او ته

ژبه چې پـــیداشوه خـــو ګفتار لره کـــنه

خدای چې زه ناطق کړم خو اشعار لره کنه

بارې زه اویار د خدای له فضله چې پخلایو

هـــره شپه کښینو ســـره در از خـبرې وایو

زماستا به دا صـــحبت وي کـــه به نه وي

لـــه روز ګاره به مهلت وي که به نه وي

عاشقان چې معشوقان هورې هورې وي

بلبلان چې ګلستان هورې هـــورې وي

*

(یوپنځوس)

ستا خبرې که شـــــکرې نه دې څه دي

کـــه شکرې ستا خبرې نه دي څه دي

محبت خان چې د رحمان بابا له کلامه کوم برداشـت درلـود، لـه خپـل برداشت سره سم يې د رحمن بابا د ځينو- دده پـر ذوق برابـر وغزلـو پـه زمکـه غزلې ويلې دي، خود خوشحال يې واقعاً هغه مستې او ډيرې رندی او له شـوخی ډک غزلې خوښې کړې او د هغو پرزمکه يې غزلـې ويلـې دي، امـا کـه سـړی د دواړو ويلي غزلې مقايسه کړي، نو د محبـت هغـې ورتـه نشـی رسـيدای، خـو شاعرانه ذوق يې د ستاينې وړ دی.

ما دلته د نمونې لپاره څوبيلګې راوړې، که نـه وي د محبـت خـان پـه ډيرو غزلو او بيتونو کې د الفاظو، تر کيبونو او شـعری جوړښـتونو د انتخـاب او مضمون له پلوه د دواړو بابا ګانو د غزلو او اشعارو روح چليږي، اما شاعر خپله بيابله ادعا لري :

که خوشحال دی که رحمن دواړه بيان کوي د عشق

له دې دواړو ما اشـــعار د مـــحبت کړه انتخاب

* *

قـــدردانه د مـــحبت به د کـــــلام وو

که خوشحال ژوندی په دهر يارحمن وی

د محبت خان په ديوان کې عرفانی مضامين هم شته، خو دده يه ديوان کې بيان شوې دا مفکورې هغه کړه وړه لري چې د روښايی شـاعرانو، لکـه ارزانـی، مرزا، دولت، مخلص، واصل او نورو په کلام کې يې مومو.

ارزاني وايي:

چې يې هسک خشک وتري ده
کـــورې غـــــواړه بهـــتري ده
نـــحـــــــن اقـــرب الـــيه
نـــــزدې مـــــن حبل الـــــوريده

دولت ويلي دي:

مشرکان له نحـن اقرب خبرنه شوه
حق وهر چاته نزدې حبل الوريددی

نواب محبت خان وايي:

عـــــــبث لرې لرې کوې تلاښ
تر شـــــــهرکه ده شها قرينه ستا

ديوې بلې عرفاني غزلې مطلع يې داده:

يار د زړه پـــه ســـتر کـــو وينه
کـــه ديدار غـــواړې حـــق بينه

همداراز د دولت لوايي ددې لاندې غزلې:

« زه اول هم ديوانه وم ديوانه يم لاتراوسه
له دلداره همخانه وم، همخانه يم لاتراوسه » (٥٦)

په زمکه هم محبت خان يوه غزله ويلې ده، چې مطلع يې دلته راوړم :

چې د مينې ديوانه وم ديوانه يم لاتر اوسه
پدې می چې مستانه وَم مستانه يم لاتراوسه

دلته دا يادونه ضروري ګڼم چې که دنواب محبت خان په ديوان کې د

مرزا او دولت د غزلو په زمکه ویلې شوې غزلې مومو او یایې پـه غرفـاني غزلـو کې د روښانې تصوف رنګ وینو، داخبري ددې معنې نه لري چـې ګویـا محبـت خان روښانې شاعرو،بلکه د هغې تصوفي لارې پیرو و چې درو ښـانیانو تصـوفي لارې ته څرمه وه، ځینو نورو پښتو شاعرانو هم داډول افکار په خپلو اشعارو کې رانغښتي دي کیدای شی دا افکارد هغوی یا دروښاني آثارو د مطالعې له لارې او یا هـم د تصوف د نورو منابعو له مخې خپل کړي وي.

له یادوشویولرغونیوشاعرانوسربیره،ده دخپل نومیالي پلارحافظ رحمت خـان دشـاعرۍ مطالعه هم کړې وه،اودخپل پلار یوه غزله تضمین کړې هم دی،لکه دا لاندې غزل:

نن دپلار غزل رایادشه زړه مې وایي چې تضمین کړه
هـــغه کسر دادی واوره چې تضمین یې له ما کیږي
((وحافظ ته دعا کانې چې هورې له سختو خلاص شي
ډیـرنجـــات د ګنـــهکارو د مـــومن په دعـاکیږي))

ده په خپل پښتو دیوان کې د شرقی شاعرۍ له عنعنې سره سم په کـافی اندازه عربی او فارسی ترکیبونه او الفاظ راوړي دي، چې په عربي او فارسی ادب کې دده د مطالعې او پردواړو ژبو دده د لاسـبري ښـکار نـدویې کـوي.ده خپلـه شاعري یې د فارس د بلبل او دهند د طوطی (امیر خسـرو دهلـوی) لـه شـاعرۍ سره همسره ګڼلی ده :

عندلیب د فارس یا طوطی د هند دی
ډیر مـــحظوظ د محبت شوم له کلامه

د محبت خان دپښتو شاعرۍ یوه بله ځانګړنه داده چې د شرقی فرهنګ ډېرې مشهورې اسطورې یې په خپل دیوان کې ځای ځای راوړې دي.

د محبت دا دیوان – چې اوس ستاسې مخې ته پروت دی – ځینې مستانه غزلې

او د خینو غزلو جانانه بیتونه یې په ربستیا چې سړی محظوظولای شي او هر وخت ترې دیوښه شعر خوند اخیستای شي.

د دیوان د ترتیب په باب څوخبرې :

کله چې د محبت د دیوان فوټو ستیټ نسخه تهیه شوه د نسخې د سمون او چاپ ته برابر ولو وار راورسید. څنګه چې د متن نورې نسخې نه وې او د تهیه شوي فوټوستیټ نسخې په هر مخ کې د سمون او حاشیو د لیکلو امکانات وو، نومې لازمه وبلله چې همدا فوټوستیټ نسخه سمه او دکمپوز لپاره واستوم.

د متن واحدې نسخې او د فوټو ستیټ د یوې بنې نسخې موجودیت که زه له یوې خوا د نسخې د نقل له مشکله وژغورلم- که به نسخه دوې یا درې وای نو مجبور وم چې متن پربل کاغذ نقل کړم — نوله بلې خوایې له معاصر روش سره د ردیفولوربړه هم را دمخه وه.

دا دیوان هم د پخوانیو شرقی دیوانونو په دود او دِل شوی و، چې د دِیرو ردیفونو غزلې یې له معاصر دود سره سم د یاګانو ردیفوته تللې؛ نوزه مجبور وم چې لومړی ټوله نسخه په معاصر دِول ردیف بندی کړم؛ ددې کار لپاره مې د فوټوستیټ نسخې دِیر مخونه غچې کړل او د هر ردیف اشعار خپل ردیف ته یوورِل شول او پدې دِول نسخه لوست او سمون ته برابره شوه.

ما په ردیف بندی- کې زیار وایست چې د هر ردیف غزلې په خپل منځ کې د تردیف تر قاعدې لاندې راشي خویو ځای رانه تېروتنه شوې ده؛ د حاضر متن ۱۱۷ مه غزله پر خپل ځای نه ده راغلې، ۱۱۹ مه باید د ۱۱۷ مې پرځای راغلې وای او ۱۱۷ مه غزله د ۱۱۹ مې پرځای. ښایې یو ځای نیم بله هم داسی تېروتنه راځخه شوې وي.

په ردیف بندي کې ماهر ځای پښتو الفبا کې د مروجو عربي ګرافیمونو تر راوړو وروسته د پښتو خپل ګرافیمونه په رونې سره راوړي او په پای کې مې د یا دردیف غزلې د هرې (ی)، لکه : (ی)،(ې)،(ي) سره بیلې کړې دي .

د دیوان ټولو غزلو ته مې مسلسلې نومرې ورکړې، خود ردیف بندی لپاره د فوټو ستیټ متن غچې کولو او د ځینو غزلو د ټوټو سره پتلیسولو یوه ستونزه بله دارایښنه کړه، چې د غزلو د نومرې بندی په وخت کې یوه غزله رانه هیره وه او هغه وخت ګوتوته راغله، چې کله ما د دیوان په ترس پیر کې راوتلی متن له اصل سره کوت او ددې غزلې اضافه کولو یوه غټه ستونزه را پیښه کړه او د دیوان ځینې مخونه بیا له سره ترس شول او پاتې غزلې ته مې په خپل ردیف او خپل ځای کې د (الف) په اضافه کولو سره ډبل نومره ورکړه .

ترنومره بندی وروسته مې د متن په لوست پیل وکړ، املامې پې داوسني وخت له املا سره سمه کړه، څه ټهروتنې که وې هغه مې په متن کې سمې کړې او د اصل شکل مې لمن لیکونو کې راوړ.

د اصلي نسخې په املا کې ګډ وډی شته او داګډوډی له دغولاندې خطاوو پیښې دي.

د مثال په ډول

د (ړ) ګرافیم کله په (ژ) او کله (ګ) لیکی؛ د (ړ) ګرافیم په ټوله نسخه کې (نړ) لیکل شوی دی؛ د (ګ) ګرافیم یې (ک) ؛ د (ځ) یې د (خ) په بنه راوړی دی او نور یې هم داوړ دي.

د مثال په ډول، (بنکل) په ځینو ځایو کې(خکلی) لیکلي او کله یې بنکولی هم راوړی؛ (خېژي) (خیجی)؛(څخه)؛ (سخه)؛ (ټینګې، ټینژې)؛ (غمجمن)، (غمژن) راوړي.

ددې متن یوبل ژبنی خصوصیت دادی، چې شاعر ډیر ځایه دوینا له ژبې کار اخیستی دی، لکه: (اچوي)،(اچئ)؛(ورکوي)،(ورکئ) او نور یې له عامه ګروډ سره سم راوړي دي، ما دغسې مواردو پر خپل ځای پرینښې دي، او مروج کتابی شکل مې یې په لمن لیکونو کې راوړی دی.

ما متن په دې ډول سم کړ او له دې مقدمې، دا شعار و له فهرست. او په پای کې له لغتنامې سره تاسې لوستونکیو ته وړاندې کړې.

له اداري مصرو فیتونو سره سره د علمی او تحقیقی کارونو پرمخ بیول خو را درانه تمامیږي، خو له مسلک سره د علاقې ساتلو په خاطر ترې چاره هم نشته. که له مادديې ديوان د سمون، تدوين او تحقيق په چاروکې څه تېرونتې شوې وي — چې ضرور به شوې وي- له لوستونکیو هیله لرم چې د مهربانی له مخې ماپرې خبر کړي.

د شاعر مړینه او مزار:

نواب محبت خان د عمر ترپایه په لکهنو کې پاتې و او د ۱۲۲۳ هـ ق کال د صفر د میاشتې په ۱۳ مه په لکهنو کې وفات شو. د حیات حافظ رحمت خان مؤلف لیکلی دي چې وزیر باغ ته متصل، کشور ګنج ته قریب خاوروته وسپارل شو (۳۷۱ مخ) اما دوکتور نسیم احمد بیا وایي چې : ((د لکهنو د کشور ګنج په محله کې وزیر باغ ته متصل خاوروته وسپارل شو)) (داسرار محبت مقدمه، ۹ مخ) د تاریخ شعرای روهیلکهنډ مؤلف ویلی دي چې په لکهنو کې کټره محبت خان دده یادګار دی (۱۱۰۸/۲۰) د نواب محبت خان د مړینې په تاریخونو کې هم توپیرونه لیدل کیږي.

دحیات حافظ رحمت خان مؤلف لیکلی دي چې د ۱۲۲۴ هـ ق کال د صفر په ۱۳ مه وفات شوی دی؛ ډیرو وروستیو ماخذو کې دغه سنه راغلې ده؛ په

قاموس المشاهیرکې یې دمحبت خان دمړینې کال ۱۲۲۲ هـ ق ښوولی دی
استادربښتین دپښتودادب تاریخ کې دنواب محبت خان د مړینې کال ۱۲۲۵هـق.
ښوولي،چې ددغه کتاب په درییم چاپ کې هم دغسې راغلی دی [۵۷].

د نواب محبت خان ورور، نواب الله یار خان د عجایب اللغات په مقدمه کې لیکلی دي : ((در سنه ۱۲۲۳ هجری نواب معلی القاب درماه صفر از سرای فاتی بدار باقی سفر نمود)) ده یوازې د صفر میاشت ښوولي، خود حیات حافظ رحمت خان مؤلف ۱۳ صفر اوداسرار محبت مقدمه لیکونکې ۱۶ صفر راوړی دی.

مصحفی (۱۱۴۶-۱۲۴۰ هـ ق) یې پرمړینه دالاندې قطعه په فارسي ویلې ده:

چومشاق کهن نواب جـمجاه — قـــضا را گشته برخوان قضا حیف
بجستم از خرد تاریخ سـالش — همین گفتا (محبت خان کجا حیف

۱۲۲۳ هـ ق

قلندر بخش جرآت یې پرمړینه دا لاندې اردو قطعه ویلې ده؛

سخت بے دردی هے جینا اس بغیر — اب وبـــال جان هے جرآت زندگی
مصرع تاریخ هے یه حـــسب حال — (کیاهے خاک اب بے محبت زندگی)

۱۲۲۳ هـ ق

شاګردان :

په حیات حافظ رحمت خان کې یې لیکلي دي چې د استعداد خاونـدان تل ته د مقدمو استادانو پر کلام د پوهېدو لپاره محبت خان ته راتلل. داخبرې مو ته دا افاده راکوي چې محبت خان په خپل فرهنګي ماحول کـې د اسـتاد حیثیـت درلود او په ځینو مسایلو کې خلکو خپل مشکلات ترې حلول.

د تاریخ شعرای روهیلکهنډ په دویم ټوک کې یې دده دلاندې شاګرد نومونه راوړي دي:

۱- مست، نواب غلام مصطفی خان بریلوي: ۲- عبرت، حکیم میرضیاء الدین؛۳-عاشق،نواب اکبرخان بریلوی؛ ۴- کرامت، نواب کرامت خان بریلوی؛ ۵- عالم، نواب شاه عالم خان بریلوی؛ ٦- شاعر، نواب فتح یاب خان؛ ۷- مقیم،نواب مقیم خان؛۸- مهر،نواب منصورخان؛۹- ضیا،محمدحسین خان .

اولاد:

د حافظ الملک نواب حافظ رحمت خان پرژوند د نواب محبت خان واده، د بریلی ضلعې د فرید پور تحصیل داوسیدونکی عبدالستار خان کمالزي له لورسره شوی و. دی کثیرالاولاد سړی و، له لورانو سربیره ده اتلس زامن درلودل، چې نومونه یې : علی اکبر خان ؛ امام بخش خان؛ حیدر علی خان؛ شاه- عالم خان ؛ منصور خان ؛ محتشم خان ؛ شمس الدین خان ؛ محمد یوسف خان ؛ محمد مقیم خان ؛ حافظ خان ؛ خسرو خان؛ مهدي علیخان؛ خدایار خان؛ لطف- الله خان؛شاه ولي الله خان؛غیرت خان؛محمد موسی خان او محمد نسیم خان وو.

دده په زامنو کې محمد منصور خان مهر او محمد مقیم خان مقیم؛ په لمسیو کې یې محمد حسین خان ضیا، احمد حسین خان او محمد سلیمان خان اسد؛ په کړوسیو کې یې عابد علی خان خورشید او محمد علی خان قمر شاعران او لیکوال تېرشوي دی.

اروا دې یې شاد او یاد دې یې تازه وي

حواشی او مآخذونه :

۱- د نواب محبت خان د مثنوي (اسرار محبت) مقدمه لیکونکی دوکتور نسیم احمد دمیر حسین د تذکرې نوم (تذکرهٔ شعرای اردو) لیکلی دی (اسرار محبت مقدمه،۱۳ مخ) او د (تاریخ شعرای روهیلکهنډ) لیکوال سید تعظیم علی نقوی شایان بریلوی دا نوم (تذکرهٔ شعرای هندی) راوړی دی

(تاریخ شعرای روهیلکهنډ ۱۱-۹ مخ) ما خپله دا تذکره نه ده لیدلې، د (تاریخ شعرای روهیلکهنډ) ضبط ماته سم ښکاري.

۲- دوکتور نسیم احمد : د مثنوی اسرار محبت مقدمه، انجمن ترقی اردو(هند)، ثمرآفسټ پرنترز، نوی دهلی ۱۹۹۶ م، ۱۳ مخ .

۳- شوق، مولوی قدرت الله: طبقات‌الشعراء، دنشار احمد فاروقی په زیار، مجلس ترقی ادب، لاهور، مطبع عالیه، ۱۹۶۸ م، ۴۵۲-۴۶۴ مخونه .

۴-سرور، میر محمد خان: تذکرهٔ سرور، ادبی پرنټنګ پریس، بمبی، ۱۹۶۱م،۶۶۵-۶۶۶ مخونه .

۵- مصحفی : تذکرهٔ هندی ګویان، به کوشش مولوی عبدالحق، جامع برقی پریس، دهلیې ۱۹۳۳ م، ۲۱۳ مخ .

۶-هندی، بهګونداس: سفینهٔ هندی د عطا کاکوی په زیار، بهار لیتهوپریس، پټنه ۱۹۵۸ م .

۷- لطف، مرزا علی: ګلشن هند، د مولوی شبلی په زیار، رفاه عام سټیم پریس،لاهور، ۱۹۰۶م، ۲۲۹-۲۳۰ مخونه .

۸- رښتین، پوهاند صدیق الله: د پښتو د ادب تاریخ، پښتو ټولنه، عمومی مطبعه، ۱۳۲۵ هـ ش، ۸۷-۸۸ مخونه.

۹- رښتین، پوهاند صدیق الله : د پښتو نثر هندراه، یونیورستی بک ایجنسی، پیښور، ۱۹۹۲ م،۱۶۷-۱۶۹ مخونه.

۱۰- پوهاند میر حسین شاه: پښتو قلمی نسخې، ورېمه مجله، د ۱۳۴۱ هـ ش کال، ۳ مه ګڼه، ۴۰ مخ.

۱۱- خدرانې، عبدالرحیم :روهیله پښتانه، پښتو ټولنه، د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۵۷ هـ ش ، ۴۹-۵۲ مخونه .

(شپیته)

۱۲- کوشیف،ولادیمیرواسیلوویچ: دریاض المحبت کرامري، لغوی لیکنه،ددوکتور زرغونه زیورپښتو ترجمه، وړمه مجله د ۱۳۵٦ هـ ش کال ۴ ګڼه.

۱۳- هیواد مل، زلمی: فرهنګ زبان و ادبیات پښتو، جلد اول، د تالیف او ترجمې ریاست ، د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۵٦ هـ ش، ۴۲۳-۴۲۴ مخونه.

۱۴- هیوادمل، زلمی : د هند د کتابخانو پښتو خطی نسخې، پښتوټولنه، د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳٦۳ هـ ش ، ۱۷۸-۱۸۴؛ ۲۹۳-۲۹۴ مخونه .

۱۵- هیوادمل ، زلمی: فرهنګ ادبیات پښتو، د چاپ او خپرولو دولتی کمیته، دولتی مطبعه، کابل ۱۳٦۵ هـ ش – ۱۱٦-۱۰۱ مخونه .

۱٦- هیواد مل ،.زلمی : د پښتو د ادبې تاریخ خطی منابع، پښتو ټولنه، دولتی مطبعه، ۱۳٦٦ هـ ش ، ٦۷-۷۰ مخونه.

۱۷- هیواد مل ، زلمی: په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پراوونه، ملت پرنټرز، لاهور، ۱۳۷۳هـ ش، ۳۹۸-۴۰۵ مخونه.

۱۸- طایر، پروفیسور محمد نواز: د فرهنګ ارتضایی دریافت، پښتو مجله، پښتو اکادمی، پیښور، ۱۹۷۲ م، د جنوری ګڼه ، ۷ مخ.

۱۹- روهلیه پښتانه ، ۴۵-۵۵ مخونه.

۲۰- طایر، پروفیسور محمدنواز خان : روهی ادب (دویم چاپ) پښتو اکادمی، جدون پریس، پیښور، ۱۹۸٦م، ۴۴۱ مخ .

۲۱- بختانی، سرمحقق عبدالله : پښتانه شعراء (پنځم ټوک)؛ پښتو ټولنه، دولتی مطبعه، کابل، ۱۳٦۷ هـ ش، ۲۹-۳۰ مخونه.

۲۲- نواب الله یار خان: د عجایب اللغات مقدمه، (خطی)، د رامپور لایبریری نسخه.

۲۳- هیوادمل ، زلمی: رشد زبان و ادب دری در گسترهٔ فرهنگی پشتو-

زبانان، انجمن نویسنده گان افغانستان آزاد- تاپ پرنترز ، پشاور ، ۱۳۷۶ هـ ش.

۲۴- بخاری، فارغ: ادبیات سرحد(جلدسوم) اردو ادب، نیامکتبه پشاور، انشاء پریس لاهور- ۱۹۰۰ م – ۱۳۷-۱۳۸ مخونه.

۲۵-عروج ، عبدالرؤف: تذکرهٔ فارسی گو شعرای اردو- انجمن پریس، کراچی، ۱۹۷۱ م ، ۱۰۰-۱۰۳ مخونه .

۲۶- نقوی، سید تعظیم علی : تاریخ شعرای روهیلکهنډ (جلددوم) څلورم چاپ، کراچی ، ۱۹۸۹ م ، ۱۱۰۸-۱۱۰۹ مخونه .

۲۷-رضا، پروفیسور افضل: اردو کی قدیم پشتون شعراء، پښتو اکادمی، پیښور، ملت ایجوکیشنل پرنترز، لاهور، ۱۹۹۸م،۹۹- ۱۰۱ مخونه.

۲۸-انوشه، حسن: دا نشنامهٔ ادب فارسی، جلد چهارم، بخش سوم ، وزارت اطلاعات و فرهنگ و ارشاد اسلامی، سازمان چاپ و انتشارات، ۱۳۸۰ هـ ش ، ۲۱۸۶ مخ .

۲۹- - حافظ رحمت خان: خلاصه الانساب (خطی).

۳۰ نواب محبت خان : دیوان محبت (پښتو) ، (خطی).

۳۱- بریلوی، سید الطاف علی: حیات حافظ رحمت (دویم چاپ) اکیدیمي آف ایجوکیشنل ریسرچ، کراچی ۱۹۶۲ ۴۷-۴۸ مخونه .

۳۲- محمد حیات خان : حیات افغانی، د فرهاد ظریفی او طالبی پښتو ترجمه، لومړی ټوک، د قبایلو وزارت، آریانا مطبعه، ۱۳۷۰ هـ ش ، ۱۲۴۰ او ۴۱۲ مخونو ترمنځ شجره.

۳۳- محبت خان : ریاض المحبت (خطی) د برټش لایبریری نسخه.

۳۴- حافظ سید عرفان علی: روهیله سردار حافظ رحمت خان اور تاریخ افغانی، رضا لایبریری جرنل، ۴-۵ ګڼه ۱۹۹۹ م، ۲۵۲-۲۵۳ مخونه

۳۵- قاسم ، میر قدرت الله : مجموعهٔ نغز، مرتبهٔ محمود شیرانی، نشنل کادمی ایکل آفست پرنترز، ۱۹۷۳ م، بخش دوم، ص ۱۶۰.

۳۶- ندوی، ایوالحسنات: هندوستان کی قدیم در سگاهین ، امرتسر، لکټریک پریس، ۱۳۴۱ هـ ق ، ۳۷-۳۹ مخونه.

۳۷- دوکتور شاه عبدالسلام: دیوان نواب محبت خان محبت ، رضا لایبریری....، ۴-۵ ګڼه ۱۹۹۹م ، ۳۳ مخ .

۳۸- خلیل، نواب ابراهیم خان: تذکرهٔ ګلزار ابراهیم (تذکرهٔ ګزار براهیم تذکرهٔګلشن هند) مرتبه دوکتور سید محی الدین قادری، مطبعه علی ګړهـ مسلم یونیورستی، ۱۹۳۴، ص ۴۱۶.(د اسرار محبت د مقدمې په حواله).

۳۹- آزاد، مولوی محمد حسین؛ آب حیات، عشرت پبلشنګ هاوس، لاهور،ص ۲۰۹.

۴۰- جالبی، دوکتور جمیل: تاریخ ادب اردو، جلد دوم، مجلس ترقی ادب، لاهور، سعادت آرت پریس، ۱۹۹۴ م ، ص ۸۸۰.

۴۱- رشاد، پوهاند عبدالشکور : د مدعا په اردو قصیده کې پښتو لفظونه، کابل مجله د ۱۳۶۷ هـ ش کال، ۱۱-۱۲ ګڼه، ۱-۸ مخونه.

۴۲- رامپوری، مولوی نجم الغنی خان : اخبار الصنادید، لومړی ټوک، پنځم چاپ، ندیم یونس پریس، لاهور، ۱۹۹۸ م ۵۱۶-۵۲۶ مخونه.

۴۳- قاسمی، شریف حسین: فرزندان حافظ رحمت خان کی فارسی تصانیف، رضالایبریری جرنل، ۴-۵ ګڼه، ۱۶۷ مخ .

۴۴-دورن،پروفیسور برنهارد:پښتو منتخبات(مقدمه) دمحمد صدیق روهی ترجمه، پښتو ټولنه، کابل،دولتی مطبعه، ۱۳۵۶ هـ ش. خلورم مخ .

۴۵- راورټی، هانري جارج: د پښتو ګرامر (مقدمه) دویم چاپ، لندن، ۱۸۶۰ م، ۳۴ مخ.

۴۶- بختانی، سرمحقق عبدالله : باب دوم کتاب ریاض المحبت، خراسان (مجله) ۵۱ ګڼه، تابستان سال ۱۳۸۲ هـ ش ، ۳۸-۳۹ مخونه .

۴۷- د هند د کتابخانو پښتو خطی نسخې، ۱۷۸-۱۸۴ مخونه.

۴۸- کوشیف ولادیمیرواسیلوویچ: د ختیځپوهنې په انستیتوت کې پښتو خطی نسخې، مسکو، ۱۹۷۶ م ، ۱۷- ۲۴ مخونه .

۴۹- میکنزی: د بریتانیا په کتابخانو کې پښتو خطی نسخې، لندن ۱۹۶۵ م ، ۵۳- ۵۵ مخونه .

۵۰- حبیبی، پوهاند عبدالحی: پښتانه شعراء، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، عمومی مطبعه، کابل، ۳۲۰ (هـ ش) ۳۷۰ مخ.

۵۱- د بودلیان لایبریری د پارسي، ترکی،هندوستانی او پښتو نسخو فهرست دویم ټوک لندن، ۱۹۳۰ م ، ۳۰۶ مخ ؛ د میکنزی فهرست، ۸۵ مخ.

۵۲- د عبدالرحمن بابا دیوان، دصبا خپرندویه اداره، ۱۳۸۰ هـ ش، ۶۰،۲۰،۱۳،۱۲،۷۶ مخونه.

۵۳- د خوشحال خان کلیات، لومړی ټوک (غزلونه)، پښتو ټولنه، کابل دولتی مطبعه، ۱۳۵۸ هـ ش، ۲۵۷؛۲۶۳،۱۷۷؛۳۹۷؛۳۷۹ مخونه .

۵۴- ددولت دوانی دیوان،پښتو ټولنه،کابل،دولتی مطبعه، ۱۳۵۳ هـ ش ، ۱۲۸ مخ.

۵۵- نظامی بدایونی: قاموس المشاهیر، دویم ټوک، نظامی پریس، بدایون، ۱۹۲۶ م، ۱۱۷ مخ.

۵۶- رښتین، پوهاند صدیق الله ، پښتو د ادب تاریخ، درییم چاپ، پیښور ۱۳۷۷ هـ ش ۹۰ مخ

(څلور شپیته)

فهرست

نومړه	پاڼکی	مخ
	(الف)	
۱-	الهی آه وناله د محبت را	۱
۲-	تود چې په کونین کې دی بازار د محبت ستا	۲
۳-	که داهسې مینه ده نازنینه ستا	۳
۳-	هرزمان مې په نظر کې روی دی ستا	۴
۵-	که ادنی یم معشوقه به مې اعلی کا	۵
٦-	چې په خیال یې ستا جمال وي څه به خوب کا	٦
۷-	هرسړی چې له ګدایه محبت کا	۷
۸-	دمړدي کارونه واړه اهل دردکا	۸
۹-	لاس دراز که ستا د دوه زلفو کمند کا	۹
۱۰-	دګلزار څښتن که حظ په خپل ګلزار کا	۱۰
۱۱-	د قیامت په ورځې هغه کس به نازکا	۱۱

(پنځه شپیته)

۱۲- چې قضا راشی حکمت حکما څه کا ۱۲
۱۳- که یار هیسته ګذرنه کاندي څوک څه کا ۱۳
۱۴- مدعي بیل له ماه رویه به مانه کا ۱۴
۱۵- خدای دې بیل له ما زما دلارام نه کا ۱۴
۱۶- خود زړه په سترګو څوک نندارہ نه کا ۱۵
۱۷- خواري را کاهم عطا راته زاري کا ۱۶
۱۸- په جمال چې د خپل یار وکړنظر ما ۱۷
۱۹- خوښ یم که را لوبې هرساعت په سرزما ۱۸
۲۰- ساقی تردې کړ حلق وکام زما ۱۹
۲۱- په کرم د محمد دی په هر حال نګاه زما ۲۰
۲۲- چې لذت بیاموند بسیار دعشق په غم ما ۲۱
۲۳- په ستم که څوک خوشحال شي دآشنا ۲۲
۲۴- پته ستمګره په وفادې ده جفا ۲۳
۲۵- عاشقان رهنمایان دي ددنیا ۲۳
۲۶- سودامه کړه په بازار ددې دنیا ۲۴
۲۷- چې آخرنشته بقا ۲۶
۲۸- می د مینې کړم له څان بیخبربیا ۲۷

(ب)

۲۹ - لتئ زما دپاره تیغ بی آب ۲۹
۳۰- په تلوار چې قاصد راغی زړه مې کاندی اضطراب ۳۱
۳۱- په سایست او په ترکیب او په اسلوب ۳۱

۳۲- سلطنت می شه نصیب ۳۲

(ټ)

۳۳- کبر جن شوې ته بسیار په دابنایست . ۳۴
۳۴- لیونې دوه هم محبت یو زه هم مست نګار هم مست ۳۵
۳۵- روغ به نشی هیڅیرې بیمار د محبت ۳۶
۳۶- دستی په یکښینی شه صدرحمت ۳۷

(ټ)

۳۷- رقیب مل مدام دیاروي الغیاث ۳۸
۳۸- کینه په هوس مینه د یارکوې عبث ۳۹
۳۹- چې عاشق شولمه پرې مې نبوده دین ددنیا بحث ۴۰
۴۰- دا دنیا نجسه نه پریدي خبیث ۴۱

(ڇ)

۴۱- چې لر مه ددیدن د احتیاج ۴۲
۴۲- په ګمان د یقین سدکړي وران یا جوج ۴۳

(ڇ)

۴۳- نه داخیل جسم زمادی نه مې روح ۴۴
۴۴- په جمال کړې خدای صبیح ۴۵

(خ)

۴۵- هره ورځ چې ووینم په سحر ستا مخ ۴۶

۴۶- چې رقیب وشړې کړې تېرمې یخ ۴۶

۴۷- شه پیدا هغه هلک داهسې شوخ ۴۷

(څ)

۴۸- هغه سحر ګرمې زړه یوسی په هیڅ ۴۹

(د)

۴۹- زه په عشق کې یم استاد ۵۱

۵۰ - نابود شمېره هغه بود ۵۲

۵۱- شهد وقند نه لري ستا دشونډو خوند ۵۲

(ډ)

۵۲- زړه مې هسې شه د زلفو په هر تارګلو ۵۴

(ذ)

۵۳- په کنځل کړې زما حلق وکام لذیذ ۵۶

۵۴- که عشق نه لري دیندار به شي ماخوذ ۵۷

(ل)

۵۵- چې له عشقه لري کار ۵۸
۵۶- وايې مذبذب خبره کا چې هغه يار ۵۹
۵۷- که نظر وکا په مخ د ګلعذار ۶۰
۵۸- تل دقتل مې آهنګ کا هغه يار ۶۰
۵۹- هسې يون کاندي د عمر کاروان زر زر ۶۱
۶۰- هرڅوک چې زما په ليونتوب کاندي نظر ۶۲
۶۱- پټ پنهان دی تل کاروان روان دعمر ۶۳
۶۲- ټول جهان کړمنور ۶۳
۶۳- رندانه مزاج زما به نه شي نور ۶۵

(م)

۶۴- عالم واړه وړاندې وروستوله دنيا ولاړ ۶۶
۶۵- شيرين لبه ما دزړه چې ګوهرمات کړ ۶۷
۶۶- هم پدامې دهيڅ کارتدبير ونه کړ ۶۸
۶۷- اې له مانه چې پوښتې زړه دې چايووړ ۶۸
۶۸ - عشق يې راغی دزړه تاب راڅخه يووړ ۶۹

(ڼ)

۶۹- زړه مې صيد نشي څه شان ستا دناز ۷۱
۷۰- غم ښادي به برابر نشي هرګز ۷۲

(نه شپيته)

(س)

	کيږي حق شناس	۷۳
۷۲-	ز۔ کاخونونه ډېربی حدوبې قياس	۷۴
۷۳-	که په خوب کې مې روزي شی ستاوصال پس	۷۵
۷۴-	عشق لذت لري عجب پرې عاشقان پوهيږي بس	۷۶
۷۵-	وفادار هم جفا کاردی هغه کس	۷۶
۷۶-	دعاشق کله مخی وی بوالهوس	۷۷
۷۷-	سلطنت دفريدون وکيکاووس	۷۸

(ش)

۷۸-	هرعاشق چې د معشوق وي په تلاش	۷۹
۷۹-	چې دا هسې شوې پيدا په خوی آتش	۸۰

(ص)

۸۰-	شې به خاص الخاص بنده که مټ کړې په اخلاص	۸۱
۸۱-	بلند عرش تحت الاقدام دی د اخلاص	۸۱

(ض)

۸۲-	له هيڅا کرم يې نه کاندي اعراض	۸۴
۸۳-	که زه نه لرم له تاسره غرض	۸۵

(ط)

۸۴-	لار نری ده دالفت لکه صراط	۸۶

(ظ)

۸۵- لکه بیاموند ستا په عشق کې جانه ماحظ ۸۷

۸۶- څوک به دشاعرو په اشعار نه وي محظوظ ۸۸

(ع)

۷۸- دم غنیمت شماره ذکر مه کړه دوداع ۹۰

۸۸- که دې زړه نه وې معبود وته رجوع ۹۱

(غ)

۸۹- چې په کور کې مې بلیږي د زړه داغ ۹۲

(ف)

۹۰- که مخلوق شی ورنه واړه په خلاف ۹۳

۹۱- بل محبوب به نه وي زمایار غوندې ظریف ۹۵

(ق)

۹۲- دادنیا له هیڅا سره نه کا اتفاق ۹۶

۹۳- نشته هسې په دنیا یار صادق ۹۷

۹۴- چې به ما لید په جهان کې ښه ښه خلق ۹۷

۹۵- چې تنها روان د عشق شم په طریق ۹۸

(ک)

۹۶- هرناپاک په شفاعت به کاندي پاک ۱۰۰

۹۷- که د سرښندلو نه لري همت څوک ۱۰۱

۹۸- نشي څوله خپله ځانه بې خبر څوک ۱۰۲

۹۹- چې شریک د پاک الله ګڼي محال څوک ۱۰۳

(ل)

۱۰۰- زه خو په جهان نه مومم تا غوندې رعنا یو ۱۰۵

۱۰۱- نه یم نا امیده مخ به ووینم دیار خپل ۱۰۶

۱۰۲- له فراقه چابیمار کړ زمادل ۱۰۷

۱۰۲ الف- عاشقان وفاداران شول ۱۰۷

(م)

۱۰۳- په تلاش چې د ساقي د مې ناب ځم ۱۰۸

۱۰۴- چې له شوقه ستا پلووته قدم ږدم ۱۰۹

۱۰۵- دم مې ته یې ستا له غمه ولې نه مرم ۱۱۰

۱۰۶- له اشجاره د جنت کله ثمر خورم ۱۱۱

۱۰۷- نه پوهیږم چې له عقله بهرون چاکړم ۱۱۲

۱۰۸- دین دنیا مې غرض نه وي چې دعاکړم ۱۱۲

۱۰۹- چې داوښو ستا په غم جاري دریاب کړم ۱۱۳

۱۱۰- چې فلک دبیلتانه په رنځ بیمار کړم ۱۱۴

۱۱۱- څه څیز دی قمر چې مشابه یې د قمر کړم ۱۱۵

۱۱۲- دناصح نصیحتونه اول ګوش کړم ۱۱۶
۱۱۳- په سپین مخ دې چې نظر به تور اوربل کړم ۱۱۷
۱۱۴- زړه مې دی نازک دچاخبرې زیاتې کم وړم ۱۱۸
۱۱۵- چې دې ووینم له شوقه په غوغاشم ۱۱۹
۱۱۶- ستا دوړاندې په فریاد ځکه هر بارشم ۱۲۰
۱۱۷- بیګانه که زه له خویش او اقربا شوم ۱۲۰
۱۱۸- له نوشلو دشراب به منع نه شم ۱۲۱
۱۱۹- زه چې د خوبانو مل بازار لره ور درومم ۱۲۲
۱۲۰- دهوښیارو په نژدې چې دیوانه شوم ۱۲۳
۱۲۱- ګل چې خپل مې کړ له هرچانه پردی شوم ۱۲۴
۱۲۲- هیڅ د زیست امید مې نشته نه پایم ۱۲۵
۱۲۳- څوژوندی یم پدابحر کې حباب یم ۱۲۶
۱۲۴- شوم کافر د عشق ولې غیرت د هردینداریم ۱۲۷
۱۲۵- په دنیا کې که هرڅو غریب فقیر یم ۱۲۸
۱۲۶- زیړه ګونه مې پداده چې دردکش یم ۱۲۹
۱۲۷- چې په تاغوندې بنده باندې عاشق یم ۱۳۰
۱۲۸- شپه و ورځ چې ستا په خیال یم ۱۳۰
۱۲۹- که دعشق په هنر پوه شولم عاقل یم ۱۳۱
۱۳۰- بیقراریم اندوهګین یمه غمجن یم ۱۳۲
۱۳۱- که هرڅو خراب خسته په حال تباه یم ۱۳۳
۱۳۲- چې قدم په لار دعشق ږدي هغه زه یم ۱۳۴
۱۳۳- که مین په غنم رنګ شولم ګرم نه یم ۱۳۵

۱۳۴- آرزومن که د ګلزاریمه پرځای یم ۱۳۵
۱۳۵- په کلام باندې عاشق یم لیونی یم ۱۳۶

(ن)

۱۳۶- عشق ترحد په هورته شه راباندې ګران ۱۳۸
۱۳۷- ددنیا یاران آخرشي اغیاران ۱۴۰
۱۳۸- خوله چې وازه په خندا کا ګلرنګان ۱۴۱
۱۳۹- مه تړه ورپو زې ځان ۱۴۱
۱۴۰- هرچاته چې ګورم ستا طالب دی په جهان ۱۴۲
۱۴۱- چې مې روح یې ته په تن ۱۴۳
۱۴۲- زه دنیا له خدایه نه غواړم نه دین ۱۴۳

(و)

۱۴۳- ګل نثار دی ستا د شونډو ۱۴۵
۱۴۴- یاران کله مومي څوک یې له اغیارو ۱۴۶
۱۴۵- په زورونو نه داکارشی نه په زرو ۱۴۶
۱۴۶- په خوبانو کې ته یې مثال په دواړو ۱۴۷
۱۴۷- تل حملې وي دشهبازو ۱۴۸
۱۴۸- دوه چشمان دې مکیف چې په شراب شو ۱۴۹
دشکی یووي ستا بنامار دتوروزلفو ۱۵۰
۱۵۰- ګرزم تاپسې په کومو کومومزکو ۱۵۱
۱۵۱- خدای پیداکړې له آفتاب زما دسترګو ۱۵۲

۱۵۲- چې دخال دې وه مدام مې خیال په سترګو ۱۵۳
۱۵۳- دغه وخت دی بیا به وخت نه وي دګلو ۱۵۴
۱۵۴- په نکریز و لاس دې سره دي خوله په پانو ۱۵۴
۱۵۵- همیشه وي تو دبازار د درویشانو ۱۵۵
۱۵۶- چې رایا دمې شي جمال دښویارانو ۱۵۶
۱۵۷- یارله غیرو که اغیاروی څه به ښه و ۱۵۷
۱۵۸- بارې زه اویارد خدای له فضله چې پخلایو ۱۵۸

(۵)

۱۵۹- څخو ته مې هم له حاله شه آګاه ۱۵۹
۱۶۰- رانښکاره که ښکلی مخ کړې له نقابه ۱۶۰
۱۶۱- ته پیداکړه ددیدن سترګې طالبه ۱۶۱
۱۶۲- لب دې ښکل کړم شکر لبه ۱۶۱
۱۶۳- د آشنا له جدایي توبه توبه ۱۶۲
۱۶۴- په ښایست کې ده بې مثله هغه خوبه ۱۶۳
۱۶۵- بهره مندکه په وصال بې له حبیبه ۱۶۳
۱۶۶- سمې لارې ته په هپه ۱۶۴
۱۶۷- دفراق نه سحر کیږي په مانن شپه ۱۶۴
۱۶۸- ته کنځل کوې په جوروجفا ماته ۱۶۵
۱۶۹- مرم په غم دې وساته مې له مماته ۱۶۶
۱۷۰- که حرمت غواړې ګوری نشی بې پته ۱۶۷

۱۷۱- چې مدام ګوري دمخ دې وګلزار ته ۱٦۷
۱۷۲- په تلوار ځې مسافر دعمر چرته ۱٦۸
۱۷۳- رابښکاره چې شوه نا ګاهه هغه مسته ۱٦۹
۱۷۴- چادسته دګلو په تشبیه یې راوسته ۱٦۹
۱۷۵- که هوس دې دګلزار شته ۱۷۰
۱۷٦- شور دملاحت دې په عالم کې لور په لورشته ۱۷۱
۱۷۷- چې دا دواړه لب شیرین درځخه شته ۱۷۲
۱۷۸- ته طلب وفا دیار کړه که شته شته که نشته نشته ۱۷۲
۱۷۹- زیات ترعشقه یوهنر په جهان نشته ۱۷۳
۱۸۰- که شیرین دی ستا کلام دی نورځه نشته ۱۷۳
۱۸۱- که محفوظ د بیلتانه شم له آفته ۱۷۴
۱۸۲- ځاي یې مزکه دی ورځی به ګورستان ته ۱۷۵
۱۸۳- درسته شپه نیولې سترګې یارمه جبین ته ۱۷٦
۱۸۴- خوب مې لیدبیګاه چې سره ملاست یوزه اوته ۱۷۷
۱۸۵- چې په سر څوک پورته نه کادعشق څټه ۱۷۸
۱۸٦- اصل یې یو دی کټه ګوته ده که کچه ۱۷۹
۱۸۷- ساقی بنادکړه زړه غمجن زما له راحه ۱۷۹
۱۸۸- ساقي ډکه کړه دمی پیاله فراخه ۱۸۰
۱۸۹- ددې سترګو له طوفانه وایم څه ۱۸۰
۱۹۰- چې بقا دهوس نشته خندیدل څه ۱۸۱
۱۹۱- ولې مالړې غمجن مدام په څه ۱۸۱
۱۹۲- که دې مهر دی را باندې که جفاده ۱۸۲

۱۹۳- بیوفاسره وفاځه په کارنه ده ۱۸۳
۱۹۴- لکه چل ددلبري همه تازده ۱۸۴
۱۹۵- چې مې مینه په ازل کې وه نامزده ۱۸۴
۱۹۶- مایوه مسئله یوروایت نه زده ۱۸۵
۱۹۷- چې نجسه ده دنیا خودنجس ده ۱۸۶
۱۹۸- دهیڅا دنیاله سره آشنا نه ده ۱۸۶
۱۹۹- که دې سترګه مقیده درنګ نه ده ۱۸۷
۲۰۰- که نابودشې یوزمان له خپله بوده ۱۸۷
۲۰۱- مبرامې له هوسه آشنایی ده ۱۸۸
۲۰۲- دواړه شونډې چې خوږې لرې ترکنډه ۱۸۸
۲۰۳- هرپلوته کړم چې نظرستا کړم نظاره ۱۸۹
۲۰۴- په وفایې وستایله ما بسیاره ۱۹۰
۲۰۵- سرتربښو ده بنایسته هغه دلبره ۱۹۱
۲۰۶- ته خوهم په مینه چرې چرې ګوره ۱۹۴
۲۰۷- زه غیرت دحورو غواړم هغه حوره ۱۹۵
۲۰۸- هیڅوک کارکولی نشی له تدبیره ۱۹۶
۲۰۹- کله په غضب ماړه هلاک کړي په خواړه ۱۹۶
۲۱۰- په هاى هاى ژاړم مدام په غم دزړه ۱۹۷
۲۱۱- غمزده چې په سینه کې وینم تل زړه ۱۹۸
۲۱۲- د ازه نه وایم وفاکړه یا جفا کړه ۱۹۹
۲۱۳- ځان سیزه په اور هله هوس دمحبت کړه ۲۰۰
۲۱۴- مستعد شه پاڅه زر طلب دیار کړه ۲۰۰

۲۱۵- خوله طلب مې کړه له یارې رایې نه کړه	۲۰۱
۲۱۶- ولې ړوند شوې بینایي دې چرته لاړه	۲۰۲
۲۱۷- نه دچاته یې هرګز نه دچازه	۲۰۳
۲۱۸- په ژړا مې شه عالم خبر له رازه	۲۰۳
۲۱۹- جام په لاس کې معشوقه راشي نوخیزه	۲۰۴
۲۲۰- که مې مرګ وي ستاله لاسه	۲۰۵
۲۲۱- ټول عالم دی په ژړا دمرګ له لاسه	۲۰۵
۲۲۲- چې دمینې دیوانه یم دیوانه یم لاتراوسه	۲۰۶
۲۲۳- کشکۍ راغلی نوعروسه	۲۰۷
۲۲۲- له غیرته سوی په زړه دنمرپیداشه	۲۰۸
۲۲۵- اې په خوله کوثره راشه	۲۰۸
۲۲۶- اې راحت د زړه زما هر کله راشه	۲۰۹
۲۲۷- په ګلشن ګذر دکوم یو ګلرخسارشه	۲۱۰
۲۲۸- سرتر ښپو په داغ دعشق هغه ګلزار شه	۲۱۱
۲۲۹- چې د آه ونالې جمع مې لښکر شه	۲۱۲
۲۳۰- دګلرخ دوروځو یاد چې مې شمشیر شه	۲۱۳
۲۳۱- وي خندا پسې ژړا په خندا شه	۲۱۴
۲۳۲- په جلوه یې خاکستر اول تمام شه	۲۱۴
۲۳۳- که هر څو لانبودې زده وي زړه ورمشه	۲۱۵
۲۳۴- معتقد دبل مذهب و آئین مشه	۲۱۵
۲۳۵- دخپل یار چې ښکلی مخ راته عیان شه	۲۱۶
۲۳۶- یو رفیق په بدې ورځې پکار نشه	۲۱۷

۲۳۷- بخره زیاته به بیانه مومې ترویشه ۲۱۸
۲۳۸- شه بلم باعور چې مل دبدوسپی شه ۲۱۸
۲۳۹- په فتنه دې ستامفتون پوهیږي ښه ۲۱۹
۲۴۰- حسن یې فراغت لري هر وخت له خال وخطه ۲۲۰
۲۴۱- چې بدي کښې مو جوده څه هغه ۲۲۱
۲۴۲- یار د غیرو په وینا شه دریغه دریغه ۲۲۱
۲۴۳- مقید په قید دوهم شوې احمقه ۲۲۲
۲۴۴- امتیاز ظاهر دپاک وي له ناپاکه ۲۲۳
۲۴۵- ته غیرت د نمر پیدا شوې چې په مزکه ۲۲۳
۲۴۶- وي بدرګ په نجاست کې بدتر سګه ۲۲۴
۲۴۷- یو ساعت یې نه تېریږي یې له جنګه ۲۲۵
۲۴۸- په هجران دې په ماتېرشی څوخوکاله ۲۲۵
۲۴۹- چې له غمه په فریاد دې کړه بلبله ۲۲۷
۲۵۰- که دنیا ټوله زماوی له از له ۲۲۸
۲۵۱- بوزي ستا دیدن ته مې هر هېڅه هرخله ۲۲۹
۲۵۲- خوله شیرینه دې پداده یې عدیله ۲۳۰
۲۵۳- چرته لاړې درسته ورځ ماه تمامه ۲۳۰
۲۵۴- نورمې زړه دی څه په کار څه یې کومه ۲۳۱
۲۵۵- چې جزاده د ظالم درته معلومه ۲۳۲
۲۵۶- منت بار به دې شم ډیرکه مې نسیمه ۲۳۳
۲۵۷- څله وکعبې ته څم او څه کړم بتخانه ۲۳۴
۲۵۸- ګل به وزي لکه خس له ګلستانه ۲۳۵

۲۵۹- ته حساب غواړې له مانه	۲۳۶
۲۶۰- په یو ځل یې څرګند کړ چې مخ زړه یووړله مانه	۲۳۷
۲۶۱- چې دزدمن لره ته راشې په پوښتنه	۲۳۸
۲۶۲- ژبه چې پیداشوه خوګفتار لره کنه	۲۳۹
۲۶۳- که بیان کړم ستاد هجر عذابونه	۳۳۹
۲۶۴- په زړه کینوه دمینې شجرونه	۲۴۰
۲۶۵- که معلوم نه دي وتاته خپل کورونه	۲۴۱
۲۶۶- کله صلح سره کاکله جنګونه	۲۴۲
۲۶۷- آلوده اوښې مې وینې چې له خونه	۲۴۳
۲۶۸- چې رضادې وي کړه هسې ستمونه	۲۴۴
۲۶۹- یار دزړه په سترګو وینه	۲۴۵
۲۷۰- عشق خودی آزار ولې آزار یې مه ګنه	۲۴۵
۲۷۱- که غافل یې په مکه و مدینه	۲۴۶
۲۷۲- مینه تل د مردوزن دخان بلاوه	۲۴۷
۲۷۳- ډیر ستومان دزمانې شوم له ستوهه	۲۴۷
۲۷۴- په جهان که ښایسته یوسف بسیاروه	۲۴۸
۲۷۵- ته چې تلې پرون په مانا باندې قیامت وه	۲۴۹
۲۷۶- یارله ماګریزان دی، لکه وه	۲۵۰
۲۷۷- امید واریم هرزمان له خپله خدایه	۲۵۱
۲۷۸- نه خورشید می دی پکار نه قمربویه	۲۵۱
۲۷۹- زړه مې داغ کا په غمونو لاله رویه	۲۵۲

۲۸۰- په ښایست هغه یکتای	۲۵۴
۲۸۱- په طلب یې که آسمان ته څوک ختی	۲۵۵
۲۸۲- هره ورځ مې په زبان قیل وقال ستادی	۲۵۶
۲۵۳- دامحبوب چې په جهان دریکتادی	۲۷۷
۲۸۴- داچې نبغ په لاس راځی خونخوار د چادی؟	۲۵۸
۲۸۵- نندارہ یې کړه دقدصنوبردادی	۲۵۹
۲۸۶- چې لري مخ لکه شمع یارزمادی	۲۶۰
۲۸۷- چې کیفي مدام د مینې په شراب دی	۲۶۱
۲۸۸- په نصیب کې د چا خاورې د چاتخت دی	۲۶۱
۲۸۹- که دولت دی روغ صورت دی	۲۶۲
۲۹۰- دهر چا له دې دنیا دادوبیداد دی	۲۶۳
۲۹۱- عالمګیر هسې د زلفو دې کمنددی	۲۶۴
۲۹۲- عاشقی کړه که غرض دې خپل بهبوددی	۲۶۵
۲۹۲ الف- هرسړی چې له کعبې دزړه خبردی	۲۶۶
۲۹۳- نن زما اوستا دمینې هسې شور دی	۲۶۶
۲۹۴- هر قدر چې نازپروره ستا را باندې نازدی	۲۶۷
۲۹۵- چې دمینې له ساغره جرعه نوش دی	۲۶۸
۲۹۶- هر بنده چې خپل خاوند ته په زړه صاف دی	۲۶۹

۲۹۷- دافلاس باعث می وازما وه نفاق دی ۲۷۰
۲۹۸- چې راکړی یې دلبر ترک او زبک دی ۲۷۱
۲۸۹- عاشق نه دی که یې عشق په بوی درنګ دی ۲۷۲
۳۰۰- د هرشی کله کمال کله زوال دی ۲۷۳
۳۰۱- چې دا نوم محبت خان مې دازل دی ۲۷۴
۳۰۲- هره ورځ و هره شپه په فکر ستا می زړه مشغول دی ۲۷۵
۳۰۳- که سبادی که بیګاه وخت دعوام دی ۲۷۵
۳۰۴- زاهد څه شه که شپه رونه کاندي بوم دی ۲۷۶
۳۰۵- چې له فهمه وي بیرون هغه جانان دی ۲۷۷
۳۰۶- که هوښیار دی که مجنون دی ۲۷۹
۳۰۷- چې په زړه دې قبول کړی د عشق دین دی ۲۸۰
۳۰۸- د قفس عندلیب څه زده بوستان څه دی ۲۸۱
۲۰۹- کوم سړی مد هوش د عشق په شراب نه دی ۲۸۲
۳۱۰- چې آزار د عشق صحت دی آزار نه دی ۲۸۳
۳۱۱- پوهیدم چې کار دمینې څه ګران دی ۲۸۴
۳۱۲- ستا کرم لکه په ماوه هسې نه دی ۲۸۴
۳۱۳- په ښایست کې یې مثال وبې همتا دی ۲۸۵
۳۱۴- چې جوهر دوفا نه لري لاشی دی ۲۸۶
۳۱۵- راشه ساقي وخت دنوبهار راغلی دی ۲۸۶
۳۱۶- ته به کله هبروې هغه وګړی ۲۸۷
۳۱۷- شی به نشی چې یې خدای کاندي لاشی ۲۸۸
۳۱۸- ګل جلوه کړه عندلیب په چغار راغی ۲۸۹

۳۱۹- سرچې تري نثارمې کړ جانان می دی موندلی ۲۹۰
۳۲۰- زه خودنه یم په دلبرو پسې تللی ۲۹۱
۳۲۱- ته که دستم هر څه په مایې شدت کړونی ۲۹۱
۳۲۲- یا مدام داسرمې خاورې ستا در وی ۲۹۲
۳۲۳- کشکی یوځله وصال د ښکلیو وشوی ۲۹۳
۳۲۴- که دهرچاځخه مهر دسلیمان وی ۲۹۴

(پ)

۳۲۵- لوی نادان یې چې په لارې دخندا ځې ۲۹۶
۳۲۶- شهسواره چې په سردستار زرین ږدې ۲۹۷
۳۲۷- پاس په عرش ترمز کې لاندې ۲۹۸
۳۲۸- دمخلوق زړونه پامال کړې خوش رفتارې ۲۹۹
۳۲۹- چې په دارنګه دلچسپې کړې خبرې ۳۰۰
۳۳۰- لکه دُر چې وي دندان هسې لرې ۳۰۰
۳۳۱- رانجه نه کاستا عاشق په سترګوپورې ۳۰۱
۳۳۲- چې هردم د محبت له ونې برخورې ۳۰۲
۳۳۳- دجمال دیار به هله تماشا کړې ۳۰۲
۳۳۴- بویه داچې نوش دمینې می ناب کړې ۳۰۴
۳۳۵- که دزړه و آئینې وته نظر کړې ۳۰۴
۳۳۶- ټول سبب یې دادی چې مدام راسره جنګ کړې ۳۰۵
۳۳۷- که یودرنګ له ماسوایې ځان په ځنګ کړې ۳۰۶
۳۳۸- ته چې خدای لکه الف په قامت سمَ کړې ۳۰۷

۳۳۹- راغی عید د قربانی ډیر به احسان کړې	۳۰۸
۲۴۰- په هر سوال به مې ایا ایا ته څو کړې	۳۰۹
۳۴۱- که زلال د عاشقي تبر ترګلوکړې	۳۰۹
۳۴۲- ستا رضا کارونه بدکړې او که ښه کړې	۳۱۰
۳۴۳- ولې مخ راته ښکاره لکه نمر نه کړې	۳۱۱
۳۴۴- زما ستا عالمو جوړې افسانې کړې	۳۱۲
۳۴۵- بې له بویه دې ګلرخې دل افروزې	۳۱۲
۳۴۶- لکه غیر په ماجفاکا بیرحمي کاندي یا رهسې	۳۱۳
۳۴۷- که عاصی د عاشقی په معصیت شې	۳۱۴
۳۴۸- خبردار که د هغو شونډو په خوندشې	۳۱۴
۳۴۹- محتاجې ده ددنیا په سلطنت کې	۳۱۵
۳۵۰- شه پیرو دزړه د عشق په کاروبارکې	۳۱۶
۳۵۱- دعاشق حرمت عزت دی په پیغور کې	۳۱۷
۳۵۲- را معلوم دیار کرم شه په ستم کې	۳۱۷
۳۶۳- هغه یار مې دی ځای کړی په خپل ځان کې	۳۱۸
۳۵۴- تشنه لب دې یم له ماکه په سلوکې	۳۱۹
۳۵۵- چې له فقر آګاهی لري په زړه کې	۳۱۹
۳۵۶- بادشاهی کوم دعشق په خاکساري کې	۳۲۰
۳۵۷- د ځواني مستان هوښیارشی په پیري کې	۳۲۱
۳۵۸- بې میودا هسې چې مخمورې لرې سترګې	۳۲۲
۳۵۹- سترګې مې په مخ چې د خوبانو لګیدلې	۳۲۳
۳۶۰- یادعشق واورته ماچوه منګولې	۳۲۳

٣٦١- بې له تا په کارې نه دي زما ټولې ٣٢٤
٣٦٢- تل باقي يې ته فاني بولې ځان ولې ٣٢٤
٣٦٣- يارپه زړه چې لرې بيايې غوارې ولې ٣٢٥
٣٦٤- بيادزړه په تالان څه لره را درومې ٣٢٦
٣٦٥- پندانې دي دمالوچو داناز نينې ٣٢٦
٣٦٦- چې وماته په خندا شوې په خنداشوې ٣٢٧
٣٦٧- چې ښکاره راته هغه سترګې شهلاشوې ٣٢٧
٣٦٨- چې په ټولو ښايسته ووکې چيده شوې ٣٢٨
٣٦٩- که دچا آشنا په طمع ددنيا يې ٣٢٩
٣٧٠- که ګنجونه په منت بخښې ليئم يې ٣٢١
٣٧١- اې چې هسې قوت ناک وپهلوان يې ٣٣٠
٣٧٢- هم په رنګ هم په بوی فخر د زمن يې ٣٣١
٣٧٣- معشوقه چې بيوفاده هغه ته يې ٣٣٢

(ي)

٣٧٤- په صيقل د محبت دزړونو زنګ ځی ٣٣٣
٣٧٥- چې شهامې په ځيره زلفې خورې ځی ٣٣٤
٣٧٦- جان افزا اوروح افزا مي شونډې ستا دي ٣٣٥
٣٧٧- هد هدان قرقره داردي ٣٣٥
٣٧٨- چې دزړه سترګې دچادیار په لوروي ٣٣٦
٣٧٩- دواړه وروځې ستاچې د تبرې تورې په ځيردي ٣٣٦
٣٨٠- په خوف درقيبانو تل قدم ږدي ٣٣٧

۳۸۱- چې دې ورکړل وخوړل هغه دې خپل دي	۳۳۸
۳۸۲- که شمشاد وصنو برپه قامت سم دي	۳۳۹
۳۸۳- اړولي دي د ځا په کشت و خون دي	۳۳۹
۳۸۴- ستا ځیره قرآن کتاب درې واړه یودي	۳۴۰
۳۹۵- ستا خبرې که شکرې نه دي څه دي	۳۴۱
۳۹۶- بیدردان بلا وهلي دي که نه دي	۳۴۲
۳۸۷- ډیر علمونه دعارفو په سینه دي	۳۴۲
۳۸۸- که باطن وته نظر کړې نظارې دي	۳۴۳
۳۸۹- تل ذکرونه کړه دمینې چې حالي دي	۳۴۳
۳۹۰- داکم عقل چې له عشقه بې بهرې دي	۳۴۴
۳۹۱- که مې کړې نه وی تا سره پاري	۳۴۴
۳۹۲- چې ترمرګه مړپخواشی هغه نه مري	۳۴۵
۳۹۳- مهر ومه آسمان دپاسه دي که ستوري	۳۴۶
۳۹۴- که مشغول شوې په کارونو دوګړي	۳۴۶
۳۹۵- زړه مې هسې خال وخط یې پټ پنهان وړي	۳۴۷
۳۹۶- که خوله راکړې شکر لبه هرحاجت مې رواکیږي	۳۴۹
۳۹۷- ستا په غم کې دا ژوندون مې څنګه کیږي	۳۴۹
۳۹۸- په نیکي بدي دهیڅا هیڅ نه کیږي	۳۵۰
۳۹۹- داپه خلقو کې چې اوس آشنایي کیږي	۳۵۰
۴۰۰- محبت له محبته نه مړیږي	۳۵۱
۴۰۱- خبردار بنده به هله له مولاشي	۳۵۱
۴۰۲- په راتله بې چې زما خونه آبادشي	۳۵۲

۴۰۳- ستا په مخ کې ښه ادارانه اشعار شي ۳۵۲
۴۰۴- چې له دره يې بدرشي ۳۵۴
۴۰۵- چې شهيد ديار دميني په خنجر شي ۳۵۴
۴۰۶- يې له تاهريو نامرد په مادليرشي ۳۵۵
۴۰۷- چې کنځل يې له خندا سره آميزشي ۳۵۱
۴۰۸- په دعوې کې يوقاضي دوړاندې وړشي ۳۵۶
۴۰۹- چې پابندد خط وخال شي ۳۵۷
۴۱۰- چې دعشق بنا قايمه په کوګل شی ۳۵۸
۴۱۱- زړه مې په ياروتاړه چې يار به زما مل شي ۳۵۸
۴۱۲- چې دزلفو يې وينښته درهم برهم ۳۵۹
۴۱۳- چې قانع لکه همای په استخوان شي ۳۶۰
۴۱۴- ترهغه چې تسکين بخش يې دلدارنه شي ۳۶۱
۴۱۵- زور جدا وي زير جدا زيرزورنه شي ۲۶۲
۴۱۶- چې دخلقه تل غيبت کاندی بدګوی شي ۳۶۲
۴۱۷- يکبيني ده داحد پيژندګلي ۳۶۳
۴۱۸- ستا په خيال کې درسته شپه کله ځملي ۳۶۳
۴۱۹- غمزده بيامومي هله بيغمي ۳۶۴
۴۲۰- يې له تانه ځی دزړه مې پريشاني ۳۶۵
۴۲۱- مخ لکه چې ستا دی په دانور چرته آفتاب وي ۳۶۵
۴۲۲- دهر چاچې کور په مخ کې دسيلاب وي ۳۶۶
۴۲۳- چې مرګ حق دی عاقبت هرځوک وفات شي ۳۶۷
۴۲۴- شهيد شوی چې په تبغ د محبت وي ۳۶۸

۴۲۵- ددلبر وپه غم څوپې زړه آباد وي ۳۶۹
۴۲۶- البته هغه لبان به دلپسند وي ۳۶۹
۴۲۷- که ګرمي وي خوپه ورځ دهربازاروي ۳۷۰
۴۲۸- صنوبر هسې ویاروته ولاړ وي ۳۷۱
۴۲۹- که رضا دپاک الله ده څومې دم وي ۳۷۲
۴۳۰- همیشه مې پیوسته سروزنګون وي ۳۷۲
۴۳۱- څه ژوندون به مې دمینې په لنبووي ۳۷۳
۴۳۲- عاشقان له بودو باشه آسوده وي ۳۸۳
۴۳۳- چې په عشق کې فرزانه وي ۳۷۴
۴۳۴- چې خالي له محبته دیارنه وي ۳۷۴
۴۳۵- وعاشق ته ددوزخ هیڅ ویره نه وي ۳۷۵
۴۳۶- زما ستا به دا محبت وي که به نه وي ۳۷۵
۴۳۷- عاشقان چې معشوقان هوری هوری وي ۳۷۶
۴۳۸- زه به پرینږدم دمینې بادشاهي ۳۷۷
۴۳۹- چې می وکړه آشنایي ۳۷۷
۴۴۰- زړه په هرساعت مینه دیار مې فرمایي ۳۷۹

(چاربیتې)

۱- ته یوځله مې ترکوره راشه ۳۸۰
۲- نه بادشاهی غواړم نه تاج او نه تخت ۳۸۲
لغتنامه ۳۸۴

بسم الله الرحمن الرحيم

الف

"۱"

الهـي آه ونـالـه د مـحـبت را
اور د مـيني پـر کـاله د مـحبت را
لکه ګل په غم د عشق مې ځـيګر خون کړه
داغ پـه زړه لـکه لالـه دمـحبت را
تـشنه لـب دمـی دمـيني هـرنفس يم
پـه کـرم يـوه پـيالـه د مـحبت را

پـــه تعـــلـــيم دمـــيني زړه مې معـــلم کړه

ولـــوســـتن تـــه رســـالـــه د محبت را

صـــيد دعشق په دام مې راوله لـــه فـــضله

په کـــمـــندکـــې غـــزالـــه دمـــحبت را

په نعمت دعـــاشـــقي مې بـــهره یاب کړه

لـــه احـــســانـــه نـــوالـــه د مـــحـــبت را

په څلور طـــرف مې کړه مـيـــنه مـحيطه

د قـــمر پـــه شـــان هـــالـــه د مـــحبت را

سرتر پـــایه د هـــوس لـــــه ز مـــستانـــه

ســـره ریـــــږدم دوشـــالـــه د مـــحبت را

بې له عشقه پـه بل حرف مې ګـــویامه کړه

تـــل پـــه ژبـــه مـــقالـــه د مـــحـــبت را

چې قـــبول مـــې محبت کړې خـــداونده

نـــور پـــه لاس کـــې قبـــاله د محبت را

«۲»

تودچې په کونین کې دی بازاردمـــحبت ستا

ځکه ثقـــلین دی خـــریدار د مـــحبت ستا

غواړم نه جنت نه یې مـــیوې نه یې ګـــلونه

شي که مې روزې بنګلی ګلزارد مـــحبت ستا

شغل دخپل عشق دکارعطاکړې زمـــا خدایه

هرساعت مـــشغول اوسم په کاردمـحبت ستا

زرمې کردګاره دخپل عشق په نشه مـست کړه

می غوارم له تانه پـه تـلوار دمحبت ستا

دم په دم طلب کوم ساعت په ساعت غـواړم

زه چې په هـر آن یم طلبګار د محبت ستا

هسې بیماري د خـپلې مینې را عـطا کـړه

زوړ نه شم هیڅوې زه بیمار د محبت ستا

پرانزه دعشق دروازه خپله چـې بـاریاب شم

زه هـم دربارې یم د دربار د مـحبت سـتا

رسم به منزل تـه د مقـصود په یوقـدم کې

خوڅې ښې[1] مې کیښووې په لارد محبت ستا

رنځ د محبت چـې نـه دارو ته یې دواشته

غـوارې مـحبت هم دا آزار د محبت سـتا

"۳"

کـه داهـسې مـینه ده نازنـینه سـتا

په عـالم مـې به رسوا کـا مـینه سـتا

عـبث لـمړې لـوړې کـوې تـلاښ

تـر شـهر کـه ده شـها قرینـه سـتا

هسې وخت مې خدای به هم کاندې نصیب

چې یـودم کـیدم[2] سینه په سـینه ستا

(۱) ښې = پښې

(۲) کیدم = کښیردم

هـــد ووبه يې نه ويني په هـــيڅ شـــان
کـــه طـــالـــبه ســـترګـــه ده دوبـــينه ســـتا

کتی نه شم چې څوک ګوري ستا صـــورت
نـــده خـــوښه مـــې جـــامـــه مـــهينه ســـتا

لا د عـــشق په رنـــګ کې ماکاندي غريق
داپـــه سر چـــې ده پګړۍ رنـــګينه ســـــتا

د آسمان وګې کلـــه هـــسي بـــر يـــښيدل
لـــکه بلـــق وهـــي طـــره زرينـــه ســـتا

بـــې لحاظـــه کـــه هـــرڅـــووايـــي ولې
زما خـــو ښـــه ده خـــبره ســـپـــينه ســـتا

ستادی عـــشق که يې ايمان دی که يې کفر
نـــه جـــاروزي مـــحبت لـه ديـــنه ســـتا

"۴"

هـــرزمان مې په نـــظرکـــې روی دی ستا
مـــخ زمـــا هـــره لـــحظه په سوی دی ستا

ژاړم سروه کـــه وينم پـــه لـــب جـــوی
چې په خيال کې مې قامت دلجوی دی ستا

زه په بلـــې خوشبو يې کلـــــه شم خوښ
چې دمـــاغ مـــې معطر په بـــوی دی ســـتا

زه بـــل بـــاغ څه کړم کـــه وي بـــاغ ارم

چـــې زمـادی ګلستان داکوی دی ستا

عـــابل اور ســـیزلی نه شـــی پـــه جهان

هغه اورچې زه پرې سوزم خوی‌دی ستا

د عـــالم په تـــورو نه غـــو څـــېرم زه

که زما قـاتل دی دا ابروی دی ســـتا

بـــل زنخیر بـــه لیونی ستانه کـــا بنـــد

چـــې د ده زنخیر دزلفوموی دی ســـتا

یـــابه مـــړ شم یابـــه تـــاکـــړمه پـــیدا

تل ژوندن سره مـې جستجوی دی ستا

ستاله شوره په قدسیانو پریووت شور

محبته عجب های وهوی دی ستا

"۵"

که ادنی یم معـشوقه به مـــې اعـــلاکـــا

سرفـراز مې که یودم په مشغولا کـــا

کی[۱] مال وړی[۲] لـــه خلقوهیـــځ ژړابه نه وه

ژړا داده چـې دا عشق دزړونو غلاکـــا

مـــرورکـــه لـــه مـــا ګـــرزي څـــه پروادە

چـې عاشق یم زماعشق بـــه یې پخلا[۳] کا

---

(۱) اصل :که ؛ کی = که یې

(۲) و ړلی

(۳) اصل:پخول

یاد وي [1] دزړه داغـــونه مـــې په باغ کې

نـــنداره زمـــادلـــبر چې دلا لا [2] کا

کـــه يـــوه خبره هـــم را ســـره وکړې

خدای به ستا په دوه جهانه بول بالاکا

عشق آرام وقرار ټول راڅـــني واخـــست

مال چې وه يوبې ووړاوس به څه تالاکا

زه له زلـــفوبې ويريږم خدای دې نه کـــا

چـــې د چـــاپلوته مخ توره بـــلا کـــا

په لحظه کې بـــه په باغ نرګـــس بيمار شي

که مې يار ورته ښکاره سترګې شهلاکا

محبته کـــه دا چارې دي د مينـــې

آخر ما په يو آفت به مـــبتـــلا کـــا

"٦"

چې په خيا ل يې ستا جمال وي څه به خوب کا

چې جمال دې يې په خيال وي څه به خوب کا

درســـته شيه دردمن دې رونه کا يـــه ســـترګو

چې له دردو يې بد حال وي څه به خوب کـــا

خـــوب ور ځي کله په ستر ګو د غمجـــنو

چې په زړه کې يې ملال وي څه به خوب کـــا

---

(١) اصل : یاده وی

(٢) لالا = لاله

خـــالي نـــه شم يو ساعت هم ستاله ذکـــره
چې مشغول په قيل وقال وي څه به خوب کا
خـــوب پـــه دين د عاشقانو کـــې حـــرام دی
چې په تيغ دعشق حلال وي څه به خوب کـــا
چـــې حيرت ونيسي څوک خوب يې محال شي
په هر چا چې خوب محال وي څه به خوب کا
خوب غفلت دی او غفلت د عشق نقصان دی
چې عاشق صاحب کمال وي څه به خوب کـــا
د هر چا چې پـــه جـــلوه د مـــهر و يـــانـــو
زړه روښان لکه مـــشال وي څه به خوب کـــا
شپه يوکـــال په مـــحبت شي ستا په غم کـــې
هره شپه چې پرې يوکال وي څه به خوب کا

"۷"

هر ســـړي چـــې لـــه ګدايـــه محبـــت کا
مـــعلومـــږ ي چـــې له خـــدايه محبت کـــا
هغه کـــس چې په دنيا محبـــت کـــانـــدي
لـــوی نادان دی ډيربې ځـــايه محبت کـــا
چـــې د زړه مې آرايش په دلآرای دی
زړه زمـــا لـــه دلآرايـــه مـــحبـــت کـــا
دانامـــيـــنه په هـــغه کا چـــې بـــاقـــي وي
نادانـــان لـــه فـــانـــي ســـرايه محبت کـــا

د مـــجـــاز د معشوق وصل فاسق غـــواړي
عـــاشقان چـــې وي له ورايـــه محبت کـــا

محتسب پـــه زاهـــد ډيره مينه کـــانـــدي
خـــود نـــمای لـــه خـــو دنما يه محبت کا

عـــاشقان مـــحظوظ پـــخپل آه ونـــالـــه وي
مـــطربـــان لـــه چـــنګ ونا يه محبت کـــا

ســـتا طـالب خودد يوال ســـوری دې غواړي
دنـــيا طلـــب لـــه هـــمايـــه مـــحبت کـــا

چـــې پـــه نـــوم د مـــحبت يې مسمی کـــړم
نـــور دې خدای مې سرترپايه مـــــحبت کـــا

"۸"

دمـــردي کـــارونـــه واړه اهـــل دردکـــا
کـــار چـــې دی د بيدردی هغه نـــامردکـــا

لـــه عـــاشقه زړه چې سوړ د معشوفـــې شي
هميشه هـــغه عـــاشـــق به آه ســـرد کـــا

پـــه خـــپل حسن چـــې آفتاب هومره نازيږي
که مې يارشي جلوه ګر مخ به مې زرد کـــا

ګرد چـــې پريوزي لا څهره دې شـــي روښانه
مـــخ دې صاف د آئينې په مـــثال ګرد کـــا

لـــه قسمته هيڅ خـــبر نه وم افـــسوس دی
چې فـــلک می لـــه طـــفلی به غم پروردکـــا

مـــعشوقه پـــخپل طلب په در ست جهان کـــې

عـــاشقان پـــه ګرزو لـــو جـــهان ګرد کـــا

عشق په کـــور څوک مسافـــر کـــالکه ژرنده[1]

مـــلک په ملک څوک وګرزئ[2] ره نوردکـــا

بـــل ديـــوان دشـــعر څوک بـــه ونـــه ګوري

کـــه نـــظر د مـــحبت پـــه يـــوه فـــرد کـــا

"۹"

لاس دراز کـــه ســـتا د دوه زلـفوکـــمند کـــا

کـــه وي صيد د حرم هم بې[3] په بندکـــا

زه پـــه مرګ د مفاجـــات به بنادي مـرګ شم

مـــحبوباکـــه مـــخ نا ګاهه را څـــرګند کـــا

چـــې خـــوږې خـــبرې کـــاندي لـــب شکره

خـــولـــه خوږه مې په مزه يې لـــکه قـــند کـــا

د خـــو بـــانـــو پـــه بازار زه هم زړه يـــوسم

له قسمته مې يې ګوندې[4] څوک پسند کـــا

پـــه عين وصل چـــې شوخ نوم د رقيب واخلې

د خـــوښي خـــندا مـــې ټوله زهر خند کـــا

لکـــه ګوی زه بـــه داســـر پـــه ميدان کيدم[5]

شهسوار مـــې په جولان کـــه خپل سمندکـــا

چـــې پيونـــد دزړه لـــه عـــشقه سره نه کـــا

خـــدای هـــغه سړی د مـــزکې دې پيوندکـــا

---

(۱) اصل : جرنده

(۲) وګرزئ : وګرزوي .

(۳) اصل : ﭖی = بې = به يې.

(۴) اصل : کند

(۵) کيدم : کښيږدم

پـــه څه شـــان زه خوف له زلفوپې ونه کـــړم
خـــطره هـــر کـــس لـــه ماره دګزند کـــا
ددنـــيا بـــا دشـــاهي نـــه غـــواړم له خدايه
کـــه په تاج د مـــحبت مـــې سر بلند کـــا

"۱۰"

د ګلـــزار څښتن کـــه حظ په خپل ګلزار کا
محبت د ګلـــر خـــانـــو په رخسار کـــا
ګدايـــان د يـــار د در پـــه ګـــدايـــي کې[1]
هـــغه فخر په شاهـــي چې شـــهر يار کـــا
لـــه نـــعمـــته ددولـــت د خرقـــه پـــو شـــو
که آګـــاه شي ډير آرمان به دنيا دارکـــا
يـــوساعـــت د وصـــل بـــيا مـــومم له بخته
آســـمان بل ساعت د هجر را دو څار کـــا
چـــې تـــقديـــر مـــخ کا د کار په ورانو لـــو
څـــه تدبـــير د د انـــايـــانو هلته کار کـــا
نـــنداره يـــې د مـــخ هـــغه کا په خوب کې
زلـــيخا غوندې چې خداى مى بخت بيدارکا
واک د زاغ وزرکې څـــه دى په خپل يون کې
بدرفتارکاڅوک فلک څوک خوش رفتار کا
تـــندرســـتي پـــه دين دنيا بـــه هـــغه مـــومي
چې د عشق په بيماري کې ځان بيما ر کـــا

---

(۱) اصل : کړي

په اسرار د محبت به هغه پوه شي
غور[1] له زړه د محبت چې په اشعار کا

"۱۱"

د قیامت په ور ځې هغه کس به نازکا
په دنیا کې چې له زړه عجزو نیاز کا
سر داري به د کونین روزي زما شي
که د عشق په کلاه خدای مې سر فراز کا
کله مند بې حده یم له خپلو اوښو
دوی د رازمې غمازي، لکه غماز کا
دوه عالم پخپل کمند مسخر کا ندي
ستا دوه زلفې په تسخیر چې لاس دراز کا
هیڅ احوال دې په رندانو نه پټیږي
په حیرت یم دوی ته څوک اظهار د راز کا
شاید عشق مې تارو شمیري یا تنزری
چې هردم غوټې راباندې لکه باز کا
خوش آواز مرغان به وارې په فریاد شي
که عاشق دې زمزمه له سوزه ساز کا
وعیسی ته به هیڅوک مړی یونسی
که زما د لبر اظهار د خپل اعجاز کا
په کعبه دزړه چې خپل مسجودې[2] بیامونه
څه حاجت چې محبت قصد د حجاز کا

---

(۱) اصل : غور

(۲) مسجودې = مسجودیې

"۱۲"

چې قضا راشي حکمت حکما څه کا

لقمان څه کاند بهلول دانا څه کا

چې دې مخ وینم څه باک له تورو زلفو

چې قرآن وي په مخ ایښی بلا څه کا

د لړم تک وهل نه دي په اختیار ینې

چې یې شه د طبیعت متقضی څه کا

په اثر عمل نښې و دعا کاندي

بې اثره نښې څه کا د عا څه کا

چې رنا دپروانې دسترګو اور شه

که په اور کې ځان وانچئ[۲] بیا څه کا

دوست که وژني او د ښمن نوازي مختار دی

څوک ویلی شی دې[۳] څه وکړه داځه کا

په هر یوکار کې رضا د خدای په کار ده

د بنده بیچاره خپله رضا څه کا

شاه دولا فقیر به داویل هر چا ته

چې مولا نه کا فقیر شاه دولا څه کا

چې نشان یې نا معلوم دی مونده نشي

محبته څوک تش نوم د عنقا څه کا

---

(۱) وانچوي

(۲) اصل : دا

"۱۳"

که یار هیسته ګـذر نه کاندي څوک څه کـا

چـې کشش مې اثر نه کاندي څوک څه کـا

وسـلام تـه یـې زر هـیړه زه حـاضر شم

چې دې لاس هم په سرنه کاندي څوک څه کا

ودر یړم په هرګو در ګوندې[1] دو چـار شي

چـې ګـذر په ګودر نه کاندي څوک څه کـا

زه خـو وایم چـې په غـم دې ومړم ومړم

ولـې دی چې باور نه کاندي څوک څه کـا

لـکه سپی په دروازه کې یې ځای غـوارم

چـې بار یاب مې په درنه کاندي څوک څه کا

کـه هر څو آب حیات لري په خولـه کې

چـې دی لب دچا تر نه کاندي څوک څه کـا

مـابه لاس لـه عشقه پور ته کړ نا صـحه

چـې قـضا وقـدر نه کـاندي څوک څه کـا

چـاپه زړه ځیګر بـه غشی د عـشق اخیست

چـې خطا زړه ځیګر نه کاندي څوک څه کا

آفـتو نـه د عـشق واړه ورتـه شـمیرم

محبت چې خطر نه کاندي څوک څه کا

---

(۱) اصل : کند

"۱۴"

مـــدعـــي بيل لـــه مـــاه رويه به ما نه کـــا
ســـايه څوک د چا لـــه ځانه جـــدا نه کـــا
مـــحتسب نـــاوري خـــبرې د مـــستا نـــو
بـــيخـــبر د خـــبر دار و ويـــنا نـــه کـــا
زاهدان که ډير شي مـــست ترې نه ويريږي
يـــو مـــزرى د زرګيـــدړو پـــروانـــه کـــا
پـــوهـــاره د خـــزانـــې پـــه اوبـــه ژاړي
زړه غـــمجن دى سترګې څنګه ژړا نه کـــا
د راتـــلو زيـــرى دې وشه نـــن په باغ کې
کوم يو ګل دى په خوښي چې خندا نه کـــا
وابه ورئ[1] شعر که شونډې مې په خوله کړي
بـــې شکر و طوطي هيڅوک ګـــويا نه کـــا
نـــور خـــوبان که ستم کاندي کرم هم کـــا
مـــعشوقه مـــې تـــل هغه کاندي د انه کـــا
پـــه بـــيګاو پـــه ســـبا يـــې څه يقين کـــړم
کـــوم اقـــرار چې دى بيګا وسبا نـــه کـــا
حـــذر کـــړه د مـــحبت د آه لـــه غـــشي
د آه غـــشي د درد مـــنو خـــطا نـــه کـــا

"۱۵"

خـــداى دې بيل له ما زما دلآ رام نه کـــا
چې[2] کا مران کړم ترودې اوس مـــې نا کام نه کا

---

(۱) وابه وروي
(۲) چې يې

زړه معمورمې دې لـــري مدام لـــه عـــشقه
لـــه شـــرا بو دې خـــالي زمـــا جـــام نه کـــا
بـــي دلـــبره زړه په څه شان به آرام کـــړم
هـــډ و زړه مـــي بـــې دلـــبره آرام نـــه کـــا
عـــاقبت بـــه درنـــه پاتـــې شـــي نيمګړي
د دنـــياکـــارونه هـــيڅو ک تمـام نـــه کـــا
د مطلب واګې په لاس به څوک رانه وړي
څو پـــه خـــوله د خامو شي چې لغام نه کـــا
چې څوک راشي لـــه دنيا په تلـوار تير شي
دا مـنزل دی خطر نـــاک څوک مقام نه کـــا
ګل ګر يوان څيرې په مخ يې کا په باغ کې
يـــارمې ځکه و ګلـــشن تـــه خـــرام نه کـــا
کـــيفيت د عشق دمـــی بـــه يې ورنه شي
څوک چـــې ځان آخته په شرب مـدام نه کـــا
حـــلال می د محبت نـــه شي پری بانـــدې
څوخوراک وخوب په ځان څوک حرام نه کا

"١٦"

څود زړه پـه سترګوڅوک ننداره نه کا
مـــحبو با به لـه پردې مخ ښکاره نه کا
د عشق ښهردې آباد وي چې هوس مې
پـــه صـــحرا کـــې د دنيا آواره نه کا

څه کړم خدایه چې قاتل مې نه خوښېږي
څـو د عشق په توره زړه مې پاره نه کا
پـــس له مرګه مې وفابه کړه ظـــاهـــره
ولې خدای به بیا ژوندون دوبـاره نه کا
ماد آه په کوله ټول آسمان غلبیل کـــړ
هـــسې کـــار به پـه قـلعه غـــباره نه کا
عـــزرائیل غـــریب خو ما وژلی نه شي
څـو د قـــتل مـــې قاتل اشـــاره نه کا
چـــې څهره ګڼي بِـــه لـــه ګله خپلـــه
لـــه غـــروره د ګلـــزار نـــظاره نه کا
اچـــوم ورتـــه عـــبث دخدای رویونه
رحم یې نشته کار د خدای د پاره نه کا
اوس نـــوبت د مـــحبت چې زما راغی
بې ماله دې څوک د عشق نغاره نه کا

"۱۷"

خـــواري راکا هم عطا راته زاري کـــا
هرچې کا ندي په ما شندې ستا یاري کا
نه ښکاریږي عشق او زړه راځخه یوسي
هسې غل نه څوک به څه خبر داري کا

ژړ ول[1] هـم حد لري بس رحم وکـړه
مـبتلا دې څـوله ستر ګـو خو نباري کا
زه پـــه عـــشق د يـــو بيرحـــم مبتلا يم
څـو وفـــا کړم هومره دی جفا کاري کا
بـــې لـــه ظلـــمه لـــه تا څـه امید ظالمه
ستمګـــار ِ پـه هردم ستمګـــاري کا
مـــاد لدار ګنلی و چې زړه مـې ورکـــړ
ولـــــي وخـــوت دلآ زار دلآ زار ي کا
زړه څه يـــوســـم پـــه بازار د دلبر انـــو
کا سـدجنس دیځوک به يې خريداري کا
هـــوښ ربای دټول عالم دغه دی راغـــی
که زاهـد هـوښياردی اوس دې هـوښياري کا
مـــحبت چې د فراق په رنځ رنځور شه
بـــې لـــه وصله څه عـــلاج د بيماري کا

"۱۸"

په جـمال چې دخپل ياروکړ نظرما — بيا په سترګـــوونه ليد هسې بشر ما
يارته ګورم هـــم ديار خبر ې اورم — سترګـې غوړکړه لـه اغياره کوروکرما
پـه لنبوکې چې دعشق تراوسه پايم — زيست پـــه اوروکړپه دوددسمندرما
له هغه وخته چـې شپه دهجرراغله — مـــخ ونه ليد په جهان بيا د سحر ما
دوه رخساردې منورچې رابنکاره شو — لـــه نظره پرې ايستل شمس وقمرما
خبر دار شوم د دلبر لـه مـــا هيته — چې کړ ځان له خپله ځانه بيخبر ما

---

(۱) اصل : ژړه ول

له جمله خوبانو تا مـــې نظر بندکړ ستا په شان ونه لـيد بل يوسحرګزما
اوس چې الوزم ترعرشه پورې رسم ستاپه عشق هسې پيدا کړه بال وپرما
په تلاښ کې د ر هبروم له مد ته
محبت بيا موند آخروته رهبر ما

"۱۹"

خوښ يم که رالوبې هـــر ساعت په سرز ما
دي رانجه د ستر ګوخاورې ستا ددرز ما
هره شپه سحر کاندي آفتاب په خپل جمال
تاپه مـخ ونـــه کـــړه يوه شپه سحرزمـــا
داغ په داغ به را کوې تـــر څود جـدايي
ودې سـه[1] په داغو سره ټول ځيګر ز ما
زه بـــيګنـــاهي کـــړم مو کده په قـسم
ولې ته ونه کړې په قـــسم بـــاور زمـــا
غم دموی د زلفو دې داهسې کړم نحيف
جـــسم هـــډ وپاتی نه شه موی قدر زما
يارمې لکه بويه هـــسې زده کړه دلـبر ي
حيف دی چې زده نه کړه دلداري دلبرزما
عيد مې موقوف نه دی په شوال وذوالحجه
هـره ورځ چـې تـــاووينم وي اختر زمـــا
ډيره ده آبداره تـــوره ستا ولـــې افسوس
تـــاپـدې او بـــونـــه کـــړ داحلق تر زما

---

(۱) سه : سوه = ودې سوزه

تاپه مـــحبت کې قـدم کښيښود په هوس

ســـر دی ستا رقـيبه پس له دې اوسرزما

"۲۰"

ساقـــي تر دې کـــړ حلـق وکـــام زمـا

پـــه شرابـو دې ډک نه کړ جـام زمـا

صـــــبح وشام وخـــتونه دي زاهـــده ستا

زلـف و مخ ديار دي صبح و شام زمـا

بـــد اخترمـي شوی نه دی نيک اخـــتر

ګـــر ز يد لـی نه دی لا آيام زمـــا

زه آرام لـــه کومـــه راوړم ستاپه عـــشق

بـــيـتابـی يـــوړ دزړه آرام زمـــا

د هـر چـا جـد اجـدا بـخره کـا يار

بنـــــه خـــبره د رقـيب دشنام زمـــا

له ماوابه نه وري هـــيڅـوک بل کلام

عـشق دی‌عشق دی هـرساعت کلام زما

چې عاشق شوم نه نام پاتې شه نه ننګ

مـينې يـــوړ جملـــه ننګ ونـــام زمـــا

سرګردان ورپسې شوم سر په صحرا [1]

ولـــي و نـــه شه وحشي مـــې رام زمـــا

چـــې روزي مـــې شـــه مقام د محبت

بالا تـــر تـــر عرشـــه شـــه مقام زمـــا

---

(۱) اصل: صحرا صحرا

"۲۱"

په کرم د محمد دی په هـرحال نگـاه زمـا

زه ګدای د محمد یم محمد دی شاه زمـا

چـې امت د مـحمد یم که هرڅویم تباه حال

محمد به کله وګـوري احوال تباه زمـا

بې بارانه درحمت مې که هرڅو شووچ وابنه

محمد به بیا سرسبزکا ندي داوچ ګیاه زما

که شیطان او نفس په ما کړه لکه شر مښ غاښ تیره

په لمن د مـحمد دی په هـرآن پـناه زما

ګمراه نه یم چـې په بلې لارې واچوم قـدم

چې شاهراه د محمد دی هم هغه دی راه زما

که لښکرې تولئ [1] دغم هروخت را باندې دهر

دي فـضلونـه په هـردم د محمد سپاه زما

زه اول له خدایه غواړم په زړه عشق دمحمد

محمد به کاد خدای له عشقه زړه آګاه زما

چې مداح یې داولادیم برطرف به شيءعصیان

چـې دوستدارې [2] داصحاب یم دوربه شيءګناه زما

چـې لر مـه د نامـه یـې محبته محبت

مـحمد مـحمد ورد دی هر سبا بیګاه زمـا

---

(۱) تولوي

(۲) دوستوراې = دوستدار یې

"۲۲"

چې لذت بیا موند بسیارد عشق په غم ما
قـــبول کړ د مـــحبت دردوآلـم مـــا
هغه کـــورکـــه راته سم شوی له غروره
و بـــه نـــه کاته د چـاپـــلوته سم مـــا
که ګلزاردې د کوڅـې زمـاروزي شوی
پـــه جـــنت کې بـه کینښو یو قـدم ما
پـــه ســـتم کې دې مـــزه ده پته ځکه
قبول کړی دی له زړه نه ستا ستم مـــا
یو غضب دې خـــالي نه دی لـــه کرمه
په غضب کې دې لید لی دی کرم مـــا
مـــی نو شـــي به ترکه نه کړم محتسبه
د ســاقي د سو خورلی دی قـسم مـــا
بـــې سرابه راتـــه نورڅه معلوم نه شـــو
نـــنداره پـــه غوروکـــړه د عـــالم مـــا
کـــه د عـــشق مـــقابـــله چانه ده کړې
هرچې خدای کا اوس خوپورته کړعلم ما
ټول جـــهان د مـــحبت پـــه شعرډک شه
چې د عـــشق پـــه رقم پورته کړ قلم مـــا

"۲۳"

په ستم که څوک خوشحال شي د آشنا

بهره یاب به په وصال شي د آشنا

خدای آشنا دې له هیڅا نه کا جدا

یوساعت بیلتون یوکال شي د آشنا

ته مې وژنې نه دي شوي چرته دا

چې آشنا ته خون حلال شي د آشنا

شم بیهوښ لکه موسی په تجلی

چې ښکاره راته جمال شي د آشنا

دزړه سترګې که چانه کړلې پیدا

ترو دیدار به یې محال شي د آشنا

شي له خپله حاله څوک چې بیخبر

خبر هغه به په حال شي د آشنا

هغه هیڅوي بیانه کاندي بل ذکر

چې مشغول په قیل وقال شي د آشنا

کله خوب کولی شي هغه عاشق

چې یې خار په سترګو خیال شي د آشنا

وو د زړه مرغه ته مې دام و دانه

اې ناصحه خط وخال شي د آشنا

زه راضي یم محبته په خپل مرګ

که په مرګ مې زړه خوشحال شي د آشنا

"۲۴"

پته ستمګره په وفا دې ده جفا
دواړه برابر دي لکه هغه هسې دا
هیڅوک په دنیا کې پاتې نه شي عاقبت
ده د دې دنیا لکه فنا هسې بقا
عهد چې صادق کړي مو ده کیدي[1] د قیامت
صدق نه شه دالکه دروغ هسې رښتیا
زړه مې کله وړي په نیم نګاه اوکله مفت
دي درته یکسان لکه خرید هسې ویړیا
بې له تا په شپه کړم فریادونه هم په ورځ
غم چې وي په زړه لکه بیګاه هسې سبا
ستا په غم خندا مې هم ژړا ده لکه شمع
وي د دلسوخته لکه ژړا هسې خندا
ځای داقامت د هیڅا نه دی داجهان
تله دي له دې سرایه لکه ستا هسې زما
عشق د شیرین ووژله فرهاد و که خسرو
وي په محبت کې لکه شاه هسې ګدا

"۲۵"

عاشقان رهنمایان دي د دنیا عاشقان کارفرمایان دي دعقبا
ومنزل ته رسئ[2] ادنی اعلی عاشقان چې رهبران دي دهر چا
مقتدي یې په جهان کې دی هرکس عاشقان هم امامان دي هم پیشوا
هر پنهان وي عاشقانو ته ظاهر عاشقان عارفان هم اولیا

---

(۱) کیدي : کښیږدي
(۲) رسوي

عـاشقـان ددين دنيا دي مـالكان عـاشقـان دي بـادشاهان هم فقرا
دكيميا لـه عـاشقـانو كړه طلب عـاشقان وي كيمياګرعشق يې كيميا
د خپـل درد عـاشق په خپله كا دارو هـم دزړه يې عشق وي درد هم يې دوا
عشق يې هم رنځورئ [1] هم يې رغئ [2]عـشق هم رنځ وي دعاشق هم مسيحا
هم حريص شه دمعشوق هم هواخواه كه بهتردي خودعشق حرص وهوا
زهـر مومې كه لـه لاسه دمعشوق زړې [3] تېرترسـتوني كړه لكه حلـوا
ځـان فـاني كړه په بـقادمعشوقې وايـه بيا لـسكه مـجنون انا لـيلا
كه حيوان دې‌كه انسان دې‌كه پـيرى پـه بـلا د عـشق هـمه دي مبتلا
ملا يک كه مـجازي نه لـري عـشق حقـيقى عـشق نه ليكن نه وي رها
خداى هم نه دى بې معشوقه وكړه فـهم مـحمد دى پـداحرف ګـواه زما

مرتبه د عشق ده تيره تر هر څه
مـحبته بس پـدا كړه اكتفا

"٢٦"

سـودا مـه كړه پـه بـازار د دې دنـيا
زيـان ترسـود كـاخريدار د دې دنـيا
ددنـيا په لار به پـريوزې په ګـرنـګ
كـندې كـو دړې لـري لار د دې دنيا
خـاورې لـونې به په سركه دې زړه خپل
مـكدر كـړ پـه غـبار د دې دنـيا
ګـفتګوى مـاوره شـميره يې پـوچ ګو
چې شروع كا څـوک ګـفتارد دې دنيا

---

(١) رنځور وې
(٢) رغوي
(٣) زړې = زړيې

کاردعشق کړه که ځـان بولې کارپر داز

بـــیکاران کـــا کار وبار د دې دنیـــا

هـــډ و ورکه بـــه دې نشې ســـردردي

که مـــخمورشوې په خـــمار د دې دنیا

آمـــان غـــواړه د دنیا لـــه بـــیمار ی

خدای دې نه کا ځـوک بیمارددې دنیا

آخـــر ســـوزي به په اور کـــې د دوزخ

چـې ځـوک وســـه پـــه شراردې دنیا

د مـــردار خوهـــم مـردار کاجـــستجوی .

سـګ وخوګ وي طلـــبګا ر ددې دنیا

هـــربندي لـــه هـــره بنده بـــه شي خلاص

خلاص بـــه نه شي ګـــرفـــتار ددې دنیا

آدم زادې [1] مـه بولـه دی ګـاووخر

چـې ځـوک پورته کاندي بار ددې دنیا

هـــغه پـــیر دی د کفـــار لـکه بـــا من

چـــې ونه شلـئ[2] زنـــار ددې دنـــیا

د اولاد آشـــنایې پـــر بـــردي عاقبت

بـــیګـــانه دي مـورو پـــلار د دې دنیا

هـیڅ تړون یې مســتحکم نه دی هر ګز

خور په ســـر به شي دســتار د د ې دنیا

د اغـــیارو پـــه ځیر کـــاندي اغـــیاري

بـــاري نه پـــیژنـــي بـــار ددې دنـــیا

---

(۱) آدم زادې =آدم زادیې

(۲) ونه شلوي

لـــه يوه پـــلـــوه بـــل پـــلو شي تـــير
وي د بـــاد په څـير رفـتار د د ې دنيا

ګـــهې کـــا تـــياره ګهې کـــاندي رنا
هـــــميشه لـــيل ونـــهار د دې دنيـــا

چـــې بـــقا نـــه لري دواړه دي يکسان
هـــم ګـــداى هـــم شهريار د دې دنـــيا

ظـــاهر بـــريـــښي ولي کـــالاســـونه تور
که درم دى کـــه ديـــنار د دې دنـــيا

پـــرون ســـتاوي نـــن زمـــا سبا دبـــل
پـــه يو ځـــاى نه وي قرار د دې دنـــيا

د دنـــيا هـوښيار په دين کې وي نـــادان
تولعنت شه په هـــوښـــيار د دې دنـــيا

مـــحبته آخـــر تـــيرشـــي پـــه هـــر چـــا
لـــکه عـــمـــر هـــــسې وار د دې دنـــيا

"۲۷"

چـــې آخـــر نـــشته بـــقا تـــه فـــاني شـــه لا پـــخوا
دنيا ځاى دى د آزمـــيښت که دروغ کړې که رښـــتيا
بـــې نشان کړه بـــانشان پـــه دام راو لـــه عـــنقـــا
لار کـــه پـــيښه شي کړه وجـــاروزه بـــيرتـــه نـــا
واښـه شنه کـــړه په اوبـــو زړه ژونـــدى کـــړه په ژړ

لینده غشي سم کړه خپل　　چې ګذارکړې بې خطا
یو پروالره دیار　　نورخپل ځان کړه بې پروا
پا څه کړه هغه طلب　　دشهو چې ده شها
چې دې زیست تیرشي په عیش　　بنکلې ناوې کړه پیدا
په دنیا حاصل کړه دین　　ځارتردینه کړه دنیا
بیا دښ ځار کړه تر شهی　　په هغه حاصل کړه دا

یا محبوب والمحبت

اَنَـنِي مَـعَکُـمَا

"۲۸"

مې دمینې کړم له ځانه بیخبربیا
اوردعشق لنبې مې بلې کړې په سربیا
خلاص دې کړم په یونظرله هره بنده
زه دې ځار شم تر نظره یو نظربیا
قیامت تیرشه دهجران له حشره خلاص شوم
چې یوځله تیر شي نه را ځی محشربیا
د وصال شپه په ساعت کې شوه تمامه
رابنکاره کړ مخ د بیلتانه سحربیا
بې شعوره بې له تا لکه حیوان وم
چې مې ولیدې په سترګو شوم بشربیا
شپه د غم مې به سحرشي په یو دم کې
که بنکاره کړې څهره خپله لکه نمر بیا

دردعیش مې په زنځـیر د غم دې بند کړ

ولـې نـــه پـــرانـــزې راته هـــغه دربیا

چې جوړ کړی مـی دفتر د جـــمعیت وه

پـریشان زلفو دې کړوران هغه دفتر بـیا

زه فقیر د خپل ګـوهر پـــه ورکـــیدووم

بیا بادشاه شوم بـیا مې موند هغه ګوهربیا

که څه دم دې زده ناصـحه وي راپـو کړه

مـــحبت زمـــا پـــه زړه وکړ اثـــر بـــیا

ب

"۲۹"

لـــتئ[۱] زمـــا دپـــاره تبـــغ بـــې آب

چـــې حلال مې کا ظالم په ډیر عذاب

عـــاشـــقان ورژني تـــل پـــه تیغ دجور

خدای پـــیدا کړی دې فرقې لـــره قصاب

چې داوښـــومې دریاب راشي په جـــوش

سپک مـــې یوسي په سرخپل لکه حباب

چې په زړه مې پیچ وتاب وي تل دعشق

شي ګـــردباد خاورې زما اوښې ګرد آب

---

(۱) لټوي

هـــميشه ښندي پـــه ســـردې ســـيم و زر

په آسمان چې دا آفـتاب دی کـــه مهتاب

شبنم ژاړي چـــې ګـــلرو يـــه تـــاپه مخ

لـــه ګـــلـــونـــو همـــه يووړ آب وتاب

د وصـــال زمـــا نـــه تـــير شوه افـسوس

رابـــه نشي هغه وخت شه خيال وخواب

الـــوداع اې ســـاکـــنانـــو د ســـا حل

زه د عـشق په لوی درياب کې شوم غرقاب

که دې زړه لـــه غمه خـــون نه کـــړزما

ولـــې ځـــي لـــه دواړو سترګـــومې خوناب

بل کباب وشراب څـه کـــاندي عـــاشق

د عـــاشق اوښـــې شـــراب وي زړه کباب

حجاب داربه بې حجاب کـــړې هغه دم

چې له مخه خپـــل ته لرې کـــړې حجاب

د عالم چې شوې مـــسجودې پـــه جهان

وروځـــې طاق دې دکعـبې دي که محراب

دواړه ورو ځې دې په مخ هم خط وخال

بـسم الله دي پـــه قـــرآن کـــې با اعـراب

تـــوبې کـــانـــدي لـــه شـــرابه زاهدان

مـــحبت لـه تـــوبې کـــانـــدي اجتناب

"۳۰"

په تلوار چې قاصد راغی زړه مې کاندي اضطراب
چـې بې[۱] وي راوړی بیاله دلآزاره څـــه خـواب
یوله عشقه خالي نه دی که عاشق یې وکړه فـــهم
امـرونهی وقصص هرچې دي راغـــلي پـــه کتاب
چې عاشق یم خاین نه یم لـــه حسابه مې څـه غـــم
لـه خاینه ســـره کیږي که حســـاب دی که کتاب
هرعذاب چې دې ثواب شه ماته اوس زه ستا په غـــم
نـــه وبـریږم لـــه عـــذابه نه خوښـیږم په ثـواب
چـې د نمرونورته ګورم دا آرمـــان کوم پـــه زړه
کشکې ولیدی هغه مې چې یو نورې[۲] دی آفتاب
که په خوب د غفلت راغلې آخر پـــریبوزي په تا
داخیمه چې ده ولاړه نه بـــې مـــیخ نه یې طـناب
که په قـهرتلخې کړې خبرې ذوق دې شي ســوا
په مذاق د عـــاشقـــانو چې شیرین دی ستا عـتاب
دا زمـــا زړګـــی خراب به ودان نشی بې لـــه تا
بـې لـــه تا به ودان نشي دا زمـــا زړګـــی خراب
که خوشحال دی که رحمن دواړه بیان کوي دعشق
له دې دواړو مـــا اشعـــار د مـحبت کړه انتخاب

"۳۱"

پـــه ښایست اوپه ترکیب اوپه اسلـوب
بـل مـــې تاغـــوندې ونه لـیدیو محبـــوب

---

(۱) بې = به یې
(۲) نورې = نوریې

ته پـــه تیغ کې خپـــل دامه ګنـه جوهر
لـــه ازلـه مـــرګ مې دی پـــکې مکتوب
بـــې کششه څـــوک درپـــسې نشي تلی
ته یې راکاږې ســـالک وي که مـــجذوب
کافـــر مـــشه هـــر زمـــان یې کړه حرمت
عـــرش د خدای دمـــومـــنانو وي قـــلوب
هـــم د عـشق مـلاح یې بیا کاندي پـیدا
پـه دریاب دغـم چې زړه مې کاندي ډوب
خوشحالی کـــوه که راشي غـم د عـشق
مـــه زیریږه حال بـــه ســتا شي واړه خوب
ته بـه هـم مړی ژوندي کړې په خپل بوی
دیوســف پـــه بـــوی بـــینا شه کـــه یعقوب
شي پـــه تا بـــه بـــې جـفا هـــمه وفـــا
که پـــیدا کړې پـــه زړه صـــبر د ایـــوب
بـــې مـــحبوبـــه نه شي زیســـت د مـــحبت
مـــحبت طـــالب مـــحبوب یې دی مطلوب

"۳۲"

سلطنت مـــې شه نـــصیب چـــې ګـدای شوم د حبیب
ونـــوازه مـــې پـــه نـــګاه تـــه بـــادشاه یې زه غـریب
لـــه تا هیڅ نـــه دي بـــعید که مـــې ځان ته کړې قریب
خوښ یم ډیرپه رنځ دعـــشق مـــحـــتاج نه یم د طـبیب

جهان واخیست عشق وحسن　　یـــو نـــایب شه بل منیب

په سوال مـــې هی افـــسوس　　هـــیڅرې نـــشوې مجیب

پـــه حـــسب د عـــاشقـــي　　رذ الـــه هـــم شي نجیب

اوس راکـــیوتـــم[1] په عشق　　هر چې خدای کایا نصیب

هـــر مـــحب شي مودب

مـــحبت یـــې وِي ادیب

---

(۱) کښیوتم

ت

"۳۳"

کبر جـــن شوې ته بـــسیار په دانښایست
د غـــرور سبب دولـــت وي یا ښـــایست
نـــه آفـــتاب ورتـــه رســـیږي نه مـــهتاب
پـــه جـــهان کې بې مثال دی ستا ښایست
پـــه صورت حسِین هم نیک یې په سیرت
د ظـــاهـــر بـــاطـــن پیدا کړ تا ښایست

[illegible]

[illegible]

[illegible]

هغه ستا بنايست دی دا زما بنايست

شي په خاورو آئينه لکه صيقل

گرد دمخ دې سوا کاندي لا بنايست

چرې چرې حسن آفت شي د حسين

د طاووس د څان خوږي بلا بنايست

[illegible]

ولې ستا غوندې ونه لېد ما بنايست

[illegible]

[illegible]

«۲۴»

[illegible]

زه دعشق په نشه مست يم دی ناز په ناز مست

[illegible]

د فارسي مثل اوس جوړشه چې درمست ودیوارمست

نه چې وخاندې له شوقه عاشقان شي لېونې

گل په باغ چې وغوړيږي شي مرغان دگلزار مست

هم بيمارې دي هم مستې دواړه سترگې د صنم

چا به بل لېدلی نه وي په جهان کې بيمار مست

که شراب سکم [1] دَ بهار په فصل ما کنه معذور

زه نا چار یم محتسبه چې وي وخت د بهار مست

ترزرداره دی بد ترکه وي طامع دزرفقیر

ترفقیره دی بهتر که په زرنه شي زردارمست

غم مې نشته عاقبت دی هر کمال لره زوال

خط نمود شه اوس ترکومه به په حسن وي یار مست

یو پیاوا زه سودا یې وم بل مې نوش کړ د عشق می

لیونی چې شراب وسکي [2] لا سواشي سر شار مست

د ځوانې مستی غفلت وي د شرابولیونتوب

چې مستي دمحبت ده د هغې وي هوښیار مست

"۳۵"

روغ به نشي هیچرې بیمار د محبت

خدای دې چاته ورنه کا آزار دمحبت

کارور سره مه لره که پوخ نه یې په عشق

کاربه دې ټول وران کادادی کاردمحبت

پریووت چې په بندې [3] بیا په عمرنه شه خلاص

مآزاد ونه لید ګرفتار د محبت

د ک کاندي لستونې خپل داوښو په ګوهر

سود کا مر غلرې خریدار د محبت

را دې شي مجنون که غرض مندوي د سودا

تووددی په ما اوس همه بازار دمحبت

---

(۱) چښم

(۲) وچښي

(۳) بندې = بندي

مـــا لـــيوني پـــورتـــه کـــړ آخرتـــه په سرخپل
بـار د امـــانت چـــې وه دابـــار د مـــحبت
ستر ګو مې د اوښو چـــې نـــهر ونـــه کړه جاري
څـنګه به ســـر ســـبز نه وي ګلزار د محبت
څوک غواړي دنيا او طلـــب څـــوک کـــا آخرت
زه يمه لـــه خـــدايـــه طلب ګـــار د مـــحبت
هيڅ به له نـــکتې د محبت نـــه شـــي آګـــاه
څـــو چې تـــه ونه لـــولې اشعار د مـــــحبت

"۳۶"

د ستې پـه يکبيني شه صـــد رحمت ځان پې وسه ولـې پرې پې نښو پت
پې لـــه ياره بـــل پلـــومـــه کوه مـخ مـــې بايد چې عاشقان وي يکجهت
کم ظرفي عاشق نه کاندي چې په عشق حوصله لـــويه پـــکار ده لوی همت
هـــغه کس د عشق له دينه وي مردود چې غوړکيدي[1] دناصح په نصيحت
عاشقان دې ملامت نه لـــري غـــم تل په دا فـرقـــه وايه شي ملامت
جام له عشقه د هغه عاشق وي ډک چـــې لـــه غمه خالي نشي يو ساعت
چـــې قـــامت د يار ونه ويني يودم هـــغه دم په عـــاشقانو وي قيامت
هـــغه کلـــه د جـــنت اوري بيا ن چې کوڅه وي دخپل يارورته جنت
نه په زور مې کار جوړيږي نه په زر زمـا کار موقوف دی ستا په عنايت
پـــا کان نه کاهـــو سعی د دنيا نا پـــاکان کاندي تلاش د نجاست

نورڅه نشته څه په دين څـــه په دنيا
محبت دی محبت دی محبت

---

(۱) کيدې : کښيږدي

ث

"۳۷"

رقـــيب مـــل مدام دياروي الغياث تل له ګله سره خاروي الـــغـــيات
کارپـــــه توره د جفا مې کړې تمام بـيا لـــه تا مـې سرو کاروي الغياث
راشـــه زرداروپې کړه دابـــه زمـــا څو زولـــن د زړه پرهاروي الغياث
څـــنګه نشي پـــه فرياد هغه عاشق چـــې دلـبر يې دلآ زار وي الـغياث
چې مې زړه واخيست په ځان دمينې رنځ هـــــميشه به دی بيمـار وي الغياث
تســـلي يې کلـــــه شي پـــه تجلي چـــې مشتاق دې ددیداروي الغياث
ياپـــه زلـــفو ياپه خط يې شي اسير مـــدام زړه مې ګـر فتار وي الغياث

هـغه کس په زمانه کې دی مـــظلوم چې دلـبر ې ستمګار روي الـغياث

مـــحبته نور رنځـــونه وي و تونې

مـــحبت دزړه آزار وي الـــغـــياث

"۳۸"

کينه[1] پـــه هـــوس مينه د يار کوې عبث

ځوان ددې کارنه يې ته دا کار کوې عبث

هيڅ په غوټه نه لرې سودا به کړې پـــه څه

خـــيال پـــه تشولا سو د بـــازار کوې عبث

قـــول که دې لـه فـعله سره نه دی مـوافق

ولې نه شرميږې چـــې ګـــفتار کوې عبث

باردمينې دروند دی‌که توان نه لرې دځـان

پـــورته په ســـرخپل څله دابار کوې عبث

دين و دنيا دواړه په يوځای چې کوې جمع

ډير بيهـوده کار کوې بـــسيار کوې عبث

تا چې خپل متاع لـه عيبه نه دی کړی پاک

ولـــې انتظـار دخريـــدار کـــوې عـــبث

وارکړه چې معدوم شي خود به يار وينې موجود

څـــله وديـــدن ته يې تلوار کوې عـــبث

نه يې مـسلمان چـــې په با طن کې لرې بت

هجوې پـــه ظاهر کې د کفار کوې عبث

رنځ د مـــحبت دی مـحبته لا دوا

فکر د دارو ددې آزار کوې عبث

---

(۱) کينه = کښينه

"۳۹"

چې عاشق شوله پرې مې ښوده دین ددنیا بحث
دین داران دنیا داران اوس څه له کاندي له ما بحث
زه په عشق دې ګرمـومه دی په عشق ماګر مئ[1]
هـمیشه لـــه خپله زړه ســـره مـــې کیږي پدا بحث
په غـــمزو په کـــر شـــمو په ادا کـــا مناظره
تل دیار له دواړو سترګو سره پروت وي ز ما بحث
دوه مین چې بحث کاندي یولـذت لري عـجب
څـه مزه کـــالب شکره چې زمـــا وي لـــه تا بحث
که تکرار راسره کاندي خو مـحبوب دې کاتکرار
بې لـــه بحثه د محبوب مې نه خوښیږي د چا بحث
تـــالـــه ماسره کـــوله چـــې پـــرون مـناظره
عـــجب بحث د کیفیت وه څخونن وکړه بیا بحث
هـــیڅ شفقت یې په ما نشته نرنا حقه لکه غـیر
هـــرساعت راسره یارمې خویا جنګ کاندي یابحث
چې له عشقه آګاه نه دي ولې بحث کار اسره
خپل دکنزو هـــدایې دې شروع کاندي مـــلا بحث
که دې زړه په بحث کیږي شه بحاث د محبت
نور بحثونه دي ادنی د محبت دی اعـلی بحث

---

(۱) ګرمئ = ګرموي

داد نـيا نجـسه نه پـريدی [1] خـبيث
آلـوده پـه نـجاست يـې وي خبيث
د اطـلاق پـاکـه جامه نـه کا پـه بر
لـه قـيوده مـطلق نـه وزي خـبيث
هـډ ونه ږدي په شـاهـراه د عشق قـدم
هميشه پـه کـږې لاړې ځـي خبيث
څويې زړه بيدار وي پـاک دی هغه کس
چې پـه خوب د غفلت راغی شی خبيث
روح يې شي روح القدس چې مري عاشق
روح يې شي پـيری پليد چې مري خبيث
صـاف کـړه زړه له کـدورته چې سړی
خـود زړه پـه خباثت کـيږي خبيث
ځـان اخـته کـاد دنـيا پـه جـواري
بـيهـوده خـپله منـکه بـايلي خبيث
دخـوبـانومخ ته نـه ګـوري زاهـد
لـه قـرآنـه بـي شهې تښتي خبيث
مـحبته لـه شيخانو شه په څنګ
ظاهر ي شيخان باطن کې دي خبيث

---

(۱) پريږدي

ج

"۴۱"

چې لرمه ددیدن دې احتیاج په کرم حاجت روا کړه د محتاج
تا اخیستې دی د حسن په قوت له خوبانود تمام عالم خراج
ذکرم موجودنه جنس هلته نه نقد په بازاردې یوستم لري رواج
چې د عشق بتانې مخ کا په غارت د عالم صبر و آرام کاندی تاراج
تا په حسن قلنګ واخیست له لیلی ما په عشق کې له مجنونه واخیست باج
[illegible] چې زه مسلمانه [illegible]
له [illegible] چې ما مسلمه [illegible]
به څه عذر به ځې زما نوسا جوړیت زړه دې کافر دی زما زړه کې رحم

نه وی هـــیڅری تیاره زمـا په کور روښان داغ لـــرم په زړه لکه سراج
زه له خدایه په هـــــردم کوم طلب چـې په سرمې ایښی وي دمینې تاج
اې بادشاه دد واړه کونه زه لـــه تا
په درخواست د محبت غواړمه راج

"۴۲"

پـــه ګمان دیقین ســـد کړې وران یا جـــوج
بد عـمل یې ته کم نه یـــې ترمـا جـوج
عشق دې پریښود بیا و عقل ته رجوع شوې
ولـــې پـــریوتې پـــه بنـــکته لـــه عروج
وبـــه نه خـــوځم نا صـــحه زه لـــه عـشقه
ته عـبث پـه غـره د غـــرې وهې قـــوج
د قـــمر پـــه شـــان بـــه ورسې کـــمال ته
که ځان وبـــاسې پـه سیر کې لـــه بروج
شه خارج له حرصه هم په نفس لعنت کړه
نور خبرمـــه شـــه لـــه رفـــضه له خروج
یـــارلـــه زړیـــه غـــواړه دیرو حرم پریږده
پـه هـــر درتر کومه پروت بـه یې لجـــوج
تـــلاش هـــیڅ نه کا د عشق ګوزن وهلی
کار پـه لاس وپـه بښپو[1] نه شی لـه مفلوج
محبت دوړاندې څه لویې د نطق کړې
و کلیم ته هډ و ټینګ به نه شي عوج

---

(۱) پښو

ح

"۴۳"

نه داخپل جسم زمـا دی نه مې روح زمـا جسم ته يې جانه ته مې روح
هـلويونه دی زمـا دي دواړه ستا که قالب می دی دلبره که مې روح
لـه مـدته زړه مـې مړدی لکه زه تاوښکلی[1] دی پخوا له زړه می روح
يو مې روح دی ترتا ځاربه کړم هغه که زما په تن شی هرويښته مې روح
چـې مـهرويه شي جدا په شپه لـه ما وي جدا له تنه درسته شپه مې روح
هرساعت چې ته له سترګومې شې پټ وي هغه ساعت په تن کله مې روح
چې ته نه يې روح مې هم نه وي هله چـې پيدا شي شي پيدا هله می روح
نيست وهست دروح مې دي له تاسره ته به وايې چې دا ستا سايه مـی روح

---

(۱) کښلی = ايستلی

بې محبوبه تن مې وي لکه مرده

محبته دی محبوب همه مې روح

"۴۴"

په جمال کړې خدای صبیح هم صبیح کړې هم ملیح

په بنایست کې ډیر سوا ترآفتابه یې صریح

چې بې مثله بولې ځان د اکلام دې دی صحیح

شګفته مې کاندې زړه چې د زلف دې راشی ریح

په یودم مې کړې ژوندی چې په شونډوې مسیح

ځای به شي زما په زړه دا مکان دی ډیر فسیح

ستا د حسن لکه نمر څه حاجت دی د توضیح

ته یې نمر یوسف وه ماه خود ظاهر دی ستا ترجیح

په نسیم دې لکه ګل وغورېږم په تفریح

پټ بهتر وای راز دعشق بدنمای شی په تشریح

محبته په کلام

نشته تا غوندې فصیح

خ

"۴۵"

هـــره ورځ چـــې ووينم په ســـحر ستا مخ
هـــغه ورځ وي د بنـــادي په لور زمـــا مـــخ

زلـــفې ستا مـــتوجـــه شـــوې اوس ومـــاته
خـــدای د چـــا پـــلودې نـــه کـــاد بلامـــخ

هـــميشه د جـــفا مـــخ راته څـــرګند کړې
رابنـــکاره دې چـــرې[1] نه کـــړ د وفـــا مـــخ

څـــوومـــخ د بـــيګانه ووتـــه نـــظر کړم
خـــدايـــه راتـــه وښـــې د خـــپل آشنا مـــخ

---

(۱) چرې

زه خـــوستا ديـــدن مـــدام غواړم له خدايه
چـــې ســـتا مخ و نه ګورم ګورم د چا مـــخ
مـــا وې چـــړې بـــه دې مخ ته ګذروکړي
ولـــې هيـــچرې رانـــغـــلې تـــه پـدا مـــخ
پـــه جـــهان کـــې ډير مخونه ښـايسته دي
ولـــې مـــا ونـــه لـــيد ستا غوندې زيبا مـــخ
زړه مې مړوه په ديدار دې خپـل ژوندی کړ
بـــيا بـــه ومـــري کـــه ورونه ښيې بيا مـــخ
شپه شوقدر ورځ اختر په محبت شي
چـــې بيګـادې زلفې وګوري سبا مخ

"۴۶"

چـــې رقيب وشړې کړې ټټر مـې يخ چـــې ټټرزما پـرې يخ شې وايم اخ
چـــې له شوقه په طلب دې شم روان يوجريب شي راته لار دسل فرسخ
دوست د ښمن دې نه کړ هيچرې معلوم يـــارته شاکړې بيوفايه غيرته مـــخ
ستا غمونه ټول مې واخيسته پـه ځـــان چې يې غم وي په بل چادهغه سخ
که حيوان نه دی انسان هم نه دی غير په انسان وپه حيوان کې دی برزخ
بيا به تـــرې نـــه وه وتلی که يوسف پريـــوتلی وی پـــه چاه دې دزنخ
ســـتاله مخه ددیدن غـواړي يوتوک
محبت چې دې ګدای دی د مطبخ

"۴۷"

شـــه پـــيدا هغه هلـــک داهـــې شـــوخ
چـــې نه ترک دی نه اوزبک داهسې شوخ

پـــه خوی شوخ دی په زړه کلک لکه حجر

نـــشته بـــل داهـــې کلک داهـــې شـــوخ

لـــه راست بـــازوسره کـــوږوي هـــمیشه

خـــدای پـــیدا کړ دافلک داهـــې شـــوخ

پـــه شـــوخـــي کې دی یـــکتا زمـــا نګـار

بـــل بـــه نـــه وي بلاشک داهـــې شـــوخ

شـــؤنمک خواره دې شوخ په ګـــستا خی

ســتا د حـــسن دی نمـــک داهـــې شـــوخ

لـــکه خـــال دې کـــا زمـــا په زړه حملې

افـریـــدی وي نـــه خټک داهـــې شـــوخ

مـــر دمـــان وژنـــي مـــدام شـــه افریدی

ســتا د سترګـــو مرد مک داهـــې شـــوخ

مـــحبته ستا د شـــوخ بـــرابـــر بـــل

له شوخي به نه وي ډک داهسې شوخ

څ

"۴۸"

هـــغه ســـحر ګـــرمې زړه يوسي پـــه هـــيڅ
نه کـــرم نـــه تلـــطف نـــه هيڅ نـــه هـــيڅ
تـــرويـــښته يـــې ملانرې خـــولـــه يې تنکې
که يې ګورې ملايې هيڅ هم يې خوله هـــيڅ
حـــرف يـــې يـــونـــه دی قـــابل د اعـــتماد
کـــه پـــه ورځ اقرار وکـــاندي په شپه هـــيڅ
د مـــعصـــومـــو پـــه مثـــال خـــبرې کـــا
ته بـــه وايـــي دی هـــلک نه يې زده هـــيڅ

پـــه خـــبر ومـــې غـــوږنه ږدي لـــه جـــفا
کـــــله واوري يـــوه نـــيمـــه کـــله هـــــيڅ
خـــوله يې هيڅ ده پـــه څه شان يې کړم بيان
څـــوک بيان به څـه شان وکاندي ده هـــــيڅ
کـــه خـــوله راکړي هـيڅ به کم نشي له ده
داومـــــاتـــه لـــوی دولت دی ده تـــه هـــيڅ
بـــې لـــه عـــشقه نـــورې چـارې دد نـــيا
هـــمه هيڅ دي هـــمه هيڅ دي هـــمه هـــيڅ
کـــه هـــر څوډ محبت ګـــناه دي ډير
چې وستا کرم ته هـيڅ دي شي به هيڅ

د

"۴۹"

زه پـــه عشق کـــې يم اســتاد[۱] د مـــجنون هـــم د فـــرهـاد
هـــغه هـــير کـــړم افـــسوس چـــې هـــردم مې دی پـــه ياد
ســـتالـــه لاســـه هـــم لـــه تا فـــريـــادي يم غـــوارم داد
کـــه انـــسان يـــې په خلـقت پـــه بنـايـــست يـــې پـريزاد
هـــر عـــنصر مې دی دعـشق آب و خـــاک ونـــارو بـــاد
دنـــيـــا طـــلـــب لـــه دنـــيا هـــم نابنـاد ځی هم نا مـراد
دوه فـــتنې دي ســتا د ځـــان يـــود مـــال دی بـــل اولاد

---

(۱)اصل : اوستاد

مـــه تـــړه زړه پـــه دنـــيـــا ځـــه دنـــيا ځـــه يـــې بنياد
شـــه اســـير پـــه دام دعشق چـــې هـــر بـند نه شې آزاد
پـــه يـــودم کـــې مـــحبت
يـــوعالم کـــانـــدي بـــرباد

"۵۰"

نـــابـــود شـــميره هـمه بود هـــر مـــعصوم ګنه مـــوجـود
ســـرګرم اوســـه په ســـودا يـــوپلـــو کړه زيان وســـود
مـــه زيـــريږه پـــه نـــقصان مـــه خـــوښيږه په بـــهبود
که راضـــي کړې خپل صنم خدای بـــه شي درنه خشنود
ځـــخـــوو مـــړه پـــه لاس دواړه ســـترګې خواب آلود
چـــې شي فـــرق درته ظاهر د خـــلـيـــل ود نـــمـــرود
هـــر زاهد چې وي دوبـــين مـــسلـــم نه وي وي جـهود
رحـــمن نه وي وي شيطـان مـــقبول نه وي وي مـــردود
د غـــفلـــت پـــه عـــبادت حاصـل هيڅ نه شه مـقصود
نـــه عـــابد دې ګرم مـعلوم نـــه دې وپـــيژ انـــد معبود
مـــحـــبـــته يـــې د عـــشق
پـــريږده هـــر ګفت و شنود

"۵۱"

شهد وقـــند نـــه لري ستاد شـــونډو خـــوند
تـــرخوږو شونډو دې ځـار کـــړ شهدوقند
قـــوتنـــاک چـــې زنـــځير ونـــه مـــاتـــئ [1]
کـــه هـــا تيان وي هـــم د زلفو کړي په بند

---

(۱) ماتوي

یـــوزه څـــه یم کـــه دادی کـــمند د زلـــف

تـــول جـــهان بـــه اســـیر کاندي ســـتا کمند

عـــجیبه سیا مـــار دی ســـتا د تـــور ګیسو

چـــې حـــیات دې وي بنامـــار وي په ګـــزند

لـــه صـــورتـــه ســـره جـــمع کـــړه سیرت

چـــې دې حسن لاد پـــاســـه شـــي دوچـــند

وکـــوم ځای دې دښـــایست وکـــړم تعریف

ســـرتـــر پـــایـــه دلـــپـــذیـــرې دلپـــســـند

څـــه نـــازنـــین یـــې چـــې دحُسن په قـــوت

مـاتـــیٔ[1] دپـــهـــلوان لـــیـــچـــې مـــړونـــد

دهـــجـــران پـــه غـــم مـې زړه زهـــیروې

په وصـــــالی نـــه کـــړې زمـــا خاطر خورسند

وروستو[2] پاتې شي ترې نورسواره دشعر

مـــحبت چـــې دقـــلم تـــیزي ســـمند

---

(۱) ماتوې

(۲) وروستو= وروسته

ډ

"۵۲"

زړه مـــې هـــې شه د زلـــفو په هـــر تارګـــه

مـسلمان لـــکه چـــې شي پـــه هندو بار ګـه

زه غريب پـــه خال و خـــط کې دې اسير شوم

خدای څـوک نـــه کا دهندوانو په ديار ګـه

مـــخ دې هـــې دی پـــه ميان د تورو زلـــفو

لکـــه يووي مـــسلمان پـــه زر کـــفار ګه

لـــه ښادي چـــې پـــه ســـينه کې زړه ګـډيږي

چې په خـــيال مطرب بچه شي په رفتار ګه

کـــه لـــذت دمی مـــعلوم کـــړي پرهیز ګاره
اوس بـــه ځـان کـــړي دمـــیخوارو په قطار ګډ

ګـــډ یـــده پـــه دربارنه کـــیږي بـــې نذ ره
خـــالي لاس بـــه څنګه شـــي په لوی دربار ګډ

هـــیڅ په غوټه نـــه لـــري څ بـــه سوداګړي
هـــغه ورځ چـــې شـــي دحـــشر پـــه بازار ګډ

دبـــلـــبلي مـــې آواز چـــرتـــه وانـــوریـــد
خـــوزاغـــان دي ددې دهـــر پـــه ګلـــزار ګډ

مـــحبت لـــه مـــا ســـره دی ترابده
لـــه ازله مـــې په زړه شه دا آزار ګډ

ذ

"۵۳"

په کنځل[1] کړې زما حلق و کام لذيذ لب شکره چې لرې دشنام لذيذ
که چاوسکه [2] نورلذت به يې شي هير وي دعشق رمی‌داهسې جام لذيذ
لـه خوږې خولې دې راووزي هرزمان ځکه وي داهسې ستا کلام لذيذ
داکـچه خـبرې سـتا کاندي لـذت دطفلانوخو الفاظ وي خام لذيذ
مـالـذت بياموند دعـشق پـه بيتابي پـه دنيا وي که هر څو آرام لذيذ
زړه مې شي چې ودې ژوبم سـرتر ښپو نيشکر يې سـتادی هراندام لذيذ
شي کـافر دې سـتا دزلفو هغه کس که پـه زړه کې لري خوک اسلام لذيذ

---

(۱) ښکنځل

(۲) وچښه

پوشیـــده نـــه ده دســـترګو دې مـــزه الـــبته هـــر چاته وي با دام لذيذ

دهـــغو په زړه چې کاندي عاشقي

بـــې شبهې دمـحبت وي نام لذيذ

"۵۴"

که عشق نه لري دیندار به شي ماخوذ دادیندار لـــکه کفار به شي ماخوذ

یود عشق ګناه دی خدای وته مـقبول پـــه بل جرم ګنهګاربه شي ما خوذ

لږ ګـناه دې سړي ډیر ګـــنی پـه زړه که کم وګـــنی بسیاربه شي ماخوذ

لیونی کړه ځان په عشق کې چې شي خلاص د قیامت په ورځ هوښیار به شي ماخود

د د نـــیـــامه کـــوه کـــار چې مـــسلـــمان کـــه مـاخوذ شي پدا کار به شي ماخود

چـــې څـوک نشي د خوبـــانو دربـاري هـغه کس په لوی دربـاربه شي ماخوذ

بـــې له عشقه که څوک کاند ګفتګوی مـــــقرر پـــدا ګفتار به شي ماخوذ

وي نـــجات د آخـــرت په نیک عـمل پـــه عقبی کې بدکرداربه شي ماخوذ

مـــحبته لاس کـــړه پـــورته له دنـــیا

چـــې پوهیږي دنیا دار به شي ماخوذ

ر

"۵۵"

چې لـه عـشقه لري کار　　دهـغـه وي الله يـار

پـه هـر آن د اهـل عـشق　　مـحمد وي مـدد ګـار

عـشق دوزخ کاندي جنت　　عشق خارزار کاندي ګـلزار

عـشق اغـيار کاندي ياران　　عـشق اشرار کاندي ابـرار

عـشق بـندي کـاندي آزاد　　عـشق مجبور کاندي مختار

عـشق مـحتاج کاندي غني　　عـشق ګدای کـاشهر يار

عـشق بيهوښ کاندي په هوښ　　عـشق غـافل کا خبر دار

عـشق عـلم دی دنـبـی　　عـشق دی نـوم دکرد ګار

عـــشق رحـــيم دی هم کريم　　عـــشق ستار دی هـــم غفار
د عـــشق ګـــرمـــه ده سودا　　دعـــشق تولدی لوی بـــازار
تـــرقـــيامـــته دي په عـــشق　　آســـمان مـــزکـــه بـــرقـــرار

چـــې مـــې نـــوم دی مـــحبت
خـــود عـــشـــق يم ســـــزاوار

"٥٦"

وايي مـــذبذب خـــبره کـــا چې هـغه يار
نـــه يې په وعده کې وي اقـــرار نـــه يې انکار
هـــومـــره آزادي مـــې ده له غمه د جـهان
څـــو چـــې ستا د زلفو يم په بند کې ګـــرفتار
بې له خپله زړه چې پکې يار دی جـلوه ګر
هـــډ وآئـــينه مـــې د ســـکندر نـــه ده پـــکار
ســـتا د زلف خوړلې خو رغيږي هـــم په تا
روغ ټـــه پـــاړونـــشي خـــوړلـــي ددې مـــار
وخت د مينو شي دی ساقي راکړه جـام دمی
هـــسې نـــه چـــې تـــير شي دا موسم د نوبهار
يـــودلـــبر زمـــادی دلـــکـــونـــو بـــرابر
ګـــرچـــه دي خوبان پدا جـــهان کې صد هزار
ستا شونډې په هردم حيات بخشي دي زما
څـــله بـــيهوده د مـــسيحاشـــم مـــنت بـــار
يـــارچـــې په خنداشي محبت کاندي فرياد
ګـــل چې وغوړيږي عندليب کاندي چغار

"۵۷"

کـــه نـــظر وکـــا په مخ د ګلعذار عـــندلیب بـــه بیاونه ګوري ګـــلزار
ګل په سترګومې اغزی شي هغه دم چـــې پنهان شي مخ زما د ګلرخسار
په دیـــدن دې په پیری شومه خلمی چـــې تا ووینم خزان مـــې شي بهار
شـــي زما د زړه غنچه به هـــله ګل چـــې ګـــلروي مې راشي کینې[1] په کنار
پژمرده زړه مې ګل ګل شي شګفته ګـــل چې کیدي[2] ګلعذارمې په دستار
شه یقین مې چې په ګنج وي د مارخای چـــې مې ولید ستا په مخ دزلفو مار
شه نرګس چې ستاد ستر ګو مشابه دا بـــیمارې وي هـــغه هم شه بیمار
دمـــنصورخـــودار و یـــو تاد بـــو ودر ول ومـــالـــره زرګـــونـــه دار
اوښې توی مې کړې په مخ لـــکه باران ولې ورک ترې نشه ستا د زړه غبار
د دنـــیا یـــاران لـــري ددنیا خوی دا یاران کـــله اغـــیار شي کله یار
سست لـــه ویخه دی داقـــصر ددنیا عـــمارت یـــې هـــډونه دی استوار
ډیر عـــالم پخوا لـــه تا نه شه ترې تیر هـــسې ســـتا دی په هغوپسې رفتار
د آســـمان له ګردشونو وکړه فهم دا خـــای نه دی دســـکون و دقرار
غـــرض داچـــې په د نیا مه تړه خان د هـــیچا راغـــلې نـــه ده دا پـــکار

تـــربیـــت لـــه مـــحبـــته دی زمـــا
محبت دی که مې مورده که مې پلار

"۵۸"

تل د قـــتل مې آهنګ کـــا هغه یار همیشه را ســـره جنګ کا هغه یار
مـــخامخ غـــاړه غړی شي له هر چا یوله مـــانه خان په خنګ کا هغه یار

---

(۱) کښینې
(۲) کښېردي

په تلوارېه زه خپل ځان کړمه هلاک کـــه زما په قتل در نګ کا هغه یار
ملک دخدای چې هومره ډیرلری وسعت لـــه هـجرانه په ما تنګ کا هغه یار
چـې مې زړه لکه ښیښه ویني نازک زړه کرخت په ځیرد سنګ کا هغه یار
درست جهان یې په جلووکړ رنګارنګ تجلی چـې رنګ په رنګ کا هغه یار
که په عشق یې دعاشق ځـــی ننګ ونام ځـــه پـــروا د نام وننګ کا هغه یار
که داهـــې شمع روی دی شعله خوی مـا په ځان به خپل پتنګ کا هغه یار

مـــحبت کـــړه مـــصله ورپسې لـــنګ
عـــاقبت بـــه یې مـــلنـــګ کا هغه یار

"۵۹"

هـــې یـــون کـــاندي د عـمر کاروان زرزر
لـــکه شـــي قاصد مـقصد ته روان زرزر
هـــې زرزر تـــرنـــظره مـــې تـــیر یـــږي
پـــه وحشت لکه هـوسی شي دوان زرزر
هـــې ذکـــر دې پـــه ژبـــه مې جاري دی
لـــکه ښه حـــافـــظ چې لولي قرآن زرزر
هـــې اوښې مې لـــه ســـترګو په شیبوځی
د ســـاون لـــکه وریـــږي بـــاران زرزر
هـــې زرزر و عـــاشق ته غم نـــصیب کا
لـــکه کـــانـــدی ګرد شونه آسمان زرزر
هـــې ریـــږدم ټـــول د مـــینې لـــه هوانه
لـــکه خـــوځي پـــه سیلی در ختان زرزر

هـــې واردد نـــيا تـــير شتاب شتاب شي
مـــحبته لـــكه خـــوئي مـــژگـــان زرزر

"٦٠"

هـــرځوک چـــې زما په ليونتوب کـــاندي نظر
وايي چې مجنون سره هـــم دی دی سر په سر
غـــل پـــه تـــوره شپه کا غـــلاد لبر په رنا ورځ
راشي زړه مـــې يـــوســـي زه اصـــلاًنه شم خبر
شـــوند ې خـــپلې دواړه په کلام چـــې خوځی [1]
مـــزکـــه آســـمان دواړه ســـره شـــي زيروزبر
زلـــفې دې کـــافر دي که دې مخ دی مسلمان
هم مـــې مـــسلمان بـــيګناه وژني هم کـــافر
نـــمرې تا د خدای هـــغه سپورمی وه د کنعان
حـــيف دی لـــه يوسفه سره ځـــان کړې برابر
شـــونـــدې لا له [2]يار راکـــادسرمـــې په بها
دا خـــوبي د هـــند ده چـــې ويړيا مومم شکر
ګرزم په طلب دې څه شوناست که يم په ځـــای
تـــل وي لـــکه ژرنده په خپل کورکې می سفر
شپه شپه د شوقدر شي چې ياد دې کړم ماښـام
ورځ ورځ داختر شي چې دې نوم واخلم سحر
نوم مې که پوښتي څوک يا هنر غواړي له ما
نـــوم مې محبت دی مـــحبت مـــې دی هنر

---

(١) خوځوې
(٢) لاله = راله

"٦١"

پټ پنهان دی تل کاروان روان دعمر
بي جرسه څی خاموش کاروان د عمر
په خواني ګلزار د عمر شګفته وي
په پيري شي پژمرده بوستان د عمر
په وصال د ګلرخسار وي بهار دی
وي ددوی په بيلتانه خزان د عمر
مسافري[1] په يوځای اقامت نه کا
نه شه هيڅا ته معلوم مکان دعمر
څووهي سترګه سمندد عمر تير شي
لکه برق وي خويودم جولان د عمر
له يوسره تربل سره يو قدم دی
تنګ ښکاره شه راته ډير ميدان د عمر
چې ترڅو وي په دم ويسايې څه ده
هډو مه لره اميد يوآن د عمر
لکه شګې د ساعت دښيښې ريژي
هسې ريژي شګې هر زمان د عمر
لکه عمر وفا نه کا محبته
بيوفا دي دلبران په شان د عمر

"٦٢"

ټول جهان کړمنور دادې مخ دی که قمر

---

(١) مسافري = مسافريې

مـــخ سپوږمـــی تـــرې پتې[1] داځـهره دې ده کـــه نمـر
زمـــا زړه کـــاندي شيريـــن دا دې لـــب دي کـــه شکر
د حـــيات او بـــه لـــري دا دې خـــوله ده که کوثر
مـــرغـــلـــرې شـــرمـــئ[2] دادې غـــاښ دي که ګوهر
مـــعطرې[3] کـــړم په بـــوی دادی زلـــف دي که عـنبر
آزاد ســـروې شـــه غـــلام دادې قـــددی کـــه عـرعر
زړه مـې غـــوځ کړستا بـنو دابـــانـــه دي کـــه خنجـر
نـــه نـــرمیږي پـــه هـيچ شان دادې زړه دی کـــه حـــجر
يـــادې زړه دی لـــکه سنګ يـــامـــې آه دی بـــی اثـــر
يـــامـــې نـــشته جـــوهـري يـــازه نـــه لـــرم جـــوهـــر
يـــا ســـحـــر نشته پـــه دهـر يـــامـــې شپه نه شي ســـحر
يـــامـــــې درد دی لا دوا يـــا طـــبيب نـــه دی خبـــر
يـــازه يم لـــه ســـترګـــو پټ يـــا عـــالم شـــه بـــې بـصر
يـــا شـــه ورک آدمـــيـــت يـــا هـــمـــه دي خـــناور[4]
پـــه صـــورت واړه انـــسان پـــه ســـيرت کې ګـــاووخر
پـــه صـــورت لـــکه شمشاد پـــه ســـيرت کـــې بې ثـمر
پـــه صـــورت روغ لـــکه بت پـــه ســـيرت کې کور وکر
پـــه صـــورت اعـــجاز نمـــا پـــه ســـيرت کې جادوګـــر
پـــه صـــورت د خير په شکل پـــه سيرت کـــې هـــمه شر

مـــحـــبـــته مـــحـــبت
کـــړه پـــيدا کـــه يې بشر

---

(۱) پټوي
(۲) شرموي
(۳) معطرې = معطريې
(۴) اصل : ځانور

"٦٣"

رندا نه مـــزاج زمـــا به نـــه شي نور که سل خـــله کاز اهد راته پيغور
شمع روی يې چې خپل مخ لرې روښان شعله خوی يې چې خصلت لرې داور
د فلـــک کاسه خالي ده چې دا جام لـــه ازله خلق شوی دی نسکور
که ويړ يانۀوړې مـــفت بره را نه زړه راته وايه څه دي ستا راباندې پور
په تلاښ يې عبث ستړی مـې کړ ځان معشوقه آخر مې بيا مونده په کور
په کوم ځای څوک يې مد فون کاندي هيهات امـان غواړي له وژلي نه دې ګور
څوک په زورمعشوقه مومي څوک په زر زه خوارځـــه کړم چې نه زرلرم نه زور
ستا په شان به بل فـــرزند نـــه کاپيدا که په ځان آســـمان يې پلار شي مزکه مور

زړه مـــې دی د مـــحبت په غـــور وغور
تـــه زاهـــده يـــوســـه خـــپل دازهد سپور

ل

"٦٤"

عـــالم واړه وړانـــدې وروســـتوله[1] دنيا لاړ
څـــوک دتـــلو په تياري دي څوک پـــخوالاړ
دهـــوسې پـــه شـــان مـــې تير شـــه ترنظـره
نـــه پـــو هـــيرم آهـــو چـــشم کومه خو الاړ
پـــه ټـــکي د زړه مـــي لـــګي هـر نګاه ستا
مـــاونـــه لـــيد چـــې يـــوغـشی دې خطا لاړ
هـــر يـــو ستوري درته ستر ګـــې دي نيولې
شور دحـــسن دې لـــه ارضـــه تـــر ســـما لاړ

---

(١) ورستو = وروسته

لـــه بـــرقع نه دی چـــې مخ راته بنـــکاره کړ
ســـتا هـــیڅ لاړنه شه کـــه لاړ خوزړه زمـالاړ
د رقـــیب ســـفلې وکـــورته چـــې ته لاړې
پـــه مـخلوق کې شان شوکت همه ګي ستا لاړ
بـــې خـــبر هـــیسته راته ولې افـــسوس دی
چـــې نـــظر یې پـــه مـــا پـریووت بیرته بیا لاړ
مـــا پـــه زړه دیار تصـــویر وکیښ فـــارغ شوم
اوس مـــې هـــیڅ نـــشته پروا چې راغـی یا لاړ
پـــه خـــندا به هـــغه کـــس له ګوره پاڅي
چـــې پـــه غـــم د مـــحبت کې په ژړا لاړ

"٦٥"

شـــیرین لبه مادزړه چې ګوهـــرمـــات کـــړ
مـــا فرهـــاد غوندې دغم په غره سرمـــات کړ
پـــه یـــقین مـــې در وازه کـــړه دشک مـاته
لـــکه شـــیر عـــلی چـــې در د خیبر مات کړ
د تـــوبې درچـــې مـــضبوط مـــې وه تړلـی
پـــه یـــوه جـــام مـــې ســـاقي هغه درمات کړ
مـــادصـــبر وې لـــښکر ې تـــولې کړې
عـــشق چې راغی په یودم دالـــښکر مـــات کړ
خرڅئ [1] نه څوک شکرې نه څوک پیري
شیرین لـــب دې چې بازار د شـــکر مات کړ

---

(١) خرڅوي

پـــه جـــهان کـــې اوس عـنبر دي بې رواجـه
بـــوی دزلـــفو دې نـــامـــوس د عنبر مات کړ
هـــر يـــو قـــول چې په سوګند دې مؤکد کړ
پـــه هـــغه دې درنګ هـــم ونه کړ زرمات کړ
زړه مـــې خپل کـــړ سپيلنی د عشق په اور کې
ســـتا لـــه مـــخه مـــې دخـــلقو نظر مات کړ
ډيـــر آرمـــان به کـــړې ســـنګدله درته وايم
کـــه دزړه د مـــحبت دې ګوهـــر مـــات کړ

"٦٦"

هـــم پدامې د هـــيڅ کار تدبيرونه کړ چـــې يوکار ونه شه ځوتقديرونه کړ
لـــکه نمر له بيګا لاړې ســـبا راغلې وايې بيا مـــا په را تلـــو تا خير ونه کړ
زما آه غرونه سوري کړه په حيرت يم ســـتا په زړه سنګدله هيڅ تا ټيرونه کړ
چـــې درجه دشهادت دې لاله [1]را کړه تازمـــا پـــه حق کې هـــيڅ تقـــصير ونه کړ
نـــور عـــالم دې مـــزور څه لره بـــولې بـــې لـــه ماخودې په چاتزويرو نه کړ
ليوني دې زنځيرونه آخر مـــات کړل چـــې ستا زلف کاوه هغه زنځيرونه کړ
وکـــعبې تـــه د مـــقصود څنګه بـــه رسي
مـــحبـــته چـــې تـــايوشـــبـــګيرو نه کړ

"٦٧"

اې لـــه مـــانه چـــې پـــوښتې زړه دې چايوړ
زړه مـــې بـــل څوک کـــله وړی شی اشنايوړ
دادســـتور دې دلـــبران زړه پـــه وفـــــاوړي
بـــې د ســـتوره تـــا مـــې زړه په جـــفا يوړ

---

(١) لاله = راله

په انـدازو پـه اداچـې رابنکـاره شـوې

زمـا زړه دې پـه انـدازو ادايـوو

يـو ذره مـهر والفـت درځـخه نـشـته

نـه پـوهـيږم زړه پـه څـه دې له مـايوو

مـاوې نـن شپه په آرام بـه څـخو خوب کړم

خـيال دې راغـی خوب له سترګو زمـا يوو

زړه مـې غـرغو ندې محکم وه ولې څـه کړم

لـکه خـس هـسې د مـينې هـوا يـوو

مـاوې زړه چـې له مـاوړي خوله خوبه راکا

ولـې هـيڅ لالـه [1] را نـه کړه وبـړيايوو

بـې قـيمته دې زړه مـفت لـه مانه واخست

بـې بـها ګـوهـر وه تـا بـې بـها يوو

هـيڅ نظـر دې وژړاتـه يې ونـه کـړ

تـا چې زړه د مـحبت پـه خـندا يوو

"٦٨"

عـشق يې راغـی دزړه تاب راڅـخه يوو

خـيال ديار دسترګـو خواب راڅخـه يوو

رابنکاره چې د ساقي شوې مـستې سترګې

کـيفيت يـې د شـراب راڅـخه يـوو

---

(١) لاله = راله

شـــهد څـه کړم چې خوږوشونډو دې جـــانه
تـــول لـــذت د شـــهد نـــاب راڅـــخه یووړ
چـــې یـــې اوښـــې کـــړې زمـاپه مـــخ روانې
آخـــرغـــم دې د مـــخ آب راڅـــخـــه یووړ
وګـــزک لـــره یـــې وریـــت زړه مې پـکار وه
مـــست مـــې راغی دا کـــباب راڅـــخه یووړ
عـــشق نه زه پـریښوم نه صـبروتاب مې پریښود
هـــم یې مـــړکـــړم هـــم اسباب راڅخه یووړ
هـــډ ودرنـــګ یې هـــم دزړه پـــه وړه ونه کړ
خـــوهـــم هـــسې پـــه شـــتاب راڅـــخه یووړ
چـــې داوښـــومـــې دریاب په جوش کې راغـی
زمـــا کـــور،لـــکه حـــباب راڅـــخه یووړ
چـــابه وړی نه و،زړه مـــې ولـــې څـــه کړم
مـــحبت خـــانه خـــراب راڅـــخه یووړ

ز

"٦٩"

زړه مې صيد نشي څه شان ستا دناز چې تارودی زړه زما هغه شهباز
قاتلان دي ستا غمزه وکر شمه دلبران دې هم اداهم دې انداز
هر آزاد به ته په ګوډوکړې بنده خدای پیدا کړې چې داهسې سحرساز
که آه نه کاندي عاشق په غم کړي څه اوکه آه کاندي هم آه يې شي غماز
مجازي مينه هم ښه ده چې آخر شي رهبر و حقيقت وته مجاز
په کلام ددلبرې ته يې آګاه په سخن پوهيږي هم سخن طراز
دعاشق کوتاه له غمه يې شي عمر چې ونه ويني داستا ګيسو دراز

څـــه حاجت دی دقاصـــد ودریبار دعـاشق دمعشوق زړه په زړه وي راز
په آغازکې زړه مې خون شه ستا په عـشق څه انجام به وي چې دایې دی آغاز
عـاشق هغه دی چـې وي پروانه وار که په اورسوزي له خولې نه کا آواز
څه بټیرې چې شهبازې[1] وکا بنکار ســتا دناز کـــله لایق دی زما نیاز
مـــینه کا بادشاه پـه یودم کې غلام که محمود وي هم په عـشق کې شي ایاز
هـــغه رســـي وساحل ته د مـقصود په دریاب د عشق چې ډوب کاخپل جـهاز
ســـمه لارواخله د عشق چې ددنیا شي یکسان درته نشیب دی که فراز
زړه[2] ژوندی دمرده دلوکړي په حرف
پـــه کـــلام کـــې مـــحبت لري اعجاز

"۷۰"

غـــم بنادي به بـــرابر نشي هـرګز عـــاشـــورا ورځ د اختر نشي هرګز
رذاله به اشرف نشي په هـــیڅ شان تورې خاورې به سپین زرنشي هرګز
که آسمان یې په سروګرزي درست عـمر کـــم بختان به بـــختور نشي هـــرګز
که هرڅودي په صـورت کې دواړه یو تورتیې به ســپین قـــمر نشي هـرګز
که د درست جهان شي تیل ورباندی خرڅ چـــراغ رون به لکه نمر نشي هرګز
که هرڅوکوډې بنکاره کا سحرګر پـــه جـــادوبه پـــیغـمبر نشي هرګز
کـــه یې ونه په شراب شي زرغـونه کال کوندې به لـکه کُوَر نشي هرګز
کـــه هرڅوبې کړې په شهـدو آلوده ولـــې زهـــر بـه شکر نـــشي هرګز
مـــحـــبت نه لري مثـــل پـــه کلام
شـــاعـــران به یې همسر نشي هرګز

---

(۱) شهبازې = شهبازیې

(۲) اصل = زره

س

"۷۱"

کـــله کـــيږي حـــق شـــناس　　پـــه تـــنګي کـــې نـــاسپاس
شـــي نـــعمت بـــه دې روزي　　شـــکر کـــړې که په افلاس
د شـــيطـان پـــه وســـوســـو　　پـــه زړه مـــه راوړه وسواس
ګمـــان لـــري کـــړه لـــه زړه　　د يـــقـــين ســـورشه پـــه آس
کـــړه پـــه ملـــک دکفر هـــو　　د ايمـــان تـــوره پـــه لاس
کـــه قـــياس دی کـــه دلـيل　　وســـوســـې دي دخـــناس

چـامـونـدلی نه دی حـق پـه دلـیل وپـه قـیـاس
مـحبـته دنـیـا دار سـراسـر لـري لـبـاس
ظـاهـر ډک بـاطـن يې تـش
بـې مـعنـی لـکه شـناس[1]

"۷۲"

وبـه کاخونونه ډیربـې حـدوبې قـیاس
نـن هغې خونریزې په نـکریزوسره کـړه لاس
راوړي چـې قـاصدنامه‌لیاره زه پـه شوق
هـم په سـترګو ړدم هـم ښکلوم هـغه قرطاس
څـه شوکه څاربه دي فاسـقان په ډیرخواړه
ولـې عـاشقان يې د اخر ښښت ګـنې آمـاس
کاندي به سواره د عقل وهوښ واړه پیاده
نـن هـغه شهـسوار يې که دناز سورشي په آس
بـیت د عـنکبوت دی عـمارت ددې دنیا
ویخ يې مـستحکم نه دی ډیر سست لـري اساس
اوس خـویې دزلفو له حلـقې نه شم وتی
څـه کـړم په مـاراغلـه دابلا د چـپ و راس
ډیـر قصور کوي په پرستش د خپل صنم
شـرم نه لـه خـلقونه له خدایه کړي هـراس
هـډودې ونه پیژاند ابـلیس د آدم شکل
هـیڅ دې فـرق ونـه کـړد نـاس ود خناس

---

(۱) شناز

خاورې يې د درکړه تورې خپل لکه ملنګ

قـــول دی مـــحبته چې الناس مع اللباس

"۷۳"

که په خوب کې مې روزي شي ستا وصال بس

کـــه داهـــم په بـــخره نشي ستا خـــيال بس

نـــور عـــالم د تـــماشـــو دې هـــوس کاندي

وعـــاشـــق تـــه ننـــداره ستا د جـــمال بس

د ازايل حـــسنو نـــه څه پـــه کـــارو مـــاته

هـــغه يـــو حـــسن چـــې نه لري زوال بس

پـــه هـــزار دام ودانـــه بـــه ونـــه غـــولـــيږي

د عـــاشق دام ودانـــه دي خـــط وخال بـــس

طـــالبـــان د بادشـــاهـــي دې هـــمای غـــواړي

و طـــالـــب تـــه دې داسوری د دوال بـــس

زه رښـــا د مثال څـــه کړم پـــه خپل کور کې

چـــې مـــې داغ دزړه بـــليږي دامثـــال بـــس

داغ د عـــــشق زمـــــا زړه دام ودرم دی

کـــه نـــور مـــال دد نـــيا نه لرم د امال بس

چـــې ولـــونـــه دخـــپل يـــار دزلـــفو سم کا

وعـــاشـــق ته په درست عمر داجنـــال بـــس

ددنيـــا لـــه هـــرونو کـــه عـــاري يې

مـــحبـــته مـــحبت دی يو کـــمال بس

"۷۴"

عشق لذت لري عجب پري عاشقان پوهيږي بس

دا يمان په کـــيفيت اهـــل ايمان پـــوهيږي بس

پـــه هر چاچې څه تيريږي هم هغه ته وي مـعلوم

پـــه جفا ددلآ زاره زمـــا ځـان پـــوهيږي بس

هـم له خدايه خبر داروي عاشق هم بې له خداى

دکلـــي جزيي په حال خويوانسان پوهيږي بس

ملايک په دې محرم وي چې دې ځاى دى پـاس په عرش

دآسـمان خوپه احوال اهل آسمان پوهيږي بـس

په حکمت يې حق حيران دى دلقمان بيچاره عقل

پـــه حکمت خپل پيداکړوني دلـقمان پوهيږي بـس

بـــې له ياره څوک معلوم نه کا خوبي مې دکلام

پـــه انداز دسخن باندې سخن دان پوهيږي بس

خـد قدرت لري بنده چې يې معلوم کاندي قدرت

ديزدان په قـدرتونـــوهـــم يزدان پـوهيږي بس

چـــې په دردمې نه پـوهيږي څه داروبه کا طبيب

زه ديارډرد مـن يم يارمې په درمان پوهيږي بس

مـــحبت به درته وښـــې هـــر راز دمـــحبت

پـــه اســـرارد محبت محبت خان پوهيږي بس

"۷۵"

وفـــا دارهم جفاکار دى هـغه کس هم دلـــدار هم دلآزاردى هغه کس

دنبایست یې دکوم ځای وکړم تعریف سرترښپو[1] څړه نګار دی هغه کس
په عـاشق چې یې رضاوي هـــغه کا چـې صاحب داختیار دی هـغه کس
لـــه یارانوسره غیر دی هی افسوس لـــــه اغیاره سره یاردی هـــغه کس
دادر یاب چې دی محیط ددرست عالم دمـــــحیط درشهوار دی هـــغه کس
مـخ یې ګل شوندې لا لا[2]تن یې نسرین سراسـرهـــمه ګلزارد ی هـــغه کس
دتعـــریف یې هیڅ قدرت نشته زمـا چـــې قدرت دکردګار دی هغه کس
ته به وایې چـــې وریږي تري خوشبوی چـــــې په زلفو عنبر بار دی هغه کس

مـــحبته نازکـــوه په درســـت عـــالم
چې دزړه دې طـــلبګار دی هغه کس

"۷۶"

د عـــاشق کله مـــخی وي بوالهوس الـــبته چرته پتنګ چـــرته مـــګس
دمحبوب مې بل محبوب ندی همسر د شـــاهـــین به برابر نـــه شي تپس
یکـــسان مه ګڼه له مـاســره رقـیب امـــتیاز وکـــړه دکس و دنـــا کس
خدای محتاج دې سړی نه کا دهـغو چـــې بیلتون نه کا دبـازو دکر ګس
څوچې دم دې تله راتله کاندي په تن بـــې لـــه یاده یې تیرنه کړې یونفس
ګـلرخـــساره پـــه مـاهم لـره نظر عـــاقبت دې دګلزار یم زه هم خس
عـــمرمـــه تـــیروه بـــــي آه ونا لې لـــه کـــاروانه سره تل بـــویه جرس
خپل ګـفتارې که آفت نه وی دځـان پـــریـــوته طوطي بـــه ولې په قفس

چې عاشق یم خـــوډ عشق لولم اشعار
یـــود یـــوان د محـــبت مـالره بس

---

(۱) پښو

(۲) لاله

"۷۷"

سلـــطنت دفريدون وکيـــکا ووس　　کلـه پيري عـــاشقان پـــه يوفلوس
هغه کس عاشق باله شي چې په عـشق　　نظرنه کاندي پـه ننګ وپه ناموس
د مجاز ښايست بـــې عيبه کلـه وي　　چـې وښپو[1]ته نظرکا ژاړي طاووس
زه تـــاجـــدار يم دمـــستانو مـالره　　ساقي راوړه هغه مې چشم خروس
خپل خاطر که آئينه يې کړې دمـــخ　　وبـه ګورې پکې عکس د معکوس
دوه مـين خبرلري چـې زړه په زړه　　نه قاصد هلته پکاردی نه جاسوس
که قيامت دی خوساعت دبـــيلتانه　　دغه وخت دی قمطريردی که عبوس
عاشق هغه دی چې وي پداغ دعـشق　　په کوګـل کې زړه يې بل لکه فانوس

که بخت نيک غواړې پيداکړه محبت
شي مـــعسود په محبت کې هرمنحوس

---

(۱) پښو

ش

"۷۸"

هرعاشق چې د معشوق وي په تلاش　　فـــکر نه کـــاد مِـعادو د مـــعاش
عـــاشـــق راز خـــوپتوي ولې کاڅه　　وچې شونډې ګونه زيړه يې کا فاش
پـــه تمثيل کې په دوه کونه ستانظير　　څـــوک به نه کړم چې نه يم بهتان تراش
دوه مين چې سره کا بـحث و تکرار　　دې ته وايي خوږ نزاع شيرين پـرخاش
پـــه چړې دغـــم هغه دهـــقان پـسر　　خټـکي هـسې مې زړه کاندي قـاش قـاش
څه عجب دی لوی دولت د عـاشقي　　په مالدار کاندي خندا دعشق قلاش
د کـــنځل (۱)نه‌لرم غـــم ومې کنځه(۲)　　که وتاته څـــوک ونه وايي فـــحاش
ستا په عشق کې به کوم ترکومه زيست　　دمـزری په خوله زمادی بـــودوباش

---

(۱)(۲) بنکنځل ؛ بنکنځه

څـه بـــهتر د مـــحبت کـــوې بيان
مـــحـــبته په ويلـــو دې شـــا بـــاش

"۷۹"

چې داهسې شوې پيدا په خوی‌آتش همیشه بـه زړه زمـا کړې مـــشوش
ترقيامته دې افلاک کاندي ګـــردش بـــل پيدا به نه کا تا غوندې مـهوش
بـــې لـــه عـــشقه رغيدن نشي زمـا چـــې زه يم دمـــينې پياله کش
هيڅ حاجت څـهره يې نه لري دنقش مـــشاطه يې مخ څه کاندی منقش

و ازمـــيه دغـــم په اوروری کـــړه تاو
محبـــت په محبت نه لـــري غـــش

ص

"۸۰"

شې به خاص الخاص بنده که مټ کړې په اخلاص
مټ که په اخلاص کړې شې بنده به خاص الخاص
وصل که په مـرګ مومي عـاشق کاندي خوښي
شـمع چې ېې سـيزي شـي پتنګ ورته رقاص
مـرګ د عـاشـقانـو دی وتـا وتـه ویـړیا
وژنـه یـې لـه شوقـه له تا څوک غواړي قصاص
نـه وزي [1]لـه شـوقـه ستـاله دامـه اسیران
ته خوږې پـریدې[2] ولې که دوی کاندی ځان خلاص

---

(۱) اصل : اوزي

(۲) پریدې = پرېږدې

خـــاص په يکتايي به شي که عـــام شي په بخشش

نـــمر غـــونـــدې جلوه کړه په عـوام وپه خواص

عـــاقبـــت آســـمان بـــه هـــمه واړه کـــافـــاني

داچـــې دي باقـــي په مـــزکه باندې څوا شخاص

ســـتا په هر نگاه کـــې خاصـــيت دی د کـــيميا

يونـــظر کـــه وکـــړې زربه شـــي زمـــا رصاص

مـــرگ مي رهايي ده اســـيري مـــې دی ژوندون

کـــله غـــواړم زه ديـــارلـــه بنـــده استخلاص

بـــحر مـــحبت دی مرغلـــره يې محـــبوب

مـــومي يې هـــغه چې ددې بـــحروي غواص

"۸۱"

بلـــند عرش تحت الاقدام دی د اخـــلاص

گـــوره څه عالي مـــقام دی د اخلاص

پـــه اخلاص ســـړی مولا شـــي د جـــهان

هـــرآزاد بـــنده غـــلام دی د اخلاص

کـــه له شرقه نه رســـي ترغـــربه څـــوک

دا مشرق مغرب يوگام دی د اخلاص

لـــه اخـــلاصـــه مسلمان نه شي مـــنکر

چې قـــرآن واړه کلام دی د اخلاص

پـــيغمبـــر خـــوهـــم پـــداشـــه پـــيغمبر

چې راوړونـــی د پيغام دی داخلاص

څـــخو غـــورکړه په اعـــجاز و کرامـت

چې یووحـــی بل الهام دی د اخلاص

هـــر یوصـــید لـــره یـــودام دی مـــقرر

زړه چـــې صید کاهغه دام دی داخلاص

د اسلام و اخـــلاص هـــیڅ نشته بـیلتون

بلـکه یوعـــلم اســـلام دی د اخلاص

مـــخلصان یـــې نور هـــمه دي مقتدیان

مـــحبـــت پـــکې امـــام دی د اخلاص

ض

"۸۲"

لـــه هـــيچا كـــرم يې نه كـــاندي اعراض
حـــاجـــتمند كـــه تن پـــرور وي كه مـــرتاض
دوست دشمن كه ترې طلب كاندي حاجت
چـــې كريم دى لـــه چـــانه كاندى اغـــماض
هـــريـــووبـــاسي غـــرض ترې غـــرضمند
د عـــالـــمو دى لـــه ده ســـره اغـــراض
لـــه كـــرمه يـــې خـــالي نـــه وي غـــضب
چـــې لـــه فيـــضه خـــالي كلـــه وي فـــياض

بـــي نيازدی چـــې يې زړه وي هـــغه کـــا

پـــرې هـــيڅوک کـــولی نشـــي اعـــتراض

قبـــض وبســـط د خـــواطـــرو دی لـــه ده

دی پـــــه لاس يـــــې انـــبساط و انـــقـــباض

دی منـــعم کـــاندي په يـــودم کې مـــفلس

دی بـــدل پـــه صـــحـــتونو کـــا امـــراض

کـــه رضـــايې وي ګلزار کـــاندي خارزار

کـــه رضـــايې وي ځـــنګلـــې کـــار يـــاض

ســـخندان يې کـــاهر حرف دستر ګو تور

مـــحبت چـــې ســـواد وکـــاپـــه بـــياض

"۸۳"

کـــه زه نـــه لرم له تا سره غـرض وايـــه نـــور لرم له چا سره غـرض

هرسړي لره پکار دی خپل غـمخور ته خـــوهـــم لرې له ماسره غـرض

نـــاآشـــنا نه کـــا غرض په نا آشنا خـــوآشنا لـــري آشنا سره غـــرض

پـــه رندانو که غـرض نه کا پارسا رندان نه لـــري پارسا سره غـــرض

مـــست په داکاندي طلب پيرمغان چې هوښيار لـــري دانا سره غـرض

که دې شونډې حيات بخشې شئ روزي څوک لري لـــه مسيحا سره غـرض

چې نسبت دی دمحبوب ومحبت

يـــوپه بـــل لـــري پداسره غرض

ط

"۸۴"

لارنرۍ ده دالـــفت لـکه صـــراط　　پـــدا لارې قـــدم ږده پـــه احتياط
په دنـــيا کې چاموندلې ده ښـــادي　　غـمخانه ده نه دی ځـای دا دنشاط
باندې کور وي په دامزکه لاندي ګور　　پـــه کوهـــي دی غـــورېدلی د ابساط
په هرامرکې تعديل وي مـــستحسن　　يوپـــه عشق اخلاص پـــکاردی په افراط
په سبب دعشق شيرين مـــې شه کلام　　اوبـــه شي خورې دقـــند په اختلاط
ربـــط د اورو داوبـــونه وځـــرګند　　ګـــرمـــو اوښـــو مې ظاهـر کړ ارتباط
که زړ وکی وی[1] ګنډلې به يې وه　　چـــاک دزړه مې څنګه وګنډي خياط
د بيدرد و په مرګ پـــاکه شي دنيا　　ګـــيډه صافـــه شي چې وزي تري اخلاط

ځـــوک بيان څـــه کا مـــعنی د محبت
ځـــوله شعره مې ونه کړي اســـتنباط

---

(۱) وای

ظ

"۸۵"

لکه بیا مـــوند ستا په عـشق کـــې جانه ماحظ

نـــه بـــه وي مـــــونـــدلي چا په دین دنیا حظ

لـــکه حظ کا ســـتا کـــدای پـــه کـــدایي کې

بادشاهـــان په باد شـــاهـي نه کـــاندي داحظ

ســـتا په وصـــل چې مـحظوظ پروردګار کړم

لـــکه حـــظ زما دی هـــسې دی دچـــا حظ

ته پـــه سیر دګـــلزار خوښ زه په جمال ستا

دا زمـــــا حظ دی دلـــبره هغـــه ســـتا حظ

د فـــرصـــت ســـاعت دچاپه لاس کـــیوزي[۱]

کـــه یې نن مـــومې پرې مـــړده[۲] په فردا حظ

---

(۱) کښیوزي

(۲) اصل : مژده

چې مې یارپه حسن ترهمه بالادی
څکه تروارو دپاسه دی زما حظ
په دیدن دې خوښ محظوظ لیل ونهار یم
ستا په زلف ومخ کوم بیګا سبا حظ
ستا رسوا پدا قبوله رسوایي کړه
چې په رسوایي کې مومي ستا رسوا حظ
محبت په مستو سترګو دې محظوظ دی
لکه رند چې کاپه جام وپه صهبا حظ

"۸۶"

څوک به دشاعروپه اشعار نه وي محظوظ
څوک به دطوطیانو په ګفتار نه وي محظوظ
مخ چې دیار ګوري هغه څه کاندي ګلشن
بې له ګلرخساره به ګلزار نه وي محظوظ
ماهم مشغول کړی دی په کار دعاشقی
څه کړم چې دازړه به په بل کارنه وي محظوظ
کاندي په دوه کونه کې دې خدای هغه رندې
سترګې چې دښکلیو په دیدار نه وي محظوظ
څله یې طبیبه فکر کړې درغیدو
بې دزړه له زخمه دل افګار نه وي محظوظ
خوښ لیدلی چادی جفا کار بې له جفا
زړه څوآزار نه کا دل آزارنه وي محظوظ

زړه راځـــخه غواړي ډپرارزان په نيم نګـاه

نفـــع څـوونه کـــا خـــريدار نه وي مـحظوظ

ستا ددرګـــدای څه کاندی سورئ دهمای

بـــې دســـتاله سوري ددیوار نه وي مـــحظوظ

لـــکه چې محظوظ په محبت دی محبت

هـــــې په شاهي به شهریارنه وي محظوظ

ع

"۸۷"

دم غنیمت شـــماره ذکر مـــه کړه دوداع

پس لـــه افـــتراقه بیا پـــه بـــخت وي اجتماع

څوک درته کتی‌شي چې هردم شغلې د نور

خیژی[1] ستالـــه مـــخه د آفـــتاب لـکه شعاع

بیا مـــونده په عشق مې زیړه ګونه لکه زر

مـــاپـــدې ســـودا کـــې ډیره وکـــړه انتفـــاع

وکـــړ چې دعـــرش مې ورفـــعت وته نظر

ســـتا داســـتانې ترې زیات مـــعلوم شه ارتفـــاع

وایـــې ټول عـــالم درتـــه پـــداســـتم ایجاد

ته چـــې په ســـتم کـــړې نوې نـــوې اختراع

---

(۱) اصل : خیچي

دواویـــاملـــت که نـــظر وکـــا پـــه معنی

لـــري به لـــه زړه کا دالفظي چـــې دي نزاع

زه چې ساده دل وم شوم له مکره يې غافل

زړه راځـــخه واخـــيست ساده رويـــوپه خداع

واورم چې آواز دې کړم له شوقه های وهو

هـــرچې صاحب حال وي وجـــد کاندی په سماع

صـــبر آرام قـــرار له زړه مې يوورِ مـــحبت

هرڅه رانه واخيست که مې مال وه که متاع

"۸۸"

که دې زړه نه وي معبود وته رجوع څه حاصل دي په سجود وپه رکوع

می د عشق په حقيقت کې دي حلال که شراب پـــه شريعت کې دي ممنوع

ځان کړه تيټ په تواضع لکه آسمان چې لويې ده په خشوع وپه خضوع

ليـــونی شـــه دحساب که لرې غـــم چـــې خدای کړله ليونو قلم مرفوع

دخپل بام په سرشه هـــسې جلوه کـــر لـــکه نـــمر چې له افـــقه کا طلوع

بـــيهوده ناصـــح خبرې کا د پـــند عـــاشقان کلام يې نه کاندي مسموع

فـــرق يـــې نـــشته داول و دآخر عـــشق لري لکه انجام هسې شروع

چـــې لـــه اصـــله داشيانه يې آګـــاه نرنـــاحقه کړې خبـــرې د فـــروع

امـــتياز کـــه ترمـــينځ ۀوي دنسبت وارِه يو بـــه ووتابـــع دي که متبوع

که ته عام و کنی خاص په طـــبيعت نا مطلوب به درته وارِه شي مطبوع

چې مې نوم کينبود واضع محبت خان

خـــوهم زه وم مـــحبت لره موضوع

غ

"۸۹"

چې کورکې مې بلیږي دزړه داغ ځه پکاره مې رنا ده د چراغ
جام دمی وي آئینه یې د جمال عکس یې ګوره دشرابو په ایاغ
څه دی باغ دارم بلکه ستا کوڅه فوقیت د جنت هم لري په باغ
دادنیا نا پاکه څه کاندی پاکان ومردارو ته هوس کاندي کلاغ
دبلبل وي هلته قدر وقیمت په هرباغ چې کاغوغازغن وزاغ
نه پوهیږم هیڅ دګلو په نګهت معطرچې ستا په بوی مې دی‌دماغ
هغه پریوزي په قعر ددوزخ چې د نفس یې سرکشي کاندي الاغ
هغه یار چې نه ځاییږي په جهان پداتنګ زړه کې مې ځای شي په فراغ

هډولاس له به درنه شي محبوبا
څوپې ته په محبت نه کړې سراغ

ف

"۹۰"

که مخلوق شـــي ورنه واړه پـــه خـــلاف
مـــرد هـغه چې وي هـرچاته په زړه صـاف
نـــه پـــه حـــج نه په روژه نـــه په نمانځه
بـادشـــاهـــان بـــه پوښتيده شي پـه انصاف
که غـافل يوازې ناســـــــت يې لـکه بوم
که څـــه حاصـــل دي د مســـجد په اعـتکاف
کـــه ادنی يې ځان په عـــشق کړه خپل اعلی
عـــشق په دم کـــې کـــمينه کـاندي اشـــراف

زړه د آه پـــه جـــنې وهـه لـــکه مـــالوچ

پـــه جـــهان کې شه مـنـــصور غوندې نـداف

څـــو په خودیـــې مـــقید یې د تکـــلیف

شـه ببخود چـــې له تکـــلیفه شـــې معـاف

ســتا پـــــه مـــخ شـــې مـــکدره آئـــینه

چـــې دې مـــخ تـــرآئیـــنې نه دی شفـــاف

هـــم پـــه خـــدای بنـــایې لـــویې و تکبر

بنـــده څـــه دی چـې وهـــې لاف وګـزاف

کـــار ددیـــن دنـــیاکړه جـوړ په اتفـاق

دواویـــا مـــلت شـــه وران پـــه اخـــتلاف

پـــه عزلت کې چې یې بیا مـــوند فـراغت

عـــنقا څـکه شه ســاکـــن دکـــوه قـــاف

خـــدای هغو لره دې ورنه ولې څـــوک

چـــې یکـــسان ګـــنې زر دو زو بـو ریابـــاف

څـوچې ځان دیارقـــربان نه کړي حاجـي

څـــه حاصـــل به دمـــکې کـــړي پـــه طـواف

اصـــراف مه کړه که هـــرڅولرې دولـــت

چـــې خـــالي ګـــنج روان شـــې پـــه اصـراف

کـــه لـــه ځانه شي نادان لـــکه مـــعصوم

مسلـــمان مـــومـــي جـــنت کافـــر اعـراف

پـــه نقاب کې پټې وروځـــې يې دي پټې

هـومـــره خير وي چـــې وي تورې په غـلاف

مـــحبت يې کلـــه ځـــى زماله زړه

که پـــه توره دغم زړه مې کا شگاف

"۹۱"

بل محبوب به نه وي زما يارغوندې ظريف

خداى ړونشته ځـــوک په ظـرافـت کې يې حريف

نيـــک عمل که يونـــسې په ورځ دقيامت

ځـــوک به دې پوښتې چې ته وضيع يې که شريف

کښت دې خپل عمل دى که يې وکړې پخوا

ريبـــې بـــــه اول يې کـــــه ربـــيع دى که خريف

پټ دې حسن نه دى خود ځرگند يې په عالم

تـــه لـــکه آفـتاب کـــله محتاج يې د تعريف

ځـــوک وتـــاته وښـــيې انـــذار ددلـــبـري

خـــود چې دقلوب تـــه ښـــه پوهيږې په تاليف

مـــښک نـــه ورته رسي نه گـلاب ونه عنبر

زلـــفې دخـــوبانـــو عـــجب بوى لري لـطيف

غـــم دمـــوکمرو چې په زړه لري مدام

تـــن دمحبت شه لکه موى هسې نحيف

ق

"۹۲"

دادنیـــاله هیـــچا ســـره نـــه کـــا اتفـــاق

مـــرد هغه چې ورکادې کاســـیرې ته طـــلاق

غـــواړې که ژوندون یې ورته مخ وښـیه زر

مـــرګ وته نـــژدې شه ســتا مشتاق په اشتیاق

دا کاندي بیخود شیخه هـغه راوړي خودي

جـــام دمـــیوښـــه دی که ســـتا نفل د اشراق

کیدي [1]چې منصور غوندې له شوقه سرپه دار

هـــغه په ســـر بازو کـــې سرداروي دعـــشاق

تـــه وخـــپل ددرګـدای ته مه وایه ګـدای

ســـتا ددرګـــدای چې دی بـادشاه وي دآفـاق

---

(۱) کښیږدي

کـــړې نـــاړې مجنون هم عـاقبت انالـيلا
عـــشق چې په کـــمال ورسي وصـل شي فراق
نه وي په اوراق کې چې ديار ښکلی اوصـاف
ښـــې دي پـــه اورســـوې بيهوده هسې اوراق
داولـــــکه وي ايښی بويه هم هسې پـاسي
وګـــــتې سړی کلـــه په جـفت کلـه په طـاق
نـــوم مې محبت شه ملقب شوم په عاشق
عـشق ومحبت چې مې ناهـزدووپه ميثاق

"۹۳"

نشته هـــــسې پـــه دنيا يار صـــادق چې هر ځای په هرزمان وي موافق
بې له عشقه خريدار څـــوک دی دحسن دمـــعشوق بازار تو ديرې په عاشق
خواخلاص دزړه قبليږي که نه هـــــيڅ پـــای د ملـــخ دسليمان نه وه لايق
کـــه دعـــشق لـــه حقيقته شي خبر څـــه امکان چې پرهيز ګار نشي فاسق
ناز دې نه کاندي بنده پـــــخپل کمال يوتر بلـــه خدای پيدا کاندي فـــايق
له هر چانه چې زړه يوسي پـــوشيده په جـــهان کې اوس باله شي په سارق
شراب سکه[1] چې شي زايل دخودی رنځ پـــداشراط چـــې حکيم ووايي حاذق
چـــې بې ژبه وي جاري ديار په ذکر خدای بـــنده کړ خوهـــم دې لره ناطق
لـــه دنيـــا شوتير ياران دمـــــحبت
که مجنون وه که فرهاد وه که وامق

"۹۴"

چې به ماليد په جهان کې ښـــه ښه خلق
خـــداونده چـــرته لاړشـــه هـــغه خلـــق

---

(۱) سکه = چښه

مګر مـزکه آسمان نورشـوله چـې اوس
زمـانه نـه هـغه پاتـې شـوه نـه خـلق
دخـالـق پـه قـدرتـونـو شـم حیران
چې پـیدا کـړپدا وخـت کې څـنګه خلق
نـه یې شـرم شـته نه نامـوس شته نه حیا
هـریـوکـار دبې ننـګې کـادغـه خلـق
نـاریـنه عـلـتي، بـنـځـې فـاحـشې
پـاتې نـشه آب پـه سـترګـو کې د خلـق
لـوی هلـک شـاه وګـدا وارې مفـعول
خـداونـده تنـدر پـریـباسه پـه خلـق
عـجـب داچـې لـه طـفلیه تر پیري
د خـنثا ووکـاندي ټـول کـارونه خلـق
بـیا مـحب بـولي خپل خـان دشاه مـردان
تـو لـعنت دخـدای پـدا زنـانـه خلـق
الهـی هـسې مـخـلوق کړه بیا پیدا
مـحبت چـې ولـیـدلی لـکه خلق

"۹۵"

چې تنها روان دعشق شم په طریق بـې سـایه خپله بـل نه وینم رفـیق
داپوهیږم چې ته حق یې زیات تردا حقـیقت دې خـوک کولی شي تحقـیق
پـه فـراق ګډې راحت دزړه زما درد مې یارالم همدم دی غـم شفـیق
دسروشټوندو دې تشبیه ورکړم له څه چـې نه رسي ورته لـعل ونه عقـیق

که دلب غنچه دې واشي په خندا　　خـــدای آسان په ما به کاندي هردقـــيق
غـــرضي یاران خو ډیروي ولیکن　　یـــارغـــارنه پـــیداکیږي هم صـــدیق
ستا تلاش په هرطرف په هر جانب　　غورځـــوي مې لکه سنګ د منجنیق
ستا په عشق کې منت بارشوم دهرچا　　هـــر وانبـــه وته لاس اچـــی[1] غـــریق

شیرین ځان کـــړ محبت صدقه ستا
بـــیچاره څه کـــاهـــم دایې وتوفیق

---

(۱) اچوي

ک

"۹۶"

هـــرناپاک په شـــفاعت بـه کـــاندي پاک
هـغه پـــــاک چـــې خداونـــددی دلـــولاک
تـــل تـــــرلې پـــورې ســروي دعـــشاق
خـــالـــي نه شـــه له سرونـــو ستا فـــتراک
مـــرم په هـــجردې په وصـــل شم ژوندی
هـــجرووصـــل دې زمـــا دی مـــرګ وژواک
څـــنګه کـــاندي ماهـــیت يې څوک مـعلوم
چـــې نـــه عـــقل ورته رســـي نـــه ادراک

ورتـــه ګـــورم چـــې لـــه چا که دقـفس

کـــاندي بـــند زمـا صـــياد دقـــفس چـــاک

چـــې شم خاورې فـــلک راولې ســـيلی

چـې لـــه دره يې مـــې والـــو زئ [1] خـــاک

دخـــوراک وخـــوب احوال مې څه پـــوښتې

خيال مـــې خوب شه ستا په عشق کې غم خوراک

دمـعشوق هم خدای پـيداکړ عـــجب غـم

چـې پـــه غـــم کې يې عـــاشق وي فـــرحناک

بـــي خـــطره ځي کوڅې ته د قاتل

مـحبت غوندې به بل نه وي بيباک

"۹۷"

کـــه دســـر ښند لـــونه لري همت څوک

هـــوس نه کاد مـــحبوب دې دصحبت څوک

عـــاشـــقان وي ليـــوني نا صحه چـې شه

ليـــونو وتـــه نـــه کـــاندي نصـــيحت څوک

بـختور وي چې کامياب يې په وصـال شي

غـــرض داچـــې شهامـــومي په قـسمت څوک

اې چـــې بيـــايې مـــې کوڅی ته دخوبـانو

لـــه هغـې کوڅې نه ووت ســـلامت څـــوک

څوک به څه کا اعتراض دخدای پـکارکې

چـــې دڈم وهـــلو نه لـــري طاقـــت څـــوک

---

(۱) والوزوي

مـــلامت پرې وي مـــدام دخدای له لوري

پـــه عـــاشق باندې چې وايـــي ملامت ځوک

چې ځان ډوب کا په درياب دخپلواوښو

بـــي لـــه ده به بل غـــريق وي درحمت ځوک

ديـــن دعـــشق دې په يقـين دزړه قـــبول کا

که لـــه خـــدايه وي طالـــب د مـغفرت ځوک

ځـــه پـــوښـــتې ددنيـــا کـــار له محبته

ددنيا کارونه ځوک او مـــحبت ځـــوک

"۹۸"

نـــشي ځوله خپـــله ځـــانه بې خبر ځوک

شـــي خـــبر کـــله له حالـــه ددلـــبر ځـــوک

بـــي لـــه ماچې سربازي کوم په عـــشق کې

ستا کـــوڅـــې ته کلـــه تلی شي بيخطر ځـــوک

داخـــوزه بـــار دار د بـــار امـــانت شوم

کنـــه غـــرپورته کـــولی شي په ســـر ځـــوک

هـــغه ستوری مـــې بيګاه په سرطـالـع شه

نـــن زما په ځـــيربـــه نه وي بـــختور ځـــوک

نـــرنـــاحـــقه بل مـهر وی ته ځـله ګورم

بـــې لـــه تا نشـــته منـــظور مـې دنظر ځـــوک

که هرڅو يوسف مثل دی په بنـايست کې

زه کـــافـــر شم که دې شـــميرم برابر ځـــوک

عـجـب داچـې نه يې نوم نه يې نشان شته
ولـــې وينم په تـــلاش يې هرځوک هرځـــوک
که دې زړه په لار دعـشق بـيايې روان شه
زيات ترزړه نه به پـيدا شي بـل رهـــبرځـــوک
کـــه پـه دريې ځای مې بيا موند محبته
بيا پريږدي ترعـمره پورې هغه در ځوک

"۹۹"

چې شريک دپاک الله ګـنې محال ځـــوک
هـــغه هيڅرې به ستا نه کـــاندي سيال ځوک
چـــا ادراک د مـــاهـــيت يې نه دی کړی
مـــګروصف يې بيان وکـــاندي پـه خيال ځـــوک
اوس ولـــــونـــه ســـموم ديـــار دزلـــفو
په حـــيرت يم چې زه ځـــوک اوداجنجال ځـــوک
بـــيابـــه نورتـــه دآفـــتاب نظـر ونه کـــا
که دې ووي ـــني په سترګـــو دا جـمال ځـــوک
درد دزړه هـــر چـــاتـــه وايم په ځرګـــنده
ګـــوندې تيرې [1] کاترغـــوړه زما حال ځـــوک
په جهان که قـيل وقال دی خود عـشق دی
بـــې دعـــشق له ذکـــره څه کا قـيل وقال ځـوک
تـــوره شـــپه دبـــيلـــتانه نشـــي روښـــانه
تـــرهـــغـــه چـــې بل ډآه نه کا مشال ځـــوک

---

(۱) تبرې = تيرې

پـــه هـــغه ددیـــن دنیا نعـمت حـــرام دی

چـې دعـشق پـه توره ځـان نه کا حلال څـــوک

څـوک کـــمال د مـــحبت به ادا نه کا

مګرما غوندې که وي صاحب کمال څوک

ل

"۱۰۰"

زه خو پـه جـهان نه مومم تاغوندې رعـنابل
ولـې ته به هم نه مـومې ماغـوندې شیدا بـل
هرزمان داهسې چې له ما بیګا نه ګـې ګرې
زه بـه هم پـیداکړم آخر ځـان لره آشنا بـل
وستایم صورت یاکه سیرت دې غـرض دادی
نشته په صورت وپه سیرت کـې ثـاني ستا بـل
ختمه دې خوبې کړه چـې خاتم یې دخوبـانو
تاغوندې پـیدا به په ښایست کې نشي بیا بـل

ستړی به آخر په ګـرزیده شـــي ولـــي جـانه
ســـیال به دي په حسن آسمان نه ګاندي پیدا بـــل
بل کـــه ښایســـته وُ ولي اې په قـــامت سروې
رابـــه وړي له کومه ستاپه شان قـــدو بالا بـــل
یـــارخووم وژلی اوس بیلـــتون یې مـــاورژني
یـــوآفـــت هغـــه وي دآآفـــت راغی په مابـــل
ګرزم دې په درخاورې په سـر ستا په طـلب کې
څوک په عـــاشقي کې به وي ماغـوندې رسوا بـــل
لـــکه مـــحبت د مـــحبت خـــبرې کاندي
هسې په کلام دعشق به څوک نشي ګویابل
"۱۰۱"
نـــه یم ناامـــیده مـــخ بـــه وویـــنم دیار خپـــل
فـــضل بـــه په مـــا باندي وکا پروردګار خپل
څـه لـــه څـــم د باغ دُ ګلـشن و نندارې ته
زه چـې شګفته په داغ دعشق لرم ګلزار خپـل
څه عاجز تدبیر چې زه رجـوع ورته دکار کړم
مـــاحـــوالـه کړی وتقدیرته دی هـــر کار خپل
زړه مې دی دعشق په رنځ رنځور ز ه یې خدمـت کړم
تـــیرشه یومدت چې بیـــمار دار یم دبیمار خپل
غیر سره وفاکړې چې په څه رنګه مې خپل شي
ستا به څنګه خپل شي دچاشوی دی اغیار خپل

راغـــی په امـــید چـــې دې په درقـبله حاجـاته
مـــکړه ناامـــید لـــه خـــپله دره امید وار خپل
ســـتا ناصـــحه څـه که جفا کاندې یار په مـاکا
مـــادی قبـــول کـــړی هرستم د ستمګار خپل
دردراکـــړی تادی دعـشق هم ته مې طبیب یې
وایه بـې لـــه تاظـــاهـــر وچاته کړم آزار خپل
تل دې محـــبت وي چـــې مې غـــم پرې غلطیږي
بـــــې له مـحبته څوک مې بیانه موند غمخوار خپل

"۱۰۲"

لـــه فراقه چا بیـــمار کړ زمـا دل چـــالـه غمه خپل آزار کړ زمـــا دل
چاخمارمې دخودې یوړ په عشق لـــــه غـــفلته چـا بیدار کړ زما دل
چـــاله خـــانه له جهانه کړم جدا چـــاله خپل پردې ویزارکړ زمـــا دل
چـــاعـــطا کړه راته خپلـــه بیتابې چـــاله در ده بـــیقرار کړ زمـــا دل
چاګریوان مې دزړه چاک کړ، لکه ګل چـــاپه داغـــولالـه زار کړ زمـــا دل
چا خپل یارکړچې شه زړه رانه ویزار چـــالـه ماهـــسې اغیار کړ زمـــا دل
چاپه عشق زړه مې محتاج کړدهرچا چـــادهـــر چامـنت بار کړ زمـــا دل
چـــاشراب د مـــحبت کړه ورعطا
چاد عشق په می سرشارکړ زما دل

" ۱۰۲ الف "

عـــاشـــقان وفـــاداران شـــول چـــې پیدا ګـــلرخساران شول
چې دعشق کیف یې تر خولې شه مـــیخواران پرهـــیزګاران شول
شریکان چـــې شـــو په عشق کې اغـــیاران ســـره یاران شـــول
د هـــغو بـــنیاد مـــحکم شـــه چـــې د زړونو معـــماران شول
چـــې د نفـس آس یې کړلاندې کـــه پیاده وو شهـسواران شول
عجب جنس یې چې ښکاره شوې وارې ســـتا خـــریدازان شـــول
دوه ګـــیسو یې محـــبته
هـــم زما په حق ماران شول

م

"۱۰۳"

په تلاش چې د ساقي دمې ناب ځم
بې له سکلوبې[1] په خیال مست وخراب ځم
بارپه چانشوم مطلق پدا دریاب کې
چې د بحر په سرسپک لکه حباب ځم
مسافر لکه چې کبورته په تلوار ځي
زه پدا شان وعدم ته په شتاب ځم
زه به نه تلم میخانې ته بارې څه کړم
ناچاري ده چې په طمع دشراب ځم

---

(۱) چښلو

ښکلي مـــخ يې ګوندې وويـنم په خوب کې
دغـــه خيال لرم چې هره شپه پـه خواب ځـــم
دخپل غم په اورکې درست يې سره وريت کړم
زه لـــه لاســـه دخـــوبـانـــو زړه کباب ځـــم
چې ګوګ ځای وي مطابق دهغه ګوګ شم
اوکـــه سم وي هلـــته سم لـــکه درياب ځـــم
ســـرمـــې ورکړ هـــله کړه شهامـــې خپله
نن ددې جـــنګ له ميدانـــه فـــتحياب ځـــم
هـــر پلوته چـــې مـــحبوب وي محبته
لـــکه سيل هغـــه پلوته اضطراب ځم
"۱۰۴"
چـــې لـــه شوقـــه ســـتا پلـــوته قـــدم ږدم
لکـــه مست قـــدم پـــه لارې کلـــه ســـم ږدم
چـــې قـــلم له عجزه وصـــف يې نه شي ښـــکلی
نور پـــه مـزکه بـــياله لاســـه خپل قـــلم ږدم
چـــې لـــذت مومـــم بسيار ستا په جـفا کې
زه لـــه ذوقـــه دســـتم نـــوم دې کـــرم ږدم
چـــې لـــيده شي پکې صـــاف دواړه جـهانه
دســـاقـــي دپـــيالې اســـم جـام جـــم ږدم
که دخـــدای عـــبادت دادی چـــې زاهـدکا
زه بـــه سر په ســـجده وړانـــدې دصـــنم ږدم

چې لـــه تیغه دجـــفادې زړه مـــې خوړدی

پـــه پـــرهـار دزړه بـــه څـــرنګـــه مـرهـــم ږدم

داغ دعشق دی که مې دام که مـــې درم دی

زه پـــه کورکې خـــپل نه دام ږدم نـــه درم ږدم

چـــې شـــه بار دامـــانت تـــیار لـــه غـــیبه

آواز راغـــــی چـــې پـــــه سـر بـــه دآدم ږدم

مـــحبت مـــې تخلص بیاموند له خدایه

په اشعار کې کله خپل زه بل علم ږدم

"۱۰۵"

دم مـــې ته یې ســتاله غـــمه ولـې نه مـــرم

بـــي لـــه تاچې شـــوم بې دمه ولـې نه مـــزم

زیـــات دهـــجرتر ماتمه کـــوم مـــاتم دی

الهـــی لـــه دې مـــاتـــمه ولـــې نـــه مـــرم

مبـــتلا فـــلـک په درد دجـــدایـــی کـــړم

چـــې دا درد دی لـــه آلمـــه ولـې نـــه مـــرم

چـــې داهـــسې تـــل ستم رابـاندې کاندې

دخـــوبـــانو لـــــه ســـتمه ولـــې نـــه مـــرم

چې ژوندون زما عـــبث دی په هـــجران کې

تـــرولـــه هـــڅره دې صـــنمه ولـــی نه مرم

بیـــلـــتانه رابانـــدې وخـــت د ځـنکدن کړ

چـــې نـــه پایـــمه نـــه مـــرمـه ولې نه مـــرم

زیست چې تیر په خوشحالي شي هغه زیست دی

چې بې تانه یم خُمار مه ولې نه مرم

غم که سخت دی په جهان خودفرقت دی

محبته له دې غمه ولې نه مرم

"۱۰۶"

له اشجاره دجنت کله ثمر خورم

زه چې تل د محبت له ونې برخورم

سر به ستاله بنپو[۱] هیڅوې پورته نه کړم

که زرګونه دپیغور کانې په سرخورم

ددلبر غم خدای روزي مې کړترمرګه

څوزوندی یم دغه غم به ددلبر خورم

ساقی جام دمیو راکړ اوس که خدای کا

زه به هم اوبه له حوضه دکوثر خورم

څه لذت خوپکې مومم لب شکره

چې ترخې کنځلې[۲] ستا لکه شکر خورم

شپه وورځ دیار په غم کې مې تیریږي

چې بې غم دزلف ورُخ شام وسحر خورم

ما معذور لره په میاشت درمضان کې

په لیدو دیار دمخ روژې اګر خورم

چې بې وروځې داختر میاشت دي زاهده

زه روژه چې میاشت وویښم داختر خورم

---

(۱) بنپو= پښو

(۲) کنځلې = بنکنځلی

ژونـــدی پاتـــې به شـــم کـــله محبته

کـــه داهسې د بنوبې تل خنجر خورم

"۱۰۷"

نـــه پوهیږم چې له عـــقله بیرون چـا کړم

چـــامې هـوش له ســـره یوور مجنون چا کړم

پـــه غـــمزوپه کرشـــمو پـــه مـــکیزونو

پـــخپل ځـــان بانـــدشیدا ومـــفتون چـا کړم

هـــم پـــداحیرت مـې شپه وورځ تیر یږي

چـــې آزاد وم بنـــدیوان په افســـون چـا کړم

چـــاخپل عشـــق راته عـطاکړ آګـاه نشوم

څـوک محسن ولـه احسانه مـرهون چا کړم

څـوک دمـــینې ودولت ته مـې رهبر شه

چـــامـــنت رابـاند کیښود مـمنون چـا کړم

پـــه آزار د مـــحبت محـــبت خـــانه

خـــبرنه یم چې خسته وزبون چا کړم

"۱۰۸"

دین دنـــیا مې غرض نه وي چـې دعا کړم

خواست لـــه تاپه پـــنځه وخته خوهم ستا کړم

پیـــدا څـه لـــره دې کړم پـدا دریاب کې

چـــې حـــباب غوندې دې خدایه بـې بـقا کړم

هـــر قـــدر چې ته جـــفا وکړې رابـاندې

هـــغه هـــومـــره زه لـــه تـــاســـره وفاکـــړم

څـه په مرګ مـې ویرې[1] زه به خود ومرم
تـــه دروغ وایـــې لـــیکن زه بـــه رښـتیا کړم
درســـته شپه ســـتا د مـــجلس رونق دپاره
لـــکه شـــمع هـــم خـــندا کړم هـــم ژړا کړم
پابه نه څـــم له کوڅې دې څـو شهید شم
دغـــه ځـــای بـه زه مـــیدان دکـــر بـــلا کړم
کومـه خواته درومـــم کړم تلاش یې چـرته
نـــاپـــیدادلبـــر به څـــه رنـــګه پـــیداکـــړم
خوچې وینم ښکلی مخ مفـتون پرې زه شوم
نـــرنـــاحـــقه یـــوآفـــت په ځـــان بـــرپاکړم
پـــه عـــالم کـــې دې رسـوا کړم محبته
ته رسوا شې لکه زه چې دې رسوا کړم

"۱۰۹"

چې داوښو ستا په غم جـــاري دریاب کړم
درست جـــهان پکې لاهـــو، لکه حباب کړم
دهـــرګـــل حـــسن بې آبه راڅـــرګند شي
چـــې نـــظر دې دڅـــهرې په آب وتاب کړم
خوب هله کاڅوک چې زړه یې وي بې غـــمه
زه چـــې غـــم لـــرم په زړه کې څـــنګه خواب کړم
که هرڅو آفـــتاب یکتا دی په ښایست کې
زه مـــخی بـــه دې دمـخ کلـه آفـتاب کړم

---

(۱) ویروې

چې خـوَلَه مـې ستا د مخ شي مـيسره
هـم يـې ځـان دپاره عـطر هم ګلاب کړم
له دې غمه چې به څه ځـواب وي راوړي
دقـاصد راتـلو بسيار پـه اضـطراب کړم
دسـوال ځواب مې هـيڅرې را نه کړې
بـيهوده لـه تا سـره څـه سوال وځواب کړم
بـل هـيڅا نه کړم خراب پـه تکرار وايم
تاخـراب کړم تا خـراب کړم تا خراب کړم
آتـش رويه شـعله خويه مـحبت ستا
عجب اوروچې يې درست سره کباب کړم
"۱۱۰"
چـې فلک دبيلتانه په رنـځ بيمار کـړم
بـې لـه وصـله څـه دارودې د آزار کړم
چـې خـبرې ددلـدارنه کـړم ناصـحه
نـاقـرار زړه په څـه رنګـه پـه قـرار کړم
چې ظاهر په ملک د زړه مې جلوه ګر دی
يمه رونـد چې يې طلب پـه بـل ديار کړم
در پـه درخاورې په سر شوم دريغه دريغه
مـينی ستا په هـسې شان خراب وخوار کړم
مال متاع منصب مې واړه ستا قـربان کړل
ځـان باقـي دی هـغه هم به ترتا ځار کړم

چې دې مخ، لکه ګلزار را یادشي ژاړم
بې لـه تا هـر کلـه سیرچې دګلزار کړم
لـکه ونه دچمراغـو کا څوک جـوړه
داغ دعشق دې سرترښپو[1] باغ وبهارکړم
طـوطـي کـله ګـویا کیږي بې شکرو
چـې شیرین لـبان نه وینم څـه ګفتار کړم
هـم پـه زړه کـې پخسیږم مـحـبته
څوک همدرد نشته چې درد ورته اظهارکړم
"۱۱۱"
څه څیز دی قمر چې مشابه یې دقـمر کړم
خدای ږوکه څـهره دې لـه آفتابه برابر کړم
نورځـه راته هډونه ښکاریږي چې یکښې یم
مـخ دې راځـرګند شي هـر پلوته چې نظرکړم
ومـړم لدې غمه چې احوال د زړه مې ناوړې
حال مـې څـخوواوره چې له زړیه غم بـدر کړم
نه اخـلي سلام مې چې هیچرې له غروره
یوه ورځ لـه تا به آخرزه هم لاس په سرکړم
نوم دسفر واخیست که له خولې دې زما جانه
زه لـه ډیـره غمه لـه جـهانه به سفر کړم
هـیڅ آګاهـی نـه لرم له ځانه له جـهانه
ستا شـراب دمینې پـدارنګـه بې خبر کړم

---

(۱) پښو

خـــودلـــکه پتنګ له شـــوقه ځان په آتش ولم

اور د عـــاشقي لـــه هـــره اوره بـــې خطر کړم

زړه چې مې مايه وه ددرست عـمر نذرستا کړ

زيات ترزړه څه نشته راځخه چې دله [1] درکړم

هـــر احـــوال پوښتم د مـــحبت له محبته

دی عاشق صادق دی هر چې ووايي باورکړم

"۱۱۲"

د ناصـــح نصـــيحتونه اول ګـــوش کړم

چـــې تا يادکړم هـــغه واړه فراموش کړم

مـــادمـــينې شراب ســـکلي [2] دي مغانه

زه جـــرعه بـــه ستاله مـــيوکله نوش کړم

بې خـــبر له دواړه کونه شوم پـــدم کې

دســاقـــي يوې پـــيالې هسې مدهوش کړم

دزاهـــد خـــبر ې څـــه شوکه يې اورم

زه عـــمل بـه پـــه وينـــا دمـــيفروش کړم

بې له تامي اوس آوازله خـــولې نه خيژي [3]

بيلـــتانه دې پـــداشان ســـره خاموش کړم

چـــرته زه وم چـــرته هومـره فريـــادونه

داخـــوستا ميـــنې داهسې په خروش کړم

غـرونه يومې وړه په مخ په سيل داوښـو

غـــم ديارلکه درياب هـــسې په جوش کړم

---

(۱) درله

(۲) چنلي

(۳) اصل : خيجي

په یودم کې به دامـــر زړه مـې ژوندی شي
کـــه دلبـــره دلـــنوازه په آغـــوش کـــړم
مـــحبته چـــې پـــه زرنه ترم زړه خپل
زرین اغوندم خندا په خرقه پوش کړم

"۱۱۳"

په سپین مخ دې چـــې نظر په تورا وربل کړم
دغـــمونـــو پـــخپل ځـــان بانـــداور بـــل کړم
چـــې دعـــشق جذبې دې رابنکوم وځان ته
هـــم پـــدا ځـــهان لـــه دې جـــهانه بـــیل کړم
زرښـــندل خـــوځـــه دي داغـــنیمت شمارم
پـــه ښـــندلو کـــه دسر معـــشوقه خپـــل کړم
خـــود ومـــاوته بـــه مـــخ تـــوره بـــلاکا
چـــې دیار وتـــوروســـتر ګـــوته کـــتل کړم
اوس کنځـــل[1] چـــې راته نه کوې بې رحمه
امـــوخـــته پـــخوا دې ولـــې په کنځل[2] کړم
پـــه کـــرم ددیـــدن خـــیر چـــرې راکړه
دعـــاګـــوی یم ســـتا د حـــسن دعـــاتل کړم
زړه مـــرشدمې دی مـــنم یې هـــر چـــې وایې
زه مـــدام غـــوږددې خـــپل زړه پـــه ویل کړم
لایوداغ دې دی راکـــړی عـــشقه وار کړه
پـــه وارروار به یې هـــم ســـتالـــه لاسه سل کړم

---

(۱) (۲) ښکنځل

تـــه مې نوم د مـــحبت وايـــې بدل کړه

چـــې نـــامـــه دې په وګړي کې خـــجل کړم

بـــدل کړی به مې وه که مـــې تخلص وی[1]

دامـــې نـــوم دی ازلـــي څـــنګه بدل کړم

"۱۱۴"

زړه مـــې دی نازک دچاخبرې زیاتي کم وړم

محض ســـتا دپـــاره دانـــاســـازې دعـــالم وړم

هـــرځوک په یاري مهروکړم یوسي لـــه یاره

زه پـــه اشـــنایـــي دخپل آشنا جـــوروستم وړم

هـــیڅرې ښـــادي مې له وصـــاله دې یونوړه

تـــل دې دفـــراق لـــه لاســه زه درد وآلم وړم

شـــي روان په جـــمع چـــې لښکر دعـــاشقانو

زه یې نشان چـــې یم وړاندې وړاندې یې عـــلم وړم

ورک بـــه یې د زلفو په تیاره کې عـــاقبت کړم

زړه چـــې پـــداشپه پـــدا ظلمت پدا تورتم وړم

تـــه پـــخندا وړې پدا ګلزار کې دګـــل قدر

زه پـــه ژړا آب پـــدا ګلشن کې دشـــبنم وړم

کوږ[2] چې په خصلت یې هـــدوسم به راته نشي

زه بـــه دې داخـــوی لـــه خپله عمره سره سم وړم

اوس خولـــه ســـتمه لاس کړه پورته ســـتمګاره

څـــوبه دې جـــفازه جـــفا کاره په هـــردم وړم

---

(۱) وای

(۲) اصل: کوګ

هیڅا وړی نه دی زړه خورم په مـــحبت کې
څوک وایي چې زړه په محبت کې زه خُرم وړم

"۱۱۵"

چـــې دې ووینـــم له شوقــه په غــوغاشم
چـــې دې نـــه وینـــم په آه وواویـــلا شم
اوس راکهوتم[۱] پـــه دام کې دې صـیاده
څــه امکان دی چې زه خلاص له بنده ستا شم
پـــه دنیـــا وآخـــرت مـــې حاصـــل ته یې
چـــې ستانه شم په دوه کـــونه نورد چاشم
څــه مـــوزون قـــدو بـالا لـــرې نـــگاره
زه قـــربـــان دې ترموزون قـــدوبالاشـــم
که دگل په رنگ بنکاره کړې مخ گلرنگه
زه بـه اوس دعـــندلیب په شـــان گویا شم
دعـــشق عـلم څـومې نه دی حاصل کړی
څـه په کـــارکه دبـــهلول په شان دانا شم
پـــه شـــپه وایم مـــخ به نه کړم ستا پـلوته
چـــې سباشـــي وکوخـــې ته دې بـیاراشم
تکلیف مـه کوه ناصـــحه چـې پند راکړې
زه لـــه ډیـــره پـنده ســـتا لـــیونی لا شم
محبت په مرگ وزیست به دې پرې نه ږدم
کـــه ســـل ځلـــه ومرم سل ځله پیدا شم

(۱) کښیوتم

"۱۱٦"

ستادوړاندې پـــه فریاد ځکه هـــر بارشـــم

چـــې بلبل یم ګل چـــې وینم په چغار شم

شـــراب خوارشم چې یې مومم ستاله لاسـه

اوکـــه ســـتاله لاسه نه وي پرهیز ګارشم

شیـــطانـــان اکثـــر شیخان د زمـــانې دي

چـــې یې وینـــم پـه لاحول واستغفار شم

کـــه اتـــلـــس کـــلنی معـشوقه پـــریږدم

پـــه اتـــلـــس زره قـام به شرمسار شم

چـې سجده کړم ستا دوروځوو مـحراب ته

زه پـه دین دعـشق به هـله نمانځ ګذارشم

کـــه هـــرځوکـــارونه ډیردي بې له عشقه

خدای دې نه کاچـې مـشغول په بل یوکارشم

ځوصوفي یم هډوهوښ مـې په ځـای نه وي

سیه مـست چـې په شرابوشم هـوښیارشم

چـــې داهـــسې زړه بیمار لـرم لـه عـــشقه

عـــاقبت به زه هـــم ورســـره بـیمار شم

چې دې نوم مې محبت کړباري خدایه

پـــه قیامت له محبانو ســـره شمارشم

"۱۱۷"

بـــیګانه که زه له خـــویش واقـــربا شوم

غـــم مې نشته چـــې لـــه تاسره آشنا شوم

لـــه جـــنجاله يې دزلفـــووتی نـــه شم

الهـــي پـــه څه بـــلا کـــې مبتلا شوم

هلـــه شـــوه راته هـــستي خپله معلومه

پـــه بـــقا کې چـــې ديار اول فنا شوم

لاړه نشـــوه نـــاداني په څوارلس علمه

چـــې دعشق په نکته پوه شولم دانا شوم

نيست نابود لکه حباب دې ته کړم مـــرګه

لـــه دريـــاوم پـــيداشوی بيادريا شوم

پـــه ګفـــتار،لکه طوطي کړم ستا لبانو

چـــې شکرې دې په خوله مې کړې ګوياشوم

څـــوخاموش وم عاشقي مې وه مستوره

لـــه فـــريادده په وګړي کې رسوا شوم

پـــه يوه ســـترګه چـــې ګورم وهـــرچاته

پـــه عالم کې دآفـــتاب په شان يکتا شوم

بې له عشقه نورڅه کارکړم په جهان کې

مـــحبت يم مـــحبت لـــره پيدا شـــوم

"۱۱۸"

لـــه نوشلو دشـــراب به مـــنع نه شـــم

پـــه ګـــناه بې که هرڅو په حدواهه شم

هـــډونـــه مـــړيږي زړه مې لـه خوبانو

خوچې وينم بنکلي مخ مفتون پرې زه شم

مـــشبکـــه مـــې ســـینه لـکه غلبیل شوه
دنـــګاه پـــه غـشوستا چې تل ویشته شم
تله راتله کړه رالړه که زیست مې غواړې
لـــکه دم زه دې ژوندی پـه تله راتله شم
ددوزخ عـــذاب هجران دې په مـاتیر کړ
پـــه قـیامت بـه تردا زیات معذب څه شم
زه فـــرهاد بـــه شم که ته راته شیرین شې
که تـــه مـــاوته شـــې دازه به هـــغه شم
زړه سوری که لـکه دُر مې شي قبول دی
پـــه رشـــته کې ستاد زلـفو که پیه شم
بې له تامې خوب په سترګـو څـنګه راشي
خیال دې ماکله پریدي[1] چې زه اوده شم
پـــه هیڅ شـــان دانـــاقـرار نه قـراریږي
بـــې لـــه تا تسلي بخش څنګه د زړه شم
ددنیـــا سړي څـاروي دي لـه دې خلقه
کـــشکې والـــوزم آســمان وته مرغه شم
شوم نادان په مـــحبت کـــې دې هلکو
هرچې وایې راته ته زه دې په خوله شم

"۱۱۹"

زه چې دخوبانوتل بـــازار لړه ورد رومـــم
یم دزړه خـــرڅونی خریدار لـــره وردرومم

---

(۱) پریږدي

بې لـــه ګـــلرخـــسارهٔ لرې تښتم له ګلزاره
ګـلځهره کـــه نه وي څـه ګلزارلره ور درومم
وبـــولي چـــې مـاله مهره زه له ډيره خيالـه
سم پـــه لارې نه ځم چې خپل يارلره وردرومم
نـــه درومـــم بـــيکاره مـيخانې وته زاهـده
کـــار لـــرم لـــه مـيو زه خپل کارلره وردرومم
زړه مـــې کـــااسير پدا صـــياد مـــې راروان شي
څـــوک که يې پوښتي وايي چې ښکارلره وړدرومم
چرته خوشـــبويي دې چرته عطرولې هم زه
سـودپرستادبوی کړم چې عطار لره وردرومم
يـــاردپـــاره کـــړم درقـــيبانو خوشامـــدې
ګـــل مې په نظروي چې زه خارلره وردرومم
زه چې دپرهارپه خولـه مـــزه يې دتيغ اخلم
خون ورته حـــلال کړم چې خونخوار لره وردرومم
مـــاردتـــورو زلـــفومې ساحردی محبته
ومې خوري زه بيا هغه ښامار لره وردرومم

"۱۲۰"

د هـــوښيار و پـــه نژدې چـــې ديوانه شوم
زه هـــله پـــکار دعشق کې فـــرزانه شـــوم
څـوصـــوفـي وم هيڅ خبر نه وم له هوښه
شـــوم هـــله خبر په هوښ چې مـستانه شوم

په جهان مې اوس داستان دعشق مشهور شه
زه په مینه په عالم کې افسانه شوم
دجمال دمخ دیار شمعه شوه بله
پرې نظر مې خوچې پریووت پروانه شوم
اوس مې خپل همه پردي راته بنکار یږي
ستا په عشق له آشنایانو بیګانه شوم
ترابده مې له مینې سره کور دی
له ازله زه له عشقه همخانه شوم
مادوروځودې لینده کړه غوره جانه
د بنود غشو ستا چې نشانه شوم
بارې شکراوس دعشق له برکته
جانانه زما شه زه دجانانه شوم
محبت چې په نامه وه زما بنکلی[1]
محبت لره پیدا په زما نه شوم

"۱۲۱"

ګل چې خپل مې کړله هرچانه پردی شوم
دهر یوسړي په سترګو کې اغزی شوم
زنده دلوهله نیک سړی معلوم کړم
مرده دلوته بنکاره چې بدسړی شوم
چې یاخوب کوم یاګیډې لره غواړم
په صورت کې دسړي پیدا ځاروی شوم

---

(۱) کښلی

ســـراســـر پـيري لـه کـــاره وم ايســـتلی

زه پـــه عـشق دساده رويوبيا ځلمی شوم

هـــم ناځيزه هم لاشـــی وم بې لـــه عـشقه

چې مې مينه کړه پيدا بارې څه شی شوم

ســـياهي مـــې دپـــندار خوله زړه پـــريوله

که پـــه عـشق دتوروزلفوتورکودی شوم

نامـــردان دي چې يې زړه پـــه حکم نه دی

مـــاچـې زړه خپـل مسخر کړ مړنی شوم

اوس پـــه سرمـــې لاس راکا ړي له شفقته

پـــه وفـاسره ديار مـــصاحب سپی شوم

پـــه نصـــيب مـــې ووهـــردم ساړه آهـــونه

چـــې پـــه اصـــل کې پيدا سړه بنی شوم

بـــې کـــماله څـــه حاصل دي محبته

که بړيځی په نسب يا کمال زی شوم

"۱۲۲"

هيڅ دزيست اميد مـــی نشته نـــه به پايم

چـــې دمـــينې پـــه بـــلا کې مـــبتلا يم

چـــې پتـــنګ يم تـــريوه شمـــعه ځاريږم

هـــوســـناک نه دهـــرګل لـــکه بـــورايم

مـــامحروم دخپل ديدن له خيره مـــه کړه

چـــې دې پـــروت په دروازه لـکه ګدايم

چې ظاهر شې شم ظاهر چې پټ شې پټ شم
زه ســـایه تـــه نـــمرله تا کلـــه جـــدایم
ځـــان مـې ستاد لارې خاورې کړله شوقه
کیـــده ښپې[1] زمـاپه سرچې دې خاکپایم
چـــې زړه خپل ګنهم همدرد په غم دعشق کې
یـــو وزړه تـــه دخپـــل راز خـــبرې وایم
تـــه په حـــسن کې یکتا لکه آفـــتاب یې
چـــې عـاشق دې شوم په عشق زه هم یکتایم
کـــه تمـــام جـــهان له مـــانه بیګـانه شي
غـــم مـــې نشته چې له تا ســـره آشنا یم
که نظر په محبت مې نه کړې مه کړه
تـــه زمـــا که نشې مشه زه خوستا یم

"۱۲۳"

ځـــوژونـــدی یم پدا[2] بحر کې حبـــاب یم
پـس له مرګه که مې څوک ګوري دریاب یم
چـــې یـــودم مې زړه بـې یاره قـــرار نه کا
دوصـــال طـالب یـــې ځـکه پـــه شتاب یم
چـــې په تلـــه شوم په هـــنګام دنزع راغلې
څه حاصل دی چې اوس زه ښپه [3] په رکاب یم
زړه پـــه غـــم لرم خراب په اوښـــوسترګې
دواړه کـــوره مـې دي وران خانه خراب یم

---

(۱) ښپې
(۲) اصل: پدای
(۳) پښه

نـــه ذابـــح يم دبقـــرنه خـــونريـــزي كړم

زه پـــه عـــشق كې يودخپل دزړه قصاب يم

عـــشق لـــه ځـايه په خلـــقت كې دآدم دى

چـــې عاشق نه شـــم خوديويم يـــادواب يم

چې شراب مـــې ترحسابـه زيات دي سكلى[1]

بـــې خـــطر ځكه له ورځې دحســاب يم

هـــرچې دي ديـــارله لوريه مـې قـبول دي

هـــڅواړنـــه پـه عـــذاب نه يـــه ثـواب يم

وړى تـــرى دصـــهـــبايم مـــحـــبته

غرض داچې دشراب په اوركباب يم

"۱۲۴"

شوم كافر دعشق ولې غيرت دهر ديندارىم

رنددخرابـــات يم ولـــې رشک دپرهيز گاريم

څـــه شوكه رنځوريم ته نظر راباندې وكړه

روغ به په نگـاه شم چې دسترگـو دې بيمار يم

خان جهان به څه كړم ته مې ځان ته مې جهان يې

اوس زه ســـتا په عشق كې له همه واړوويزاريم

خپل دسړي خپل وي كه پـــكاروي كه بـيكاروي

ســـتايم جـــانه ستايم كه پكار يم كه بيكار يم

پاک مې كړه په توره ددې زيست لـه نجاسته

څـــومې قـتل نه كړې نه حلال يم نه مرداريم

---

(۱) چښلې

زیړه مـــې ده ګـونه اوښې سرې لرم له غـمه
خودزه دې پـه عشق کې همیشه باغ وبهاریم
خوارکه دعشق نه وی[1] داعزت به مې وه چرته
هم پدا عزیز یم چې دعشق په خواري خواریم
ســـرخو وي عزیز ولې خـــوبا چې بې بهاده
مـــومم که دســـړه بهـــاهم یې خـــریداریم
نوم مې مـــحبت دی محـــبت غواړم له تانه
هـــینه کړه رابانـــدې چـــې دمینی سزاواریم

"۱۲۵"

په دنیـــا کې کـــه هرڅوغـــریب فـــقیر یم
پـــه جـــهان دمحـــبت کې خـــوامـــیر یم
که ددرســـت جـــهان ښادي راکړه راشي
تـــاپه ســـترګو چـــې ونه وینـــم زهـــیر یم
چـــې دې ونســـي تـــرګـوتې کتی نه شم
لـــه غـــیرته زه دښـــمن دی دزرګـــیریم
زه کـــامـــل یم پـه فـــرقه دعـــاشـــقانـــو
دوی مـــې واړه مـریدان دي زه یې پـیریم
لعـــل ودرلـــرم داوښو ستا پـــه غـــم کې
زه مـــحتاج نه دبـــادشـــاه نه دوزیـــر یم
هـــریوکـــارمـــې دی سپارلی وتقـــدیرته
ځـــکه زه فـــارغ لـــه فـــکره دتدبـــیریم

---

(۱) وای

کوم یوګل مې شه غایب له سترګـو خدایه

هــرســحر چـې دبلــبل پــه شان په ویریم

هربندي به خلاص شي ولــې خلاص به نه شم

زه بنــدي چــې ستــا دزلـفو په زنځیر یم

کــه عــالم دمــحبت مې مــسخر کړ

زه دعــوی به هــله کړم چې عالمګیر یم

"۱۲۶"

زیړه ګــونه مــې پداده چې دردکــش یم

خــالص زړیم بــې پــرواهــه له آتــش یم

دادچــاپــریــشانو زلــفو آشــفته کــړم

چــې پــریشان خاطر داهسې مشوش یم

دسړ وپــیرو بــادشاه لــکه ســلــیمان یم

چــې بنده دحــور مــثالې پري وش یم

زلف ورُخ چــې دخــوبانو مې په مراددي

زه مــالــک دملـک دروم هم دحبش یم

په سرواوښو مــې دزړه احــوال ظاهر دی

زه لــه ډیرې نادانــی یــې په پوشش یم

نور خــوارِه کلــه ترســتونې مــې تیریږي

دشیر ینو شونډوستا چــې مــزه چش یم

کــه لرئ په مــحبت مې شک خوبانو

مادعشق په اور کې تاوکانئ بې غش یم

"۱۲۷"

چـــې په تاغوندې بـــنده باندې عاشق يم
که دخدای دمينـــې دم وهـــم صـــادق يم
چې شوم خاورې ستا ددرپه مزکه باندې
پـــه لـــويي کې تـــرآســـمانه هـــم فايق يم
دســـايې په څـــير له تانـــه جـــداکـــيږم
په هـــر ځای چـــې په ياری دې موافق يم
زه مـــجـــنون يم ددې دورتـــه ليـــلايې
کـــه عـــذرا دزمـــانې يـــې زه وامـــق يم
هـــميشه چې ســـتا په دردعاګـــويي کړم
کـــه کنـــځل[1] کـــوې وماوتـــه لايق يم
چې مې سترګې ستا په مخ باند شوې محوې
کـــه وبـــل پلوتـــه ګـــورم مـــنافـــق يم
د مـــوسی خوتســـلي پـــه تجـــلي شوه
زه بـــه څـــه کړم چې دوصل دې شايق يم
څـــــه جمال يـــې وخوبانـــو لره ورکړ
حـــق حـــيران پـــه صنعتو نو دخالـــق يم
بـــل بـــه کلـــه دامعني دعـــشق بيان کا
پـــه مضـــمون دمحبت چـــې زه ناطق يم

"۱۲۸"

شپه وروځ چـــې ستا پـــه خيال يم تل پـــه خيال کې دې خوشحال يم

---

(۱) ښکنځل

په دیدن دې سود مې نه شي چې مشتاق دې دوصال یم
کله ګورم وبل مخ ته چې دې منحوپه جمال یم
دامې دام دامې دانه ده بندي ستاد خط وخال یم
بل مذکور مې نه خوښیږي خود عشق په قیل وقال یم
غواړم تا،ته مې دولت یې زه طالب کله دمال یم
مینی ستایم قتل کړی ستادعشق په تیغ حلال یم
چې دبوی راوړي ګلرویه مننت بار زه دشمال یم
چې وخپل ژړاته ګورم خنده زن په پشکال یم
څه مې حال پوښتې په عشق کې لابد حاله کال په کال یم

په مامینه محبت کړه
نازک دل ښیښبه مثال یم

"۱۲۹"

که دعشق په هنر پوه شولم عاقل یم
څودمینې علم زده نه کړم جاهل یم
ته کشش پیدا په شان دکهرباکړه
زه پخپله لکه کاه درته مایل یم
نازکوم زه لیونی په لیونتوب خپل
چې دزلفو دې بندي په سلاسل یم
کوه کني فرهاد یوځله په عشق وکړه
زه مدام چې جانکني کړم ترې فاضل یم
دجبین غوټه کړه واچې زړه مې واشي
چې وربوزدې ځان ته بوټ وینم تنګدل یم

کـــه ســـرلاړشي اســـتقلال به مې لاړنشي
چـــې دعـــشق په دين هـــرګوره مستـــقل يم
ددې ځـــای خاورې مې خټې کړې په اوښو
لـــه کوڅـــې دې ځنـــګه پاڅـــم پادر ګِل يم
کـــه مـــې کـــار تمـــامی[1] نګـــاه تمام کړه
زه مـــجروح په نيم نګاه دې نيم بســـمل يم
عشق مـــې بيل کړله هـــوسه مـــحبته
جداکړونی چـــې دحق ودباطـــل يـــم
"۱۳۰"
بيـــقرار يم اند وهـــګين يمه غـــمجن يم
لـــه هـــغې ورځـــې چـــې تابـــاندې مين يم
عـــاشقي له زړه مـــې ورکه دښمني کړه
اوس پـــه مـــينه کې دوستداردهر دښمن يم
څـه عجب که شوم په رنګ لکه سکروټه
چـــې دعـــشق په اور دې سـوی لوغړن يم
څـــو دحـــسن په شعله دې پتنګ نه شم
کـــه دمـــينې وهـــم لافـــې در وغـــژن يم
ځـــان مې خاورې ستا دلارې کړراتير شه
هـــمـــيشه پـــه انتـــظار دې ددامـــن يم
رابنـــکاره کړه ځـــخو مـــخ پرده نشينې
لـــه مـــدتـــه آرزومنـــد دې ددېـــدن يم
---
(۱) تماموې

چـــې ګلزار دې دمخ وینم په فریاد شم
زه بلبـــله خـــوشـــنواد دې چـــمـــن یم
چې ته نه یې مرم چې راشې ژوندی کیږم
تـــه دروح یې پـــه مـــثال زه لـــکه تن یم
محبت کااهـــل ترس لـــه درد مـــنو
ته هم مینه راسره کړه چې دردمن یم
"۱۳۱"
کـــه هر څو خراب خـــسته پـــه حال تباه یم
چـــې ګـــدای دیار ددرشـــولـــم بـادشـــاه یم
بـــې له عـــشقه چې صـراط المـــستقـیم دی
کـــه روان پـه بـــلې لارې شـــم ګمـــراه یم
څـــوشاهـــین لـــري ټوپې زانـــی په خیروي
هـــومـــره خـــیردی چې لـه ستر ګوپې پناه یم
کـــه شراب د جهان نوش کـــړم نه مـستیږم
چـــې کیـــفې دمـــستې تـــرکـــې په نګـاه یم
لـــه آتشـــه دهجران ســـیزې مـــې څه لـه
چـــې زه خـــود ســوی لـــه اوره دخپل آه یم
تورو سپین مې ســـتا په لاس کې دې دلـبره
غـــرض ســـتایم کـــه ســـفید یم که سیاه یم
هـــر ساعـــت ظلمونه وینـــم ســـتاله لاســه
بـــیالـــه تاهـــم پـــه هـــغه ساعت دادخواه یم

کـــه دعشق مې پـــه ګناه نسې مـــختار يې

بـــاقـــي زه پـــخـــپله پوهـــه بې ګـــناه يم

بـــيهوده زر غون پـــه بـــاغ کې ددنـــيا شوم

چـــې بـــې ګـــل اوبې ثمـــر لـــکه ګـــياه يم

ددنـــيا ياران اغـــيار شـــي پـــه يودم کې

مـــحبته ځـــکه زه تـــرې نـــاويـــساه يم

"۱۳۲"

چـــې قدم په لار دعـــشق ږدي هـــغه زه يم

کـــه مـــې ســـرځي پدالارې اړپرې نه يم

مـــرده دل شوم بې لـــه تا هسې په خلق کې

تـــه بـــه وايې چـــې زړه نه لـــرم بې زړه يم

دلـــبران که هـــرځو ډير دي په جـــهان کې

چـــې زمـــاځـــوک دلـــداري کا دهـــغه يم

چـــې مـــدام رقيب په قـــهر يشيي [1] مـــې

ورتـــه اوربـــه شـــم هـــرځوکه زه اوبه يم

زه په خوب کې هم بيدار يم زړه مې ويښ دی

غـــافـــلان پـــه مـــا ګـــمان کا چې اوده يم

ســـتا طـــلب راوښـــووې لـــورې ژورې

ســـرګـــردان کلـــه پـــه سم کله په غره يم

مـــحبت مـــجسم وايې چـــې به‌نه‌وي

مـــجسم مـــحبت زه نه يم نور څـــه يم

---

(۱) ايشوي

"۱۳۳"

کـــه مین په غنـــم رنګ شولم ګـــرم نه یم
زه نـــاصـــحه څـــه فـــرزند دآدم نه یم

پـــه هـــستي پسې آفت چـــې دنیستي دی
څـه بنـــادي په ژوندانه کړم بیغـــم نه یم

هرساعت دازړه مې ډک وي ســـتاله درده
چـــې خـــالي دې له اندوهـــه یودم نه یم

هـــمیشه به یې داخـــاورې مـــې بـــربادې
ســـتاد آس که مـــدام لاندې تر سـوم نه یم

زه یې عکس یم که سم وي څـــوک که کوږ وي
چـــې کـــاړه دي وهـــغووته ســـم نه یم

تـــه لیلا شه بیا ســـوداته مـــې نظر کړه
تـــر مـــجنونه که څـه زیات نه یم کم نه یم

کـــه له جوره دې بسیار ژاړم مـــعاف کړه
کـــرم بـــین یم امـــوختـــه پـــه ستم نه یم

وهـــر لورته چې مطلوب مـومـم روان شم
زه طـــالـــب یم اړپـــه دیـــروحـــرم نه یم

تـــر عـــربه مې شـــهره ده محبته
زه یوازې څه مشهور په عجم نه یم

"۱۳۴"

آرزومـــن که دګـــلزار یمه په خـــای یم
کـــه مـــین په ګلرخـــسار یمه په خـــای یم

عـــندليب دبـــاغ دمخ دې يم ګـــلرويه
کـــه پـــه آه وپـــه چـــغار يمه په ځـــای يم
چـــې لـــه بلې لارې هـــډ وآکـــاه نه يم
کـــه روان دعـــشق پـــه لاريمه په ځآی يم
کاردعـشق چې دی بهـتر په دواړه کونه
که مشغول دعـــشق په کاريمه په ځـــای يم
کـــه له غيره سره غيريم بـــې ځـــای نه يم
کـــه له ياره ســـره ياريمه پـــه ځـــای يم
چـــې نفـيس متاع دی يار پـدآ بازار کې
کـــه ديار زه خـــريدار يمه پـــه ځـــای يم
بيـــماري راوړي داســـتاستر ګې بيماري
کـــه دستر ګـــودې بـيماز يمه په ځای يم
چـــې يې مخ دی ښکلې يې نقش ونگاره
کـــه عـــاشق دخپل نگـــاريمه پـــه ځـای يم
مـــحبته چې طوطـــې يم په ګـفتار کې
کـــه په شـــعر شـــکر باريمهٔ ځـای يم

"۱۳۵"

پـــه کـــلام باند عـــاشـــق يم ليـــونی يم
کـــلام می دی زه کـــيفې ددغـــه می يم
دکـــلام په نيـــستان ګـــې مې مسکن دی
پـــه بـــيشه دبـــلاغـــت لـــکه مزری يم

ګـوی دشـــعر په چوګـــان دژبې وړمه

پـــه میـــدان دفـــصاحت چـې مـړنی یم

که هـــر څوشاعران ښه ښـه دي تیر شوي

پـــه کلام کې دوی زاړه شوزه ځـلمی یم

ددوستانو پـــه نـــظر کې لـــکه ګـــل یم

ددښـــمن په دواړو سترګـو کې اغـــزی یم

دقـــقنس په دودنـــفس مـې آتشبـار دی

ســـوی زه دخپـــل کلام داورپـــه ســوی یم

که حسب نسب مې څوک پوښتي ظاهر دی

زه مـشهور په جـهان ترکا ووس وکی یم

زمـــا پلار حافظ الملک حافـظ رحمت و

ځـــان فـــرزندیې نه ګـــنم بلـکه مرپی یم

په صف جنګ کې دی شهید شه زه ونه مړم

دااافسوس لـــه مـــا سره دی څوژوندی یم

زه بـــړیځـــی کوټه خیل یم په نسب کې

درســـول ددروازې چـې کـــوټه سپی یم

څـــه عـــجب که همـــه ډک یم له کماله

چـې کمال مـــې وه نیکه زه یې نوسې یم

پښت په پښت مې ټول نوسي دکمال زودي

لـــه پلـــوه دمـــورزه هـــم کمـــال زی یم

له ازله مې خطاب محبت خان دی
لیـــونی د مـــحـــبت یم لـــیونی یم

ن

"۱۳٦"

عـــشق ترحد په هـــورته بشه راباند کـــران

ســـاقي راشه دامـــشکل مـــې کړه آسان

څـنګه خلاص له دې بلاشم چې په عـشق

زړه پـــــه خپلـــه شـــه زمـــا آفت دځان

مـــرتـــبه تـــرعشـــقه لـــويـــه ده دچـــا

چـــې لـــه عـــشقه دي قـايم مزکه آسمان

بـــې دعـــشق لـه تـــورې چـــاوړلې دي

دوه دښـــمنه چـــې يونفس دی بل شيطان

چـــې مې ولوست له الحمد و تر والناس

هـــر يوحرف لـــه عشقه ډک دی دقرآن

هـــم له عشقه دی ګريوان خيرې دګـــل

هـم بلـــبله کـــا فـــرياد پـــه ګـــلـــستان

دعـــشق غـــشی چې په زړه لـګي دچـا

بـيالـه زړه يـــې هـــډونـــه وزي پـــيکان

چـــې ملاوترې په لوټ کـــافرد عـــشق

دعـاشـــق نه ديـــن شـــي پـــاتې نه ايمان

عـــشق چې واخلی ديقـين توره پـه لاس

پـــه يودم کـــې لښـــکر مات کا د ګُمان

وچـــــې شونډې ګونه زيړه اوښې ســرې

عـــشق عـــاشق لره داورکـــاندي سامان

چـــې دعشق دجنون لاس بـــرشي په چا

نـــه ګـــريوان پريدی[1] ثابت نه يې دامان

دهـــرچا په زړه چې عشق کاندي اوربل

اوښـــې ګـــرمې يې راوزي[2] هرزمان

عـــشق شيرين کا په خاطر دسړي مـــرګ

لـــه ژوندونه خپل پـــخپله وي پښيمان

يـــاطبيب يـــې نـــشته يادارنځ دی خوږ

خوک دعشق نه داروکاندي نه درمان

---

(۱) پريږدي

(۲) اصل : ووزی

عـشق همه واړه يکسان کـا پـه عاشق

هـم صـحرا هـم ودانې هـم کوهستان

وعـاشق ته وي ښـکاره پـايه دعـشق

دجوهـر خوجـوهـري وي قـدردان

که عاشق شولې عـارف به شې چې عـشق

سـرتـرپـايـه مـعرفـت دی دسبحان

دعـاشق دوړاندې وي طـفل مـکتب

افـلاطون که جـالينوس دی که لـقمان

مـحبته بس سـکوت کـړه اختيار

دعـشق شان کولی نشي څوک بيان

"۱۳۷"

ددنـيايارانآخـرشي اغـياران چې په مـرګ سره بيلېږي دايارانو

اول ووريـږي شي آخرتـه شين دنـياتيره هـسې شي، لـکه باران

پـخواپورې زلـفې نسي[1] مخ ديار ګـنجينه ترسـينې لاندې کا ماران

تـول بـيان کاندي اسرار دمـعرفت چې په جوش دمستي راشي ميخواران

مبتلا په رنځ دعشق يې شه هـرڅوک سـتابيمار روسترګـو تـول کړه بيماران

کيفيت که دشراب کاندي مـعلوم پـه پرهيز به شي پښيمان پرهيز ګازان

يايې زړه يايې ځګر وي په حال پوه دعـاشق خوزړه ځګر وي رازداران

عـاشقان لکه ميږي کاندي پـايمال چې دنازپه آس سواره شي شهسواران

په اِکـسير دنظر مـس به يې کازر

که نـګاه په محبت کـاخاکساران

---

(۱) نيسي

"۱۳۸"

خولـه چې وازه په خندا کاګلرنګان　　شـــګـفته لکه غنچه شي دلتنګان
ځان سيزي خپل په شغله يې د جـمال　　عـاشقان چې ددې اوردي پتنګان
د براهيم ادهـــم له حـــالـه شه خبر　　بـادشاهـان کړي دې مينې ملنګان
عشق درياب دی چې پايان يې نشي موند　　عـاشقان ددې درياب دي نهنګان
هرګيدړ په بن دعـشق نشي سـاکن　　پـــکې اوســي يامـــزري يا پلنګان
مست هاتي دعشق هله کاندي تابع　　چې دځان په صرفه نشي سر هنګان
يونګاه دې شي په درست جهان غالب　　نـــه شاهـين يونه زرګونه کُلنګان

چې خراب کاندي نه نوم په بد عمل
مـــحبته هـــسې ډيـــر دي بې ننګان

"۱۳۹"

مـــه تړه ورپـوړې ځـــــان　　چـــې فـــاني دی داجـــهان
دهـــغـه اوســـه طـــالـــــبه　　چـې باقی دی هـــــر زمان
لـــه جـهـــانـــه دی عـــالم　　يـــو پـــه بـــل پـــسې روان
ډيـــربـه يـــې په ډيرحسرت　　لاړه ډيـــر پـــه ډيـــر آرمان
واړه تـــلـــونـــي دي آخـــر　　هـــم ګـــدای هـــم بادشاهان
خـــلاص به نه شي له مرګې　　څـــه هـــندو څـــه مـــسلمان
دنـــيـــاده مـــاتـــم کـــده　　دښـــادی نـــه دی مـکـــان
دلـــته اوســـه لـــکه شمـــع　　لـــه خـــندا ســـره ګـــريان
غـــرض داچـــې پدې ځای　　لـــــه دانـــا بـــــه نـــادان

ځـــکه غـــوره کړه ســودا
لـــيوني مـــحبـــت خـــان

"۱۴۰"

هر چاته چې ګـورم ستا طالب دی په جـهان
لوی دی که هلک دی که سپین ږیری دی که ځوان
مـخ دې چـاونـه لیـدله جـهانه خـلقې
لاړې وعـدم تـه ددیـدن دې پـه آرمـان
نوم یې په خـوله اخلي ولـیکن په جستجوی
چـاهـوپـیدا نه کـړنشـان دبـې نـشان
نـه دی چاونـدلی نه به بیامومي یې څـوک
ګـرزي پـه تـلاش یې هـمه واړه سرګردان
غـواړې کـه یوځـووړئې بقالکه غـنچه
خـولـه کـړه خـپله پته لکه ګـل مشه خندان
ځـان مې ته یې نه کړم په څه شان مینه پـه تا
هـرځـوک زمـا جـانه ډیر مین وي پخپل ځان
خولـه یې سره په پانوپه نکریږویې سـره لاس
ویـنې بـه مـې توی کا چې رادرومـي پداشان
سور په آس دنازې [1] په میدان شه جلوه ګـر
زړه مـې لـکه ګـوی دی زلـفې ستا لکه چوګان
رندکله ښکاره کله معلوم شي پرهیزګار
واړه مـحبته ستا دې کارته دي حیران

---

(۱) نازې

"۱۴۱"

چې مې روح يې ته په تن　　بې له تامرم جان من
په چشمانو يې بادام　　که نرګس يې ګلشن
هم په سترګو جادوګر　　که غزال يې دختن
په لب لعل دبدخشان　　که عقيق يې دیمن
دحيات چشمه په خوله　　که کوثر يې په دهن
خوش رنګ سيب يې په غبغب　　که خورآم يې په ذقن
سيم بدن يې په صورت　　که په رنګ يې یاسمن
په قامت سروه دباغ　　که عرعريې دچمن

محبته خوره شکر
چې طوطي يې په سخن

"۱۴۲"

زه دنيا له خدایه نه غواړم نه دين
بي له عشقه چې مې تل وي دلنشين
که دې زړه توردی دشرک له سياهي
څه حاصل چې سپين زړوکی کړې رنګين
توروسپين به دی هغه راشي په مخ
هرچې وخاته په لوح دتوروسپين
که په ګوته کړې یوځل ګوته دعشق
ملک به کړې لکه سليمان زير نګين
واړه بيامې موندل ستا په بوی دزلف
هم خطاو ختن هم چين و ما چين

هـــرمشکل به مې آسان کړې پـــه یودم

راتـــه پـــرانـــزې کـــه غـــوټه دجـــبین

که نن خوب کړې په سمور وپه سنجاب

ســـباخاوره ده بســـتر خـــښته بـــالـین

عـــشق مذهب دی په دنیـــا وپـه عـقبی

پـــه کـــونین کې نه بـــل دین دی نه آئین

له ګفتاره دې لذت مومي هرڅوک

مـــحبـــته ته کلام لـــرې شـــیرین

و

"۱۴۳"

ګـــل نثاردی ســـتادشـــــونډو　　څـــه بـــهار دی ســـتا دشونډو
هـــرچې لعل وګـــوهر غـــواړي　　خـــریدار دی ســـتا دشـــونډو
پـــه جـهان چې څـوک آزاد دی　　ګـــرفتـــار دی ســـتا د شونډو
هـــغه نـــازپـــه مـــسیحاکـــا　　چـــې بـیمار دی ســـتا د شونډو
هـــمیشه خـــونونـــه کـــاندي　　دغـــه کـــاردی ســـتا دشونډو
داچـــې لـــعل دبدخـــشان دی　　بـــاج ګـذار دی ســتا دشونډو
مـــهتر خـــضر چـــې لاګـــرزي　　طـــلبګـــار دی ســـتا دشونډو
هـــم سلیـــمان چـــې لري مـــهر　　خـــاتـــم دار دی ســـتا د شونډو

محبـــت به دې خـــولـــه اخلي
چـــې دی یاردی‌ســـتا دشونډو

"۱۴۴"

یاران کـــله مومي څـوک ېې له اغـــیارو
چـــامـونـــدلي دي ګـــلونه ېې لـــه خارو
آخـــر سرې دمظـــلومـانو شـــوې په وینو
چـــې خونونه وکړه ستاسترګو خونخوارو
تـــل اوبه چې په کـــمزروي ځای مـاتیږي
ژړا ځـــکه پـه نـــصیب کې وي دخوارو
بـــازد ســـترګـــویې لري دبـنو نـــوکـــې
ژوبـــل ژوبـل زړه زمـــا کـــاپـــه نوکارو
زلـــف ېې شه لکه تـــسبیح دمـــرغـــلرو
چـــې ېې ډیر زړونه پـــېلی دي پـــه تارو
کـــه له درده ســـتایې وخـــیژي دمـــونه
هـــهوهـــیڅ وتـــنه نه کړي پـه بـــیمارو
دانـــایان پـــه یـــوکـــاته ېې نـــادانان شو
هـــغې مـــستې عـــقل یووړ دهـــوښـــیارو
چـــې وچاته وهـــي ســترګه چـاته خاندي
یوعـــالم بـــه کـــنډ کپرکړي پـــه دا چـارو
لـــکه تادمـــحبت خاطر غمـــګین کړ
هـــسې زړه دې آزرده کـــړد بـــسیارو

"۱۴۵"

پـــه زورونونه داکـــارشـــي نه په زرو
پـــردي نـــه خـــپلیږي ېې لـــه بـــوخبرو

په خـــبره زړه شـــي خوږ په شکر ژبـــه
ښـــې خـــبرې وي لـــــذيذې تـــرشکرو
ښـــې خـــبرې وپـــيه پـه تـــار د ژبـــې
چـــې بهـــتر وي ښـــه کـــلام ترمـــرغـلرو
هسې غږدښه کلام دی په مـخلـوق کې
چـــې وايـــه شـــي پـــه بـــدلـــو په سندرو
هـمت ناک شه داخلاص وزر پـيداکړه
چـــې تـــرعـــرشـــه رسـي مـرد پـدا وزرو
کړه پـخولايې که عـــاشق له تا مـانې کا
چـــې تـــه يې تـــسلي بـــخـــش دمـــرورو
په وصال يې هر کمبخت کله کامياب شي
مـــعشوقـــه وي پـــه نصـــيب دبـخـــتورو
ددنـــيا پست وبـــلند به در ته هيڅ شي
کـــه شي تـــيردعـــشق پـــه لـــوړ وپـــه ژورو
په جـــفايې صبرکړه ياترې په څنګ شه
غـــلی شـــه يـــالـــرې شـــه لـــه زوره ورو
لاس په هوښ پرې باندې ږدئ چې مات يې نه کړئ
زړه نازک دمـــــحبت دی ښيـــښه ګـــرو
"۱۴۶"
پـــه خوبـانو کـــې ته يې مـثال دواړو
پـــه رنـا دې شي ښـکاره جـمال دواړو

هـــرعاشق غافل له فکره دخـــپل یارشه
چـــې وســـتاپـــلوته راغـــــی خیال دواړو
دســـتی دپـــتنګ حـــال او زمـــایودی
وی یـــکسان دعـــشق په اورکې حال دواړو
چې بلـــبل طوطي وینا کا هـــغه زه کړم
خـــوش کـــلامـــه یـــودی یومـــقال دواړو
که لـیلا ده که یوسف دی که عـــذراده
پـــه ښـــایست کې زمـــا یاردی ســیال دواړو
عـــاشقان همه وصال درځخه غـــواړي
یوځـــواب ورکړه چـــې یودی ســوال دواړو
خـــزاني که ټـــولې تل دنـــیا داران کا
دقـــانع پـــه نـــظر هیـــڅ وي مـــال دواړو
محبته ځوک ترې خلاص آشفته ګان کا
چې دیارزلفې کړې خدای جنجال دواړو

"۱۴۷"

تـــل حـــمـــلې وي دشهـــبازو یـــاپه زانـــو یا پـــه قـــازو
دپـــتنګ پـــه دود لـــه اوره ویـــره نـــشي دجـــانبـــازو
لـــکـــه شمـــع ژړا کـــاروي درســـته شپه دجـــانګدازو
ثـــمر بـــخـــش شي لـکه ونه دادی کـــارد ســـرافـــرازو
وي عـــمل پـــه رضـــا خپـــله هـــمیشـــه دبـــې نیـــازو
په جهان کـــې یا مـعشوق دی یـــا نغمه د خـــوش آوازو

زړونـــه تل دعـــاشـــــقانـــو مـــعشوقې يوســـي په نازو
هـــم مـــدام يې قـــتل کاندي پـــه اداووپـــه انـــدازو
تـــل يې ســـترګې جادو ګرې ســـحر کـــادســـحر سازو
پـــه نغـــمه به مې ګـــريان شي کـــه يې واورئ نی نوازو

هـــمسري لـــه مـــحبـــته
څـــله کړئ ســـخن طرازو

"۱۴۸"

دوه چشمان دې شوخه مکیف چې پـه شراب شو
تش پـــه يوکاته يې عـاشقان مـــست وخراب شو
راکـــړ دهـــر سوال ځـواب ومـــاته فلـــسفيانو
يـــوله عشقه سـوال مـې چې ټروکړلا ځواب شو
حـــال دزړه ځـــګر مې څه پوښتې آتش خصـــلته
ســـتادغـم پـه اور مې زړه ځګر دواړه کباب شو
چـــازلفې پيچـــداري خپـلې وښووې ناڅـــا پـه
زړونـــه د عـــالمو چې ناګـــاه په پيـــچ وتاب شو
چـــاته ګوهر خپل وښيم څوک بـه يې قـيمت کا
دريـــغه لـــه جهانه جـــوهـــر يان واړه نايـاب شو
پـــاتې نه شـــه يوهم عـــندليب پدا ګـــلزار کې
حيف دی چـــې په باغ د دهرټول همه غُراب شو
دريغه دريغه دريغه چـــې ياران ودوســـتداران مې
واړه تـــار پـه تـــار دزمـــانې پـــه انقـــلاب شو

خـــونه دې خوره شه چې اې مرګه ستاله لاسه

هـــرچې بيداران ووهـمه ګې واړه په خواب شو

ســـينـد د محـــبت قـــعردرياب دی مـــحبته

لوی هلک هوښيار ليونی ډوب پدا درياب‌شو

"۱۴۹"

کـــشکی يووي ستا ښـــامارد تورو زلـــفو

يـــويومـــار دی يويو تار د تورو زلـــفو

خـــو چې يوځـــله پدام کـــې يې اسـير شه

نـــه خلاصـــيږي ګـرفـتار دتورو زلـــفو

عـــاشقـــان بيـــچاره راولي پـــه بـــند کې

بې له دې نورځـــه دی کار دتورو زلـــفو

لابـــلا پـــه مـــردم راشي چـــې دتـــرکو

تورچـــشمان شي مددګار دتورو زلـــفو

مـــعطر به شـــي په زلـــفو يې ســـاکن شه

چـــې اقـــليم دی عنبر بار دتورو زلـــفو

چـــرته نقل چـــرته اصـــل فـــــهم وکړه

نـــمونه دی ســـنبل زاردتـــورو زلـــفو

شـــي تـــسبيح به دې قـــبول هـــله زاهده

چـــې په غاړه کړې زنار دتورو زلـــــفو

ملک دزړه چې واخلي هم په يوساعت يې

بنـــــدوبست کا شهر يار دتورو زلـــفو

چې سودايې دبازار ګرمه ښکاره شوه
مـــحبت شـــه خريدار دتورو زلـــفو

"۱۵۰"

ګـــرزم تاپسی په کوموکـــومـــومز کـــو
عـــزيزان مـــې څـــنګه نه شميري پـــه ورکو
که هرڅو په خوی خصلت کې ســړی دروندوي
آخرسپک شي چـــې وي هـم صحبت دسپکو
چې نيک ذات وي کارپه رمزو اشارت کا
عـــراقـــي ته څـــه حاجـــت دی د چـــابکو
نـــادانان په مست دعـــشق هـسې غوغاکا
لـــکه شـــور پـــه ليـــونـــي وي دهـــلـــکو
شوخ ترکان په زړه مې کاندي هسې هيڅ
لـــکه فـــوځ چـــې پـــه چـــاراشي داوزبـــکو
لـــکه غـــشي لګي کسي دې دســـترګو
مـــردمـــان مـــري په نـــګـــاه دمـــردمـــکو
الـــحـــذراې مـــدعـــي آتـــش کـــلامـــم
ګـــوزارونـــه کـــا داژبـــه دتـــوپـــکو
مـــرنې دي چـــې وعـــشـــق وته ټينګيږي
مـــقابـــل يې څـــوک کيدی شي بی له کلکو
چرته حرف د محبت چرته دبل حرف
څـــه ســـيالي له مرغلرو دکُـــنجـــکو

"۱۵۱"

خدای پیداکړې ته آفتاب زما دسترګو

دکتودې چرته تاب زما دسترګو

ماهم خس هسې له خانه سره یوسي

چې په جوش راشي دریاب زما دسترګو

داوبو استوګه غم مې په نصیب کړه

چې جاري یې کړسیلاب زمادسترګو

په شپه چرې که دخوب په اراده شم

خیال دې راشي یوسي خواب زما دسترګو

چې یې بیا مومم یوازې حجاب راشي

ترې محروم مې کا حجاب زما دسترګو

په فراق کې دې داوښتولې کښله

همیشه وي کور خراب زما دسترګو

مرغلرې مې داوښو ټولې توی کړې

غم دې خاورې کړاسباب زما دسترګو

چې دې وویني زما سترګې شي مستې

ننداره دې ده شراب زما دستر ګو

ستاد مخ په آب وتاب څویې نظر وي

هومره جوړوي آب وتاب زما دسترګو

داابلق دې څه قابل دسولې نه دی

چې ښپه[1] نه ږدي په رکاب زما دسترګو

---

(۱) پښه

اوښـــې ګرمې چې زما له سترګو ځاځې
مـــحبت کـــړ،زړه کـــباب زما دسترګو

"۱۵۲"

چـــې دخال دې وه مدام مې خیال په سترګو
آخـــر کســـی مـې داستاشه خال پـــه سترګو
ګوتې ږدم پخپلو سترګو بیا یې ښکل [1] کړم
چـــې په خوب ووینم ســـتا جمال په سترګو
لـــه فراقـــه دې یم مـــړیا به ژونـــدی شـــم
کـــه راوښـــیې بیا خپل وصـــال پـــه ســـترګو
په مجلس کې یې که ناست یم خاموش څه شو
زه لـــرم ورســـره قـــیل وقـــال پـــه ســـترګو
کـــه هرڅـــو عاشق معـــــشوق خبرې نه کا
یـــووبـــل وته ظـــاهر کـــا حال پـــه ستر ګو
پـــه جـــهان کې دې نـــظیر لـکه عنـــقادی
ســـتالـــیدلی نه دی هـــیڅا سیال پـــه سترګو
چـــې دولـــت دقـناعـــت دچاروزي شـــې
هـــیڅ ښـــکاریږي ورته ملک ومال په سترګو
دهـــمای په شـــان طـالب یې شـــم دسوري
چـــې زه ووینـــم داســـتا دوال پـــه ســـترګو
بـــې له تا به بـــل پلوتـــه نظر نه کا
وابه نـــخلي مـــحبت وبال په سترګو

---

(۱) اصل : خکول

"۱۵۳"

دغه وخت دی بیا به وخت نه وي ډکلو

څـــوکـــولی شـــئ چغـــار کـــا نئ بلـــبلـــو

شـــګفته شه بـــاغ په ګـــلونوبهار دی

ســـاقـــي زرشه پـــیالې ډکـــې کـــړه دمـــلـــو

بـــې له زلـفو دې نظر کړم څه سنبل ته

ستا دزلـفو سـودمـــې نـــشي پـــه ســـنبلو

منبـک عنبر څه بوی وتاوته څـرګند کا

چـــې دې وشـــرمـــول دواړه پـــه کـــا کلو

بیا دې نن په تیغ دظلم څـوک شهید کړ

چې دې لاس پـه وینـــو ســره دي ترځـنګلو

لـــه غـفلته دې ومرګ ته خونزدې کړم

لابـــه څـــه کـــړې زمـــا حـــال په تغـــافـلو

چـــې طلـب کړم وصل وایي تحمل کړه

زه دې ووژلـــم پـــــه ډیـــرو تـــحمـــلـــو

کـــه هـــواو غـواړي زړه مې لکه زرکه

وهـــــواتـــه ځـــم دبـــازو پـــه مـــنګـلو

هـمـرحـــشمت به درته هیڅ شي محبته

کـــه نـــظر کړې دمحبوب په تـــجملو

"۱۵۴"

په نکریزو لاس دې سره دې خوله پـه پانو

نـــن بـــه ولـــګئ ګـــنج دشـــهـیدانـــو

کـــه دعـــشق يې کـــفر دادی له ايمانـــه
لاس کـــړئ پـــورته واړه اې اهـــل ايـــمانو
عـــالم ځـــي ســـودا دپـــاره وبـــازار ته
ولـــې مـــاسنۍايي بـــوزي پـــه بـــيا بـــانـــو
ســـل منصور جلوه فـــرماشول په سل داره
چـــې مـــې اوښـــې په ســـرراغـــلې دمژګانو
ســـوی لرم دعشق په زړه کې نوپـه سترګو
څـــه پـــوښـــتې ناصـــحه حـــال دخونـــه ورانو
پـــه دې ســـروشونډو په دې حنايي لاسو
زړه دې ويـــنې کـــړدلـــعل ودمـــرجـــانـــو
لـــکه ګل غنچه د زړه مـــې شګـــفته کړې
څـــخو راتـــه په خـــنـــدا شئ لـــب خندانـــو
تـــنګدلې مـــې لـــرې کړئ په تبـــسم خپل
واد زړه عقـــده مـــې کـــړئ غـــنچه دهانـــو
چـــې ګدای شوم په کوڅـــه دمحبت کې
نـــور نـــواب يم د نـــوابو خـــان دخـــانو

"۱۵۵"

هـــميشه وي تودبـازار د درويشانو مـــدام اوســـه خريدار ددرويشانو
ومـــنزل ته په اول قـــدم به رسې که قـــدم کيدې[1] په لارددرويشانو
مقرردحق کلام به دې ترغوږ شي که غـــوږکيدې په ګفتار ددرويشانو
له ګلزاره ددرويشوګل طلب کړه شګـــفته وي تل ګـــلزار ددرويشانو

---

(۱) کښېردې

بیابه نه مومې مطلوب هډوطالبه ځـــوچې نشې طلبګار ډدرویشانو
په بهار ددرویشانوجنت موندشي چـې جنت دی خود بـهار ددرویشانو
که دیداردحق طـلب کړې حق طلبه مـــشرف شه پـــه دیدار ددرویشانو
دصادق درویشوحال مې درته ووې که صادق وې شه خاکساردرویشانو
اوکه نه داهـسې نه وي درته وایم چې ځـان نه کړې ګرفتارددرویشانو
آدم روی ابـلیس په دوی کې پیداکیږي مـــکر لـــوی لري مکار ددرویشانو

دمزري په پوست ګیدړهم ځان څرګند کا
محـــبت کړ فـرق اظـــهار ددرویشانو

"۱۵۶"

چـــې رایادمـــې شـــي جمال دښویـــارانو
خوب زما ورک شي پـــه خیال دښو یارانو
جـــدایـــي دښـــویـــارا نـــوجهـــنم دی
اوجنـــت چـــې دی وصال دښـــویارانو
دریغـــه اوس راته په ځـــای دافـسانې شه
چـــې مې اوریـــده مـــقال دښـــو یارانو
هغـــه ښـــــه یاران پـــه یادمې راشي ژاړم
چې بیان کـــا څوک احوال دښـــویارانو
هـــسې مال دبخیل مـزکې نغړدی ښه دی
چـې پـــکار رانشـــي مـــال دښـــویـــارانو
ورځ یې شپه نشي دچـاچې ښـه یاران وي
ورته بـل وي تـــل مـشال د ښـــویـــارانو

ديـــارانو پـــه زوال دولـــت زايـــل شي

خـــــداى دې نه كاندى زوال دښـــويارانو

چـــې زوال دچـــا ولـــوري وته مـــخ كا

شي زوال يـــې پـــه هـــركال دښـــويارانو

بنـــه ياران نه لـــري مـــثل مـــحبته

بـــيا به نه مومـــې مـــثال دښويارانو

"۱۵۷"

يارله غيروكه اغياروى[۱] څـــه بـــه بنـــه وو

كـــه لـــه ياروسره ياروى[۲] څـــه به بنه وو

هـــغه شوخ چـــې په جمال لكه افتاب دى

يـــوذره كـــه وفاداروى څـــه بـــه بنـــه وو

چـــې بادشاه دى په بنـــايست كې دخوبانو

كـــه نـــظريې په ماخواروى څـــه به بنـــه وو

هرعاشق طلب معشوق كاندي معشوق هم

دعـــاشق كه طـــلبگار وى څـــه به بنـــه وو

هـــرزمان هرساعت سترگې مې محظوظې

كه دښكليو پـــه ديدار وى څه بـــه بنـــه وو

دوفاجنس چې مـــوندنشي كه داجـــنس

دخـــوبانـــوپـــه بازار وى څـــه بـــه بنـــه وو

چـــې په زوردهسې زړونه اخـــلي دريغـه

كـــه دزړونو خـــريدار وى څـــه بـــه بنـه وو

---

(۱) واى

(۲) واى

دســـيم تـــنوزري پوشـــوصـــدقـــې له

کـــه مـــې سيم وزربسيار وی څه به ښه وو

ګـــل ومـــل بـــاغ وبـــهار دی مـــحبته

که په دې وخت ګلرخسار وی څه به ښه وو

"۱۵۸"

بارې زه او ياردخدای له فضله چې ږغـلايو

هـره شـــپه کينو[1] سره درازخبـــرې وايو

زه يې سره لـــبان ګورمه دی مې زيړه ګونه

ناست په خوښـــی دواړه يودبل په تماشايو

لاس تـــرلاس نيـــولې په صحرا وپـه باغونو

ګـــرزوننداړ پ کړوپه هـــوس وپه خندايو

لوی دولت دوصل چـــې زموږه په نصيب دی

بـــې لـــه زرو مالـــه ترباد شاهـه هم سوايو

تـــودبازار دميـــنې دښايست دې دوکانونه

مـــوږه دوه مين دعشق وحسن په سودايو

زه تړې خوله طلب کړم دی له مـــا طلب دزړه کا

يولـــه بله خـــوښ پخپله خـــپله تقـــاضايو

يار په څنګ مې ناست دی له نصيبه محبته

ځارتردې ساعته شم چې دواړه خواپه خوايو

---

(۱) کښينو

۵

"۱۵۹"

څـخوته مې هم له حاله نشه آګـاه څ.وغـافـل به يې لـه ما غفلت پناه
پـــه کـــرولارو چې يې لـه ضلالته ســمه لار پريدې ' دعشق ولې ګمراه
دکمـزورو په ايذاولې رسـتم شوې خـــطره نه کـــړې دپـــيرزال له آه
هـرفقير چې دخوبانو دکوڅـې دی دهـغه خوبـرابـــرنه يـــې بـادشاه
څه تعريف دې درخسار و دښايست کړم يوخوبـــي وړې له آفـتابه بل له ماه
رسم وراه دعاشقې به هرچا پـريښـود که خبرشوی دمـعشوق لـه رسم وراه

---

(۱) پرپردې

دجاذب احوال مـعلوم شي له مجذوبه شي ښـکاره دکهر باخاصـه له کاه
ګناهونه که هرځـوزه بې حساب کړم هـم رحمت يې ډيرپه مادی له ګناه

مـجبت ديونظر دې حاجتمند دی
يونظر پـه مـحبت کړه عالي جاه

"۱٦۰"

رابښـکاره که ښـکلی مخ کړې لـه نقـابه
ګـوی دحسـن بـه تـه يوسـې له آفتابه
دقيـامت به سخت عذاب په مـآسان شي
که مـې خلاص کا خدای دهـجرله عذابه
ټـول بـيان زمـا دغـم کوې لـه درده
داد درد آواز چـې خـېژي[1] لـه ربابه
سترګې ستاخپله مستي که ښـکاره کاندي
کـيفيت بـه وارِه يوسـي لـه شـرابه
هـزيمت هيـچرې نه خوري له عـاشقه
مـعـشوقه چـې هـميشه وي فـتحيابه
تـل سـايل زه دې پـه درلـکه فقـيريم
سـرفـراز دې چـرې نه کړم لـه خوابه
وړی پروت پرانټې سترګی ستوري شمېرم
ستاپـه غم کې شوم فـارغ لـه خورو خوابه
چـې هردم لـکه بـاران پـه شېبوژاړي
قـلنګ وابـه خلي داسـترګې لـه دريابه

---

(۱) خيجي

تاجـــهان په اوښـــودوب کړ مـــحبته
کور دې وران کړ دمخلوق خانه خرابه

"۱۶۱"

تـــه پیداکړه ددیدن ســـترګې طالبه مـــحبوبا خـــوده حاضـــره نه غـایبه
مـــاوې زه به په هـــرچا غلبه وکړم باري څـه کړم په ملامینه شوه غـالبه
څوک زاهد شه څوک ملاشه زه عـاشق شوم خدای هـــرچاته بـخره ورکامـــناسبه
فـــقیري شاهـــي لري مـــرتبې لویې ولـــې لوی دی عشق ترهمه مـراتبه
عـاشقان دعـــجایب نندارې کاندي عـشق معمور دی سراسر له عـجایبه
خط په مـخ دمهرویانو قـــدرتي دی همسري څوک دقدرت کاله کاتبه
عشق واجب دی بې شبهې هغه کافر دی هرسړی چې وي منکرله دې واجـبه
بنده ګي کړې خـان بنده دمـولی بولې تو لـعنت پـــداو بـل دې شه کاذبه

صاحـــبان په غـلامانو خپل کرم کا
مـــحبت دی ستا غـلام زما صاحبه

"۱۶۲"

لب دې بـنکل کـــړم شکر لبه بـــارې نـــه یم بـــې ادبـــه
سـیم وزرتر تـــاقـــربـــان کړم زري پـــوشه ســـیم غـبغبه
څـوچـــې ته مې طلب نه کړې نـــه رسیـــږم تـــرمـــطـــلبه
زلـف ورخ دې بـیـــخبر کړم هـــم لـــه روزه هـــم لـه شبه
تـــه ســـبـــب زه مـــســـبـــب یم مـــســبب وي لـــه ســـببه
عاشقان دې خدای محفوظ کا دمـــعشوقـــولـه غـــضبه
یـــار رهـبر زه یـــې رهـــرویم څـه پوښتې مې لـه مـذهبه

چې په عشق مولامنصوب کړم　　پـاتې نشـوم بې مـنصبه
دنفـس واګـې په اختیار کړه　　آس مـه پریږده بې جـلبه
په سـوروپـسې کـم عـقله　　پیاده یوں کړې بـې مرکبه
ځـان عـالم ګـنې بـې عـلمه　　اې لـه جـهله مـرکبه
نه مـومـن یې نـه کافـریې　　اې پـه دین کې مـذبـذبه
بـیاپار سـاوا یې وځـان ته　　پارسـایي دې ده عـجـبه
دعـشق تـبـې ونـیولـم　　اوس زه څـه کړم زمـا ربه
کـه دارویـې مـسیحاکـا　　پـرې بـه مـانږدي داتبه
بـیاله تـابـه اې سـاقـیه　　درنـدانـوهـم مـشربه
مـحبت لـه می دمـینې
پـیالـه غـواړي لـبالبه
"۱۶۳"
دآشنا لـه جـدایي تـوبـه توبـه　　لـه دې هـسې آشنایي تـوبـه توبـه
بـې لـه یاره که نظـروي په بل چا　　لـه دې هـسې بـینایي تـوبه توبه
پـه کلام کې چې دیارنه وي صفت　　لـه دې هـسې ګـویایي توبـه توبه
دریـا پـه پارسایي خاندي فـجور　　لـه دې هـسې پـارسایي توبه توبه
چـې پـه پوهه یې عاشق وي لیونی　　لـه دې هـسې دانایي توبـه توبـه
نصیحت چې دناصح نه کاندي غوږ　　لـه دې هـسې خودرایي توبه توبه
خدای دې خوک په یې عـشقي نه کا مشهور　　لـه دې هـسې رسـوایي توبه توبه
چې هرځای معشوق جـلوه کا لکه غر　　لـه دې هـسې هرجایي توبه توبه
مـحبت هم صـحبتان کړل لیوني
لـه دې هـسې سـودایي توبه توبه

"۱٦۴"

په ښـایست کې ده بې مـــثله هــغه خوبه
خوش اندامه ده خوش شکله خوش اسلوبه

پـــه طلب يې اوســـه ته دزړه لـــه صـدقه
چـــې طالـب صـــادق وي رسي تر مطلوبه

لوی ظالم يې چې لرې سترګـې خونخواړې
دواړه ډکـــې لـــه فتـــنه ولـــه آشـــوبـــه

مـحـــبوباتـــه پـــه داڅـــت ځـګـــروايم
چـــې دزړه مې په تـــکړوکې ده محسوبه

پـــه هيڅ څيزمې رغـبت نشته په دوه کونه
زه تـــا غـــواړم اې زمـــا دزړه مـــرغـوبه

په جـــفا دې شوم صـــابر ترحد په هورته
مـــانامـــه دصبـــر يـــووړه لـــه ايـــوبـــه

زه ومـــړم زما يـــوسفه ســـتا په غـــم کې
يعـــقوب ړونـــد شـــه زه سوايم تر يعقوبه

زه تـــرزهـــده يې بـــاده ګـــنم بـــهـــتره
کـــه هـــر څـــوده وزاهـــد وتـــه معيوبه

اشـــتقاق دی د محبـــوب له مـــحبته
مـــحبت نه جـــداکـــيږي له مـــحبوبه

"۱٦۵"

بـــهره مند که په وصـال يې له حبيبه بختوريې ترهـر چـا صاحب نصيبه

مـجنون پريـــښومه نايب ولـې يارانو نايب زيات شه په جنون کې ترمنيبه
هرقـدر چې ته بعيد له خود ښې شې مـــحبوبا به هـومره شي درته قريبه
چـــې مـې ولېدې هغه زلفې پريشانې شواوراق د جـمعيت مـې بې ترتيبه
رنځ مې دی هغه رنځ چې يې داروکړې پـــاڅه هـورته شه له مانادان طبيبه
خـــان زمـــا ولـې هـم په تامـين يم چې اغـزی زما د ګـل خويې رقيبه
بادشاهـــان دباشاهي دې ذکر کاندي تـــه خـــوخپله غـــريبي وايه غـريبه
چې په يارپسې له شوقه څوک روان شي ســل فرسخ شي ورته کم تريوجريبه

شـــوځي کـــاندي زړه مـــې راشه محبته
پـــه ادب يې مـــودب کـــړه اې اديبـــه

"۱٦٦"

ســـمې لارې تـــه پـــه هـــپه شـــه روان مـــه زه پـــه چپه
خـــدای دې هيڅرې يادنه کړ اې پـــه عـــقل وفـــهم ټـپه
لـــه هـــندوخـــووشرمـــيږه چـــې خـــالې نه وي لـه جپه
اوده پـــريـــوزې لـــه غـــفلته چـــې غـــله وخورې څـولپه

بـــې دعشق لـــه قيـــل وقاله
مـــحـــبته کـــاندې ګـــپه

"۱٦٧"

دفـــراق نه ســـحر کـــيږي په مـــانن شپه
يااوږده شـــي هم داهـــسې پـــه غمجن شپه
تـــرشب قدره هم هغـــه شپه وي پرې زياته
پـــه وصـــال چـــې تيره کاندي دوه مين شپه

دوصـــال وعده په شپه ده راښـکاره کړه

نـــن خـــومه پټـــوه ورځـــې پـــه لمن شپه

دشـــواري دشپې درد من زده چې تېريږي

دقـــيامت تروړ خـــې ســـخته په درد من شپه

دګـــدای تېره پـــــه ســـردتنـــاره شـــوه

کـــه دې تـــيره شوه مـــنعمه پـــه برښتن شپه

دوصـــال شـــپه نن داهـــسې ده روښـــانه

څـــه عجب دی که ښکاره کاورکه ستن شپه

بـــې له تا په مـــحبت چـــې شپه تېريږي

خدای دې هسې تېره نه کا په دښمن شپه

"۱۶۸"

تـــه کنځل [1] کوې په جـــوروجفا ماته

زه دعـــاکـــوم پـــه مـــهـــرووفـــا تـــا تـــه

ســـتا په غم کې چې زما په زړه تېريږي

څـــوک هـــمـــدرد مې نـــشته ووايم وچـــته

لـــکه شمـــع وهرچـــاته مـــخامخ يم

کـــه مې مخ ته ګوري څوک که مې وښـــانه

بـــې وفا دنـــيا آخر هـــرچـــاته شـــاکا

هـــغه مـــرددی چـــې پخـــوا ک سدنيا نه

لـــه اعمالـــو دزاهـــد مـــې احتراز کړ

نصـــيحت شـــي دنـــدان غـــمل د ســـانه

---

(۱) سکنجل

د مجنون په مـرګ که وران شه زه ژوندی يم
بيـــاودان به يـــې کـــرم ووايـــي صـــحراته

په جـــهان کې مـــبارک هـــغه ساعت وي
دآشـــــنا خـــبرچـــې راشـــي وآشـــناتـــه

لـــه جـــنـــته آدم راوســـتـــلـــم دلـــتـــه
نـــاچـــاري ده څـــه ووايم دې بـــابـــاتـــه

ظلم يې ګوري هـــر طرف چې محبت وي
نـــه ليږي له بـــير حـــمی خط هغه خواته

"۱۶۹"

مـــــرم په غم دې وساته مې له مماته — اې پـــه دم عيسی په خوله آب حياته
ستاپه عشق کې لکه غرچې استواريم — کوه قاف دی پـه حيرت مې له ثباته
شپه وورځ چـې دې په غم آه وزاري کړم — پـه فرياد دې زن ومرد مې له اوقاته
که غافل په زړه يې هيڅ به حاصل نه کړې — لـــه صـــلوته صومه حجه لـه زکاته
اجروابه خلې که خير ددیدن راکړې — ثـــواب زيات دې يوپه لس شي له خيراته
بې له تامـې سترګواوړی پشکال کړ — پـيش قـــدمي اوښو مې کړه له برساته
کـــله زلفې کلـــه خال راته بـلاشي — پـــه درست عمر زه خلاص نشوم له آفاته
زه صـــهبا ورســـولم تر مـــقصـــوده — شـــوه ويارته مـــې ريباره دابـــدذاته

هـــرساعت د مـــحبت په ذکـــر اوسه
چې افضل دی پس له حمده له صلوته

"۱۷۰"

کـــه حرمت غواړې ګـوری نـــشې بې پته
تربې پته زيـــات به څـوک وي بې حرمـــته

دواړه زلـــفې دې له مـــخه څـــخو واخله

دســـحر رڼـــا پـــيداکـــړه لـــه ظلـــمـــته

بـــيا به مـــومې بلنـــدي کـــه فروتن شې

چـــې معراج بيامـــوند يوسف په کوهي ښکته

بـــې ســـاقي مـــستان دهـــيڅا وينا نه کا

هاتيان څوک مـــسخر کـــاندي بې مـــاوته

هـــغه يارچـــی نه ځـــايېرې پـــه جـــهان کې

پـــدا تنګ زړه کې مـــې ناست دی فـــراغـــته

عـــاشق هر ســـاعت په يادد‌مـــعشوقې وي

رتبـــه زيـــاته ده دعـــشق تـــر عبـــادتـــه

په غير جنس کې هم تاثير دصـــحبت ګوره

اوبـــه يـــخې اور داور شـــي لـــه صـــحبـــته

کـــه هر څـــوراشي ســـيلې دحـــوادثـــو

لـــکه غـــر په عـــشق کې ښـــپه [1] لـره ثابته

محـــبته مـــحبت په مـــومن بانـــدې

واجب شـــوی دی له فرضـــه له سنته

"۱۷۱"

چـــې مدام ګـــوري دمـــخ دې وګلزارته

هـــغه کـــله نظـــر کا بـــاغ وبـــهار ته

هـــغه ستړګـــې به جنت ته پـــورته نه کا

چـــې ناظـــر دګلـــرخانو وي رخسارته

---

(۱) پښه

کار دعشق چې ګران وه ماځان ته اسان کړ
حق حیران شي چې څوک ګوري زما کارته
چې ریبار هم غیر ګنهم له دې غیر ته
حال دیار ویلی نه شم وریبارته
دی په حسن اوزه په عشق چې لاثاني یو
یار بې مثله وایي ماته زه ویارته
غم طالب په عاشقانو کې زما وی [1]
په لبنکر کې غلیم ګوري وسردارته
هزار حیف دی بیرته بیانه راجار وزي
دعدم هرځوک چې لاړشي وبازارته
غم دزلفو دې پوښته زما له زړیه
چې سختي دشپې معلومه وي بیمارته
که واربیا مومم څه فکر دمعاش کړم
محبت مي هډونه پریدي [2] ووارته

"۱۷۲"

په تلوار ځي مسافر دعمر چرته چې له ډیرې شتابي نه ګوري بیرته
چې یې یار پخپله راکاړي له جذبه دهغه څه احتیاج دی ورهبرته
یوساعت مې روح په تن اقامت نه کا هغه دم چې ته روان شې وسفرته
عاقبت به ستا هم لار پدا کوهي وي چې کوهی په لارې کنې برادرته
عاشقان آخرئه واړه لیوني شي چې بخاردعشق وروخیژي [3] وسرته
در په درخاورې په سربه هومره ګنرزي څوچې لاس نه کړي په سردیارودرته

---

(۱) وای.
(۲) یریږدي
(۳) اصل: وخیجي

بيا به مـومې سيم بـــدنه زري پـوشه که ونه ګـوري طالـبه سيم وزرته
ستادخولې چشمه چې خدای دچـاروزي کا هـغه کلـه نظر کاندي وکوثـــرته
چـــې ديار کوڅه ځوک پريدي[1] محبته
لـه جـــنته هـــم هغـــه ځـــي وســـقرته

"۱۷۳"

رابنـــکاره چې شـــوه ناګـــاهه هغه مـسته
لاړشه زړه بـې اختـــياره مـــې له دسته
هـــرساعت دزړه کباب راڅـخه غـــواړي
هغه شونډه يې مـينوشـــه مـــې پرســـته
تـــرابـــده نه خـــلاصيږم زه لـــه عـــشقه
عـاشقي چـــې مـې روزي شوه له الستە
هـــرمعـــدوم به موجود وګوري په سترګو
که ته نيست شې يو زمـان له خپله هسته
بـــې له عشـــقه بلند ي پـــه دين دنيا کې
بـــيا به مـــومې کله اې پـــه عـقل پسته
زن ومـــرد دې بنددزلـــفو په کـــمند کړ
مـــسخر دې کـــړ جـهان له بندو بسته
چې شي خلاص د محبت په سينه ځای کا
هـــر يوغـــشی چې راووزي ستا له شسته

"۱۷۴"

چـــادســـته دګـــلو په تشبيه يـــې راوســـته
ځـــارشه ترګلـــرخود ګـــلونو ګـــلد ســـته

---

(۱) پرپردي

وروځـی پیوسته پـیدا کړې خدای مې دقاتل
ژوبـل زمـا زړه لـري داتـورې پـیوسته
اوس پـه لیونتوب شوم خام سخن کنه پخوا
مـاهـره خبره به پـخه تـرخولـې یسته[1]
زړه پـرهارپر هـار لـرم په ګـردلـړلی تن
مینې ستا دلـبره په داشان کړم خوار خسـته
هـډومـې لـه بنـده یې ونه لـید بیا آزاد
هـرسړی چـې شه دهـغو زلـفو پـا بسته
سترګـې مې د زړه په عـاشقي چې کړې پیدا
سـیرد درست جـهان کړم پخپل کورکې نشسته
نرم شه سنګد له ستا په عشق کې محبت
زړه لـري نازک خـبره کړه ورته پسته

"۱۷۵"

کـه هـوس دې د ګـلزار شـته ننـداره کـړه مـخ دیار شـته
دردارزان دی کـه یـې اخـلـې ددلـبروپـه بـازار شـته
رقیـب بـیل نه شـه لـه یـاره لـه ګـلونوسـره خـارشـته
زلـفـې سـتا پـه څـهره بنـایي چـرته ګـنح دی هلته مار شته
ته خپل جنس لـه عـیبه پـاک کړه چې دې پـاک کړخریدار شـته
سـتالـه درده څـه بیـان کـړم نـه آرام نـه یـې قـرار شته
رنـځ دعـشق لـه ما سـره دی څـوژونـدی یم دا آزار شـته
مـابـه ورسـې[2] ویـار تـه چـې مـې زړه غوندې ریبار شته

---

(۱) ایسته
(۲) ورسوي

مـــهـــرو قـــهـــر نـــه بـــيـــلـــيږي تـــل لـــه لـــوړه ســـره نارشته
ســـــتا ســـــتم زمـــاقبـــول دی نـــازکـــوه چـــې نازبردار شته
پـــه خـــوب کـــله غـــافـــل کيږي دهـــر چـــاچـــې زړه بيدار شته

دعـــشق درد چـــې لادوادی
محبـــت يې طلـــبګار شـــته

"۱۷٦"

شور دملاحت دې په عالم کې لور په لـور شته
هـــر پلـو چـې اورمه خوستا د حسن شور شته
راشه اې شـــهسواره نن د حسن په سـورو کې
خود ته نظروکړه چـرته تا غوندې بل سور شته
يار چې مې کاوه طلب بياموند پـه زړه کې اوس زه
ګـرزم بيهوده څله مطلوب مې چې په کورشته
بيتابي دعشق دې اوس مې هم نه پريدی [1] څه کړم
وايي چـــې په زړه کې دې لاصبر پاتې نورشته
خـــدای له زړه مـــې نه ورکئ [2] مـينه دبتانو
هرچې خدای نه کاندي دبنده غريب څه زورشته
څـــه غـــم دپـيغور ومـلامت چې زه عاشق يم
هـــرڅـــه مالړه دي ملامـــت دي که پيغور شته
څـــوورځـــې بقـــاده ددنيا څـــه پـــرې نازيږې
عين که بهرام ګورشې عاقبت دې تله په ګورشته
مـــورو پلار د زوی غـمخوازان خووي دلـداره
خدای دومورو پلار دې هم که ماغوندې غـمخور شته

---

(۱) پريږدي
(۲) ورکوي

څـوان د محبت يم محـبت مـې مربي دی
بی له مـحبته نه مې پلار دی نه مې مورشته

"۱۷۷"

چې دادواړه لب شيرين درځخه شته هـم شکر هم انگبين درځـخه شته
د مـهتاب ونـنـداړې ته څـله ځې ترسپورمی[1] بشکلی جبين درځخه شته
صيد به کړې په دواړو سترګـو زړه دخلق چـې هم بازاوهـم شاهين درځخه شته
مـبنک دپاره څله چين لره ور ځې چې ګـيسوغيرت دچين درځخه شته
مـسخر دي سـتا همه سړي پيري د سلـيمان ګويا نگين درځـخه شته
دعشق اوربه دمخلوق په زړه کا بل هـر يولـب چې آتشين درځخه شته
کشکې وي درځخه هـسې حسن خلق لکه دا صـورت حسين در ځخه شته
کړي به مـاته د هر چاد زړه بـيـنبه دازړګـی چې دې سنگين درځخه شته

مـحبته څـه له غـواړې لعـل ودر
چې له اوښوډک استين در ځخه شته

"۱۷۸"

ته طلب وفـاد يار کړه که شته شـته کـه نشته نشته
ځان د مهرې طلبګار کړه که شته شته که نشته نشته
کـه هر څو ظلمونه کاندي مـعشوقه مدام در باندې
زړه درحم يې اميد وارکړه که شته شته که نشته نشته
کـه هر څـو نه لرې زړه دليـاقـت د سکونت يې
تـه مکان ولـه تيار کـړه که شـته شته که نشته نشته
که هـر څـوديدن يې نشته ولې هـم ته خپلې سترګې
مـنتظرې ددیدار کـړه کـه شته شته که نشته نشته

---

(۱) اصل : سپوګمی

کـــه هر څـــو موندل يې نـــشه ميسر په تلاښو نو
ته طلـــب يې په تلوار کړه که شته شته کـــه نشته نشته
که هـــرڅو مال وزر نشته لوی دولت خو استغنا دی
مستغنی شه ځان زردار کړه که شته شته که نشته نشته
که هـــــر څوددنيا هست دي آخر نيست محبت خانه
ته پخوا ترې زړه ويزار کړه که شته شته که نشته نشته

"۱۷۹"

زيات تر عشقه يوهنر په جهان نشته عـــاشقي نه هيڅ بهتر په جهان نشته
دلخسته پـــه ځيرمې نشته په عالم کې لـــکه تاغـــوندې دلبر په جهان نشته
زړه لـــه خلقونه دعشق په کودويوسې ستاپـــه شان يوسحرګـــر په جهان نشته
په تلاښ کې دې صحراپه صـــحراګرزم هيڅوک ماغوندې بې سرپه جهان نشته
چـــې يارراشي يار کړه زما په پوهه دااختر دی بـــل اختر پـــه جهان نشته
شپه وورځ مـــې رنا ته وې اوس چې نه يې زه ګنهـــم شمـــس وقمر په جهان نشته
مـا ناصح غويې له عشقه منع کاندي بـــيهوده دې هسې خر په جهان نشته
د فـــرقت شپه نه کميږي نه پوهيږم شپه اوږده شوه ياســـحرپه جهان نشته
دګـــمان لښـــکرې ماتې په يقين کا
مـــحبت غوندې صفدر جهان نشته

"۱۸۰"

که شـــيرين دی ستا کلام دې نورڅـــه نشته
خـــوږتر قـــنده ستا دشنام دی نورڅـــه نشته

نـــه ســـپورمی نه یې رنـا ده په جهان کې

مـخ دیـــار مـــاه تمـــام دی نـــورځـه نشته

په دنـــیا کې ځای دامن که څوک غواړي

کور دیار دارالـــــسلام دی نـــور څـه نشته

نه امام نه څـوک پیشوادی هر څه یار دی

که پیـــشوادی که امـــــام دی نورځـه نشته

داد نـــمـــر تجـــلي نه ده پـــه عـــالم کې

نـــورد یار پـه هـــرمـــقام دی نورځـه نشته

چـــې مې ولـــید ددنیـــا پـه خمـخانه کې

لب دیـــار دمـــیو جـــام دی نـــورځـه نشته

مـخ یې ورځ دی زلف یې شپه زما په پوهه

داســـحر دی دغـــه شام دی نورځـــه نشته

اې کـــافر ومـــسلمانـــو باور کـــانـــئ

زلـــف ومـــخ کفرو اسلام دی نورځه نشته

تـــه مولی د مـــحبت یـــې نورځـــه نه یې

مـــحبت هـــم ستا غلام دی نورځه نشته

"۱۸۱"

کـــه محـــفوظ دبیـــلتانه شـــم لـه آفـــته

تورمـــــې هـــیڅ خطره نـــشته لـــه قیامته

که په درکې دې دناستې ځای مـې بیاموند

دشـــاهـې مـــسند بـــه ووهـــم پـــه لته

ستادوستي غواړم هردم چې ته مې دوست يې

څــه پــروا ده ددښمــن لــه خصومــته

شپه وورځ ښادي خوښی مې ده پــه کور کې

دشراب او دســـــاقــي لــه بــرکــته

لــيونی شــوم پــه خود نه يم چـــې ويريږم

هــر زمــان دعــشق دتــبې لــه شدته

لــکه تــوره شي سـپورمی دنـــمر له نوره

هــسې زيــړشي نمــر دمخ دې له طلعته

دتيــغ نشــته هيــڅ حاجــت قــاتله راشه

ســرمــې پريــکړه دابــرولــه اشارته

کــه راحت غــواړې له غــمه ديار غــواړه

غــم ديار کــله خــالــي وي له راحته

له قسمته چې دې نوم محبت خان شه

مـــــحبت دی په حــصه دې محبته

"۱۸۲"

ځــای يې مزکه دی ورځــي به ګــورستان ته

که [1] مــرغه شي سړی والوزي آســمان ته

دعــاشــق خبــرې کــله زاهــد نــغوړي

ددانــا نصــيحت بــدلــګی نــادان تــه

هــيڅ توښــــه دې پيدا نه کړه څــه به يوسې

چــې لــــه دې جــهانه ځــې هغه جهان ته

---

(۱) اصل : کو، په ځينو هجو کې (که)

(کو) تلفظوي. ما خپله اوريدلې دي.

کـــه هر څـــو دې اخـــتيار په ګـــناه نشته
لـــه ادبـــه ته يـــې حـــمل کړه وځـــان ته
تـــه د زړه په اخيـــستو خـــودزوره وريـــې
پـــرزول وښـــيي څـــوک څـــه پهـــلوان ته
پـــه سروشـــونډو خپلو دا رنګـــه مغرور يې
چـــې په ســـترګـــو هـــډونه ګـــورې وپان ته
حسن ستا دی، لکه نمر څـــه يې تعريف کړم
خود عـــيان دی څـــه حاجـــت لـــري بيان ته
چـــې دې سـرې شونډې تر لـــعلونه بهتر دي
پـــه تلاښ يې څـــله درومـــم بـــدخشان ته
هـــرهنر دمـــحبت ورته مـــعلوم دی
مـــينه څوک وښيي څه محبت خان ته

"۱۸۳"

درسته شپه نيولې ســـترګـــې يار مه جبين ته
هـــريو ستوری ګوري له آســـمانه وزمـــين ته
زړه مې کا طلب حمله دعشق لـــه خپله شوقه
ناسته ده کـــوتره مـــنتظره وشـــاهـــين ته
بې خـــبره راغـــی که له رنځـــه مې خبر شې
بيا به هـــډو رانشي طبـــيب مـــې وبالين ته
وزه لـــه ګـــردا به ديـــقين مـــلاح پيداکړه
ډوب شوې په درياب دګمان لاړې تهترين ته

لب شـــکره بویه بـې لـــه شهده يې دشونډو

نه غـــوارم شکرې نه مـې شوق دی انګبین ته

زورلري داهومره دی په کوم قـوت حیران یم

عـــین که رسـتم راشي نه ټینګیږي نازنین ته

غوارې که دیدارې [1] پـــیداکړه سترګې یکبینې

شایې ده دوه بـین پـــلوته مـخ یې دی یکبـین ته

ستادخوږې خولې که وي فرهاد مزه څـکلې

بـــیایې تـــمنا هـــډو نـــه وه وشـــیریـــن ته

شـــعر دې قابل دی دتـــحسین محبت خانه

ژ بې دمـخلوق جاري دي ستا و آفرین ته

"۱۸۴"

خوب مې لید بیګاه چې سره ملاست یوزه اوته

کله پـــه کټ څـملو کله ناســت یوزه اوته

تـــه طالـــب د زړه مـــې زه طالب دې دوفا

هـــردم یولـــه بـــله پدا خواست یوزه اوته

خـــاند وهـوســـیږو کړوخبرې دوه پـه دوه

ناست یو خوښ بیغمه له برخاست یوزه اوته

کـــور نه ته لـــه مـا نه زه لـه تاګـــله ګذار

دورلـــه کجـي دواړه سره راست یوزه اوته

زه مـــین په مـــخ دې ته زما پـــه محبت

یوپه بـــل مین بې کم وکاست یوزه اوته

---

(۱) دیداریې

"۱۸۵"

چې په ســـرځـــوک پورته نه کا دعشق څـــته

خـــدای دې سرد هـــغه پرې کاندې له څته

غـــم په هـــر بـــازار مـــې ولـــټا وه بـــارې

دامـــې بیامـــونده ســـودا دعـــشق له هـــته

پـــه ایرومې څخو بنـــپه[۱] په هـــوښیاري ږده

اورپـــه زړه مـــې دی باقـــي لـــکه سکروټه

چـــې غبار مې له کوځـــــې دې باد یونسي

مـــاپـــه اوښـــو کـــړه داچـــله خاوره خـــته

پـــه کټ کښناستم[۲] دمـــار لـــه ویرې دریغه

مـــار دزلـــفو ونغـــړدم ســـره لـــه کـــته

زیـــړه ګـــونه اوښې سرې ظـــاهرې کاندي

پـــه هـــیڅ رنګـــه مـــینه پاتـــې نه شـــي پټه

پـــه قـــوت بـــه خلاص ترې نشې که رستمه

پـــهلوان دعـــشق دې ونـــسي تـــر مـــته

درولعـــل دخـــپلو اوښـــومـــې حاصل کړه

مـــاهـــم ســـتا په غـــم کې ډیره وکړه ګـــته

مـــحبت مې وازمیـــه په محبت کې

محـــبت په محبت کـــې دی بې وټه

---

(۱) پښه

(۲) کښیناستم

"۱۸٦"

اصـل يې يودی کـتې ګوته ده کـه کچه
خاوره وي يـوه لـونـده وي اوکه وچه
مـشابه دصـورت يوکـه په سيرت وی
هـيڅ بيلتـون به دباز نه وه لـه زمـچه
کـه له شـهده سـره زهـر برابر وي
دمـچی فـرق به هيـڅ نه وه لـه مـچه
داتور خـال دې خوزما دسترګو تور دی
کـنه ګـډتـه بـه وی دګـډې پـچه
مـزه دار کـلام په سوز دمحـبت شي
دطـعام شـي خـوند سوا لکه له مرچه

"۱۸۷"

ساقي ښادکړه زړه غمجن زمـاله راحه پـرانزه جندره دغم مې له مفتاحه
دشـراب لـه کيـفيته خبر مـشه هـسې نه چې شي مينوش اهل صلاحه
مـی داروۍ درنځور دعشق زاهـده چـې رنځـوريم په ماده باده مباحه
ناسـته وي راته ګـلرويه سنبل مـويه ورتـه ګـورم له صـباح ترروا حه
که فلاح غواړې پياله دمـينې نوش کړه ډکـه وي پـياله دمينی له فلاحه
که پـه عـقد دې ددنيا آر تينه راشي طـلاق ورکړه وې بـاسـه له نکاحه
زه لاهوشوم پـه درياب داند ينښـوکي ومـې باسه راشه زر دعـشق ملاحه
بـې له تورې فـتح کـيږي حيران يم خوبان وګټي جنګ څـنګه بې سلاحه

اوس چې در د ښادي بند په محبت شه
فـــتح البـــاب يې په کرم کړه يا فتاحه

"۱۸۸"

ســـاقی ډکـــه کړه دمـــی پـــياله فـــراخه
نوبـــهار دی ګل جـــلوه کـــاندي له شاخه
دلـــيري ته يې چې ګـــورم حق حيران شم
آئينه چـــې ســـتا په مـــخ راشي ګـــستاخه
بـــيســـتون داعـــمارت دخطر ځـــای دی
که هوښياريې ځای کړه بيرته له دې کاخه
درقيب مـــوزي په ګور چې ښـــپه کښږدې [1]
مـــي بايد حـــذر دمار کـــړې له سوراخه
مـــحبت لري زړه وريت دعشق له اوره
پوخ کـــباب وي چـــاځخه يې له طباخه

"۱۸۹"

ددې ســـترګـــوله طـــوفانه وايم څه لـــه دې بـــحر بـــي پـــايانه وايم څه
خدای دې چـــاته درد ورنه کاد هجران ومـــړم ومـــړم لـــه هجرانه وايم څه
عاشقي اوتوان وي چرته په يو ځای زه چـــې يم عاشق لـــه توانه وايم څه
زه يم څوک چې ته له ځانه مې پوښتې ځـــان مـــې ته يې زه له ځانه وايم څه
لـــه جهانه زه جدايم ستا په عـــشق چـــې جـــدايم لـــه جـــهانه وايم څـــه .
دعنقاپه شان يې نه نوم شته نه نشان لـــه دې هـــسې بـــي نشانه وايم څه
دبـــې مثل څوک څه وکاندي بيان چـــې فـــارغ دی له بيانه وايم څه

---

(۱) پښه کښږدې

زه مـــومن يم ته کافـر دزړه په وړه وکـــافر تـــه لـه ايمـــانه وايم څـه
زه فـقير يې دکوڅې يم دی سلطان چـــې فـــقير يم لـــه سلطانه وايم څه
عـــمر تيرمـــې کړ تمام په خارستان بـــې خبـــر لـــه ګـــلستانه وايم څـه

دی ظاهر په مـحبت ګـــې ستا احوال
زه دې حال مـــحبت خـــانه وايم څـه

"۱۹۰"

چې بقا دهـــوس نشته خنديدل څـه لکه ګل په بـــاغ ددهر غوړيدل څه
معشوقې څله وحشت کالـه عاشقو دميـــنو له مينـــو تر هـــيدل څـــه
غوړدچاپه ويل نړدم چې په عـشق کې نصـــحيت دناصـــحانو اور يدل څـــه
که مذکورکوې کوه دعشق له دينه ددنيا پـــه قيل وقـــال کې وييدل څه
څوعروج دې په کرسی دعشق ونشي په لـــويې ترعرشه پورې رسيدل څه
که دين دارځان بولې اې ددنيا سپيه په دنيا داهومـره بيا مشغول کيدل څه
داوبوخصـــلت پيدا مه کړه که مردې په کمـزوري ځای نامـرده مـاتيدل څه
بـــوالهوسه که دعوايې کړې دمينی بياجفا يې پـخپل ځان نه سهيدل څه

پـــه جـــمال دشـــمع رويو مـــحبته
که پتنـــګ يې له آتشـــه ويريدل څه

"۱۹۱"

ولـــې مالړې مـــدام غمجن په څـه ددوستانو هـسې شوې دښمن په څه
هـــيڅ په شپه له ما ونشوه ګستاخې ته ومـــاوته ګـــوابنـــيږې نن په څه
پـــه تياره دخط دې خال کا رهزنې دلاور دې هومره[1] کړرهزن په څه
که بنده يې هـــرخدمت يې کړه له زړه ګوری شې راضې له تاڅښتن په څه

---

(۱) اصل: همره

که دیدار لره یې جـوړ نشوچشمان خدای دادوه چـراغـه کړه روښـانه څـه
ګـل دمـخ یې عندلیب که نه کایاد پـــه فـــریادکړي ډک تمام ګلشن څه
که دې مخ نه دی پټ کړی په بـرقع پـــه ناروســورو دی مـــردو زن پـه څه
چې بیلتون کاندي ولاړ ویني په سر ترونـــن نه راکوې خپل دیدن پـه څه

نـــه نرمـیږي هډوورته په هیڅ شان
مـــحبت ته زړه دې کړ آهن په څه

"۱۹۲"

کـــه دې مهردی رابـاندې کـــه جفاده
زه راضـــي یم پـه هغه چـــې ستارضـــاده
زه عـــاشق یم که وفانه کړم نورڅه کړم
تـــه که څـخوهم وفـــاکړې ښیوه ستا ده
خـــالی نه وي یوساعت لـــه درد وغمه
نـــه پـوهـــیږم چې په زړه مې څـه بلا ده
ســتا رضابویه زه څه یم څان دی
ځـــان درځـار به کړم که ستا رضـاپدا ده
زن ومـــرد دې له ستـــمه په فـریاد دي
ســـتاله لاســـه پـه هـر کور کې واویلا ده
هـــرقدر چـنې مـې وتاتـــه احتیاج دی
هـــم داهـــومره ســـتاله مـانه اســـتغنا ده
پـــه بل حرف ناوړې نـــا چـاریم معلمه
زمـــا ژبه یوپـــه لـــفظ دعـــشق ګـویا ده

که هرڅو غریب شي ځان رحمناک جوړکړي
خـــونریزي خـــودې له ستر ګوهو یدا ده
پـــه یاري کـــې شي اغیاره له شـــوخی نه
هـــغه شـــوخه چې لـــه مـاســـره آشنا ده
زه بـــاردار د امـــانـــت یم لـــه ازلـــه
مـادعـــشق بـــیړه اخیســـتې لا پـــخوا ده
ګـدایي دې د کوڅې چې مـې روزي شوه
بـــادشاهـــي، لـــکه زمـــا هـــسې دچاده
چې مې نوم محبت خان له خدایه بیاموند
لـــه الـــسته مـــحبت بخـــره زمـــاده

"۱۹۳"

بـــیوفا سره وفا څـــه په کار نه ده دمـکار دزړه رضا څـه په کار نه ده
بې له عشقه چې ژړاپکې پـه کار ده په بـــل غـــم آلم ژړاځـه په کار نه ده
غـــم دهجرور ســـره دی لـــګیدلی پـه وصـال کې هـم خنداځه په کارنه ده
ددنـــیا سودامـــې ولیده بـې سوده چې بې سوده شوه سودا څه په کارنه ده
پروانه شه بې فریاد سوزه په اورکې دبلبل پـــه رنګ غوغا څه په کارنه ده
پـــدا حرف دوحدتي کثرتي ناوري چـې خبره یې رښـــتیا څه په کارنه ده
که دنیا غوارم خوستا دپاره غـــوارم بي لـــه تا زما دنیا، څه په کار نه ده
وهغه ته چې یې ته درنځ طـبیب یې آشنایي دمـــسیحا څـــه پـه کار نه ده
محبته رنځ دعـشق هغه راحت دی
که دا درد لري دواځه په کار نه ده

"۱۹۴"

لـــکه چل ددلبـــري هـــمه تاز ده هـــسې کار ددلـــدهـي واړه مازده
څـه تعلیـم آشنا تـــه کړم دآشنا یيې هرچې فـن داشنایي دی د آشنا زده
پـــه درست عمر خبرنشوې له وفـا جـــفا کاره خـــویوه دې جـفا زده
زه دتـــوروزلفـــو مـار خـــوړلې یم دم دې کاافـــسون راباندې که چازده
لـــه عاشـــقه زده کړه علم د باطن داعـــلمونه چـــرته شیخ ومـــلازده
سحرافسون جادوکوي دزړه په وړه دواړو سترګو دیار څـه څـه بلا زده
خپل اوقات په زلف ورخ دې تیروم مـــاخوهـــم دغـــه بیګـــا وسبا زده
زما عـــشق هم هسې زده عجزونیاز لـــکه ستا بنـایست چې نازو ادازده

هـــیڅ هـــنر له مـــحبته مـــه پو ښتئ
یوله عشقه ترې پـوښتئ چې یې دازده

"۱۹۵"

چـــې مې مینه په ازل کې وه نامـــزده مـــحبت نوم مې جـاري شه ترابده
کـــه نیکي کړې دښـدی په بـدله کې وابه وري په ځان تحسین له نیک وبده
هردښمن چې پـه جـهان دی ستا به دوست شي که حال وبـاسي له حرصه له حسده
که والد دې خپل له ځانه ناراضـي کړ ته هـــم هـیڅ مه لـره طمع له ولده
دوبیني دې په خاطر کې څـوپـرته ده ترهـــغه پـــورې جـــدایې لـــه احده
ته په زیست به مـخ ونه ښـــې بې رحمه ددیدن حـــسرت بـه یوسم تر احده
که طایردعرش په بندکا څه عـــجب دی لاس درازچې ستاد زلفوشه بې حده
له بند کې نه دخپل یارچې مـخ جارباسې مـخ به خدای ته په کوم روی ښې مرتده
خودګلزار یې ته دباغ څـــه نندارہ کړې لالـــه رویـــه ســـمن بویه سـروقـده

مـــحبته پيغـــمبر چې دې کـــريم دی
هـــر چې غواړې طلب کړه له محمده

"۱۹٦"

مـــايـــوه مـــسله يـــوروايـــت نـــه زده
بـــې دعـــشق لـــه حرفـــه بل حـــکايت نه زده
کـــه کرم کـــړې که ستم وکړې راباندې
پـــه هـــر څه شـــاکر يم ما شـــکايت نـــه زده
چـــې اول آخـــريـــې يـــو کـــنم هـمدمه
مـــادمـــيني بـــدايـــت نهـــايـــت نـــه زده
زاهـــد هډوبه پـــه لار دعـشق رانـــه شي
چـــې دی پـــروت په ضـــلالت هـدايت نه زده
زربنـــدم تـــرســـره پورې پـــه خـــوبانو
پـــدا کـــار مصـــرف يم مـــا کفـــايت نه زده
چـــې زړه ســـپين لرم کوم خـــبرې سپيني
کنه مـــاځـــه اشـــارت کـــنايـــت نـــه زده
کـــه مـــې ياروژني حـــامی د زړه به نشم
پـــدې هـــسې ځـــای کـــې مـاحمايت نه زده
ډک دې تـــول له عشقه وي لـــولم واوره
دقـــرآن شـــريف کوم يـــومـــې آيـــت نه زده
پـــه بخـــشش غواړي طاعـــت له محبته
بـــهانـــې کـــوې څه تـــا عنايت نه زده

"۱۹۷"

چـــې نجسه ده دنیا خوډ نجس ده دامـــرداره په حصه کې دکرګس ده
پـــروانه دعشق په اورشه هسې مـشه لـــکه مینه په خوږو چې دمګس ده
سرپه دارچې دمنصورپه مـثال کېدې[1] په عـــشاق کې سرداري دهغه کس ده
لکه شمع نورافشان شه هـــره خواته چې رڼا لکه وړاندې هسې پس ده
بـې له عـشقه چې له عـقله خطرنه کا ویـــره ډیره وهـر غل ته دعسس ده
په خپل بند مې دجهان له غـمه خلاص کړه آزادي چـــې ده زماستا په قفس ده
بورانه یم چې هرګـل وته هـوس کړم وعـــاشق ته خو یوه معـشوقه بس ده
څو به پایم چې می یارآتش مـزاج دی دالـــه اوره ســـره آشنایي دخس ده

مـــحبته مـــحبت ګـــوری پـــرینږ دې
که هر څو طعنه وربانديې داولس [2] ده

"۱۹۸"

دهـــیچا دنیا له ســـره آشـــنا نه ده داکاسـیره پـه نکاح دهـــیچا نه ده
ســتا د مـــینې په بلازړه مـبتلا کړم دابـــلا په مـــالـــه مـــاده له تانه ده
بهانه غـــوارم ماسرصـــدقه ستا کړ هـیڅ له تانه مـــې دعوي دبها نه ده
کـــه ولې دزمانې په عشق ونه مري فـــاتحه دعـــاورپـــسې روانـــه ده
خوچې خوله په خوله مې کیدې[3] ماژوندی کړې شونده څه ده ستا که عـین مسیحا نه ده
مـــاپه دوه جهانه غوره معشوقه کړه هیڅ زما په دانایـــي کې خطا نه ده
جفا کاري په طینت کې دې جفاده بـــیوفایې په خـــلقت دې وفـا نه ده
ددنـــیا په نـــیوه هیچرې مه غولیږه دانـــیوه یې خوهم نن ده سبا نه ده

دفـــرصت ګـــړې ده می سکه[4] محبته
سبا خدای زده چـــې دچاده دچا نه ده

---

(۱) کښېږدې
(۲) ولس
(۳) کښېږدې
(۴) چنبه

"۱۹۹"

کـــه دې ســترګـه مـقیده درنګ نده مـــخامـــخه ده بـیرنګه په څنګ نده
زړه مـــې صاف دتعلق دی لـه غـباره مکدره آئیـــنه مـــې پـــه زنـــګ نده
خودپه چـاه دزنخدان دې ځـان پریباسم خطره پـــه زړه مې هیڅ دګرنګ نده
ولې ســر په صحرا ګرزم آهـو چشمه مـصله مـــې که تاپـــسې لـــنګ نده
چې له شوقه ژوندی ځـــان سیزي په اورکې کـــمه مـــینه دســـتی ترپتنـــګ نده
زیات ترمانه به په عشق کې څوک رسواوي چـــې مې هیڅ پروا دنام و دننګ نده
دکوم دوست آواز ترې خیژي نه پوهیږم دا نـــغمه دلکشه صرفه دچنګ نده
مـــړني خـــوتل له لاســـه دنامردمري فـتح هیڅ په مړنتوب وپه جنګ نده
تـــا خیر مه کوه په چـــار دمحبت کې
دعـشق چار دې شتابي ده ددرنګ نده

"۲۰۰"

کـــه نابود شې یوزمـان له خپله بـوده شې خبر بـــه لـه وجـوده له موجوده
عشق یقین دی که ګمان دی زړه راوړی نور د عـشق له دینه ووتې مرد وده
مـــسلمان په کـــلمه به هـــډونه شې خود بیني که دې پـــه زړه کې ده جـهوده
نـــه له نـــفیه یې آګاه نه لـــه اثبـــاته تش په خـــولـه دې لاآله الا هوده
هـمیشه به په زندان دوهـم پروت یې څـــوونه وزې اطـلاق ته لـه قیود ه
پـه طاعت در یا څه قربت دې بیاموند لا بـعید په عـبادت شوې له معبوده
چې نقصان وي پـکې تل هغه سودا کړې هـیڅ خبرنه یې لـــه سوده له بهبوده
ځان په عشق سیزه جهان به معطرکړې یې لـــه اوره خوشبویي نه ځي له عوده

مـــحبته ديـــقين مـــلاح پيـــدا كـــړه
كه بيړۍ دې په درياب دشک لاهوده

"۲۰۱"

مـــبرامې لـه هـــوســـه آشـــنا يې ده زمـــا مـــينه هـــوايې نده ځايې ده
دبـــتانووكـــوڅـــې تـــه پـــدادرومـــم نندارە مـــې هلته كړې ډخدايې ده
سل شمشاد صنوبر ستاتر قده ځارشه څـــه عـــجبه دقامت دې زيبا يې ده
دســـكندر دآئـــينې ده حيرت بـخشه ســتادمـخ دآئـــينې چې صـفا يې ده
ډيرتيرشوي خودرايان دي په جـهان كې ولې ختمه په خودراى مې خودرايې ده
جام په لاس ساقى راځې زاهـــده وارکړه خودبه شي معلومه ستا چې پارسايې ده
لـــكه شـــمع دخـــوبانـــو ته رڼا يې تاپـــه ســـرايښې طره در عـــنايې ده
بـادشاهې به نور تردې نه سواځـه وي چې په درکې دروزي مې ګدايې ده
يارمې يارشه در قـيب حجامت کيږي اوس كه خداى‌کارپيره كله دنايې ده
زړه دې خپل ديونادان په لاس كې ورکړ
مـــحبته ســـتا عـــجـــبه دانـــايـــي ده

"۲۰۲"

دواړه شونډې چـــې خـــوږې لرې ترکنډه
د تلـــخ کامو فـــرقه ځـــکه وى پـــرې پنډه
دهـــوسى په شـــان ترســـترګـومې تيريږي
هـــوسى چـــانـــيولې ده پـــه دوپـــه مـــنډه
لـــه نـــظره لـــه ګـــذره خطر نه کـــړې
چـــې روانـــه يـــې پـــلارې مـــخ بربنډه

داصـــحاب داهـــل بيت دښمن په خداى ږو

چې مې چرته ولـيد بيا موند سست په لنډه

يـــوميږه پـــريدي [1] کـــکړه بـــل مـــيږه کا

دادنـــيا هـــيڅرې پا تـــې نـــشوه کونډه

کـــه وخـــوار ګـــيدړوتـــه لـــکه مـــزرى يې

ومـــــزري ته خـــوګـــيدړه يـــې سورلنډه

چې ماه روى مې نه وي مـاه پـه حسن ناز کا

بـــل شـــجر چـــې نه وي ونه شي ارهنډه

لـــه رقـــيبه په ښـــيګړې څـــه حاصـــل کړې

مـــيوه چـــاحاصـــله کـــړې ده لـــه څنډه

مـــحـــبته ددنـــيالـــه باغـــه و زه[1]

ګل کم قدر دلته وي ترخارو خنډه

"۲۰۳"

هـــرپلوته کړم چې نظـــر ســـتا کړم نظـــاره

وړاندې وروســـتو[2] خواوشاهـــم ته شې رابنکاره

نه وي ښاپيرک غوندې که ضعف يې په بصر

ســـتا به آفتاب رويـــه هغـــه وکـــانـــنداره

ســـترګـــې لرې برندې زړه بيرحم څکه زه

ســـترګـــې خـــونفـــشاني زړه لرم پاره پاره

سيند دغم په جوش دى زه ساکن يې دساحل

ونـــه يـــې بـــقاوي ددريـــاب پـــه کـــناره

---

(۱) اصل: اوزه

(۲) اصل: ورستو

کښـــينا ســـته پـــخوامې شهاراغله په پالـنګ

اوس زمـــوږ پـه مـــينځ ريبارې ته يې چکاره

روغ کـــابـــيدرمانه يـــايې ووژنـــي په درد

هـــرچـــې خداوند کا بـــنده څـه لري چاره

کـــوم رعناغزال لـــه مـــانه لاړ چې ورپسې

غـــره پـه غـره څـنګل په څنګل ګرزم آواره

شـــي لـــذت حـــاصـــل راتـــه دقـند مکرر

واورم چـــې کـــلام دشـــکر لـــبو دوبـــاره

خـــلاص به کميني مې کاله ورځـې دحساب

څـوک بـه مـې پوښـتي هلته دچايم په شماره

شکر دی پـــه کورمې هغه ماه شه جلوه ګر

نـــن مـــې مـــحبته شـــوه طـــالـعه ستاره

"۲۰۴"

پـــه وفـــايې وســـتا يلـه ما بسياره چې ستی په مـخ مې راغله له بازاره

صدرحمت يې په وفاشه حق هم دادی چې په مرګ هـم جـدانشي يارله ياره

امـــتياز دخـــپل پردي خوپه وفادی نـــور ديار هـــيڅ فرق نشته له اغياره

وفـــاکـــالورې ژورې يې يکســـانې دعـــشق لارشي په وفـا سره هموارە

دعشق کارپه هوس هـــيڅانه دی کړی ســـرانجـام يې نه شي بـــې لـه وفاداره

پـــه درباريـــې وي تـــولی دوفادارو بـــيوفـا سړی مـحروم دی له در باره

که عاشق يې په چراغ لکه پتنګ شه چې يې نورشميري حذر نه کاله ناره

خـــان ساته ترې که له اوره يې ويريږې عـــشق له سره ترښپو[1] ډک دی له شراره

---

(۱) پښو

که پـــه کار دعشق کې پوخ يې مشغول اوسه اوکه خام يې لاس کړه پورته له دې کاره
که په ځان مين يې عشق نه په څنګ ګرزه عشق هغه کا چې له خانه شي ويزاره
جذب حاصل کړه دادعشق هسې سودادهٔ چـې هيڅرې شوې نه ده له هوښياره
څه حاجت دی دريبار په محبت کې
دمـــين مـــين تـــه مـــينه شي ريباره

"۲۰۵"

ســـرتر بنـــپو[۱] ده بنـــايســـته هـــغه دلبره
کـــيده[۲] غوړخـــوبي يې واوره ســـرتر سره
دويښـــتويې دسـرڅـــه درته تعـــريف کړم
چـــې لـــه مـــښکه خوبـــي وړي هم له عنبره
وجـــبين تـــه يـــې قـــمر نـــه شـــم ويلـــی
چـــې بهـــتر دی پـــه بنـــايست کې تر قمره
دآســـمان ليـــنده چـــې داقـــوس قـــزح ده
هـــلالي وروڅـــونـــه يـــې نـــه ده بهـــتره
دبـــنو يـــې لـــه احـــواله څـــه بـــه وايم
چـــې دســـته يـــې ده دغـــشو خود چاکره
کـــيفيت يې څـــه پوښتې ددواړو ســـترګـــو
يـــوه جـــام دمـــيو بـــله ســـحر ګـــره
د الله الـــف ده پـــوزه يـــې بـــې مـــثله
يـــاداګـــوتـــه دوحـــدت ده زيـــبا وره
دوه تُـــکړې دصـــدف غـــوړوته يې وايم
ولـــې نه رســـي صـــدف ورتـــه لـــه ســـره

---

(۱) پښو
(۲) کښېږده

لـــه رخساره يې ګـريوان دی دګل څيرې

هـــم تـــرې داغ پـــه زړه لـــري لاله احمره

چـشمه څه ده چې له خوله يې شي هم چشمه

دحـــيات تـــراوبه خـــولـــه يـــې ده بـهتره

چـې يې شونډې دي خوږې په شيرينۍ کې

بـــازي وړي لـــه انـــګـــبـينه لـــه شـــکره

دوديرش غاښ يې لکه دردي په خوله ايښي

چې وړي آب په ښايست توب کې له ګوهره

کـــوهـــي نه رســـي دزنـــې يې وچـاه ته

چـــاه زنـــخ يـــې هـــمسري کالـــه کوثر ه

غـــوره وي دجـــنت سيب ولې حق دادی

دغـــبغب ســـيب يې بـــسيار دی ورنه غوره

دځـــهرې يې که ونورته نظـــرو کـــړې

پـــه انـــــوار کـــې ډيره زياتـــه ده تر نمره

څټ اوغـــاړه يې په هـــسې شان زينت کا

لـــکـــه وي صـــراحـــي داره مـــــرغـــلره

دواړه لاســـوته يې شاخ دګـــل څـه وايم

چـــې ده څـــانګـــه دګـــل ډيره ترې کـــمتره

پـــه ښـــايست هـــره پـــنجه يې دلاســونو

دمـــرجـــان ده لـــه پـــنجې نه بـــرابـــره

هـره ګـوته يې چـې سره ده پـه نکريزو
دعـــاشق پـــه قـتلول خوځـــي اکثره

دســـينې وصـــفايي تـــه چـــې يې ګـورم
د اوبـــو تـــخته راځـــي مـــې تر نـــظره

دواړه تي يې ښـايسته پـه ســـينه باندې
دوه حـــباب دي نـــظر کړه اهـــل بـصره

څه اوصاف دښکلې ګيلې يې بـيان کړم
صـــافه نـــرمه لـــه ريښم ســـره هـمسره

په درياب کې دښايست نـــوم يې ګرداب دی
وبـــه نـــه وزې تـــرې هـــلو شـــناوره

نورمـــې مـه پوښـــته دســـتريې لـــه حالـه
حـــيانـــاک کـــله دســـترکـــه خـــبره

صـــفايـــي يې پـــداشـــان دزنګـــنو نو
لـــکه صـــافـــه آئيـــنه وي مـــنوره

دوه پـــنډی يې لـــکه شمـع دکـــافـورو
دواړه ســپينې دي هـــم صافـــي ترمـرمره

دواړه ښپې [1] يې دهرچـــا چې پـــه سرکيدي [2]
هـغه ســر بـــه خـــالې نشي لـــه افـسره

فـــندقې يې دښـــپو [3] ګـوتې پـــه نکريزو
هـــره ګـوتـــه تر فـــندقـــه يې خوشتره

هـــرتلی يې ترمـــالوچـــو نـــرم لازيـــات
هـــره پـــونده تـــر مـــخملو نـــازک تره

---

(۱) پښې
(۲) کښېردي
(۳) پښو

صنوبرې [1] همسري نه کاله قده

زيبآوردی قديې زيات ترصنوبره

چې په لارې يون کاشي سروروانه

وي په خای ولاړه به تر نښتره

آفرين په سروپای د محبت شه

مزينه په نبه شان شوله دلبره

"۲۰٦"

ته خوهم په مينه چرې چرې ګوره

وعاشق ته اې زما دسترګو توره

چې دې وايستم له کوره خپل تر دره

بس کړه غل شړلی بويه نه تر کوره

په لحدمې مه راځه چې غيرهمراه وي

خود پوهيږې ولاړيږي ننګ له ګوره

په خوبانو کې دحسن پهلوان يې

ولې ته نه يې خبرله خپله زوره

په هغې روځې به هم زه تا پرينږدم

چې پلاروتښتي له زويه رورله روره [2]

شپه وورځ چې دې له درده په فرياد يم

ګاونډي يان شوواړه تنګ زماله شوره

په لنبو دعشق که وسيزې ته ځان خپل

له دوزخه به شې خلاص هم يې له اوره

---

(۱) صنوبريې

(۲) وروره

چې له غمه دجهان زړګی خالي کړم
ساقي ډکه کړه پیاله دمیو نوره
دهوس له عشقه فرق دی آګاه شه
که هوس وي محبته خان ترې ژغوره

"۲۰۷"

زه غیرت دحورو غواړم هغه حوره
همیشه چې د نظر مې ده منظوره
حوره شي هسې بدشکله یې دوړاندې
لکه شي سپوږمی دنمر په مخ یې نوره
اې چې وایي عاشقان یې هنران وي
زیات تر عشقه هنر څه دی یې شعوره
له عاشقه صبر څه غواړې نادانه
دافرقه ده له ازله ناصبوره
په هجران کې دې په ماځه څه تیریږي
رحم وکړه غافل مشه له مهجوره
الستي مست یم شراب که سکم[1] معذوریم
خدای ګناه دی پورته کړی له معذوره
زه دیدار دیار طلب کوم زاهده
ته حور غواړې دخپل عقل له قصوره
که مخ نه ښیې وچاته درته ښایي
معشوقه بویه هغه چې وي مستوره

---

(۱) چښم

ګلستان دې ګلرخسار دی محبت دی
ساقې زر پیاله دمیوکړه معموره

"۲۰۸"

هیڅوک کارکولې نه شي لـه تدبیره داکول نه کول ستا کاردی تقدیره
نن نظر په ساده رویوکه ونه کړې له افسوسه به سبا وکاړې ږیره
دمقصود منزل ته وبه نه رسیږې زړه څوپیږدطریقت نه کړې بې پیره
آزادي څه لره غواړم ستاله زلفو چې ممکن نه ده خلاصي له دې زنځیره
یادمې نه کاهغه یارهیڅرې حیف دی چې مې نه هیریږي هډوله ضمیره
لکه ستوري نورخوبان په حسن نازکا رابنکاره کړه څخومخ بدر منیره
نمرهرڅوکه نظیرنه لري په حسن کې ولې ستا خو نظیر نه دی بې نظیره
ځګرهم خون شه دزړه مې له صحبته صحبت هډو خالي نه وي له تاثیره
که دیارپه درمقیم یې تخت نشین شوې ترشاهانو شوکت زیات لرې فقیره

تعجیل کار دشیاطین دی محبته
ولې کار دعشق ورانیږي له تاخیره

"۲۰۹"

کله په غضب ماړه هلاک کړي په خواړه
کله په کرم چې راشي وږي کړي ماړه
کله ورځ کړي لویه کله شپه په زن ومرد
راولي په دوی کله غارمه کله ساړه
نفس اماره وژنه په تیغ در یاضت
داغلیم به مړنه کړې په توره په چاړه

یـــار بوس وکنار چې شي له غیره څه په کار
څـــوک یې استعمال کاچې سپي لوښی ولاړه
پـــوه شه لـــکه شـــمع پـــه خـــنداوپـــه ژړا
خاندي هم هغه به چې خپل ځان یې وژاړه
چـــاوهلـــي نه دی نه تـــړلی دی قـــلاش
داخودنـــیا داردی چـــې واهـه شي یا تا ړه
پـــوه په محـــویت شـــه دهلکو پـــه چراغ
نـــورقدیمي ویـــني څـــو طفلان وي لاواړه
کوری چې غالب نه کړي په ځان نفس وشیطان
مـــرګ دهغه خوارشي چې لیوګانو وداړه
پروت په دروازه کې یې داخواروه لکه سپی
زارد مـــحبت چـــې یې لـــه دره وشـــاړه

"۲۱۰"

په هـــای های ژاړم مـــدام پـــه غـــم دزړه
ورځ په ورځ چې حال بـدحال وینم دزړه
هـــډونه خـــوځي له ځـــایه ستا پـــه عشق
لـکه غر هـــسې دي ښپې [1] محکم دزړه
چـــې په ســـرې [2] قدم ږدي لـــه مهره یار
پـــاس پـــه عـــرش لـــګي زما قدم دزړه
ســـتا په غم کې دزړه حال وایم که خپل
هـــم زمـــا احـــوال تبـــاه دی هـــم دزړه

---

(۱) پښې

(۲) سړې

بـــې لـــه تاکـــه مسیحا یـــې کـــادارو
لازیـــاتیږي نه شـــي درد مـې کـــم دزړه
پـــه خلیـــل که جوړه شـــوې ده کعبه
پـــه خـــدای شـــوی دی آباد حرم دزړه
طـــبیب څـــه کـــازه لـــرم په زړه پرهار
هـــډو کـــړی نـــه دی چـامـــرهم دزړه
اوس کـــه خدای کاندي کوم یې مسخر
خبن [1] مـې کړیه ملک دعشق عَـلَم دزړه
یـــوزمـــان یوســـاعت نـــشي تړې جـدا
مـــحبت مـــې دی هـــر آن همدم دزړه

"۲۱۱"

غمزده چې په سینه کې وینم تل زړه په خاطـــرراشي چې وباسم تړې خپل زړه
چې یوزړه وه ماترتا هـــغه قـربان کړ په بل مینه هله کړم چې راوړم بل زړه
نصـیحت یې زه خوډیر کوم ناصحه ولـې څه کړم چې زما کانه ویل زړه
که راحت نه وي په جـــورددلآ زارو ســتمونه بـــه یې ولـی ســهیدل زړه
که هرڅـو کنځل ترخه لګي هر چاته ولې خوږشي ددلـبر وپه کنځل زړه
چې داهسې اوس له غمه یې فـریادکا تروپـــخوا ولې ومـخ ته یې کتل زړه
عاقـــبت هغه وحشي یې په دام راغی کمندونه چې دعشق پرې واچول زړه
نه پـــوهیږم په خاطر یې غـم دچـاوه درسـته شپه چې په ناروسوروژړل زړه
محـــبته یوزړه څـــه که راڅـــخه وي
مانثار به کړل په ښکلیو باند سل زړه

---

(۱) ښخ

دازه نـــه وایم وفـــا کـــړه یـــا جـــفاکـــړه

هـــرچـــې ستا رضـــاوي ته خـــپله رضـــا کړه

بـــرابر که خـــپل نـــقصان وجـــبر غـــواړې

لـــکه شـــمع لـــــه خنـــدا ســـره ژړاکـــړه

ماخووې چې خال یې ټک دهـــندوستان دی

لـــه دې تـــوره ســـره تـــاولـــې ســـودا کړه

خـــپل جـــفا زمـــا وفـــا وتـــه نـــظر کړه

تـــا کـــنځل [1] چې راته وکړل مـــادعا کړه

وړاندې ورستو [2] مه ګوره رجال الغیب ته

خـــود یـــارپلـــوته مـــخ بـــل پـــلو شـــاکړه

خـــوله مې ډکـــه شوه پـــه مـــښکو په ګلابو

چـــې دیـــار دزلف ومـــخ مـــې نـــن ثنا کړه

شپه وورخ هم دادرخواست مـــې دی له تانه

خـــدایه ماکړه دمـــحبوب محبوب زمـــا کړه

مـــعشوقـــې که چـــرې چـــرې وفـــاکاندي

تـــه مـــمتاز په هـــمه واړو یـــې تل داکـــړه

ګوره څوک سربازي کاندي ستاپه عشق کې

تـــه یـــوبل ســـرباز مـــاغـــوندې پیدا کړه

دیـــن دنیاله تانـــه نـــه غـــواړم هیڅوې

الـــهی یـــــومـــحبت لالـــره راکـــړه

---

(۱) ښکنځل

(۲) وروسته

"۲۱۳"

څـان سیزه په اورهـله هـوس دمحبت کړه
مـینه که کوې تروډستی پـه دودپه پت کړه
عشق دزړه سوهان دی درته وایم که ټینګیږې
څوان ددې کارنه یې زرشه څان ترې فراغت کړه
مـاګـلزار دیا دکوڅـې غـوره کړ واعظه
ورشـه بیان نوروتـه وصـفونه د جنت کړه
زړه دې نرم نه دی څـه حاصل دخدای له ذکره
مـزکه کـړه تـیاره هله پـکې زراعت کړه
هـم یوه دانه لـکه صـدف بـه دله درشي
رزق کـه دې روزي یوه دانه شي قناعت کړه
څونا کرده کاریې نږدې مـشه وهیځ کارته
پـوه په معـماري شه هـله کار دعمارت کړه
هـیځ دې لـه قیامته قامت کم نه دی دلبره
پـاڅـه له قـیامته پـخواته قـایم قـیامت کړه
عشق دی حقیقت واړه مجازجمله هوس دی
شـاکړه ومـجـاز پلوته مـخ په حقیقت کړه
څان په اوښوډوب کړه محبت دعشق په غم کې
کـانئ دادعـاربه غـریق یې درحـمت کړه

"۲۱۴"

مـستعد شه پاڅـه زرطـلب دیار کړه پـه تاخیر کې آفتونه دي تلوار کړه

څوچې دوه ښپې [1]درفتار دې سلامت دي قـــدم واچوه په یارپسې رفتار کړه
څـوچې کار کولی شې په دواړو لاسو دواړه لاسه خپل مشغول دیارپه کارکړه
څـــودوه سترګې درڅخه دبینایي دي تماشالحظه لحظه د خپل نګـار کړه
دواړه غـوږدې څوشنوادي په جهان کې سامعان یې هم دیاردخوش ګفتارکړه
څوچې دوه شوندې دې خوځی په حیات کې پـــه خلاملاذاکرې[2] داذکار کړه
ترهغه چې دې په خوله کې ژبه ګرزی شام وصبح په ثنایې ګوهر بار کړه
ترهغه چې زړه دې څـای دسکونت دی ددلـــدار و ســکونت لره تیار کړه
تنـــدرستـــی بـه دابدروزي زمـــا شي الـــهی په رنځ دمینې مې بیمارکړه

لادوارنځ داچې ستا د مـــحبت دی
مبـــتلا مې زړه مدام پدا آزار کړه

"۲۱۵"

خـــوله طلب مـــې کړه له یارې رایې نه کړه
وعـــدې ډیرې وکړې بـارې رایې نه کړه
څـــه مـې حـــال پوښتې کدامـــه بیماري ده
چـــې ستا مـــینې دلآزارې رایـــې نه کړه
رغـــیدم پـــه یـــاقـــوتي یـــې دلـــبانـــو
بـــدســـلوکـــې ســـتمګارې رایـــې نه کړه
مـرتبه دوصال خپل چـــې لوی دولـت دی
غـــې[3] ملـــوکې شهـریارې رایې نه کړه
خوښـــي غواړم ولې څه کړم چې هـــیڅرې
زمـــانې ســـتم کـــرداړې رایـــې نه کړه

---

(۱) پښې
(۲) ذاکرې
(۳) هغې

شـــيريني مـــې تړې وغـــوښته ولې دريغه
هـــغې شـــونډې شکر بارې رايې نه کړه
بيـــګاوئ[1] چې خولـه سبا به دله درکړم
ولـــې نن پخـــپل اقـراري[2] رايې نه کړه
امـــيد واروم چـــې بوســـه بـه چـرې راکا
بـــيوفـــا جـــفا شـــعارې رايـــې نه کړه
دســـاقي پـــياله اوس څـــه کړم محبته
چې په وخت دنوبهارې [3]رايې نه کړه

"۲۱٦"

ولـــې ړوندشوې بينايي دې چرته لاړه مـــحبوبا ده مـــخامخ درته ولاړه
بـــياد مـــيني په بـــلايې مبـــتلا کړم زړه مـــې وکاندي يوه نه يوه پـــاړه
چې عتاب کا آفتاب رويه په فرياد شم غـرچې تودشي آوازونه کاندي خراړه
عـــاقبت خوپه مرګي به سره بيل شو زه اوتـــه يوځای به پاتې نه شودواړه
که خطر دی خولـه هوله د عـقبی دی ددنياشي ټـوله تيره هـــوړه هـــاړه
چې دپير طلب کوې څـــه به تړې واخلې هرچې غواړې له دې خپله زړه نه غواړه
ســـبا ورکه به ژړا شي تل بـــه خاندې نن خنداکمه کړه جـانه بسيارژاړه
چې يارنه وې د ژوندون څه کيفـيت دی حيف دی بې له ياره تيرشي عمر واړه
پوردې وه راباندې سر،دلـه[4] مـې درکړ بـارې خلاصه مې له تاکړه خپله غاړه
خپل ګناه په خپل عمل ســره کمبر ي بويه خپل ســپوښي دپاره خپله لاړه
څـــه عاشق ته دې دفتر دوعـظ پرانت پـوچ طومارډې دی واعظه ويې نغاړه
چـــې دعشق دعوې کـــاځوک بې محبته
هـــلاو مه ګـــنه صـــادق يې کاذب ويارې

---

(۱) وايې
(۲) اقراريې
(۳) نوبهاريې
(۴) دله =درله =درته

"۲۱۷"

نـــه دچـــاته يې هرګـــز نه دچا زه پـــه دوه کـــونه ته زما يې اوستا زه
که دروغ وي ته اقرار وکړه دوصل کـــه نه وبه مـــرمه ستا په ربښـتيا زه
تـــه اوزه په حسن وعشق يولا ثاني پـه جـــهان کې ته بې مثـله يې يازه
پـــه شپه وايم مـــخ به نه کړم ستاپلو چـــې ســـبا شي دله[1] درېشم بيازه
پـه عـــقبى خو به دې پرېږدم لمن کـــه بيانه مـومم فـرصت په دنيا زه
حيراشي چـــې مې لاس برشي په تا ومـــړم ومـړم لـــه دې خپـلې حيازه
په بقا کې يې فاني به ځان کړم خپل نـــاپيدا يـــار به آخـــر کړم پيدا زه
په خپل کور کې دخپل يار په جستجوی مـــسافـــريمه پـــه شـــان دآســـيازه
بې لـه عشقه مې ژوندون نشي يودم يم مـهى[2] دعـــاشقـــى د دريـــازه

اوس سکوت دې شاعران کا اختيار
مـــحبته په اشعار شـــوم ګويا زه

"۲۱۸"

پـــه ژړا مـــې شـــه عـــالم خـــبرلـــه رازه
دعـــاشق پـه حـــق کـــې اوښـــه ده غـــمازه
ځـودور وځـــودې محراب مخامـخ نه وي
څـــه حاصل دی لـــه ســـجدې اولـــه نمازه
بس کړه ناز به اوس کوې تر کومـّه پورې
زه خـــوومـــړلم اې شـــوخـــه ســـتا لـه نازه
بـــل محبوب به زړه مې بې لـــه تا يونسي
مـــښکيرک بـه څـــه ســـيالي کا له شهـبازه

---

(۱) دله = درله = درته
(۲) مهی = ماهی = کب

عـــاقبت دې ووژلم دعـــشق پـــه تـــوره
دا انـــجـــــام زه پـــوهـــيدلم لـــه آغـــازه
آواز څه لـه بدلی [1] چـې رقـــيب بـــولې
زه خـــويم آګـــاه ســـتا لـه [2] هـــره آوازه
پـــه هـــوا دعـــشق بلـند شولم تر عـــرشه
پـــه حـــيرت دي فـــربنـــتې مې له پروازه
بـــې له ما کړه جـــفا پـــه بل چـا بـــاندې
مـــه وبـاســـه خـــپل عـــاشـــق لـــه امتيازه
تـــه قرار د مـــحبت دزړه يـــې راشه
اې دلـــبره دلآر امـــه دلـــــــنوازه

"۲۱۹"

جـــام په لاس که معـــشقوقـــه راشي نوخيزه
پـــرهـــيز ګـــار به توبـــه ګـــارشي لـــه پرهيزه
کـــه هرڅو کړي عـــشق دغم لښکرې تولې
عـــاشقان مـــردان وي نـــنګ کالـــه ګريزه
صـــلح نه کاپه هيڅ شان چې پـــه عتاب شي
جـــنګ طلبـــه شـــوخ ديده فتـــنه انګـــيزه
پـــه نکريزو نه دي ســـره په وينو ســـره دي
دواړه لاس يې چـــې خـــونونه کـــا خونريزه
لـــه زړه څـــوک شلـــولی شي رشته دزلفو
دارشـــته يـــې څـــه بـــلاده دلآ ويـــزه

---

(۱) بدلی = بدلوې
(۲) اصل: له ستا

هـــره وروځـــه يې دزړه په غـــو ځـــولو

تـــرتيرې تـــورې نـــه هـــم زيـــاته ده تيزه

زراعـــت دزړه مې شـــين وي تل په اوبـو

چـــې اوبـــه رســـي پـــتې ته لـــه کـــاريزه

داســـنګدل بـــتان لـه کـــانـــي دجـفا نه

دعـــاشـــق دزړه بنـــيښه کا ريز مـــريزه

پـــه کلام کې مـــحبت چاشني پيداکا

چـــې فارســـي کاله پښتو سره آميزه

"۲۲۰"

کـــه مـې مـــرګ وي ســـتا لـــه لاسه تـــرژونـــدونـــه دې دپـــاســـه

وبـــه نـــه رســـي تـــريـــاره اې نـــادان وهـــم وقـياســـه

و کـــنځه[1] مـــې کـــه په قـــهرې[2] تـــه غـــصه خـــپله وبـــاســـه

کـــه عـــاشق يې ځـــان فارغ کړه لـــه خـــوراکـــه لـــه لـباســـه

مـــې دعـــشق تر حـــلقه تـــيرکړه دخودي کـــيف وجـــاربـــاســـه

بـــې خـــطر بـــې عـــشقه نـــه شي دابـــليس ځـــوک لـه وسواســـه

دپنـــدار پـــه آس کـــه ســـورشوې زربـــه پـــريـــوزې لـــه دې آســـه

وي قـــاتل پـــه صـــورت بنـــکلی مـــا مـــعلوم کـــړه لـه المـــاســـه

نـــور باطـــل ګنـــه بې عشقه

مـــحبتـــه حـــق شـــناســـه

"۲۲۱"

تـــول عـــالم دی په ژړا دمـــرګ لـــه لاسه

هډوورکـــه شوه خندا دمـرګ لـه لاســـه

---

(۱) بنکنځه

(۲) قهريې

چې يې بيا نه موند فرصت په دې بازارکې

چـــاونه کـــړلـــه ســودادمـــرګ له پاســـه

نـــه په زور نه په دعـا نـــه په زرمـــومي

خلاصـــيدون شاه وګدا دمرګ له لاســـه

پـــه دنيا کې وهر لورته چـــې غوړکيدې[1]

پـــه هـــرکورده واويـــلا دمرګ له لاســه

دغـــفلت له خـــوبه پـــاڅـــه نظرو کړه

درست جـهان شه سپين سبادمرګ له لاسه

عـــمرې [2]تيرشي که په وصل هـــم آخرته

يارلـــه يـــاره شـــي جـدا دمرګ له لاســه

پـــه خپل مراد يوه ګـــړی هـم په دنيا کې

سړه نه کاندي څوک خوا دمرګ له لاسه

په آسمان لـــکه عيسی هر څوک به وخوت

که خلاصـــی مـوندلی چاد مـــرګ له لاســه

مـــحبته که عـــيسی ژوندی دی څه شو

کله خلاص به شي عيسی دمرګ له لاسه

"۲۲۲"

چـــې دمينې ديوانه وم ديـــوانه يم لا تر اوسه

پدې می چې مستانه وم مستانه يم لاتراوسه

که هرڅـــوزه ليونی يم له خويشانو نه پردی يم

په طلب دې فرزانه وم فرزانه يم لاتر اوسه

---

(۱) کښېږدې

(۲) عمرې

په جوش اوښې هرزمان دي له دې سترګومې روان دي

داوبـــوچې خـــزانه وم خـــزانه يم لاتر اوسه

چې له تا آشنا شوم جانه جدا شوم له خپله ځانه

چـــې له ځانه بيګانه وم بيګانه يم لاتر اوســه

له قـــديمه عاشق ســـتايم په تمام جـــهان رسوايم

چـــې په خلق کې افسانه وم افسانه يم لاتر اوسه

لاتراوسه بـــيګانه يم چې لـــه غـــيروبـــيګانه وم

چـــې له يارهٔ يـــګانه وم يـــګانه يم لاتراوســـه

محبت چې لوی دریاب دی ددریابو انتخاب دی

ددې بـــحر دُردانـــه وم دُردانـــه يم لاتراوســـه

"۲۲۳"

کـــشکی راغـــلی نـــوعـــروســـه چـــې يـــې زه شـــوی قـــدم بوسه

کـــه په مـــرګ هـــم وصال مومې عـــاشـــقان نـــه شـــي مـــايوســـه

تـــيرشـــوم ســـتا په ګـــدايي کې تـــردراتـــر کـــيکـــاو وســـه

پـــه عاشـــق دې راز ظاهـــر شـــي بـــي قـــاصـــده بـــې جـــاسوســـه

زيـــرکـــاه اوبـــه يـــې شـــيخـــه جـــمله ډک يـــې له ســـالـــوســـه

بـــيدانـــه پـــه مـــمـــني اوړې تـــش وابـــه يـــې پروړې بوســـه

پـــه غـــفلـــت چـــې اذان وايـــې بـــي محـــل بانـــګ دی خروســـه

چـــې اذان بې مـــحبـــت وي

فـــرق يـــې نـــشته له ناقوسه

"۲۲۴"

لـــه غـــيرته سوی په زړه دنمـــر پـــيداشـــه
چـــې زما دلبـــر ترې ډيـــر بهـــتر پيدا شـــه
چـــې پـــيداشه مـــلايک مـــتعـــجب شـــو
چـــې غـــيرت دحـــورو دابـــشر پـيدا شـــه
پـــه نظـــر خپـــل خـــلقې يـــې ونواز لـــې
پـــه مـــدت پـــس يوصـــاحب نظر پـيداشه
داد چـــاد باهـــو شـــرنګ عـــالمو واوريـــد
چـــې هرلورته هـــسې شـــوروشـــر پيداشه
عـــاشـــقان چې په عـــقبی کې جـــنتيان وو
پـــه دنـــيا ولـــه[1] بيـــلتون ســـقر پيـــداشـــه
لـــخت دل مـــې د بنو په ســـر جـــلوه کړه
پـــه شـــجر مې يـــوتـــازه ثـــمر پـــيدا شـــه
ســـوز دعشق مې حيات بخش شه لکه شمع
چـــې يوســـر پريکړ شـــه بـل مې سر پيداشه
غـــمګين مـــشه چـــې په غم پسې ښادي ده
هـــرې شـــپې لـــره آخـــر سـحر پـــيدا شه
نورعـــالم کـــه مينه عيـــب ګـــنې ګـــنې دې
مـــحـــبت دپـــاره داهـــنر پـــيدا شـــه

"۲۲۵"

اې پـــه خـــولـه کـــوثـــره راشـــه اې پـــه لـــب شـــکره راشـــه

---

(۱) ورله= درته

ستا په غم شوه ملامې ماته اې نازک کمره راشه
په قامت نازبرې سروه اې په قدعرعره راشه
که ساتې يې زړه مې يوسه اې دالدار دلبره راشه
تورې شپه مې کړه روښانه اې په مخ قمره راشه
آسمان مزکه نوراني کړه اې په نور سحره راشه
رنګ دنمر په مخ دې زيړشي اې غيرت دنمره راشه
چې ته نه يې هبڅ نه وينم اې نورالبصره راشه
د تمام جهان تر خلقه اې بهتر بشره راشه
معطر دماغ زما کړه اې په بوی عنبره راشه

په طرف د محبت هم
اې غريب پروره راشه

"۲۲٦"

اې راحت دزړه زماهرکله راشه
صدقه شه ځان مې ستا هر کله راشه
زه دنازودادې طلبګار يم
ته په نازو په اداهر کله راشه
که دزړه په وړه خوښيږي نذر ستا دی
راشه راشه دلربا هرکله راشه
د راتلو اقرار کاوه دې بارې راغلې
هر زمان بول دی بالا هر کله راشه
راشه جانه په سينه مې سينه کيږده[1]
چې دې ونيسم په خواهر کله راشه

---

(۱) کښيږده

په ښادي وپه خـــوښـــي دې تشريف راووړ

پـــه هـــوس وپه خـــندا هـــر کـــله راشه

چـــې پـــدالـــوري له خـــيره سره راغلـــې

مـــرحـــبا لـــک اهـــلاً هـــر کلـــه راشه

که راځـې چې ديدن را کړې زړه مې يوسې

داخـــو مفـــته ده ســـودا هر کلـــه راشه

تـــه محـــبوب زه محبـــت سره جوړيږو

تـــه زما يـــې زه يم ســـتا هـــر کله راشه

"۲۲۷"

په ګـــلشن ګـــذار دکوم يو ګـــلرخسار شه

عنـــدليب چـــې پـــه فـــرياد وپـــه چـــغارشه

ګـــلستان راته خـــار زاروه چـــې ته نه وې

اوس چـــې راغلې خارســـتان راته ګـــلزار شه

زاهـــد شپـــه کـــړه رونه ولې لـــکه ماشی

دمـــخلوق پـــه وينو ســـکلو[1] شب بيدار شه

زبردست چـــې خوري بوتې دزير دســـتانو

دشـــاهانـــو په لاس بـــازهســـې مـــردار شه

تعلـــق کـــه ددنـــيا په زړه چـــاواخســـت

پـــه مثـــال کـــې لـــکه خرلاندې دبـــار شه

شيخ صنعان وته نظرکړه چې په عـــشق کې

پـــرهـــيزګـــار دتمام عـــمر خمـــر خوارشه

---

(۱) چنبلو

آئینـــه پـــه خاکـــستر شـــي لـــکه صـــافه
مـــخ دیـــار صـــیقل دلاړ پـــه غبـــارشه
ناصـــــح وکـــړل راته ســـل نصـــیحتونه
ولـــې یوهـــسې نه وه چـــې مـــې پکار شه
ســـیه مـــست وي پروت په درد میفروشو
مـــحبت په خـــرابات کې هـــسې خوارشه

"۲۲۸"

سـرتر ښپو[1] په داغ دعـــشق هغه ګلزار شه
کـــه عاشـــق یې نندارځـــي دخپل بهارشه
ګـــوښـــه ونسه لـــه خـــلقو کنـــاره کـــړه
تـــل لـه یاره په خـــلوت بـــوس وکنارشه
دغـــفلت په خـــوب ترکومـــه بـــه اوده یې
ځـخوپاځـه ســـترګی و مړه[2] بـیدار شه
دپـــند ارله کیـــفه ځوبه بیخود پـــروت یې
دانشـــه له ســـره لـــیرې کړه هـوښیارشه
لـــکه شمع که ځوک پاځي سردې پـــرې کا
ته پـــه هـغه زړه ســـیزونی لا بســـیار شه
خـــپل پردي له ســـخاوته مـحروم مـه کړه
فـــیضرسـان لـــکه باران په هـــر دیارشه
په صـــحبت دپاکو پـاک شـــه لـــکه توره
چـــې اوبـه وتـــاته ورســـي آبـــدارشـــه

---

(۱) پښو
(۲) اصل : ومکه

پـــس له مرګـــه څـــوک دچانه پکار يږي

څـــوژوندی يې په دنيا دچـــا پـــه کار شه

محـــبت عقـــل پيـــداکړ په مـــستي کـــې

چې څوک وايي مست خراب دی هغه خوارشه

"۲۲۹"

چـــې دآه ونالـــې جـــمع مـــې لـــښکر شه

مـلک دعـــشق په دا لښـــکر مـــې منور شه

وچ کوګـــل سترګې په نم چې مې پيدا شوې

هـــويـــدا راته دمـــينې بحـــر وبـــرشـــه

د نـــګا غـــشی چې تاهـــيسته ګـــذار کړل

هـــر يو غـــشی دې زما په زړه کارګر شه

سخـــته ورځ دبيلتانه دې چـــې ښکاره شوه

هـــم پداجـــهان څرګـــند راته مـــحشر شه

ليـــونو دې دناصـــح هـــم عقـــل ورک کړ

چـــې يې ســـتا په لـــيونيو بانـــدې ســـرشه

آفـــتاب روی مـــې څـــهره پټه په برقـــع کړه

پـــه اوريـــځ کـــې پوشيده يا مـــخ دنمر شه

جـــمع شوې دعـــاشـــقانو د زړه خـــاورې

لـــه خـــميره يې دخـــاورو روغ دلـــبر شه

تـــه خدای خلـــقو لره يوفـــتنه پـــيدا کړې

چـــې پيدا شوې په جـــهان کې شورو شرشه

مـــحبت په تا حيـــات دوباره بـــيامونـد
په يوســـف لکه يعقوب صاحب نظر شه

"۲۳۰"

دګـلرخ دور وخوياد چې مـې شـــمشير شه
زړه زمـــا پـــاره پـــاره دګـل پـه څـيرشه
زړه يـــې وګـــرزيده مـا پلـــوته شـــکر دی
چـــې يونوم دخـــدای ... وه آخر پـير شه
په ســـيرت کې خوبدتر تر پـــشو نګـړي دی
پـــه صـورت هـر څـوکه غير دقالين شير شه
لـــږلږ رحـــم هم ضـــرور دی اوس راباندې
بـــس کـــړه ظلم دې پـــه ما بيحده ډير شه
په ما څـــه څه عذاب تيرشه سـتا پـه غـم کې
اوس مـــې څه پوښتې چـــې تيرشه هـغه تيرشه
اکـــتفا که چـــا پـه ګـنج دقـــــناعـت کړه
خښ[1] دولـت ورته لـه مـــزکې نه برسيرشه
چې دعـشق نکته مې نقـشه شوه پـه زړه کې
هـر چې عـــلم زمـــا يـــادوه واړه هـــير شه
دځـــر مـــنومـې پنی چـــې تا پـه بنـــپو کړې
زه بـــالا پـــه امـــتياز شـــوم دشـــمن زير شه
وږی ســـتا دمحـــبت پـــدا قـــــدريم
چې له خپله ځانه هم خاطر مې سير شه

---

(۱) بښخ

"۲۳۱"

وي خنـــداپســـې ژړا په خـــندا مشه داخـــندا ده عـين ژړا په ژړا مشه
که آشناشوې بيا به خلاص ترې نشې پوه شه آشنايي به دزړه نول شي آشنامشه
يـــکبيني مـــعنی دوصل دی يکبين شه دوبـــينی دې جدايي ده جدا مشه
چې ډيرخورب شي سړی خوځيدی نشي توانايي دې ناتواني ده توانا مـــشه
که په عـشق کې خطره له رسـوايي کړې عـاشقي رسـوايي يودي رسوامشه
دطوطی ګـــرفتاري خوش کلامي شي ګـــويا يې دځان بلاده ګويا مشه
پـــوهنـــده په بې بـــقا کلـــه نازيږي دنـــيا تيره ده غـره پـــه دنيا مشه
چـــې اوفوبالعهد خدای دي فـــرمايلی پـــه وفـا به دې پوښتي بيوفا مشه

وي ادنی د مـــحبت اعـــلا اعـــلاشه
ددنـــيا اعـــلا ادنـــی وي ادنی مشه

"۲۳۲"

په جلـــوه يې خاکستر اول تمام شه بيا کليم غوندې له ياره همکلام شه
که يار غـواړې شه آزاد له نام وننګه که يې نه غـواړې پابند دننګ ونام شه
کمـــينی کړه طـــلبګار که دلويي يې دخاصـــانو مرتبه که غواړې عام شه
سروه هـــيڅا په رفـــتار نده لـــيدلې څـــخو پاڅـــه سروقـده په خرام شه
پـــه ښايست لـــکه پيشوايې دخوبانو په ښه خوی هم دهغه واړو امام شه
کـــاردنـــن په ســـبا ماچـــوه نادانه خـــبر دار له ګـــرد شونو دايام شه
يا محـــمود شه قـــدر کړه دوفا دارو پـــه وفـا کې يااياز غوندې غلام شه
په صـــفت د ذوالجلال شه په اعداوو پـــه دوستانو په صفت دذوالا کرام شه

عرش وشرع وشعر يودي په حروف کې
مـــحبته په اشـــعار عـــالي مـــقام شـــه

"۲۳۳"

کـــه هـــرځو لانبـــودې زده وي زړه ورمـــشه
خـــطر کړه دعـــشق له بحـــره اوتر مشه
محـــويت ديار پـــه عـــشق هـــسې پـــيدا کړه
کـــه قيـــامت دې په ســرتيرشي خبر مشه
زيړه ګـــونه سپين ويښـــته دې لوی دولت دی
تـــه طالـــب هـــډو دســـيم ود زر مـــشه
کـــه زړه وړې ددلخـــسته وز دلـــداري کـــړه
اوکـــه دادرنـــه ونشـــي دلـــبر مـــشه
لـــه رقيبـــه اخـــتلاط مـــه کـــړه که کس يې
لـــه نـــاکسه ســـره شيروشـــکر مـــشه
کـــه غفلـــت لـــري په غـــتوستر ګـــوړوند يې
لـــکه بـــت حـــيرت زده بـــې بصر مشه
لـــکه تيږه درونـــد شـــه وخـــو ځـــه لـــه سيله
ســـپک دخـــس په شان دبـــحر په سرمشه
کـــه داغـــواړې چـــې دزړه عـــقده دې واشي
نـــرم دل شـــه لـــکه اوښـــه ګـــوهر مشه
ســـپرويارته وغورځـــوه عاجزي کړه
مـــحـــبته پـــدا ځـــای دلاور مشـــه

"۲۳۴"

معتـــقد دبل مـــذهب وآئـــين مـــشه دين دعـشق په زړه قبول کړه بيدين مشه

تل ددین په غم کې اوسه که پوهیږې ددنـــیا په غـــم نادانه غـــمګین مشه
لااله الا الله چـــې په خـــوله وایـــې ومـــعنی ته یې نظر کړه دوبین مشه
بادشاهـــی کوه په دلـــق دګدایي کې پـــه زرینو جـــامو مرغ زرین مشه
په خـــندا یې غـــوتې پرانزه د زړونو و دوســـتانو وتـــه غوټه جبین مشه
دظـالم راپـــیره مال خود ظلم مه کړه دعقاب خصلـت پیدا کړه شاهین مشه
زیردستان کړه همه ګي تر سینې لاندې که لویې غواړې آسمان شه زمـــین مشه
پـــه نازونـــویې چې نه وي اندازونه مـــین هـــډو پـدا هســي نازنین مشه

محبـــته دکـــلام په زراعـــت کـــې
وړې کړه تازه پـیدا خوشه چین مشه

"۲۳۵"

د خپل یار چې ښکلی مـــخ راته عـــیان شـــه
مـاسواهمه له ســـترګـــو مـــې پنـــهان شـــه
چې ســـرې اوښـــې مې لـه مخه پـاکیزه کړې
ډک لـــستو نـــی مې له لعـل وپه مـــرجان شه
چـــې تـــکړ ې دزړه مـې پریو تې په مـزکه
غـــولی خـــپل راتـــه غـــیرت دګـــلستان شه
پـــه ژړا پســـــې خـــندا ده مـــدام ژاړه
چـــې چـــاوژړل آخـــر وته خـــندان شـــه
وهـــغه ته یـــوقـــدم لار دمقـــصود شـــوه
هـــرسړی چـــې په طـــریق دعشق روان شه
هـــربینا چې دخپل زړه ســترګـــې پـــیدا کړې
آخـــرت ورته ښـــکاره پـــدا جـــهان شه

چې دزلف يې کفرماوقبول کړی

هم پدا سبب مې ځای په هندوستان شه

په حیرت یم چې در دمن دعشق هیچرې

حاجتمند نه د طبیب نه د درمان شه

ز ه فریاد دچاله لاسه کړم په عشق کې

چې خود زړه زما آفت مې دخپل ځان شه

دمقصود لیلا یې هله په آغوش شوه

چې مجنون د محبت محبت خان شه

"۲۳۶"

یورفیق په بدې ورځې پکار نشه

بې سایه په بیکسي مې ځوک یار نشه

زړه مې یووړهیڅ شفقت یې پرې ونه کړ

دلربای زما هیچرې دلدار نشه

په زر ګونوشپې سحر شوې په جهان کې

ولې بخت چې مې اوده وه بیدار نشه

که هر څومې ورته سوال دوصل وکړ

چې مصروه په انکار په اقرار نشه

زړه پایمال مې لکه خاورې کړو یارته

داګوهر دسنګ ریزې په مقدار نشه

چې یوځله ستا دعشق په میومست شه

په درست عمر هغه بیا شراب خوار نشه

ســـتا ددې سترګـــو بیمارولـــه اندو هـــه
کـــوم شهـــلانرګس په باغ کې بیمار نشه
ړانده هـــم په فـــکر وخیال په لارې راشي
د ازل بـــې لارې شـــوی پـــه لارنـــشه
هجرتیر شـــه ورځې شپې دهجران راغلې
ولـــې زړه د مـــحبت پـــه قـــرار نـــشه

"۲۳۷"

بخـــره زیاته بـــه بیانه مومـې ترویشه هم پخپل قسمت قانع اوسه درویشه
که روزي بیامـومې کمه قناعت کړه چې قانع شې شي به کمه دله[1] بیشه
له ښامارې یې دزلفو څـــه بازي کړې دابـــازي نادانه یـــوبه نـــسې پیشه
څه فریاد له بیګانه ووکړم په عـشق کې دابـــلا په ماراغلـــې ده لـه خویشه
نیست نابوده شوه بـــدي مـې له خاطره مینې ستاپه هسې شان کړم نیک اندیشه
خوږوي[2] زولن پرهـارمې دزړه ولـې لاس دظلـم پورته نه کړې له دلریشه
زه کلـــک ونیسم ایمان ولی زاهـــده که یې پریدې هـــغه سترګه کافر کیشه
که یې سترګې دي مچې عسل یې لب دی طالـب ویره د مـــچیږنه کالـــه نیشه
چـــې قربت لري مـــحبوب له محبته
ته مـــحبوب زه مـــحبت یم رانژدیشه

"۲۳۸"

شـــه بلم باعـــور چـــې مل دبـــدو سپـــې شه
سپـــی د کـــهف یاردنـــیکو شه ســړی شه
خـــاتمـــی دلیـــونـــو ومـــاتـــه پـــریښـــوه
مـــجنون ځـــکه ترما څـو ورځې وړنبی شه

---

(۱) درته
(۲) اصل خوګوي

بود وهـــست دیارپه مـــاکې جـــلوه ګـــرشو
زه تـــرمـــینځه نیست نابود شوم همه دی شه
دســـودامې هســـې شـــوردی پـــه عـــالم کې
خـــلق وایي دوبـــاره مـــجنون ژوندی شـــه
زه نـــه غواړم چـــې ته خوږشې که نه پـــوه شه
ددې آه غـــشي ترعرشـــه مـــې ورتلـــی شه
څـــوچې ښپې [1]می دطلب وي سرګـــردان وم
دطلب چې ښـــپې [2]شوې ماتې منزل طی شه
اوس بهار راته خـــزان شه ســـتا پـــه غـــم کې
بې له تامې ګل په ســـتر ګو کـــې اغزی شه
چـــې په عشق وي مـــستحکم بنده مـــولا شي
وبـــلال ته کـــړه نظـــر ســـاهـــومری شـــه
چـــې پیاله د مـــحبت تر خـــولې مـــی راغله
دخـــودي کیف مـــې له زړه نه واړه قی شه
په نســـب شاید بـــرېخی کوټه خـــیل وه
محـــبت دیار ددرچـــې کـــوټه ســـپی شه

"۲۳۹"

په فـــتنه دې ستا مـــفتون پوهیږي ښه دلـــیلا په کړه مـــجنون پوهیږي ښه
وي بل څـــوک دچاله غمه څه په ګـــاه پخپل حزن هم محزون پوهیږي ښه
سترګې ستا پـــه کوډو زړه وړي دمـــردم چې په سحروپه افسون پوهیږي ښه
تورې زلـــفې یې په شپه کا قتل عـــام چې کافر یې په شبخون پوهیږي ښه

---

(۱)(۲) پښې

له عـــاشـــقه وپوښـــته حق وبا طل چـې عاشق يې په بيلتون پوهيږي ښه
زرکـــې کـــله زده رفتـــار ددلـبري هـــم دلبـــر مـې پدايون پوهيږي ښه
الف قـــده مـــيم دهـــانه ستا په غم چې يې قدشوی وي نون پوهيږي ښه
چـــې څـــکلې ياقـــوتي يې وي دلب پـــه نشه ددې مـعجون پوهيږي ښه

ښـــه بيان به کا مـــــعنی د مـحبت
محبت يې په مـــضمون پوهيږي ښه

"۲۴۰"

حـــسن يې فراغت لري هر وخت له خال وخطه
مـــخ منـــقش کـــاندي مـــشاطه يې په غلـطه
نـــور زما دسترګـــو لاســوا کاندي چې راشي
سپين نوري[1] اغوستی لـــکه تکه ســـپينه بطه
قـــهر دمعشـــوق پـــه عاشـــق قـــهر الهـــی دی
وســـاتې مـــا خـــدايه د خـــوبانولـــه سخطه
نـــشته دی نظـــيريې زه لـــه چـايې مـشابه کړم
يارچـــې لـري حـــسن يې مـــثاله بـــې نمـطه
سريې که څوک پرې کالا ژوندی اهـل مـــعنی شي
شـــي پـه روانـــي کـــې لاتـــازه قلـــم له قطه
هـــر امر چې پيښ شي توسط پـــکې اختيار کړه
زيات وکـــم پـکار کـــی بهتر نه وي تروسطه
درست عمرمې تيرشه چې تنهادې په خواست غوارم
دريـــغه چـې مې هـــيڅرې بيا نه مـوندې فقطه

---

(۱) نوري = نورې

بـــې مثال جـــمال وي مـــستغنی له خط و خاله
لفـــظ دالله ګـــوره چـــې فـــارغ دی له نقطه
غـــوارې که نجـــات غـــریق دبحر محبت شه
ډوب پدې دریاب کې شه چې ورسې تر شطه

"۲۴۱"

چـــې بدي ګـــنې موجوده څه هغه چې بدي هم نیکي شمیري ښه هغه
اوده نه دی چې پې زړه ویښ ویښ په خوب و چـــې بـــیداروي شي غافـل اوده هغه
یا کـــافر دی په جهـــان یا مسلمان مـــذبذ به تـــه نه داشـــوې نه هـــغه
په شفقت کې نه یې ته لکه چې وې پـــه وفا کـــې یم تر اوســه زه هـــغه
ستا ښایست دلبره زیات شه زما عـشق نه زه پـــاتې شوم هـــغه نه ته هـــغه
کلـــه رحم کاخـــوبان کـــله ستم ته هـــم داکـــوه کلـــه کلـــه هـــغه
دانه وایم چـــې وفـــاکـــړه یا جـــفا هـــر چې ستا دزړه رضاوي کړه هغه
شمع زړه په پتنګ سیزي درسته شپه ته هـم هـــسې شه په مـــا لـــکه هغه
زړه چې عشق نه لري وي مضغه د ګوشت
چـــې وي ډک لـــه مـــحـــبته زړه هـــغه

"۲۴۲"

یار دغـــیر وپه وینا شـــه دریغه دریغه بیا آشنا مـــې ناآشنا شه دریغه دریغه
ددښـــمنو هـــر زمان خبرې نغـــورې له دوستا نوبې پرواشه دریغه دریغه
اوس له ماســـره کا چـــارې داغیارو نه پـــوهیږم یار دچاشه دریغه دریغه
څـــومې زړه نه وه اخیستی یار زماوه چې مې زړه واخیست جداشه دریغه دریغه
خوب خوراک مـــې په فرقت یې واړه لاړل اوس یې غم روزي زما شه دریغه دریغه

چې مـې نوم دقيامت اوريده راباندې پـه فراق يې نن برپاشه دريغه دريغه
زلف يې وه توره بلا اوس په هجران کې غم دزلف يې لا بلا شه دريغه دريغه
محـبت که لوی نادان نه وه نورځه وه
چـې مين په بيوفا شه دريـغه دريغـه

"۲۴۳"

مقيـد په قيـددوهم شـوې احـمـقه
مـطلق نه وينې غافـل شـوې لـه مـطلقه
په سورشال کې دې څهره هسې جلوه کا
لـکه غر چـې رابنـکـاره شـې له شفقه
داد چـا دمـخ رنا مـې ده پـه کور کې
چـې مې شپه شـوه لـکه ورځ بې له رونقه
دردمـندان دي که دآه غـشي ګذار کا
بنـوی(۱) بـه وزی دآسـمان تـرنه طـبقه
شـې ګـلاب اوبه اوبـه لـه خـجالته
خـوشبويي چـې دې خـوره شي لـه عرقه
دوصال راوړه مرهم چې پـه فـراق سـتا
تيـغ دغـم سـينه زمـا کـړه شقـه شقـه
دنګـاه په تاخـت به مـاآخر پـايمال کا
امـان غـوارم ستا دسـتر ګـو لـه ابلقه
مـينه حـقه ده منـکر مـشه لـه مينې
شـې کافـر چـې څوک انکار کاندي له حقه

---

(۱) اصل : نبوی به اوزی

محبت که حاصل نشي معلمه
څه حاصل دی له کتابه له سبقه

"۲۴۴"

امتیاز ظاهر دپاک وي له ناپاکه پـه هیڅ شان به آئینه نه شي څپیاکه
پس له مرګه په لحد مې که ګذارکړې څـه عجب دی که سروکارم له خاکه
نه مجنون شه نه فرهاد نه وامق پاتې مینه ده چې خلقه پې کړه هلاکه
که ګریوان وي څیرې ما به وه ګند لی چاګندلې ده ناصحه سینه چاکه
حباب نه دی دادعشق داورله سویه ددریاب په صورت پریوته تپا که
جمله واک دمعشوقې به دې په لاس شي که ته وباسې ځان خپل دنفس له واکه
میوې نه غواړم هر ګزله نورو ونو هرچې غواړم زه مینوش غواړم له تاکه
چې بیا نه مومي معشوق په خپل حیات کې مرګ بهتر دی دعاشق ترهسې ژواکه
دې میچن لکه دانې واړه اوړه کړل ثابت هیڅوک تلی نه دی له افلاکه
دبامغزوفرق وکړه له بیمغزو په دنیا کې هم چغرې ده هم متاکه
هله نور دمحبت به پکې ډک شي
چې زړه پاک د تعلق کړې له خاشاکه

"۲۴۵"

ته غیرت دنمر پیداشوې چې په مزکه مزکې سرد فخروایست تر فلکه
پرواني په وفاوسه چې پرې ځان خپل شمعه ژاړي درسته شپه هم سوزي خکه
سنګ دجوردې بیل عاشق وبوالهوس کا سره ناسره لکه جداشي له محکه
صبر آرام قرارپه عشق مې همه بایلل ماسکه په جواری کړه خپله ورکه
ځان ژوندی سیزي په اورکې ستې ګوره په وفاتر ښځی کم مشه مردکه

کاني هـم شـــي نرم ولي نه نرمـــيږي مـعشوقه چې ده په زړه ترکاني کلکه
لکه ګـــيډی دمالوچو څه تزوير کړې اې ظاهر په لبـــاس دروند په خوی کې سپکه
تل جـــرګـــه وی دخوبانو په تاټوله اې پـــه حـــسن دهـمه واړو ملکه
تـــرکان واړه عاشقانوته خـــپل رام شو
ته آشـــنا دمحـــبت نشـــوې اوزبـــکه

"۲۴۶"

وی بـــدرګ په نـــجاست کـــې بدتر سګه
ســـپی بهتر وي په وفـــا کـــې تربـــدرګه
له پـــنچې نه دبـــنو بـــه يې خـــلاص نه شم
چـــې شاهـــين پـه سترګـــو ولیده لګ لګه
آه دعشق که کم که زیات وي زړه پرې سوزي
چـــې داورلنـــبه څـــه ډيـــره اوڅـه لګه[1]
غیرمـــوذی دی په تن څـــورب که ډنګروي
چـــې زیان وکا بـــرابر دی مګک اومګه [2]
پـــه پستو خبـــرو زړه دې له ما واخيـــست[3]
زه دې وغـــو لـــولم اې دجـــهان ټګـــه
له ابلـــقه دناز زړه مـــې لـــــګد کوب کا
چـــې خوبان کا خپله ستر ګه چرګ برګه
بـــوالهوســـه په درياب د مـــحبت کې
آخر سپک شوې اې دبحر په سرزګه [4]

---

(۱)لږه
(۲) موږک او مږه
(۳) واخیست
(۴)خګ

"۲۴۷"

یوساعت یې نه تیرېږي بې له جنګه
جنګیالی ده هغه سترګه شوخه شنګه
زړه مې هډوبه پرېږدي هغه سترګه
زرکه خلاصه به دبازنشي له چنګه
اوس مې څه له ننګ ونامه تفحص کړې
مینې ستاایستلی یم له نام وننګه
روح له جسمه مې په څنګ به هغه دم شي
اې دلبره چې مې ته پاځې له څنګه
سوی دعشق که اثر نه کاندي په کاني
شراري داور په څه خیژی[1] له سنګه
که دعشق له اوره زړه دتن ایرې کړې
ملنګي هله مقبوله ده ملنګه
دیو درنګ وعده اوړده[2] کړې ترقیامته
خطره مې ډیره کیږي ستا له درنګه
مقید که ته په رنګ وخط وخال یې
څنګه لاس له به دې دریشي بې رنګه
مخ دیار به پکې وینې محبته
آئینه د زړه که صافه کړې له زنګه

"۲۴۸"

په هجران دې په ماتیرشي څوځوکاله
یوزمان خورسندمې نه کړې له وصاله

---

(۱) اصل : خیجي
(۲) اصل : اوګده

په صـــحرا صحرامې هـــم په غـرونو غرونو
ګـرزو ې ترڅـــو به اې رعـــناغـــزالـــه
تصـــور دې هغه خـــوب پـــه مـا حـــرام کړ
چـــې مې يوساعت هـــم نه وزي له خياله
کـــه مـــرغـــه نـــظر پـــدا دام ودانه کـــا
خـــلاص به نـــشي هډو ستاله خط وخاله
هـــواصـــافـــه د زاهـــد ده لـــــه غـــباره
ســـاقـــي راوړه بـــاده صـــافه تـــرزلالـه
دوست دشـــمن مـــې په احوال وژړل دريغه
ولـــې ته نشـــوی خـــبر زمـــا لـــه حالـه
يـــو په شـــپه بله پـــه ورځ پـــدا پـنهان وي
چـــې سپوږمی نمـردي خجل ستا له جماله
قانعـــان نـــه کـــاپـرواکـــه دنـــيا ټـــولـــه
دقـــارون په خـــزانـــو شـــي مـــالا ماله
دمـــعشوق شـــوق مـــې راوباســـي له کوره
بازپـــريږدی کلـــه بـــې صيده خپله جاله
آدم زاد دې هـــمسر نه شـــي چـې تـــه يې
پـــه بنـــايست پـــري ماننـــده حور مثاله
لوی جنجال راته ژوندون دی ستا په غم کې
په خپل تيغ مې راشه خلاص کړه له جنجاله

وروځـه سـتا په زړه پـدا ده ناخـن زنـه

چې ښايست يې زيات دلچسپ دی تر هلاله

غـرونه ټـول راته که لعل د بدخشان شي

سـتا تر سروشـونډو به ځار کړم زما لاله

دال ومیـم حروف ددم دي تـه يې دم يې

اې دلـبره پـه خـوله میـم په زلـف دالـه

خوله خوځه چې عين مې زړه ورسره خوږشي

چـې ګـویاشي مـعـشوقه شـيرين مـقالـه

بـې زوال لټـوه حـسن کـه عاشـق يې

چې دې مـينه هـم مـدام وي بـې زواله

لـکه ونـه چـې سـرسـبزه پـه اوبـوشي

تـه په اوښـومـې زرغـون شـوې نو نهاله

محبـت نسـبت له ميـنې سـره وکړ

هرسـړی خپـله رشته کـاند لـه سياله

"۲۴۹"

چـې له غـمه په فـرياد دې کـړه بلـبله

سـتا ځـګر پاره پـاره شه ځـکه ګـله

شـباهت چـې ستا د زلـفو يې پـرې نښود

پـريـشاني هـم لاړه نـشوه لـه سنبله

صـيادان اسـير لـه دامـه ځـناور[1] کا

تـاسـړي بنـد يوانـان کړه لـه کا کله

---

(۱) ځناور

بـــس کړه اوس تر کومه پورې به غفلت کړې

مـــشتاقـــان دې ومـــړه ســـتا له تغـافلـه

لـــوی نادان وم چـــې مـــې زړه زرولـــه ورکړ

دانـــاکـــار نه کـــاندي بـــې له تـــأمـــله

بـــي شبـــهې بـــه پـــرې حرام مـــی طهورشي

چـــې پرهیز وکاندي څوک د عشق له مله

تاپـــــدام کـــې ورک کـــړای دحسن شاهـــه

شـــان د مـــهر دښـــایســـت لـه تجـمله

تحـــمل وصـــبر څـــه غـــواړې لـــه مـــانـــه

عـــاشـــقان بې صـــبره وي بـــې تحـــمله

عـــندلیب هلـــته څـــه کاندی محـــبته

باغ چـــې ډک شـــي د زاغانو له غلغله

"۲۵۰"

کـــه دنیـــا ټـــولـــه زمـــــا وي لـــه ازلـــه

مـــابـــــه واړه پـــه خـــوبانـــو وښـــندله

مـــاوې لرې به لـــه زړه مـــې بیـــتابي کړې

نـــه چـــې لایوســـې قـــرار زما لـــه دلـه

هـــرساعت چې دجـــبین غـــوټه دې واشي

هـــغه دم به مـــې دزړه عـــقده شي حلـــه

زه به زرهـــیړه خپل ځان تر تا قـــربان کړم

کـــه ته مـــا پـــلوته وګـــورې یـــوځـــله

دقـــيامت وعده دې کړه قـــيامت هم تيرشه
لابه کـــړې خپـــله وعـــده صـــادقه کله
ماشـــامل کـــا په هـــرچاچې قهـــر کاندي
شـــنه وابنـــه ســـوزي دوچـــولـه کبلـــه
هـــر چـــې وکري دهقـــان هم هـــغه رسي
نـــيک عـــمـــل نيـــکي به مومـې له عمله
هـيڅ تقصير نه لري څوک زما په عـشق کې
دابـــلا پـه ځـــان مـــې راوســـته پـــخپله
څـــه تاثـــير دې دغـــزل دی مـــحبته
چـــې په ســـوزی لولي خلق لـــکه بدله

"۲۵۱"

بـــوزي ســـتا ديـــدن ته مې هـرهيړه هرځله
ډيـــړه خو زماله خپـــلوستر ګـــوده ګلـــه
تا ښـــيلی نه دی پـــه حيرت يم چـــاته مـــخ
ولـــې په جـــهان ده ســـتا دحسن غُلـغُله
لاس نيوی دچـــا کړم ته مې پيرزه دې مـــريد
هـــډوبه پـــرينـــږدم ســـتا د زلفو سلسله
ما ګـــنه معذورکه دې په مخ کړم های وهو
څه کړم چې دعشق په زړه مې راشي ولوله
لـــرزه وٴمه زړه مـــې رحـــم وکړه په عـــالم
هسې نه چـــې راشـــي په جـهان کې زلزله

لـــوله نحـــن اقـــراب اليـــه وكـــړه فـــهم
نشـــته مـعـــشوقي اوســتا تر منځه فاصله
ډکه مـــې په زړه کـــله ده ډيره ســـتا دغـــم
هيـــخ لـه خولې نه وايم دا زمـاده حوصـله
تاغـــوندې چـــې شپون لرمه زه په دې صحرا
ځـــه غـــم له لـــيوه مـــې بې خطره ده کله
ويـــره درهـــزن ده مـحبته شـــه روان
پاتې شوې ته ورستو[1] وړاندی لاړه قافله

"۲۵۲"

خـــوله شيرينه دې پـــداده بې عديله چـــې چشمه لرې خوړه تر سلسبيله
کـــه شريف يې قدردان شه داشرافو چـــې خطاهـــيچرې نه وې له اصـــيله
ته په حسن کې ځـــرګند لکه آفتاب يې خودښـــايست دې بـديهي دی بې دليله
ځنګه زړه مې په قرارشي چې لـرم زه شوخ نګـاهـــه مـعشوقه ډيره بخيله
مادعـــشق نکته کړه غوره له علمونو چې حاصل مې دغه وليد له تحصيله
په هـــرنص عمل واجب دی ولې هله چې اول دې ځان آګاه شي له تاويله
هغه نه مري چې په عشق يې زړه ژوندی شه تـــه په نوروپـــسې ګـــرزه عزرائيله
دمـــحبوب له پټه رازه چـــې خبر شو بيا يې خوله نه شوه آشناله قال وقيله
جـــوړپه وارشي هريوکارکه صابرنه يې
محـــبته کـــاربه وران کړې له تعجيله

"۲۵۳"

چـــرته لاړې درســـته ورځ ماه تمامه چـــې رانغلې په نظر مې ترمـابنـــامه

---

(۱) وروستو= وروسته

عاشـــقي آخررابانديې چـارې وکړې پـــه آغازې خـــبرنه وم لـــه انجامه
چې ليده شي پکې صـــاف دواړه جـهانه جام دجم دساقـي زيات نه دی ترجامه
آرام څه غواړې په زړه کې د دردمنو دردمـــندان کله واقـف وي له آرامه
ترخـــروسه راتـــه کم نه معـلوميږې مـــوذن ووايي بانګ چې بې هنګامه
ولې نه بخښې [1] ګناه مي خود پوهيږې چـــې بهتر دی عـفو ډيرتر انتقامـه
راشه کړه حلال په تيغ مې چې په هجرخپل زندګـي دې کړه په مابانديې حرامه
دنـــيکانو خـــرابي پـــې تل ګرزې اې فـــلکه نا هنـــجاره بـدفـرجامه
چې ټرتاغوندې آفتاب راڅرګند پرې دآســـمان افق خجل دی ستا تر بامه
بيرته کـــړه له مـــخه زلفې مـسلمانه څـــخو فرق وکړه دکفـر له اسلامه

عنـــدليب دفارس يا طـــوطی دهند دی
ډير محـــظوظ د محبت شوم له کلامه

"۲۵۴"

نورمـــې زړه دې څـه په کـــار څه يې کومه
ســـتا د جورتخته مـــشقي لـره ساتمـــه
په پـــرده کې دهـــستي مـــخامخ ناست يې
لـــکه رونـــد زه هـــر پـــلودې لـــتومه
زيـــات پيـــدا کـــاندي قيـــمت ترمـرغلرو
چـــې زه اوښـــې ستا په غـم کې تويومه
يـــوذره زمـــا تـــر ســـتوني نه تـــيريـــږي
بې له تا چې خورم غله يا اوبه سکمه [2]
لـــکه ســـپی په دروازه دې زمـــا ځـــای دی
پـــه شـــړلوســـتا لـــه دره چـــرته ځمه

---

(۱) اصل : بښې
(۲) چښمه

ته هـــردم مې دنـــګـــاه پـــه غـــشوولـــې

زه دازړه خپل لـــکه سپرپه مخ کې ورمه

ته خوهم په خپل ديدن مـــې څخو ښاد کړه

چـــې زه تل درپـــسې ځـــان زهـــيرومه

له هر چانه مـې د زړه رشـــته کړه قـــطعه

پـــه تارونـــودې دزلـــف چـــې يې ترمه

بـــيګانه له آشـــنايانو شـــوم محبوبه

محبـــت چـــې زه لـــه تاســره لرمه

"۲۵۵"

چـــې جـــزاده دظـــالم درتـــه مـــعـــلومـــه

تـــرولاس ولـــې پورته نه کړې له مظلومه

که په ورځ ګـــوشه نشين شې شپه کړې رونړه

چـــې غافل يې ترې حاصل به څه کړې بومه

دخـــوبانو لـــه دولتـــــه کـــه مـــحروم يې

ډير مـنحوس لـرې بخت اې په نصيب شومه

کـــه پـــه زړه نه لرې غـــم ددلـــبرانـــو

دجـــهان له عـــيشه پاتې شوې مـــحرومه

کـــمه نه زيـــاتـــيږي زيـــاته نـــه کـــميږي

رســـي هـــم هغه روزي چې وي مقسومه

پـــه قـــصّـــاپـــســـې روان يم خبـــر نـــه يم

چـــې مـــې چرته بيايي راوســـتم له کومه

مـــادعـــشق يـــوه نـــكـــته زده مـــعلـــمه

هـــغه لولم چـــې په لـــوح مې ده مرقومه

تـــه رهـــبر دخـــپل طريق پـــيرمـــغان کړه

چـــې سالـک دې چرته بيايي هلته درومه

بيـــهـــوده واعـــظه ډيـــر خلـــه ويـــږې

عـــاشقان خـــودې وينا نه کا مـــفهومـــه

تـــل پرې ټول وي مـــشتاقان دزنخدان ستا

چـــاه خالي نه وی د تږيو[1] لـــه هـــجومه

خان نادان کړه چې له هره قيده خلاص شې

خدای تکليف دی پـورته کړی له معصومه

چـــې نيـــستی ده تـــل ورسره لـــګـيدلې

څـــه پکـــاره داهـــستي چـــې ده موهومه

نـــمرلري نســـبت داهـــسې ستا له مـــخه

دخـــادم لـــکه نســـبت وی لـه مخدومه

اوس دزلـــفوله حلقـــی بـــه دې خلاص نشي

چـــې مرغـــه دزړه مـې بند شه په دالومه

تـــه به وايـــې مرغـــلرې وپيـــلې

محـــبت چې پښتوژبه کړه منظومه

"۲۵۶"

منت بار به دې شم ډير که مې نسيمه مـــعطر دهغه ګـل کړې له شميمه

که ته تيغ دقـــهر وکـــاړې رابـــاندې ســـربه کيدم[2] له رضاوله تسليمه

---

(۱) اصل : تګيو

(۲) کښږدم

چـــې له وصله سره ویره دفرقت ده نه خوښـیږم په وصال هم له دې بیمه
که قدم ږدې خودعشق په لارې کیده چـــې دالار دعـاشقـي ده مستقیمه
توبه کله تړې کوم مـست دالست یم داشراب مـي روح افزادي له قدیمه
که سفر ته ځي څه شوله ماخونه ځي مـــحبوبامې په خاطـر کې ده مقیمه
پوشیده حکمت به هم درته څرګند شي که دعـــشق په نکته پوه شولې حکیمه
مـــعشوقان په عـــاشقانو مهربان کړه تـــه پدا فـــرقـــه کرم وکړه کریمه

غـــم پـــه تاغـــلطیږي مـــحبته
اې زما دزړه ددرست عـمر ندیمه

"۲۵۷"

څـــله وکعـبې ته ځـم اوځـه کړم بـــتخانه
مـــاپه زړه کـــې خپل بیامـــونده خپله جانانه
نورد زمانـــې به مـــې څـــه زیاته وي خوبې
خـــدای چې ته پیداکـــړلـــې زمـا په زمـــانه
ډیرې مې ســـجدې عبثی کړې په هـریوځای
اوس دې زمـــا ســـراود خـــوبانـــو آســـتانه
پورې کړې نکریزې خوچـــې وخت شي د راتلو
در دې شـــي په لاس یـــوه نـــه یوه بهـــانه
اوس دزړه مـرغـــه دیوسړي به نشي خلاص
زلـــفې چې د دام کړلـــې اوخال دې کړ دانه
بـــیاله زاهد انوســـره مـــات مـې کړپـیمان
زرشـــه ساقـــي راوړه دشـــرابـو پیـــمانـــه

نوم چې خپل شي هیرهـــله په یادشي نوم دیار
ورک کـــړه خپل نشان بیابه یې مومې نشانه
څـــنګه لـــه شرابـــو محـــتسبه کـــړم توبـــه
پـــریووت په خلقت کې چې مزاج مې رندانه
جـــاله په څـــه جوړه کـــابلـــبله پـــدې بـــاغ
نـــه پـــریـــدي [1] یوه، باغـوان ددهر آشیانه
هـــرچرته چې ورشي لـــیونی محبت خان
شورشي په مخلوق کې چې بیاراغی دیوانه

"۲۵۸"

ګـــل به وزي لـــکه خـــس لـه ګـلستانـــه
کـــه پـــه باغ شي جـــلوه ګـــر غنچه دهانه
دغـــنچې په رنـــګ د زړه عـــقده مې واشي
لـــکه ګل چې په خندا شي لـــب خنـــدانه
هوښ به یوسي په ساعـــت کې دهوښـــیارو
هـــغه مســـته مې کـــه راشي غـــزل خوانه
هیـــڅ دمـــینې لـــــه آفـــته خبـــر نـــه وم
دابـــلارابـــانـــدې راغـــله نـــاګـــهانـــه
څوک یې څه شرح وبیان دښـایسته توب کا
حـــسن یې دی فـــارغ لـــه شرحه لـــه بیانه
جـــانانې دي کـــه هـر څـوپه جـــهان ډیرې
ولـــی تـــه جان جـــهان یـــې زمـــا جـــانه

---

(۱) پریږدي

عـشق دکوم جـهان خوبي راته ښکاره کړه
چـې ویـزاړي[1] کړم لـه ځانه له جهانه
مـحبوبا پـته بـه شـي درتـه څـرګـنده
کـه ته واخـلې دهـستي پـرده لـه مـیانه
تـه حـلال يې دعـاشق دمـشکـلاتـو
زمـا ګـرانه ده پـه تـاپـیره آسـانه
مـینه مـه کړه خانمـان به دې غـارت کا
مـینی کـړې ده دډیـروخـونه ورانـه
کـه کافر دمـحبت لکه منصور شې
مـعتبر بـه دې ایمـان شـي مسلمانه

"۲۵۹"

تـه حساب غواړې له مانه — زه کـرم غـواړم لـه تانه
که حساب دلره[2] درکړم — فـضل کړم طلب له چانه
بـل بیمار کـله رغـیږي — بـي داروابـې درمـانه
یودعشق رنځور فـارغ وي — لـه طـبیب او لـه دوانه
که مې زړه تورې خوښـیږم — راشـه عـشقه مـهربـانه
څه مزه دې ده په خراش کې — اې زمـا دزړه سـوهـانه
نن دې غـم مـیلمه زما شه — زړه مـې ورکړ ورته جـانه
غـم دې کله مـوړپه زړه شه — شـرمنده شوم له مـهمانه
دسـوداقوت مې زیات دی — دمـجنون هـم ترسـودانه
دانـوې هـغـه زړه شوه — زور قوي نه وي ترځـوانه

---

(۱) ویزاربې
(۲) درلره

یاردمـــینې پـــورته نـــه شه چـــې لـه مزکې له آسمانه
تادیار حـــکم قبـــول کړ
آفـــرین مـــحبت خـــانه

"۲٦۰"

په یوځل ېې راځرګند کړچې مـــخ زړه یووړله مانه
دابـــلانـــاګهاني وه پـــه ما راغلـــه ناګـــهانه
چې دبام په سـرراوخوت په جلوه یې خاکستر کړم
ته بـه وایې ګوندې تندرې[1] په ماپرې ایست له آسمانه
دمخلوق زړونه پایمال کړي،لکه خاورې بنیوه ګړې
چې په خیال په کرشموسره په لارې شي روانه
که امان دادی چـــې وژنې مې په توره دفرقت خپل
زه پـــناه غـــوارم ظـــالمه ستا له دې هـــسې امانه
ددروغـــو په وعـــدو به دې ونـــه غـــولیږم مکاره
لـــه فریبه دې آګـــاه یم زه هـــلک نه یم نادانه
ترجـــهانه ته بهتـــر یې هم تر ځـــانه مې خوشترې
هـــډوتا به بـــرابر نه کړم لـــه ځـــانه له جهانه
ته ددرســـت جهان آفـــتاب یې راخـــتلی لـــه افقه
کـــه یوســـف دمصر ماه وه راوتلی که کنعانه
که سړی دی که پیری دی که مرغان که چـارپایان دي
تابع دار دې دفرمان دي اې په حکم کې سلیمانه
څه پوښتې سروسامان مې پخپل عـــشق لـــه تجا هله
لـــه مدته دې فارغه کـــړم له ســره له سامانه

---

(۱) تندرې

ګورم وړاندې به لاڅوک څوک کافران دمحبت کړې
محبـــت خودې ایســـتلی دی لـــه دیـــنه له ایمانه

"۲٦۱"

چـــې دردمـــن لـــره ته راشـــې په پوښـــتنه
تـــندرستان شي په غـــیرت ســـتاله دردمنه
چـــې ښـــادي دې لـه مـــا واخیـــسته بیلتونه
ولې نه ځـــي اوس څه غـــواړې له غمجنه
ځـــان به څه کړم چې ته نه یې زمـــا جـــانه
څـــه پکار دی تن چـــې روح لاړشي له تنه
پـــه وعـــده دې دوصـــال عـــبث خوښیږم
تـــه وعده به رښـــتیا نه کـــړې دروغـــژنه
څـــه خـــبر به زمـــا واخلـــې چې هلک یې
دمـــرغـــه لانه پـــوهیـــږې پـــه ســـاتنـــه
چې سړې اوښی مې په مخ راغلې مـــعلوم شو
زړه مـــې وینـــې پـــه کوڼـــل کې شه دننه
په طلـــب کې به دې اوســـم څـــو ژوندی یم
کـــه ســـرلاړشي هـــیڅ پـــرې نه لرم وتنه
باغ تـــه څـــله ځـــې چـــې ســـتاو نندارې ته
ګـــل بـــه راووزي پـــڅپلـــه لـــه چـــمنه
چـــې علم دمـــحبت مـــې نه بدلیږي
زه دې مـــینه څـــنګه پریږدمـــه مـــینه

"۲٦۲"

ژبه چې پیداشوه خوګفتار لره کنه
خدای چې زه ناطق کړم خواشعار لره کنه
ړوند نه یم چې نه کړم ستاومخ وته نظر
سترګې چې بیناشوې خودیدار لره کنه
کار دعاشقي که نه کانورځه کاسړی
خلق چې انسان شه خو دې کار لره کنه
غوځ یم دفراق په توره ځکه غواړم وصل
ژوبل مر هم غواړي خوپرهار لره کنه
ولې زړه مې صیدنه کړي صیاده په نګاه
باز چې عالم وساتی خوښکار لره کنه
خوب په غفلت کړه چې دې بخت نشي اوده
بخت چې دی بیدار خوشب بیدار لره کنه
روغ به دې په خوله شم ولې نه راکوې خوله
نوش دارو چې جوړشو خوبیمار لره کنه
لاندې ترسینې دبخیل مال کاندي ظالم
ګنج هرځوک چې خښ[1] کاخوښامارلره کنه
نه وي بې معشوقه دعاشق ژوندون پکار
زیست چې محبت غواړي خویار لره کنه

"۲٦۳"

که بیان کړم ستا دهجر عذابونه
یودفتر بویه چې وښکوم[2] کتابونه

---

(۱) بنخ
(۲) وکښم، ولیکم

غـــم زما په شمار به نه کړې حساب دانه

کـــه دشـــګو پـــه ذرو کړې حـــسابـونه

چـــې خواره دمخ انوار دې په جهان شي

هـــرطرف جـــوړشـــي زرګـــونه آفـتابونه

دادچـــاد زلفو خـــيال لـــرم په زړه کې

هـــره شـــپه چې پريـــشان وينم خوابـونه

پـــه يوه جرعه شراب مـــرتفع کـــاندي

دعـــاشق معشـــوق ترمنـــځه حجـابـونه

شه بيخود چې دشهي اوستا په مينځ کې

ســـتا خـــودي دي اچـــولـــې نـــقابـونه

ســـتا عاشق تاب وطاقت له کومه راوړي

عـــشق پـــريـــدي[1] نه طاقـــتونه تابـونه

زړه ځـــګـر راته زما يې چې سهي کړل

هـــغه مـــست راځـــخه غـــواړي کبابـونه

محـــبت درنه ســـوالونـــه په دعاکا

په کـــنځل[2] خووله ورکړه ځوابونه

"۲٦۴"

پـــه زړه کـــينوه[3] دمـــينې شـــجرونـــه

چـــې خواږه خواږه پـــه خوله کړې ثمرونه

په پالـــنګ دمعشـــوقې به ښـــپه کينږدي[4]

عـــاشقان ځـــوپه لاس وانـــخلی ســـرونه

---

(۱) پريږدي

(۲) ښکنځل

(۳) کښښوه

(۴) کښښږدي

بـــيامې نموند خپل وحـــشي دجهان واړه
هـــم ځـــنګلې هـــم مې ولـــټول غـــرونه
د زړه حـــال به مې دروښـــوبارې څه کړم
چـــې بـــيرون په زړه رانـــشي لـــه درونه
چـــې دحـــسن په ميدان کـــې يکه تازې
يـــک تنها په مـــخ روان کړې لښـــکرونه
يو کشش بويه د زړه دعـشق پـه کار کې
نـــه تدبـير را ځـــي پـــکار نه هـــنرونـــه
حـــرف حـــق به په مـثال دمـــنصور وايم
کـــه زما په قـــتل جـــوړشـــي محضرونه
زه ســـاړه آهـــونه ستا لـه بيرحـــمي کړم
رقـــيبان رابـــاندې يـــــخ کـــاټـــرونـــه
لـــه هغې ورځې چې ته سفرته لاړې
مـــحبت له ځـانه تل کـــا سفرونه

"۲٦۵"

که مـعـــلوم نه دي وتا ته خـــپل کورونه
ګـــورســـتان لـــه ورشه وګـــوره ګـــورونه
هـــيڅ مې غـــم له پـــيغورونو دچا نشته
چـــې عـــاشق يم مـــالـــره دي پـــيغورونه
معـــشوقـــې مـــلوکـــې مه ګـــنه نازکې
لـــه عاشـــقه وپـوښـــته د دوی زوروونـــه

زړه مې وسه آه ترخولې نه مې ونه ايست
چې په درست جهان کې بل به شي اورونه
هيڅاتور رابانـدې نه وه پـورې کړی
تـورو سترګـودې راپورې کړل تورونه
زړه ځـګر په هـسې زور راځنې غواړي
لـکه ځـوک له چا طلب کاندي پورونه
هـسې غږ دمـحبت مې دی هرچرته
چې په هند په ولايت مې دی شورونه

"٢٦٦"

کـله صـلح سـره کاکـله جنـګونه
دميـنو ځـبلـه تـل وي دارنـګـونـه
چـې مې وويـنې له ورايه آهـو چـشمه
پـه وحشت لـکه هوس کا غور ځنګونه
چې روان شي په طلب کې دمطلوب خپل
يـوقدم شـي وطـالب ته فـرسـنګونه
فـصددغـره دماتـولو فـرهـاد وکړ
بـې عاشقه ځـوک کا هـسې آهـنګـونه
شـرم وننګ کړه يوپلـوکه عاشقي کړې
نه شرمـونه به عشق پـريدي[1] نه ننګـونه
دګـلزار ګـلونه سـتا خراج ګـذار دي
پـه ځسن اخـلې لـه ګـلونو قـلنګـونه

---

(١) پريږدي

هـــم په زړه هم په خاطر هم مې په سترګو
راشـــه کـــينه[1] واړه ســـتادي پـــالنګـــونه
ګـــمان کاندي چې مګـــرشوردقيامت شه
چـــې څـــوک واوري دپـــايلودې شرنګونه
مـــحبت زنخـــدان وليـــد دخـــوبـــانو
ځـــان پـــريباسي دايې خوښ شوګـــړنګونه

"۲٦۷"

آلـــوده اوښـــې مې وينـــې چې له خونه
زړه مـــې وينې شه راوو وت لـــه درونـــه
په بهـــار کې چـــې توبه له مينوشي کړې
تـــردا چـــارې بلـــه چـــارنـــه ده زبـونه
فـــراموش کړم ګـلستان چې شي رايادې
هـــغه سرې شـــوندې ديـــار لـکه ګلونه
کمـــول يـــا زيـــاتول کارد تـــقدير دی
پـــه تدبـــير کـــمه روزی نـــشي افـــزونه
تـــه پـــه حسن کـــې نن زيـــاته ترليلايې
زه په عـــشق کې اوس ســـوايم تر مـجنونه
اوريـــده مې چې قيامت په بل جـهان دی
تـــا پدې جـــهان پـــه مـــا تير کړ بـــيلتونه
انـــدورن يې واړه تش لـــکه شناس وي
دنـــيا داروي پـــرســـيدلی لـــه بـــيرونـــه

---

(۱) کښينه

بـــې له یاره هـــډوغـــم به مـــې یونسي
ښـادي هورته شه څـــه غواړې له محزونه
پـرون وې دې چـې سبا به درته رام شم
نـــن چـې ګـورم لاوم ســوايې تر پـرونه
مـــحبت يې څـــه کابې له شهی خپلې
په جهان کې که دي ډيرې ښکلې جونه

"۲٦۸"

چـــې رضا دې وي کړه هـسې ســتمونه
ســتمونه دې پـــه مـــا دي کـــرمـونه
ځـــان مې خاورې ستا د لارې کړله شوقه
ګوندې کـــيدې [1] په تنـــدي مـې قدمونه
عـــاشق مـــشه کـــه ويريږې لـــه غمونو
چـــې عاشـــق شي په هـغه راشي غـمونه
خـــوچې يوعاشق پيدا شي په جـهان کې
ورتـــه مـــخ کـــاانـــدوهـــونه آلـمونـــه
اوس کـــوم يې مـــسخر دخدای له فضله
ما دعـــشق په مزکه خښ [2] کړل علـمونه
زړونـــه اخـــلي دســـړوله هـــره پـــيچه
ســـتا په زلـفو چـــې پراته دي داخـــمونه
چې غوږکيدم [3] په هرکور ژړانګـلا [4] ده
ســـتا له لاسه دي پـه خـــلقو ماتـــمونـــه

---

(۱) کښيږدې
(۲) ښخ
(۳) کښيږدم
(۴) انګولا

کـــه دې مخ وښـــوعالم به قتل عام کړې

پـــه لیده دې دســـړو خـــېژې دمـــونه[1]

زه دعشق په توره غوځ یم مرهم څه کړم

طـــبیبانو یـــوســـئ خـــپل دامـــرهـــمونه

غـــم یې ډیروه په کـــاغذهډوونه خوت

مـــحبت په ښـــکلومـات کړل قـــلمونه

"۲٦۹"

یاردزړه پـــه ســـترګـــو وینه کـــه دیدار غواړې حق بینه

پـــه دوربین نظرې [2]ګـــوره ده شـــها درتـــه قـــرینـــه

نمرسپورمی په شان ښکاره ده آفـــتاب رویـــه مـــه جبینه

چـــې یې زړه غواړې هغه کا بـــې نـــیازه ده نـــازنیـــنه

جـــلوې کاندې رنګارنګـــې په هر رنګ کې شي رنګینه

کـــله زیړه کـــله سره شي کـــلـــه توره کلـــه ســـپینه

معـــرفت یې هـــویـــدادی لـــه آســـمانه لـــه زمـــینه

نیک وبدې[3] پـــه تلاش دي لـــه اصـــیله تـــرکـــمـــینه

نـــه راووزی لـــه حـــجابه هـــسې ده پـــرده نـــشینه

مـــونده شي لـــه مـــحبته

نه دنـــیا نه نـــه له دیـــنه

"۲۷۰"

عـــشق خودی آزار ولې آزارې[4] مه ګنه

وي عاشـــق بیمار ولې بیـــمارې مه ګـــنه

---

(۱) اصل : خیجي

(۱) نظریې

(۲) بدیې

(۳) آزاریې

بادشـــاهي په لـــته وٴهي تل دمـــينې خوار
خوارې وي ترشاهـــه سواخوارې مـه ګـنه
خـــوورځې قايم چې په آسمان پاتې شي ابر
هـــغه وريـــدونی دی غـــبار پ مه ګـنه
بي لـــه ګلرخساره ګـلستان وي خارستان
يارچې په ګلزار نه وي ګـــلزارې مه ګـنه
مارکه بل چـيچل کادی ســړی نغري تمام
دابنـــامار دزلـــفو دی بل مـــارې مه ګـنه
زيات ترعاشـــقی دی بې هـــنره کوم هـنر
کارچې څـوک دعشق کاندي بيکارې مه ګنه
څه شوکه څوک خوب کاندي په ځان باندې حرام
زړه يې که بيـــدارنه وي بـيدارې مـه ګـنه
يارجـــاني بـويه څـــه پـــکار يـــار نانـــي
يارچـــې وي غـــرض دپـاره يارې مـه ګنه
هر څوک چې په دين د محبت کې وي نادان
هـــوښ که ددنـــيا لري هوښيارې مـــه ګـنه

"۲۷۱"

کـــه غافـــل يې پـه مـــکه ومـــدينه بنـاپـــيرک يې پـه مسجد دادينـــه
ياري يـــارسره کړه غـيرسره غـــيري دهـــرچـــاده خـــپله خپله قـريـــنه
دلتنګ مـشه دبدګـوی له بدی هـيڅ هرڅه ځای کړه پکې ارته کړه سينه
بـــيوفا سړی نامـــرددی پـــه جـــهان بنـځه بـــه تـــردې هـــسې ناريـــنه

ته آشتی ورســـره کړه که يې حکيم که هـرڅودرسره کاندي څوک کينه
اوس چې زوړشوم هر ګناه مې کړه مـعاف دمـــعصوم په ځای سړی شي ديرينه
غـــم ښادي ســره ترڅې دي په دهـــر دمـــچی زهـــر ســـره وي ګـــبينه
چې دانا وي ښځه،مردې[1]وي نادان آرتـــينه مـــيړه، مـيـــړه شي ارتينه
مـــحبت دباد شـــاها نوشـــه مولا
دخوبانـــو چـــې بنده شه کمـــينه

"۲۷۲"

مـــينه تل دمـردوزن دځـــان بلا وه مـــبتلا يې هم مـــجنون هم زليخاوه
مـجنون مرد وه فريفته په ليلا باندې زلـــيخا ښځه يوسف باندې شيداوه
پـــه قالوابلـــی شه پـوه چې عاشقانو دعـــوی کړې يې دمـينې لا پخواوه
لـــه هغه راهيسي زه هم ستا ذ ره وم جـلوه ګر چې آفتاب رويه څهره ستاوه
ګـل زما چـــې غـورِيده هوادمـــينې الـــوتلی پـــدا ګـل لـکه ســباوه
ستامجنون چې دوجود په شهرګلپشه له هغې ورځې دعشق هـم پرې غوغاوه
لـکه شـــمع چې بينا دخندا پريووت ورســـره يـــې لـګـيدلی هـم ژړاوه
پـــه نامه مـــې محـــبت شه ترابده
لـــه ازله چې زمـــا ميـــنه پـــه تا وه

"۲۷۳"

ډيـــرستو مان دزمـــانې شـــوم له ستوهه
خـــدايه کله به مې خـــلاص کړې اندوهه
چـــې له غـمه نه خـــلاصـيږم بارې وايم
دنســـب حسب احوال بې مـــکرودړهه[2]

---

(۱) مردې :مردې
(۲) اصل : مکروروه

زه پـــه اصل کې برېښې شـــرخبون[1] يم
بـــدل زی هـــم کوټه خيل يم وکړه پوهه
عـــزيـــزان مې کـــه تريـــن وابدالي دي
زه پـــه شمار ديوســـف زويم لـــه ګروهه
کـــه اجداد مـې دپښـين وښـوراوک وو
روهـــيلی يم چـــې مې پلار راغی له روهه
پيداشـــوی که هرځو په هـــندوســـتان يم
ولـــې اصل دسلـــيمان لـــرم له کـــوهـه
چـــې طوطی يم پريښتـــه دهنـــدُستان هـم
ګـــوياکـــيږم واوره اې خِـــرد پـــژوهـــه
تکـــلم په عـــربي هم په فـــارســـي کړم
لـــه عـرب ومـغل دوريم په څـــو کروهه
ســـيد هم نه يم غـــلام يم د ســـيدانو
مـــحبته دافـــغان يم لـــه انـــبوهـــه

"۲۷۴"

په جـــهان که ښـــايسته يـــوسف بســـيار وه
ولـــيکن کـــله مـــخی زمـــا ديـــار وه
سوړبه پروت په شـــان ديخ وه ستادوړاندې
دلـــيلا دحـــسن ګـــرم چـــې بـــازار وه
کـــه متاع دحـــسن ســـتايـــې وي ليـــدلې
دعـــذراوامـــق بـــه کـــله خـــريـــداروه

---

(۱)

په جـــهان دې نظر کړی کـــه شـــيرين وي
ســـرې[1] مات لکه فرهاد به په کهساروه
ســـتا طالب به وه که تـــه يې پـــه هنګام وې
دشـــاهد عـــزيز مـــدام چـــې طلبګار وه
کـــه يوځـــل پـــه لاس يې تـــه وې پـــريوتلی
لـــه ايازه بـــه مـــحمود شـــوی ويزاروه
ځـــاريده تـــرتابه تـــه يې کـــه پـــه دوروی
آدم خـــان چې پـــه درخـــوبانډ نثـــار وه
بـــې اغراق وايم کـــه ته يې پـــه روزګار وی
دنل کـــله به دمـــن ســـره روزګـــار وه
هـــير رانـــجا، سسی پنون ســـره مـــين وو
يـــودبل به ستا دوړانـــدې کـــله يـــاروه
مـــحبته ستا مـــحبوب دوارو شـــاه دی
هر محـــبوب يې يوادنی بنده خاکساروه

"۲۷۵"

ته چـــې تلې پرون پـــه مابانـــدې قـــيامت وه
چـــې لاړنشوې په خيرتير شه لوی آفت وه
دلآرام پـــه جهان ډير دي زه يـــې ځـــه کړم
هـــغه نشته چـــې زمـــا دزړه راحـــت وه
چـــاته وګورم نـــظر کـــړم کـــومـــه خواته
هـــغه نه ويـــنم چې نـــور دبصـــارت وه

---

(۱) سرې = سريې

اوس ګلـــزار واړه خـــارزاردی بـــې لـه تانه
دګـــلزار خـــوهم پـــه تـــازیب وزینت وه
چـــې ته نه یـــې ټول کارونه مې خراب دي
چـــې ته وې زمـــا دهـــر کاربـــرکت وه
مالـــداري مې ستا په عشق کـــې وه بـــسیار
لـــعل ودرد خـــپلو اوښـــومې دولـت وه
ګـــدایي دې دکـــوڅـــې مـې بادشاهـــي وه
ســـتا په درکـــې هرذلـــت زما عـزت وه
خدایه هغه وخت مې بیا به هـــم نصیب کړې
چـــې هردم له خپله یاره مـــې صـحبت وه
نن ناله په غـــورمې پـــریوته دردناکه
کـــه غلط نه شم فریاد دمـحبت وه

"۲۷۶"

یارلـــه مانـــه ګـــریزان دی لکه وه هـــغه هـــسې بدګـمان دی لکه وه
ستا وصال مـې نشه هـیڅرې نصیب ډک په زړه کې مـې آرمان دی لـکه وه
هـــډو نشوم زه دعشق له بلاخلاص هـــم هـغه آفت د ځـان دی لکه وه
راغی خط پـه مخ دې حسن نه شه کم ســـتا جمال په هغه شان دی لکه وه
زه بـــه هیڅ نه وایم وایه راته سـپک ستا خاطر رابانـــدی ګـران دی لکه وه
غـم دی نه کړهډو لاس پورته لـه ما هـــم هغه د زړه سوهان دی لکه وه
نـــه کـــمیږي غـــم دیار زما له زړه هـــم هغه هـــسې پریوان دی لکه وه
چـــې مې غم لکه پخواوه هسې دی ځـکه ځیرې مې ګریوان دی لکه وه

خـــواوشا چې دې ياران ووشـــو اغيار
يوعاشـــق محبـــت خـــان دى لكه وه

"۲۷۷"

امـــيد واريم هر زمان لـه خپله خدايه چـــه به ورسئ[1] مـــينه مې ترځـــايه
شي فاني دې كه ډيرماغوندې فـاني شي ســـتا بقابـــويه ته تـــل تـــرتله پايه
په هـــجران كې په دروغه دوصال خپل ځـه كلام تسـلى بخش خوراته وايه
چـــې كوې چارې بدترې ترچارپايو كه دوه ښپې[2] لرې مرغه شولې دوپايه
دانگاه دې دى كه غشى ياتوپک دى چـې داهـسې مردمان وژنې له ورايه
هرناكس لياقت نه لري چې كس شي پـــه هرچا ســـايه گستر مشه همايه
.كه حريص يې دكونين خواري پـــه تاده چـــې خسران ددين دنيا لرې گدايه
ولـــې زړه خپل پدا كاخ تړې نادانه چې پوهيږې آخر تله دي له دې سرايه
چـــې كار نه كاپه ويل دنيک خواهانو
محبته ځان په څنگ كړه له خود رايه

"۲۷۸"

نـــه خورشـــيد مې دى پـــكار نه قـــمربـويه
مـــالـــره يو هـــغه مـــخ منـــور بـــويـــه
قـــدم ږدي نـــشي په لار دمينې هـــر څوک
پـــدا لارلـــه خـــپله ځـــانه ســـفر بـــويه
چـــې څښتـــتن شـــوې زما نگاه پـه مـا كړه
دولـــتمند لـــره پـه خـــوارو نـــظر بـــويه
ســـتا قـــدم زمـا دســـرتـــاج دى راتـــيرشه
كـــله كلـــه مې پـه خـــاوروگـــذر بـــويه

---

(۱) ورسړې
(۲) پښې

هــغه غشی څــه پکار چــې کار ګـرنه وي

هــم په آه هــم په نالــه کــې اثر بـویه

محــتسبه ځـــان ســاته لـه میـخوارانــو.

الــبته لــه مــست هــاتــیانو حذر بویه

ویــره کــړه په تورو زلفــوپې لــه خالــه

چــې شب روته لــه رهــزنه خطر بـویه

زده انــداز ددلبــري کــړه کــه دلــبرپې

خــود پوهــیږې چې هر کار له هنربویه

کــه محبوب پې شــه آګاه له محبته

معــشوقان له عاشــقانو خبــربویــه

"۲۷۹"

زړه مــې داغ کــا په غــمونــولا لـه رویه

ګـل اندامــه ســنبل مـویه ســمن بـویه

معــطر تمام جــهان پې پــه نــګـهت شي

چــې خوشبوی زلفې خورې کا عـنبرمویه

وي پــه مراد د هغــه کــس دواړه جــهانه

معشوقه چې پې خوشرویه وي خوشخویه

څــه خــوبي خودې کــوځــه لـري ترزیاته

چــې جنت ته نه ځي هیڅوک ستاله کویه

صــراحی دغــنچــې هــم پــیالــه دګـلو

ســیالي نه کــاســتاله جــامه له سبو یه

وغـــنچې تـــه مـــې د زړه بـــادســـباشـــي

هـــر يوبـاد چې هيسته راشي ستا له سويه

کـــه هر څوپه ګـرزيده شي ښـپې [1] مې ماتې

لاس بـــه نه کړم پـورته ســتا لـه جستجويه

په کـــوم غم دې مبتلا کړچې عـــاشق ســـتا

يـــوساعـت نه وي خـــالی لـه های وهـويه

مـحـــبته لـــه عـــجـــمه تـــرعـــربـــه

درست جهان معمورشه ستا له ګفتګويه

---

(۱) پښې

ی

"۲۸۰"

په ښایست هغه یکتای هسې یودی لکه خدای
که یې غواړې آرایش په زړه ځای کړه دلآرای
ځای کړه خپل دیارپه در ولې ګرزې ځای په ځای
که طلب کړې بادشاهي دکوڅې یې شه ګدای
چې سایه کاندي مدام ستا په سرلکه همای

هغه یارچې همیشه خود آرای دی خودنمای
کله را به وړي تشریف چې راکاندي سروپای
که طالب یې دخو ښی غمګین اوسه پداسرای
هغه خاندي په قهقه چې ژړا کاپه های های

کاربه ستا کاواړه جوړ
محبته کار فرمای

"۲۸۱"

په طلب یې که آسمان ته څوک ختی
ماغوښتلی به فلک وه لرغونی
زیبایش یې وي په خاورو ستا د در
دعاشق ګرد وغبار کړ خدای کالی
ستا شیدا دی دمُرده ووپه حساب
په جهان کې که هرڅوک ګرزي ژوندی
چې نظر ددوبیني نه لري څوک
خپل ښکاریږي وهغه وته پردی
آخر تله دي وطریق ته دعدم
دغه لارده څوک روستی[1] څی څوک وړنبی
هغه وي رښا دیار دخاص محفل
چې پیدا کا لکه شمع دزړه سوی
زما اوښو ته باران شه هسې هیڅ
لکه هیڅ قهر دریاب ته شي نه دی

---

(۱) وروستی

هـــې پښې شـــه راته عـــشق ناڅـــاپه ســـتا
لـــکه پـــښې ناګـــا هـــه چاته شي مـــزی
ازلـــی مـــست یم نـــاصـــحه شـــپه وورځ
هـــمدمـــان مـــې دغـــه دوه دي مې ونی
کـــه هـــرڅو وي اوبـــه ډيـــرې پـــه کوهي
ولـــي ســـيال بـــه ددريـــاب نشي کوهـــی
لـــيوني وي ليـــونـــي هـــوښـــيار هـــوښـــيار
پـــه هـــوښـــيار څـــه شوکه خاندي لـــيونی
بـــوالـــهوس وي بوالـــهوس عـــاشق عـــاشق
مـــچ به نـــه کـــاندي پيدا دپتنګ سـوی
غـــرض داچـــې ياراغـــيار سرکـــړه بيل
مـحـــبته ګـــل دی ګـــل اغـــزی اغـــزی

"۲۸۲"

هـــره ورځ می پـــه زبان قـــيل قال ســتا دی
هـــره شپه زړه مـــې مـــشغول په اشغال ستا دی
دادخيال دی چـــې ګمان دخوب پـــه مـــا کړې
کله خوب کاندي هـغه چـې په خيال ســتا دی
مـــخ په ورځ سپورمی پنهان کا نمـــرد شپېيه
چـــې هر يـــو خجلت زده کا جمال ستا دی
پـــه دنـــيا کې جنـــت نشته ولـــې خدای ږو
پـــه دنيا کې کـــه جنت دی وصـال ستا دی

هـــو زړه يـــې وهـــيچاتـــه نـــه ســـپينيږي
ســـيه دل چې په رخسار بـاندې خال ستا دی
کشکی کیدم[1] يې په سترګو هم يې ښکل [2]کړم
چـــې د مـــخ پـاکـــيزولو رويـــمال ستا دی
عاشـــقان چـــې واړه هســـې جنجـاليان شول
نوريې هـــيڅ نشته جنجال خو جنجال ستادی
په جـــنت هـــغه به حور وقـــصور څـــه کـــا
هـــرساعت هره ګـړی چې لـيوال ســتا دی
دهـــغه طالـــب دســـوري خـــود هـــمای شي
چـــې يې تـــل سوری په ســـرد دوال ستا دی
محـــبت له کـــومه ستا نظـــير پيدا کا
چې يې مثله يې ته چرته مثال ستا دی

"۲۸۳"

دا مـــحبوب چـــې په جـــهان دريکتا دی
چـــې درياب د مـــحبت يم خوزمـــا دی
خـــود هر چرته يې جلوه لـکه آفـتاب ده
چـــاته وستايم جـمال يې پټ لـه چـادی
پـوشيده ذات يې ظاهر دی په صـفات کې
هـــرصـــفت يـــې پـه يواســم مـسما دی
چـــې سا اخلم هـــر نفس زنده ګې مـومم
ځـــکه وايم پـــه هـــردم مـــې مـسيحا دی

---

(۱) کښيږدم
(۲) اصل : خکول

مـــهرومه عـــجب نعمت يې دی په خلقو

چـــې[1] خوان ډک په نقره بل په طلا دی

هـــر بلـــبل کـــاندي فـريـاد دده له شوقه

هـــم هر ګـــل يې له هـــوسه په خندا دی

دخـــاوند نګـــاه وي تل پـــه غلامـــانو

مـــحـــبته زه بنـــده يم دی مـــولا دی

"۲۸۴"

داچې تيغ په لاس را ځـــي خونخوار دچا دی ؟

نـــن دچاوينې به تـــوی کـــاوار دچـــا دی ؟

دنـــګاه غـــشي يې عـــين پـــه زړه مې لګي

پـــدار نـــګه يې خـــطا ګـــذار د چـــا دی ؟

چې لا لا[2]شه ترې داغـــي شونډې دچـــا دي ؟

چې شه ګل ترې ځګرخون رخسار دچا دی ؟

پـــه مخ ګـــل په تن نـــسرين سنبل په زلـفو

ســـرترپـــايـــه داګـــلزار بهـــار د چـــا دی

داچـــې ســـترګـــی يې بيمارې همـــيشه وي

خـــوزمـــا آزار دی نـــورآزار دچـــا دی ؟

داچـــې زړه مـــې وخـــپل ځـانۀ وته مايل کړ

دلآرام دلـــبر دلـــدار نـــګـــار دچـــا دی ؟

دادی ځـــوک چـــې په اندازو نازرا درومي

داچـــې زړه پـــايمـــالئ[3] رفـــتار دچا دی ؟

---

(۱) چې يې

(۲) لاله

(۳) پيمالوي

داچـــې دي راتـــه خـــواږه ترخـــه ويـــل يې

لذت بخـــش هسې شيرين ګـفتار دچـا دی ؟

داچـــې هرچرته جـــلوه لکه آفـــتاب کا

نـــيوهـــيږم مـحـــبته يـــار دچـــا دی ؟

"۲۸۵"

نـــنداره يـــې کـــړه دقـــد صـــنوبر دادی

نـــظاره يې دجـــبين کـــړه قـمر دادی

شوندې سرې اوغاښ يې سپين طلب مدام کړه

طلـــبګـــاره لـــعل دادی ګـوهـر دادی

جـــرعه نوشه يې له خـــولـې کړه تشنه لبه

دحـــيات اوبه که غـواړې کوثـر دادی

که ســـاتی شـــې زړه تـــرې وساته ناصحه

چـې يې ورې دغه دی راغی دلبر دادی

کـــه يې ولـــګې په زړه اور دفـــراق ســـتا

دوزخـــيان به هـــم نارې کاسـقر دادی

که بادشاه په زړه آزاد لـــه بـــادشاهـی وي

بـــل څوک نه دی قـلندر قـلندر دادی

چـــې بانـــه کـــا ســـم زمـــا قـــتل دپاره

غـــشی دادی نيزه داده خـــنجـر دادی

پـــه طلب يې طلـــبګاره ناست په کور کې

مـــسافر شـــه لـــکه ژرنده سفر دادی

بل هـــنر څـــه هنـــر نه دی مـــحبته
یود میـــني هنر زده کـــړه هـــنر دادی

"۲۸٦"

چـــې لري مـــخ لـــکه شـــمع یار زمـــا دی
چـــې په مخ يې پـــروانه شـــوم کار زمـا دی
چـــې رغـــیږم په شـــربـــت دې دلـــبانـــو
کـــه په خوله مې خوله کښدې [1] زار زما دی
دااغـــیار چې مـــې لـــه یاره نـــه بـــیلیږي
کـــه جدا مې چرې بـــیامـــوند پـــلار زما دی
ســـتی ځان سیزي لـــه عـــشقه په بل اورکې
کـــه په عشـــق ترستی کم شم عـار زما دی
مجـــنون تـــیرشـــه دلـــیلا پـــه زمـــانه کې
اوس دلـــبره ســـتا پـــه دوروار زمـــا دی
تـــه زمـــا بـــاغ وبـــهار یـــې ولـــې ګـــله
دارقـــیب دې پـــه پهـــلو کې خـــار زما دی
هـــغه ســـترګـــه وایي صیدز مـاو زړه تـــه
هـــوسی وایي ومـــزري ته ښـــکـــار زمـا دی
ســـتا وصال مـــې دی جنت هم په دنیا کې
ســـتا فـــراق هـــم پـــه دنیا کـــې نارزمـا دی
محـــبته چې منـــصور دزمـــانـــې یم
که پوښتې مې له معراجه دار زما دی

---

(۱) کښېنږدې

"۲۸۷"

چې کیفي مدام دمینې په شراب دی
وګزک لره یې هم د زړه کباب دی
په یوحال وي له ازله تر ابده
سرمدي چې ستا دحسن آب وتاب دی
دیوې بوسې له غمه دې هلاک شوم
که په لب مړی ژوندی کړې ډیر ثواب دی
راتر غاړه وزه شرم یوپلو کړه
چې زه ستاشوم ته زما شوې څه حجاب دی
چې داخل دی په حساب کې دمینو
ددنیا کله تر مینځه یې حساب دی
چې مې ته کړې منتخب له هره سویه
آفرین تحسین زما په انتخاب دی
ستا په مخ که یې رنګ نه دی الوتلی
زیړ مدام په څه سبب رنګ د آفتاب دی
کدورت دآسمان نخښه[1] دباران وي
ټول رحمت دی دبزرګانو چې عتاب دی
وساحل ته دنجات هغه به رسي
په دریاب دمحبت چې څوک غرقاب دی

"۲۸۸"

په نصیب کې دچا خاورې دچا تخت دی
که افلاس دی که دولت هر یوپه بخت دی

---

(۱) اصل : نښه

کـــه پـــه آه لـــرئ اثـــر فـــرهـــاد مـــنشو
دشـــرين لبـــانـــو زړه ترکـــا نې سخت دی
دخـــزان داړه آخـــر بـه يـــې غـــارت کـــا
چـــې پـه بـاغ کـــې دغـنچې ترڼې رخت دی
نور غـــمونه کلـــه زيات شـــي کله کم شي
غـــم دمينې په هر چـــاچې دی يکلُـخت دی
په جـــهان هـــر بلندان خـــاک نشينان دي
چـــې يې سوری په هـــر چـا لکه درخت دی
چـــې آهن نشـــي ګـــداز څـوک به ګدازکا
زړه ديـــار چـې تر آهـــنه لا کـــرخـــت دی
شـــيرين لـــب په ميومـــست دی مـــحبته
که بوسې ته يې هوس کړې دغه وخت دی

"۲۸۹"

کـــه دولـت دی روغ صـــورت دی روغ صـــورت عـجب دولـت دی
چـــې ګـــدای ديـــار ددر شـــه پـــه نصـــيب يـــې ســـلـطنت دی
چـــې ګـــنج خښ[1] په هغه ځای وي هـــغـــه ګـــنج دقـــنـاعـــت دی
دولـــــت هـــغه دی مـــونـــدلـــی چـــې مـونـــدلی چـــا عـــزت دی
کـــــاذبـــان وي بـــــي ايـــمانـــه ايمـــان څـــه دی صـــداقـــت دی
يـــاد ديار پـــه هـــر ســـاعـــت کړه دا طـــاعـــــت دا عـــبادت دی
صـــلاح څـــه غواړې په عـــشق کې کـــار دعشـــق يې مـصلـحت دی

---

(۱) بښ

کـــه تـــه مـــال دچـــا وانخـــلې هـــم دغـــه دې ســـخـــاوت دی
هـــغه نیـــک بـــه هـــډونـــه شـــي چـــې دبـــدو هـــم صـــحبت دی
نیـــت ښـــه بـویـــه وهـــر کـــار ته چـــې هر کار موقوف په نیت دی
پـــه طلـــب دیـــار روان شـــه بـــرکـــت پـــه حـــرکـــت دی
خـــدای دې څـــوک بې پـــته نه کا چـــې بې پـــت دی بې حرمت دی
کـــه حـــکمت غـــواړې عـاشق شه عـــشق هـــمه واړه حکمـــت دی
چـــې له عشقه څـــوک خـــارج شه خـــارجـــي دی پـــه لـــعنت دی
پـــه ژړا کـــړونـــي وریـــږي هـــربـــاران چـــې د رحـــمت دی
غـــرض دیـــن دی که دنیـــا ده
مـــحـــبت دی مـــحبـــت دی

"۲۹۰"

دهـــر چاله دې دنـــیا داد وبیـــداد دی
چې څوک راغی په دنیا کې په فـریاد دی
یـــونادان هلـــک په هـــیڅ دی غولیدلی
دنـــیا دار چې ددنـــیا په بنـــادی بناد دی
دنیا څـــه ده یولوګی دی یوځـای شو ی
چې یـــې عـــمر مـــنتظر دیـــوه بـا د دی
پـــه مثال کې دادنیـــا لـکـــه دریاب ده
پـــه یوځای کې ددریـــاب کله استاد دی
بـــې بقا لـــکه بـــنا چې دحـــباب وي
ددنـــیا عـــمارت هـــسې بـــې بـــنیاد دی

چـــې شه وار ددنيا تير اکثر دې هـير کړ
نوريـــه هم کړې فـراموش چې څه دې ياد دی
څـــوک بندي ددنيا مـــشه مـــحبته
سخ دهغه چې له دې بنده آزاد دی

"۲۹۱"

عـــالم ګـير هســـې دزلـــفو دې کمـــند دی
چـــې يې وينم يوجـــهان پـــکی په بند دی
ته حـــاجت دوصـــف څه لـرې آفـــتاب يې
چې ښايست دې په تمام جهان څرګند دی
ډيـــرتر خـــه وايـــي شـــکرو انـــګبـين ته
خبردار چې ستاد شونډو څـوک په خوند دی
دجـــهان شـــيريني ســـتاتر شونډو ځـار کړم
که نـــبات دی که شکرې دي که قـند دی
کار مشکل مې شه په عـشق کې ولی خوښ يم
هـم پدا چې ســتا خاطـر مشکل پسند دی
کـــه يوه ګړی وصال دې مـې روزی شـــې
نورنه مـلک غـوارم نه مال غوارم سوګند دی
نـــوم يې غـــم دی ولی زه پـــه عـشق يې بولم
چې زما خاطر په غم کې دې خورسـند دی
رشـــته قـــطعه مې له خـــويش واقـربـا کړه
اوس زمـــا د زړه لـــه تا ســـره پـيوند دی

یـــادشاهان که سرفراز په بادشاهي دي
محیـــت په تـــاج دمیتي ســـربلند دی

"۲۹۲"

عـــاشقي کړه غـــرض دي خپل بهبود دی
پـــــه زمان د مـــحیت کي واړه سـود دی
دچـــا زړه دعـــشق له اوره خـــاکستر شه
چـــي ایري يې مـــزکه ده آسمان يې دود دی
مسلمان په خـــفي شرک که آګـــاه نه وي
هـــم مشرک هم نصاری دی هـــم جهود دی
خـــان يې پـــټ کړ ولیـــکن پـوشیده نشه
چـــي د ذات يې په صـفات کي يې نمود دی
پـــه غضب وماته ګـوري خدایه خیر کړي
چـــي نن غـــشی د نـــګاه یـــي زهر آلود دی
زړه دیار چـــي سواسخت دی ترهغولا ده
کـــه چـــانـــرم کـــړیـــه آه هـــغه داؤد دی
عـــاشق تل لکـــه لرګـــی له غـمه سوځي
ولـــي بوی تـــري چې دعشق پیداشي عود دی
پـــه بنده ګـی دخپل صنم سړی مـولا شي
چـــي ایاز کـــا خـــان په عشق هغه محمود دی
کـــــه بلا د محـــبت را باندې رائی
محبت یم دامې عین د زړه مقصود دی

"۲۹۲ الف"

هـرسړی چـې لـه کعبی د زړه خبر دی
دهـغـه ورځې هـردم حـج اکـبـر دی

کـه ضـعیف بـصر دې نه وي بنایږګه
پـه آفاق کې ښـکاره حسن یې لـکه نمـردی

دیـوانـه غـشو څـوک وږ وي جـانه
سـتا د غـشي په آرزو مـې زړه څـګر دی

چـې پـه سـریې مـدام بار دتعـلق وي
تـرهـغـه انسـانه بـه ګـاوخـر دی

پـه هنر که څـوک لقمان دزمانې شي
څـو چـې پوه له عشقه نـشي بـې هنر دی

تـه په شـوق یـې د نـګاه په غشو وله
مـرنی عـاشق خـودرتـه سـینهٔ سـپر دی

ورځ دې شـپه ګـنلې ده چـې لاوده یې
کـه لـه خـوبه دغـفلت پاڅـې سحر دی

کـمراه دی چې تا پـه بلـې لارې بیا یې
کـه په لارې دعـشق بـودې زې رهـبر دی

پـه ګـناه دمـحبت څـوګـنهګاریم
بل ګناه مې نه دی کړی خدای خبر دی

"۲۹۳"

نـن زمـا اوسـتا دمـینی هسـې شور دی
چـې مذکورې (۱) په عـالم کې کوروا کور دی

چې خوږې (۲) په مخ دې زلفی کړې تازه مـې
لـه هـغه راهیـسې ترمې ترمې خور (۳) دی

---

(۱) مذکورې
(۲) اصل: ښوری
(۳) اصل: ښور

زنـــګ دزړه د زاهد کـــله ځـي لـه زهـــده
سپين به نه شي هغه څيز چې اصل يې تور دی
بـــسم الله که ددیدن پـــه عـــوض ســـروړې
ســـرحاضر مې دی که ستا راباندې پور دی
په دهلیز چـــې دې ځـای راکړ تخت نشین شوم
هم ډلـــی[1] دی دازمـــا هـــم مې لاهور دی
اې د عـــشق بيـــقراريـــه راشـــه يـــوســـه
څـــخو صـــبر مې پـــه زړه لاپـــاتی نور دی
ددنـــيا پـــه آزادي څـــله نـــازيـــږ ې
هـــر آزاد ددې دنـــيا بـــندي دګـــور دی
نه پـــوهيږم ســـوزم زه لـــه کـــومـــه سوزه
داپوهـــيږم چې مـــې بل پـــه زړګـــي اور دی
زور لـــرې دطـــبيعت محـــبت خانه
معلوميږي ستاله شعره چې د زور دی

"۲۹۴"

هرقـــدر چې ناز پـــرورہ ســـتا راباندې ناز دی
زه چـــې يم عاجـز هومـره وتا وته مې نيازدی
څه جان بخش آواز وي چې څوک وايي دلبر راغـی
مـــړی چې ژوندی کاندي هـغه دغه آواز دی
عـــشق که مجازي وي مـــجـــازي ورته مـه وايه
عـــين حقيقت دی کـــه رهبر ورته مجاز دی

---

(۱) ډيلی = دهلی

راشـــه نندارہ يې کـــړه له شـــامه تـــر سحره

زړه مـــې لـکه شمع په عـجب سوزو ګداز دی

څـــه پوښتې زمـــا او دمـــحبوب احـــوال نادانه

چـــاته شي وايـــه چـــې دمـــينو سره راز دی

ســـترګې دواړه ســـتادی معـــلمې دښکار يانو

زده حملې له دوی کاکه شاهـين دی که شهبازدی

څـــه شـــوکه دنـــيالـــوړې ژورې لـــرې ډيرې

عـــشق هغه همـوار کاندي نشيب دی که فـراز دی

خدای چې کړم عاشق زه بـل دمسازو همدم څـــه کړم

عشق دی زما هر څه که همدم دی که دمساز دی

واوړم چې کلام يې شم محفوظ ترحد په هورته

ځـــار تر محـــبته چې عـــجب سخن طراز دی

"۲۹۵"

چـــې دميـــنې له ســـاغره جرعه نـــوش دی

په جهان کې هم هـغه صاحب دهـوش دی

تـــل پـــه يادکې دې مـــشغول يم تر داحـــده

چـــې مې ځـان هم له خاطره فراموش دی

ناقـصان په عشـــق فـــرياد لـــکه بلـبل کا

چـې کامل دی پروانه غوندې خاموش دی

ســـاقـــي ډکه کـــړه پـــيالـــه دمـــی نابـــو

راغـــی وخت دبـــهار غـږدنو شانوش دی

هـــواسرده شـــوه باران پـــه تـــرشـــح شـــه
هـرطرف ته درحمت دریاب په جوش دی
همـــکـــنار هـــغه کـــسان دي لـــه راحـــته
چـــې دلبرې [1]هـــم بغل وهـم آغوش دی
ســـخاوت کړه سخـــاوت کـــه هنر مـــندیې
داهـــنر دهر یوعیـــب پـــرده پـــوش دی
راشـــه ما پخـــپله تـــوره سبـــکـــبار کـــړه
بـــې له تا داســـرراباندې بارِ په دوش دی
دهـــرچـــا صـــدا چـــې واورم وایم ســـتاده
هـرساعت زما چـې ستا په آواز ګوش دی
محـــبت په مخ دخپـــلی ګلرخساري
دبلبل په رنګ له شوقه په خروش دی

"۲۹۶"

هربنده چې خپل خاوند ته په زړه صـــاف دی
که تقصـــیر ترې چـــرې وشي هـم معـاف دی
هغه کس چې په زړه صاف نه وي مخلوق ته
کـــه درست عـــمر عدالـت کانا انصاف دی
کـــه قـبول کړې دین دعـشق درته به یوشي
داتـــرمـــنځ چې دمـــذهـــبو اخـــتلاف دی
پـــه برقع دنـــنه ســـتاوروځـې مـې وژنـــي
عـــجب دادی چې شمـشیر دې په غلاف دی

---

(۱) دلبرې = دلبریې

خـــود په يار فـرق دعـــشق و هـــوس وکـــا
ددې ســـره ناسـره پخـــپله يار صـــراف دی
لـــه هـــر لـــوري خلـــقې دي درتـــه مـــاتې
چې شهرت دښايست توب دې په اطراف دی
کـــه اودل[1] زده دواړو ولی بيـــايو نـــه دي
چـــې ډير فـــرق د زردوزوبـــور يابـاف دی
کـــه مات نه کا دخود ی بت طواف کړونی
دکعـــبې هـــم بتـــخانې غـــوندې طـواف دی
چـــې له خدايه ملـــقب په محبت شوم
مـــاپـــدا دمـــحبت وهلـــی لاف دی

"۲۹۷"

د افـــلاس باعـــث مې واز ماوه نفـاق دی
ددولـــت سبب مـــې وليـــد اتفـــاق دی
کـــه خاکـــي يې په فـــرمـان دبوتراب شه
چـــې دپلار په حکم نه وي زويه عاق دی
جـــام په لاس معشوقه راغله مـــی پرســـته
اې زمـــا تـــقوی پـــرهـــيزه الـــفراق دی
تـــسلي يې په څـــه رنـــگه په پـيغام شـــي
زمـــا زړه چـــې ددیدار پـــه اشـــتياق دی
لـکه گل چې رنگ وبوی يې شتاب لاړشي
ددنـــيا هـــسې څـــوورځې طـمطراق دی

---

(۱) اوبدل

کـــه ګټـــنه دې لـــيکلې پـــــه جـــبين ده

يوبـــه سې بازی که جفت دی اوکه طـاق دی

چـــې دچـــا هـــغه پـــري شـــوه مـــسخره

دسـليمان په شان بادشاه ددرست آفاق دی

اشـــارت دی کـــفايت دعـــــراق آس تـــه

وتـــتووته دهـــندو ضـــرب وشـــلاق دی

ښـــايسته نه دی هـــــغه چې خوی يې بدوي

بدصـورت نه دیهغه چې نيک اخلاق دی

کـــريم کله لـــه کرمه خـــپل خـــالـي وي

غم درزق ولې کوې چې خدای ارزاق دی

تل ســـبق دمحـــبت لـــولم په زړه کې

محـــبت دزړه مې ښکلی په اوراق دی

"۲۹۸"

چـــې راکړی يې دلبـــر ترک اوزبـــک دی

داهـــم رابـانـــدی يوجـــور دفـــلک دی

لـــکه کا نی هـــسې ســـخت زړه دمعشوقو

وعـــاشقـــو لـــره کـــانې دمـــحک دی

دعـــاشق په بيـــخودي څـه تـــعجـب کړې

عـــاشق هرکـــله له ځـانه خپله ورک دی

پـــه غـــارت دزړه مې تل وي مـــلاتـــړلـې

تـــه به وايـــې افـــريدی دی يا ختک دی

هغه لوی مرددی چې ځان وعشق ته ټینګ کا

چې وعشق ته نشي ټینګ هغه مردک دی

کـــه يې ګـورې سره درست پـاره پاره وي

هـــغه زړه چې لکه ګـل په وينو ډک دی

ســـتا بنده يم اې پـــه حـــسن کـــې مـــليحه

پـــرورش مـې ســـتا دحسن په نمک دی

رقيـــبان کـــه څـــنډئ[1] تـــورې ومـــاتـــه

زه مـــلنګ يم ما څـخه هـم يوکوتک دی

ته پـــه عشق يې يقين نه کړې بدګـــمانه

محبت عاشق صـــادق دی بلاشک دی

"۲۹۹"

عاشق نه دی که يې عشق په بوی ورنګ دی

بوالهوس دی لـــه عاشقه ډير پـــه څـــنګ دی

عـــاشـــقان يې دبـــې نـــنګ په نامه بـــولي

چـــې په ميـــنه څـــوک پابند دنام وننګ دی

ملـــنګ نه دی چـــې ايرې په صـورت مړې

کـــه ايرې دعـــشق له اوره شـــي ملنګ دی

بـــې دميـــني لـــه صـــيقله نه صـــافـــيږي

دهـــر چـــاپه آئـــينه د زړه چـــې زنـــګ دی

زړه په هـــسې زوروحـــکم رانـــه غـــواړي

ته بـــه وايې چـــې پـــه مـــايې داقـــلنګ دی

---

(۱) څنډوي

تـــور بانه داســـتا چـــې دي دســـته دغـشو

لـــګيدلـی پـــه زړه مـــې هـــر خـــدنګ دی

صـــلح کړې هغه شـــوخ راسره تـــن هـــم

لـــکه وړمه پرون جـنګ وه هسې جنګ دی

ســـرتر پايه معـــطر چـــې خـــدای پـــيداکړ

بـــې لونـــک يې بـوی دخولې لکه لونګ دی

چـــې په اور دمينې ځان سيزي له شوقه

محـــبت دی ياستـــی ده يا پتنګ دی

"۳۰۰"

دهـــرشـــي کلـــه کـــمال کلـــه زوال دی

خويو خدای دی چې هروخت په يوه حال دی

ستا په غم کې مې په حـــال څـه څـــه تيريږي

نه پـوښتې مې هومره هم چې څه دې حال دی

دګـــلابو پـــه ګـــل داپـــرخـــه پـــرتـــه ده

کـــه ګلرو يه ستا په ســـرباند ســـپين شال دی

کـــه عالم دځـــوارلس علـــمو شي ناقص وي

ستا په عـشق چې وي کامل صاحب کمال دی

ځـــوخـــبرې دوه پـــه دوه خـــودرنه غواړم

نـــورله تا مـــې نه ځـــواب دی نه ســـوال دی

هـــر ذيروح دی پيدا شـــوی مـــرګ دپاره

که سل کاله وي ژوندی مـــرګ يې مـــآل دی

راشـــه زرپه تجـــلی مـې خـــاکـــستر کړه
اوس ژونـــدون رابانـــدی بې لـــه تا وبال دی
څـــخو پوه شـــه په کـــلام دشـــاعـــرانـــو
چـــې دهـر شـــاعر په څـــه رنـــگه مـقال دی
نـــصحیت رنگین رحـــمن لری پـه شعر کې
اومـــــرزالـــــه تـــصـوفـــه مـــالا مـــال دی
دخـــوشحال پـــــه ســـفینه څـــخورندي ده
لـــه شکـــوې دزمـــانې څـــه پکـــې قـال دی
مـــحبت په هرانـــداز چـــې ویل کـــــاندی
هم رحمن دی هم مرزادی هم خوشحال دی

"۳۰۱"

چـې دا نوم محبت خان مې دازل دی تـــرابـده مـــحبت راسره مـل د ی
بـــیوفـــا دی عـــبارت لـه مـــنافـــقه **مـنافق دخدای رسول همیشه غل دی**
لـــه بدبـــو یه خوشبو یې به پیدا نشي ګـــل به نشي دګلابو چې بصل دی
خـــبردار چې دنیکي طـمع ونه کړې لـه بدذاته چې په اصل یې خلل دی
داترخـــه خوارِه راغـــلي دي له ځایه **پـه دنیاکې هـــم حنظل دی هم عسل دی**
پـــه جاري دریاب تازه اوبه رادرومي **عـمرنه راځی بیانوی خوچـل چل دی**
په اوبو چې څوک کاغول په مـخ یې ورشي وهـــرچاته چې پیښیږي خپل عمل دی
زرکې ښپه [1]خپله ترحد په هـورته مړده چې له بازه کړې بازی خوستااجل دی
نـــورڅه نشـــته لـــه ازلـــه ترابـــده
محبت دی که آخر دی که اول دی

---

(۱) پښه

"۳۰۲"

هره ورځ وهر شپه په فکر ستا مې زړه مـــشغول دی

کـــه سـباد ه که بیګاده زمـا هم دغه معمول دی

که مـې سرغواړې دلبره که مې مال غواړې حاضریم

ته چـې هر حکم په ما کړې په لیمه زما قبول دی

چې عشق نه ګني حکمت څوک معلومات ورځـخه نشته

که حکیم هـم داویل کادغه حرف یې نامعقول دی

چـــې مدام دعـــشق له غمه یې په مخ اوښـــې بهیږي

دباران درحمـــت تل هم په هـغه باندې نزول دی

که خبرله حسن وعـــشق نه یې اوس زه دې خبرکړم

که مـــومن یې باور وکړه اول خدای دویم رسول دی

عـــشق واجب دی ثابـــت شـــوی له آیته لـه حدیثه

کـــه پدامسله بحث خـــه ملا کاندې فـضول دی

تر هغه به په رتبه دشـــهادت کې څـوک لوی نه وي

چې دښکلیو دغمزې ودعشوې په تیغ مقتول دی

دانـــکار خبـــرې تل کړې په اقـــرار هیڅرې نشوې

هـــم هغه کوي کلام چې له قدیمه ستا معمول دی

په فـــراق کې دې له غمه په وصال ستا له انکاره

مـــحبت په زړه ملول لکه چې وه هسې ملول دی

"۳۰۳"

کـــه ســـبادی که بـــیګاه وخت دعـــوام دی

دخاصـــانو زلـف ورخ دی صـــبح وشام دی

هـــرمولا چې په جـــهان دی ســـتا بنده دی

هـــرآزاد چـــې په عـــالم دی ســـتا غـلام دی

داســـپورمی دغـــره له ســـره را ښکاره شوه

کـــه مـې یارجلـــوه ګـرشوی په خپل بام دی

خـــپل مسجودته خـــود مې زړه قـبله نماشه

حـــاجـي هورته شه کـــعبی ته مـــې سلام دی

هـــریو صـــیدپـــکی پخـــپله راپـــریـــو زي

داحـــلقه حلـــقه ګـیسودې عـــجب دام دی

کـــه هر څـــوپه علم وعمر سړی پـــوخ شي

چـې په زړه یې دعـشق اوربل نه وي خام دی

دادچـــا دکـــور رنـــالـــه ورایـــه راغـــله

چـــې تـــرمـخ یـــې خـــجل مـاه تمـــام دی

مـــی دعـشق مې چې دي سکلي [1]له الستـه

څـکه شـــوق مـــې وشـــراب وته مـدام دی

اقـــتداور پـــسي کانئ مقتـــدیانـــو

محبـــت دعاشـــقانو نـــن امـام دی

"۳۰۴"

زاهـــدځه شو که شپه روڼه کاندي بـوم دی

پـه ســحر یې مـخ ته مه ګـوره چـې شوم دی

داپـــوهیږم چـــې مـــجذوب دیوجـــاذب یم

نـــه پوهیږم چې صـــاحب د کشش کوم دی

---

(۱) چښلي

تـــه خادم يې په خـــدمت يې قـــاصـــر مـــشه
کـــه قبول کايـــايې نه کانـــدي مـخدوم دی
پټـــيدی [1]شـــي کلـــه غـــل لـــه نـــظر بازو
ســـتا احوال راته له ســـترګو دې معلوم دی
چـــې پداجـــهان د زړه ســـترګـــې يې نه وي
لـــه ديداره پـــه هـــغه جهـــان مـــحروم دی
داظـــالم مـــظلـــوم يـــوازې زه تـــه نـــه يـــو
مـــعشوق هـر کـــله ظالم عـــاشق مظلوم دی
ملـــک ومال زرو دولـــت مـــې پـکار نه دی
الـــهی راکړې هـــغه چـې عـــشق يې نوم دی
عـــشق مې عـــقل يوورِ خلاص شوم له تکليفه
چـــې سړی بـــيرون له عقله شه معصوم دی
پـــه شـــهيد دمـــينې تـــل رحـــمت وريـــږي
چـــې شهيد په تيـــغ دمـــينې شه مرحوم دی
چـــامونډلی دی آرام په مـــحبت کـــې
کـــه آرام په محبت غواړې معدوم دی

"۳۰۵"

چـــې له فهمه وي بـــيرون هـغه جـــانان دی
هـــرچې درغـــی پـــه فهـــم ســـتاګـمان دی
کـــه ځان وباســـې لـــه دې کـــون ومـکانه
خـــود به وګورې چې ځای دې لا مکان دی

---

(۱) پتيدای

کـــه شـــي پـــټ دبې بـــصر وتـــر نظـــره
نور دې ځـای لکه عیسی پاس په آسمان دی

داچـــې خلـقوته لیده شـــي ټـول فـاني دي
چـــې بـقا لـــري ترســـترګـوبې پـنهان دی

کـــه هر څـــو څـهره یې پـــټه په نـــقاب ده
ولـــې حسن یې لـــکه نمـــرهـسې تابان دی

مـــخ یې پـــټ اوپه جـــلوه یې جلوه ګـردی
کـــه قمر دی اوکـــه مـــهر درخـــشان دی

لـه جـــهانه دې بـــیرون بـې شـــک وریـــبه
اولـه نـــوره یې روښـــان تـــمام جـهان دی

لـــیده نشي په هـــیڅ شـــان دسر پـه سترګو
که دې زړه ســـترګـې پـیداکړې نمایان دی

د بـــیرنګ په نـــیرنـــګـي رنګـــین دي واړه
که صـد برګ دی که لالا[1] که نافرمـان دی

بـــوی یې نـــشته اوپه بـــوی یې مـعـــطر دی
یاسمن دی که سـمن دی کـــه ریـــحان دی

هـــر یوه تـــه یې نـــګهت دی رســـیدلـــی
که عـــبیر دی کـــه عـــنبر که زعـفران دی

ســـترګی نه لري لیـــکن پـه توره شـــپه کې
دواړه مـــیرې احـــوال ورتـــه عـنیان دی

غـــورې نشـــته ولیـــکن که څوک کلام کا
دخـــبرو یـــې ســـامع پـــه هـــر زمـان دی

---

(۱) لاله

ژبـــه نه لري لیـــکن که څـوک ســایل وي
وخـــواب ته یـــې حـــاظـــر په هـــغه آن دی
لاس یې نشـــته ولې ګـــوره یې قـــدرت ته
چـې هـرکارد ده په لاس د درست جهان دی
بـــې نـــشانه دی لیـــکن که فـــهم وکړې
دامـــخلـوق دجـــهان ټـــول دده نشان دی
پـــه یوشـــان دی لیـــکن بیا که یې ګـــورې
هـــره ورځ وهـــره شپه پـــه نوي شـــان دی
هـــرالحان هـــره نغـــمه چـې اوریـــده شي
هـــم دده نغـــمه ده هـــم دده الـحان دی
هـــیڅـــوک نه کـــانـــدي کلام پـــخپله ژبه
هـــرڅـــویا چـــې ویـــل کـــاد ده زبـان دی
لـــــه ازلـــــه تـــــرابـــده نـــه زړیـــــرې
پـــه ځـوانې لکه چې وه هـم هسې ځوان دی
غـــرض داچې هر څه دی دی نورڅه نشته
ځـــکه کړی دابـــیان مـــحبت خـــان دی

"۳۰۶"

که هـــوښیار دی کـــه مـــجنون دی دهـــر یـــووتـــا تـــه یـــون دی
ســـتادمیـــنې ډکـــی جـــانـــه عـــین پـــه زړه زمـا زرغـــون دی
څـــه پـــوښـــتې قـــیامت لـــه مـانه کـــه قیامت دی خـــوبـــیلتون دی
پـــه عشق مـــرګ غـــواړم له خدایه مـــرګ په مـینه عین ژوندون دی

په نکـریزو لاس دې رنـګ کـړ یـاد چـا دېـکړی خـون دی
آخـر خبن[1] پـه ځـای به پـریږدي مـال دې زیات که ترقـارون دی
نـن د چـاغـم دی رابـانـدې چې مـې هـسې حال زبـون دی
لـه چـړې دبـیر حمـي دي خوږ زمـا هـمه لـړ مـون دی
چـې عـشق نه لـري کم ذات وي کـه مـغل دی که پـښتون دی
دادچـا پـه فـکر خـدایـه سـرمـي ایـښی په زنګـون دی
چـې له عـشقه ځـوک مـنکروي هـم مـردود دی هـم ملـعون دی

محـبت مې پـه دوه کـونه
رهـنمای اور هـنمـون دی

"۳۰۷"

چـې په زړه دې قبول کړی دعـشق دین دی
محـبته سـتا پـه پـوهـه آفـریـن دی
تریخ کـلام چـې دې په ژبه راشي خوږشي
خدای ډک کړی ستاپه خوله کې انګبین دی
تـه به وایې چې په ستوریو کې سـپوږمی ده
پـه خوبـانو کې چې ناست مې مه جبین دی
په آسـمان افتـخارمـزکه ځـنګه نه کـا
چـې هـغه خورشید طلـعت نمرد زمین دی
کـه هر ځـوواړه سړي پـه صـورت یودي
آدم نـشي چـې یې خـوی دشیاطـین دی
کـه نـظر لـري وفـرق تـه یـې ګـوره
پـه یوه رحـمت وریـږي بـل لـعین دی

---

(۱) بښخ

دمزري خصلت به هډوپيدا نه کا

که په شکل د مزري شيرد قالين دی

کوم عاشق هسې وهلی دی په له ته

چې له ضربه به يې مخ ټول دآسمان شين دی

نيرنګي کوي بيان چې دبيرنګي

محبته ستا کلام ځکه رنګين دی

"۳۰۸"

دقفس عندليب څه زده بوستان څه دی

خارستان وي په څه رنګ ګلستان څه دی

دګلرخ په تصوريم نه پوهيږم

چې بهار کوم يوموسم وي خزان څه دی

که ترمنځه يې دميني فرق نه وي

ترحيوانه امتياز دانسان څه دی

داناصح نصحيت مست کله غوږ باسي

وداناوته کلام دنادان څه دی

چې آفتاب دمزکې ته يې ورته بنايي

که په فخر مزکه وايي آسمان څه دی

چې کثرت دخپلو اوښو ګورم وايم

بې مايه قهر درياب دی باران څه دی

سرمدي جهان دعشق لکه غقبی وي

دهغه جهان په مخ داجهان څه دی

مـــدام مـــيني رســـتمان دي پـــرزولـــي

چـــې عـــشق راشي په کښتي پهلوان څه د ی

جـــام په لاس ناســـته شـــها درته تر څنګه

مـــحبته نـــور په زړه دې ارمـــان څـــه دی

"۳۰۹"

کوم ســـړي مدهوش دعشق په شراب نه دی

زړه دې کـــوم چې يې لـه غـــمه کباب نه دی

بيـــداري يوپلـــو هـــسې کـــم نـــصيب يم

چـــې ديدارې ميـــسرمې پـــه خـــواب نه دی

چـــې پـــه مينه کې څوک يې سروسامان شه

هـــم هغه لـــری اســـباب يې اســـباب نه دی

چې يې خدای په عاشقانو کښـې حساب کړه

وهـــغه ته غـــم په ورځ دحـــساب نـــه دی

دشـــهی نـــغمـه دلکـــشه تـــرې راخيـــرې

دا آواز دربـــاب خـــود دربـــاب نـــه دی

پـــه کتاب کې چـــې دعـــشق خبرې نه وي

غـه[1] پـوتي ده دهنـــد وانـــو کـــتاب نه دی

چـــې طوفـــان دخـــپلو اوښـــو ګـــورم وايم

چـــې تردې دريابه لـــوی بـــل درياب نه دی

پـــه بهار کـــې چـــې توبه لـه مـــينو شي کا

دهـــغه عـقـــل خـــطا دی صـــواب نه دی

---

(۱) غه = هغه

دهـــستي پـــرده کـــړه لـــرې مـــحـــبته
ستا دیار تر مینځه نور هیڅ حجاب نه دی

"۳۱۰"

چـــې آزار دعـــشق صـــحت دی آزار نه دی
تروبـــیمارې هم تندرســـت دی بیـــمار نه دی
یـــار هـــغه دی چـــې ویـــل دیار قبـــول کا
یار پـــه خـــولـــه چـــې داغیار شي څـــه یار نه دی
پـــه دنیا کې هر چه کار دی خود دعشق دی
بـــې لـــه عشقه چې نور کار دی څه کار نه دی
کـــه عاقل ته ګران کارونه ګران ښکار یږي
وعاشـــق ته هـــر دشـــوار هـــیڅ دشوار نه دی
بیدار هـــغه دی چـــې زړه یې غـــافل نه دی
کـــه غـــفلت لـــري په زړه کـــې بـــیدار نه دی
دنـــیا مـــکردی حدیـــث ولـــوله ورشـــه
کـــه زمـــا پـــه ویـــنا ســـتا اعـــتبار نـــه دی
می دعشق سکه [1]چې پـــه ورځ دحساب خدای ږو
داګـــناه دګـــنا هـــونـــو پـــه شـــمار نه دی
کـــه عالم وي هـــم عامـــل دڅوارلس علمو
چـــې عـــشق نه لـــري ګـــمراه دی په لا رنه دی
کـــه دینـــداربې مـــحبت وي مـــحبته
بې شـــبهې هغه کافر دی دیندار نه دی

---

(۱) چښه

"۳۱۱"

پـــوهيدم چـــې کار دمينې څـــه ګـــران دی
چـې مې ولید ډیر مـــشکل دی آســـان نه دی
عـــاشق مه ګڼه صـــحیح سالم چې عـشق یې
لـــوی مرض دی دمـرض که پـه شان نه دی
مـــخ دیار لـــکه نمـــراې رڼده په ستر ګـو
اشـــکال را دې کـــه وتاته عـــیان نـــه دی
حـــیرت بخـــش د آئیـــنی نه یـــې یـــوازې
هسې څوک دی چې په مخ دې حیران نه دی
ســـتاله غـــمه لاله رخـــې ګـــلرخـــساري
کوم یوګـل دی چې یې څیرې ګـریوان نه دی
لکـــه اوښ چـــې یې مهار دچـا پـه لاس وي
پـــه قـضاپسې دی څـوک چـې روان نه دی
غـــم یې هسې په جـــهان کې عـالم کیږ دي[1]
چـــاونه وې چـــې یې غـم مې په ځان نه دی
چـــې یې ســـترګې وي د زړه هغه یې وینې
جـهان عـشق دی دا جـهان څه جهان نه د ی
چـــې دیار په غـــم پریشان وي مـحبته
خـــاطر جمع د هغه دی پریشان نه دی

"۳۱۲"

ســـتاکرم لکه په مـاوه هـسې نه دی لـــکه مهر دې پخواوه هسې نه دی

---

(۱) کښږدي

له اقـــوال وله افـــعاله يې پـــوهيږم چـــې آشنا لـــکه اشناوه هسې نه دی
پيالـه نوشه کړه شايد چـې زړه يې نرم شه پـه سختي لـــکه ملاوه هـسې نه دی
درقـــيب صحبت اثر دربـــاندی وکړ لکه خوی خصلت چې ستاوه هسې نه دی
پـــه کاســـد بازار ددې ناقـدر دانو لـــکه قدر چـــې زما وه هسې نه دی
يار بيکار اقـرار دنن کړنن چې ګورم پـه وعـده لکه بيګاه وه هسې نه دی
مـقرر چا جفاکارې زړه يې واخيست لـــکه يار چې بيوفـــاوه هسې نه دی
په راتلـــه دې نن قـرارشه خلق واړه شور پرون لـــکه برپاوه هسې نه دی

شکر لب کوم يوپنهان له دې طوطي شه
محبـــت لـــکه ګـــو ياوه هـــسې نه دی

"۳۱۳"

پـــه بنـــايست کې بې مثال وبې همتای دی
ســـرتـــر پايه زمـا يارقـــدرت دخـــدای دی
په طلـب کې که دخـــدای يې زړه رهبرکړه
چـــې هـــم زړه دخدای دلارې رهـــنمای دی
قـــافـــله دعـــمر يون کـــاندی خامـــو شه
څه کاروان دی چـې رفـــتن يې بـــيداری دی
يار کـــه لاړ زمـــا لـه زړه خـــونه دی تلـی
پـه خـــپل ځای لـکه چې وه په هغه ځای دی
بادشاهـــی کاندی مـــدام چې ستا ګـدای ته
ددوال ســـوری دې ســـوری دهـــمای دی
يوبادشـــاه بـــه ورســـره ســيالي ونـــه کـــا
شـــان شوکت ليـــدلی ماســـتا دګـدای دی

په نـــسب سره حاکـــم محکوم بیلیږي
کـــنه یودی کار ګـــذار که کارفـــرمای دی
په آفـــتاب لکه جهـــان چې مـــنور شي
آرایـــش دزړه مـــوقـــوف پـــه دلآرای دی
کار دعشق په لاس وښپو[1] چا نه د ی کړی
مـحـــبته ځوان دکار بې دســـت وپای دی

"۳۱۴"

چـــې جوهر دوفا نه لـــري لاشی دی پـــه صفت تر بیوفـــانه بـــه سپی دی
مـــړنی کـــله سړی شي په جـــنګونو چـــې له عشقه مـقابل شي مړنی دی
لیونی دعشق هوښـیار په حقیقت وي اوهـوښیار چې ددنیا دی لیونی دی
چې لاس پورته لـه دنیا شه واړه یودی جـــام د زروکه دخاورو کنډولی دی
دعاشـــق تنبل شپیلـــی آه ونالـــه ده چې ځوک بل تنبل شپیلی وهي شپیلی دی
مـــاته څه وایې ناصـــحه زړه مې پوه کړه مست خو دی په هرشاعت دعشق په می دی
زه یـــوازې شاکي نه یم ســـتاله جوړه په فریاددې که سپین ږیری که ځلمی دی
بیګانه له ما مخلوق شه ستا په عشق کې هرسړی چې پرون خپل وه نن پردی دی
چې بې نوم محبت خان شه یقین کانئ
پـــیدا شوی محـــبت دپـــاره دی دی

"۳۱۵"

راشه ســـاقي وخت دنـــوبـــهار راغـــلی دی
ډک کړه جـام چې فـصل دګلزار راغلی دی
سرتر بنپو چې شوم لکه ګلزار په داغ دعشق
نـــورمې نـــنداري تـــه زما یار راغـــلی دی

---

(۱) پنبو

بیامې استخوان به لـګد کوب کاندي چې بیا
ســور په آس دناز هــغه شهسوار راغلی دی
زړونه بــه دخلــقو کا پایــمال لــکه میږي
یارچــې نــن له خیاله په رفــتار راغــلی دی
مه ځه نندارې ته یې دسترګو چې هر څــوک
روغ کــه هــلته تلی دی بــیمار راغــلی دی
ګــوره شوه اوریځ ســاقي نظر کړه په آسمان
مــی راوړه بــسیار ابر بــسیار راغلــی دی
بــیا یــې په کــشش دلبره راوســته ترمــا
هــرچرې دازړه مــې خپل پکار راغلی دی
یــارکه له اغــیاره نه بیــلیږي څه عــجب
ګــل سره مــدام له ځــانه خار راغــلی دی
کــوم آئینه روی شه مــقابل د محبت
نن لکه طوطی چې په ګفتار راغلی دی

"۳۱۶"

تــه بـه کــله هــیر وې هغــه وګــړی
چــې یې عمر ستا په یاد کې وي تیر کړی
چــا په زړه خپل درد وغــم ددې اخیستی
چــې تا عـیش عشرت نه دی وله ورکړی
هــم پداســبب هـر څــه غــوارم لـه تانه
چــې پوهــیږم ته په هــیڅ نه یې نیمګړی

هـــيځ طالب په ګـــرزيده نه ستړی کيږي
پـــه طلـــب ديار که نشي پـه زړه ســـتړی
هـــرعاشق چې په وصال ښادی مرګ نشي
ځوژوندی وي دمـــعشوق وي پـــوروړی
چـــې دعشق له اوره ســـوی دزړه پـــيدا کا
لـــکه شمـــع لاژوندی شي ســـر پـــريکړی
زنـــده دل په دوه جـــهانه ژوندی شماره
مـــرده دل پـــه دواړه کـــونه ګـــنه مـــړی
بـــيلتانه مـــې په خاظـر خواږه ترخه کړل
کـــه پـــه خولـه کړم ګـــبينه نشي رانغړی
زړه دې کوه دی پـــه مثال زه لکه کاه يم
تعجب دی چې په غره دروند شي خسړی
په زنځـــير به يې دوســـپنوبند نه کړې
محـــبت له بويه ســـتا دزلـــفو پړی

"۳۱۷"

شـــی به نشي چې يې خدای کانـــدي لاشی
چـــرته شـــوی دی شپين ږيري بـــيا ځـــلمی
رصـــاص زرخاورې اکـــسير شي پـــه کيميا
بدســـړی په هـــيځ شان نـــشي نيک ســـړی
ځـــوک کـــولی شي اوبه پـــه ډانګ جـــدا
پـــه وهـــل شـــړل به خپـــل نشـــي پـــردی

نه خـــوري هـــيڅ په خپـــله ګټه ريزه خور

دمـــزري راوړي خـــصلت لـــه مـــومه سپی

لـــه نامـــرده طمـــع مـــه کـــړه دمـــردی

چـــالـــيدلـــی دی غـــوولـــنی مـــړنـــی

ونـــالـــي وتـــه نـــظر کـــړه دبلـــبل

دعـــاشـــق عـجـــب اثـــر لـــري زګـيروی

چـــې ديار په محبـــت کـــې شه يکبين

محبت په درست جـــهان کې ويني دی

"۳۱۸"

ګـــل جلوه کړه عـــندليب په چـــغار راغـــی

ســـاقي ډکه کړه پـــياله چـــې بـهار راغـــی

اوريـــځ ګوره په آســـمان باندې ښکاره شوه

شـــراب ډيـــر راوړه چـــې ابربـسيار راغی

په ګـيسو ســـنبل په خوله غنچه په رنګ ګل

ســـراپاګـــلزار يعـــنی چـــې نګـــار راغـــی

ټول غـــمونه مې ده واخيسته په ځـان خـــپل

زړه زمـــا پـــه بـــدې ورځـــې پـــکار راغی

دجـــهان دونـــو پـــانې پـــه شـــمار راغـــلې

ولې غـــم دعـاشـــق کـــله په شـــمار راغی

پـــه را تله يې دخـــاطر غـــوټې مـــې واشوې

هـيـــڅ مشکل مې پاتې نه شه چـــې يار راغی

تـــرپـــرونه پـــورې غـــم ميـــلمه زمـــا وه
نـــن ميلمه شه درقـــيب چې دلـدار راغـــى
هـــغه خاورې مې رانـــجه کـــړلې دسترګـــو
لـــه پلـــوه يې هـــر يو چـــې غـــبار را غـى
نـــن يار راغـــى پـــــه بازار دې مـــحبته
شکر کړه دخدای چې ستا خريدار راغى

"۳۱۹"

سرچې ترې نثارمې کړ جانان مې دی موندلی
وه خـــوګران بهاولی ارزان مـــې دی مـوندلی
مـاوې چې مشکل سره به لاس لـره مې راشي
شـــکردی الله چـــې اســـان مـې دی مـوندلی
هـــم پداجهان کې دحـــباب پـه شـــان يارانو
بله مـــزکه خپله بل آســـمان می دی مـــوندلی
شان چې زما وينې بادشاهان هم په غيرت شي
ســتا په ګـدايې کې هسې شان مې دی موندلی
هـــرځه زما خپل شو چې دعـــشق لـــه برکته
هـــم هغه جـهان هـــم داجهان مې دی مـــوندلی
سرې شونډې ديارد خدای له فـضله مې روزې شوې
هـــم ګوهر مې بيا موند هم مرجان مې دی موندلی
شـــه اعراف هم دلته په ماتير چې په دنيا کې
کـــله مـې وصـال کله هجران مې دی موندلی

ښـــپې ابای ســـرتورا وتن په خاورو ټول لړلی
دا پـــه عاشقي ســـروسامان مـــې دی مـوندلی
یار چې ثابت ولیدم په عشق کې دایې ووې
ځـوان دمحبت محبت خان مې دی موندلی

"۳۲۰"

زه خـــو دنه یم په دلـــبرو پسې تللی پـــه کمـــند دزلفو دوی یمه رابنکلی
چې په دام کې یې ورکیوتم [۱]داهـــــې خدایه څـوک مې په نظروه کیو تلی[۲]
که مقبول یم که مرد ودیم خوهـــم ستایم پـــه دوه کونه ســـتالمن مې دی نیولی
بـــیرته بیاراغـــلی نه دیهـــډو چرې چې دیارترکوڅې څوک دی ورغلی
که له زړه دخلقو پریوزم غم مې نشته چـــې دیار لـــه زړه نه نه یم پریوتلی
نه پـــه دم نه په دارو دچـــارغیـــرې بـــې له وصـــله دفـــراق بـــلا وهلی
چـــې پدارنګـــه حیران دی سرتر پایه آئـــینی شایـــد جـــمال ددې لـــیدلی
هـــغه بیا طالب دشـــهد و شکر نشه چې دشوندو یې لذت دی چاڅکلی
خوی[۳]هم ستا وخوړفریب کنه تراوسه
مـــحبت لـــه ســـره چا نه وه ټګـــلی

"۳۲۱"

ته که دســـتم هرڅو په ماشې شـــدت کړونی
زه چـــې ستا شاکریم نه بـه شم شکایت کړونی
ذکـــر خپل وســـتا کړم دفرهـــاد ودشیر ینې
تیرې شوې قصی زه یې نه یم حکایت کړونی
عـــشق ته چې واجب وفرض وایې بې لـــه مانه
څـــوک دی ددې هـــسې روایـــت کـــړونی

---

(۱) کښېوتم
(۲) کښېوتلی
(۳) خویې

پـــندې [1] راکـــوه لاله[2] پتاپې چې نظـر شه

لـــکه زه وم هـــسې شه زمـا نصحیت کړونی

خوچې دساقي په مخ نظرې [3] شه میخوارشه

شیخ چې وه وماوته هـــروخت ملامت کړونی

سـعی بیهوده ده هـــم هـــغه ورته رســـیږي

هـرچې وهر چاوته قسمت کا قسمت کړونی

هیـــڅ اثر دنـــوح ویل په زوی یـــې ونه کړه

څـوک دی بې لـه خدایه دګمراه هدایت کړونی

غـــواړم چـــې دارودرنـــځ دمینې ترې ومـــاته

دریـــغه عاجـــزي ظاهره کا طـــبابت کړونی

نـــوم دمینې اخلی واړه ولی په جـــهان کې

بې له محبته دی بل څوک محبت کړونی

"۳۲۲"

یامدام داسرمې خاورې ستا د در وی یاد درخاورې دې تل زمـا په سروی

کـــه چا نه کتـــلی مه کتـــی ومـــاته خود یوصـــاحب نظر پـه مـانظر وی

یوځـــله دې رقـــیب وایستی له کوره چـــې زما پرې خواسړه اویخ ټټروی

مـــابـــه زړه درکړی نـــه وه دلآزاره **پـه جهان کې که بل تاغوندې دلبر وی**

مکلف شوم چې لـه ځانه خبردارشوم کشکې زه لـــه خپله ځـانه بیخبروی

داکشش د زړه دچـابه پـــکار نه وه که مـوندل دمعشوقې په زور و زروی

لـــه مـزرو سره زما به هـــمسري وه لکه سپی که په کوڅه دې مې ګذروی

---

(۱) پندې = پندیې

(۲) راله

(۳) نظرې = نظریې

مـــاخواري قـبوله کړې به دعشق وه که تردا هم زیات احوال مې لا بتر وی

مـــقرر بـــه جـــنتي وی مـــحبـــته

خوله دیار که دې روزی لکه کوثر وی

"۳۲۳"

کـــشکې یوځـــــله وصال د ښـکلیو وشوی

بـــیا عـــدم وته که تـــلی روان هلـــه شوی

چې اســـان شوی رســـیدل تـــریاره کشکې

بـــال وپرځان لـه پـــیداکـــړلی مـــرغه شوی

لـکه شمع اورد عشق په زړه حـــاصل کړی

ســرتـــر پایه له ګـــدازه یـــې اوبـــه شـــوی

یوساعت هـــم ژوندی وی پـه هـــجران کې

نیست نابـــود پـه اول ورځ دبیـــلتانه شوی

لاپـــخـــوا ترجـــدایې پـه وصـــل ومـــړي

چـــې دهـجر درد ودوک لـه پاتې نه شوی

نورځـه نـــاوریدی پـــه دیـــن وپـــه دنیا کې

خـــود مـــینې لـه کـــلامـــه اوریـــده شوی

یا په تور لـــیمه عـــاشق ړوند وی په ستر ګو

یـــاد یار ځـــای یې په سترګـو په لیمه شوی

دریـــغه هـــسې دارونشـــته پـــه جـــهان کې

چـې بـــې وصـله دفـراق له رنځه ښـه شوی

یوځـــله خویـــار زما په خولـــه شوی دریغـه

چـې په وهیره درقـیب خاورې په خوله شوی

یا له یاره سره ملاست په یو پالنګ وی

محـــبته یاد مرګ په خوب اوده شوی

"۳۲۴"

که وهر چـا څـــخه [۱]مـهر دســلیمان وی [۲]

مې باید هر څوک بادشاه ددرست جهان وی

هــرســـړي بـــه پـــیـــغمبر یـــابـه ولـــي وه

پـــه دنیا کـــې که ســـړي واړه یکسان وی

دآشـــیاپه حـــقیقت هـــر څـوک به پـــوه وه

کـــه پـــه علـم وپه حکمت لـکه لقمان وی

دعـــراق دآس بـــه څـــه قـــدر وقـــیمت وه

کـــه داخـــره وقـــچـــرواړه عـــراقـیان وی

چـــاغـــنم بـــه ګـــران بهـــا اخیـــسته څـــله

کـــه دغـــوښـــتو پـه مـــثال غـنم ارزان وی

فـــراغـــته واړه ناســـت بـــه پـــه آســـمان وو

دهـــر چـــا که دعـیسی په ځـای مکان وی

څـــوک بـــه لعـــلو لـره ته وبـــدخـــشان ته

کـــوتي لعل که لـکه لـــعل دبـــدخشان وی

لـــتول بـــه چـــا خـــواړه خـــواړه امـــونـــه

کـــال کـــونډی که لـکه ام دهـنډستان وی

ورځ روښـــانـــه بـــه دچـــا نـــه وه پـــکاره

کـــه په شـــپه توره رڼـــا دورځ پـه شان وی

---

(۱) اصل : سخه

(۲) وای

قـــدردان د محـــبت بـــــه دکـــلام وو
که خوشحال ژوندی په دهر یارحمن وی

پ

"۳۲۵"

لـــوی نادان يې چـــې په لارې دخـــنداځـــې
پـــه ژړا راغـــلې اوبـــيا بـــه پـــه ژړا ځې
بې بصر پ [1] هـــيڅ نه وينې حيران ناست يې
بت په شان څـه شوکه سترګې دې دي وازې
نـــه دې څـــه راوړي دي نه يه څـه يوســـې
چـــې تش لاس راغلی يې تش لاس به يېا ځې

---

(۱) يصرې = بصرې

یـــوه ورځ بـه آخـــر پـــریوزې وګـــرنګ ته
چـــې هرلـــورو ته په شـــان دنابیـــنا ځې
زوړ شـــوې اوس خوقـــدم واچـــوه دوړاندې
عـــقل وخـــورې لاتر څـو به پسې شا ځې
چـــې وزر دالـــواتـــو دې پـــیدا نـــه کـــړه
پـــه څـــه رنګ به له هـــوسه پـه هوا ځې
زړه تـــه نه ګـــورې نظر کړې هـیسته هورته
ودانـــي پریږدې نـــادانه پـه صحرا ځـې
زړه اوژبـــه یـــوزمـــان مـــوافـق نـــه کـــړې
بـــیهوده ویـــیږی کـــړې خبرې سپیازې
مـــحبته ځان جـــداکـــړه له کثرته
څه یوازې چـــې راغـــلی یې یوازې

"۳۲۶"

شـــهسواره ته پـــه سردســـتار زریـــن ږدې
کـــه پـــه آس دځُـــسن داد زرو زین ږدې
کـــه نن سردیار ددر پـــه خـــاورو کیـــدې [1]
ســـبا ســـربه دســـندسو پـــه بالین ږدې
زړه مـــسجود دی راشـــه دیروحرم پـــریږده
بـــیهوده پـــه هـــر یودرځـــله جبین ږدې
ســـاقي بیا به مې ژوندی کړې که مې راکړې
لـــه هغې پیالې چې ته پرې لب شیرین ږدې

---

(۱) کښیږ دې

مـــشاطې هومره مـــې ږدې پـــه زړه داغـونه
څـو پـــه مـــخ يې ته خالـــونه عنبرين ږدې
چـــې دې نـــيش دمـــچې نه دی قـبول کړی
خولـــه بـه څـرنګه په نوش دانګـبين ږدې
آخـــر اړخ بـــه دې وي پـــه تورو خـــاورو
څـوبه ښـــې [1]له ډيره خياله په قالين ږدې
عاقـــبت لکه قـــارون به په ځـای پـــريـــږدې
خښ [2] پـه مزکه کې هرڅوکه سره اوسپين ږدې
دمـــشتاقـــو زړونه څـــه کـــم دي تـــرګلـــو
چـې پـه زلـفو کښې ګلونه دنسرين ږدې
هـــم زمين به دې پـه ګـــور کـــاپښتې مـــاتې
چـې قدم خپل لـه غـــفلته پـه زمـــين ږدې
کـــه ډسـردیار دښـــپو [3] دلانـــدې کيښـــود
بـــې شبـــهې به قـــدم پاس په عـليين ږدې
ورکـــوه مه، زړه خونـــخوار ته مـــحبته
طـــمعه نده چـــې دوړاندې دشاهـين ږدې

"۳۲۷"

پـــاس پـــه عـــرش تر مـــزکې لاندې واړه تـــه يـــې لانـــدې بـــانـــدې
پـــــکې زړونـــه اويـــزانـــد شـــې چـــې کـــړې زلفې اويـــزانـــدې
په خـــوښې مـــې زړه مـــعمور کړې چـــې په ډکـــه خـــولـه وخاندې
زه پـــه عـــشق کـــې بـې تقـــصير يم زړه مـې کاندې هـرڅه چې کاندې

---

(۱) پښې
(۲) ښخ
(۲) پښو

بـیرتـه نـه ګـوري ومـاتـه لـکه عـمر ځـې دوړانـدې
زمـانـه وړنبی کـا ورسـتو [1] اوور سـتی[2] کاندي دوړانـدې
دامـخلـوق لـکـه دولاب ټـول سـره اوړي لانـدې بـانـدې
مـلاقـات لـه دنـیا دارو محبـت څـه لـره کـانـدې

لـکه پـیاز هـمه بـې مـعزه
څړه پوست دی لانـدې بـاندې

"۳۲۸"

دمخلوق زړونه پامال کړې خـوش رفـتارې
چـې له خـیاله خـپل روانـه شې پـه لارې
لاعـجب که ژوندی پاتـی یوسـاعت شې
چـې څوک ووینې داستا سترګې خونخوار ې
چـې یې ولیدې توکړې توکړې[3] یې زړه شه
تـاځـګر دګـل پاره کـړ ګـلرخـسارې
سـرګردان مشه پـه کـور بیا به یې مـومې
څـخوښـې[4] تـه خـپلې ونسـه قرار ې
خـود پـه خود دمیـخوارانو پـه خاطـر کې
سـتا دراز خـبرې ټـولې شـوې اظـهارې
اوس چې زه شـوم دوه په دوه لـه خپـله یاره
تـه زمـوږ لـه منـځـه ووتـې ریـبارې
هـم صحبت چې له رنځوره وي رنځورشي
مـابیماربه کـاندي سـتا سترګې بیـمارې

---

(۱) وروستو= وروسته
(۲) ورستی = وروستی
(۳) ټکړې ټکړې
(۴) پښې

پـــه دا خـــپل لـــب شـــيرين څخو زمـا هم
خـــوله خوږه کـــړه اې په شونډو ښيکرباړې
خوار خسته کړمه خراب کړمه رسوا کړم
هـــسې وکړې مـــحبت رابانـــدې چـارې

"۳۲۹"

چې پدارنګـه دلچسپې کـــړې خبرې زړه به يوسې له هر چانه ښيوه ګړې
نمرکه دی لاثـــاني هـم پدا جهان دی ته پـه دوه کونه بـې مـثله يې نادرې
که دیارلب ودندان مې خدای روزي کا صـــدقه به يې کړم لـعل ومرغـلرې
ته چـې بې له مايوازې مـينوشي کړې دامـې وينې دي بې رحمه چې يې نغرې
په څه شان مـې زړه حريف يې دښو شي دی يـــوازې دی هـــغه پلو لښکرې
پروانه مرې چـې وشمع ته نژدې شي هـــومره پايم څـــوله تايم څـخولـرې
که بـل غشی وي مازغره به په برکړه **دنګـاه غـشی دې ښوی وزې ترزغرې**
چې خـــوره يې دلـــبانو شيرينې شوه پـه جهان کې بې رواجې شوې شکرې
کـــله مينه يې پـخلا[1] کا کله ګرزې مـــعشوقې لـــه عاشـــقانو مـرورې
معلومیږي ياړې [2] راغی چې نن اورم
محـــبت کره ويـــلې شـــي ســـندرې

"۳۳۰"

لـــکه دُرچې وي دندان هـــسې لـرې شونډې لعـل دبدخشان هـسې لرې
دخـــوبانو به شوکت همه کړې مـات **چې په حسن کـــې ته شان هسې لرې**
ځان ټوب پـــه دې کوهي کاندي عالم چـې ته چاه دزنخدان هـسې لـرې
پاتـــې نشي يوســـړی بـــه مـــسلـمان چـــې دزلـفو کفـرستان هسې لرې

---

(۱) ياريې
(۲) پخلا

نورخوبان خوشوندې سرې کاندي په پان ته بې پانه خپل لبان هسې لرې
هیڅ زاري مې ستا په زړه نه کا اثر چې خاطر لکه سندان هسې لرې
زړه به کړې دعاشقانو آشفته چې په مخ زلفې پریشان هسې لرې
ټول عالم به بې سامان کړې عاقبت دښایست چې ته سامان هسې لرې
سپین سبا به دازما کړې توره شپه چې جبین مه تابان هسې لرې

محبته څه ناصح ته بنیې ځان
څیرې څیرې چې ګریوان هسې لرې

"۳۳۱"

رانجه نه کا ستا عاشق په سترګو پورې
رانجه څه کا چې بې ته دسترګو تورې [۱]
غم دې خپل په هر ساعت زما خوراک کړ
بیا غمخورمې بولې ځان عجب غمخورې [۲]
غیر په عشق که دی ربښتین غم دې قبول کا
درو غژن ورسوه تر حده پورې
که ظاهر دې کتی راته غل به نه وې
ته چې پټ ګورې وما ته زما چورې
بیابه نه مومې روزي له نُه افلاکه
خدای کاسې دآسمانونو کړې نسکورې
ګورې زړه مې ذکروانه وري دمینې
لیوني دی ورته کړې خبرې نورې
هغه کس دی ړوند چې تالتې [۳] ګرزي
که بې سترګې وي بیناته بې نه ګورې

---

(۱) تورې = توریې
(۲) غمخوریې
(۳) لټوي

نـــوردســـترګـــودې حـــيرت يوړ غـــافـــله
لـــکه بت عبـــث په غـــتو ســترګـــو ګـــورې
مـــحـــبت دچـــابـــنده نه دی آزاد دی
ولې ته يـــې پـــه ديدن پـــيرې هم پلورې

"۳۳۲"

چـــې هردم د محـــبت لـــه ونـــې بـرخورې
ســـخ دی ستا چې هـميشه خواړه ثمر خورې
چـــې په مراد لـــرې سيم تنه زري پـــوشـــه
بـــوالهوس يې کـــه بـيا غـم دسيم وزرخورې
کـــه پندارله دې ځای ورکـــړ په دمـــاغ کې
پـــه تلوار به خـــرد ماغـه ته خپل سر خورې
د آدم اولاد چـــــې ســـتا دي واړه ورونـــه[1]
بـــويه داچـې غـــم د هـــريـــو برادر خورې
دمنـــعم نعمت ګـــندهير شـــه پـــه تا بـاندې
چـــې بې شکره يې نعـمت شام وسحر خورې
ځـان کړې مـور لايو پـهر تير شوی نـــه وي
چـــې بيا ګـيدې لره غـــم دبل پـهر خورې
ولـــې خـــيرتـــولی[2] ګـــرزې بـــې هـنره
هـــنر زده کړه چـې خواړه دخپل هنر خورې
چـــې امـــوال اولاد فـتنه دي خـــدای ويلي
تروله غـــمه يې په ځـه خون دځـګر خورې

---

(۱) رونړه
(۲) ټولوې

غـــم دعـــشق زهر قاتـــل دي محبته
ولې ته يې پـــه مزه لـــکه شکر خورې

"۳۳۳"

دجـــمال ديـــار بـــه هـــله تمـــاشـــا کړې
چـــې په لاس ورته سـريوسـې رونما کړې[1]
تاو دعـــشق په اورکه وخـــورې بـــوالهـوسه
لـــکه زرچـې وي مـغشوش ځان به رسواکړې
انـــدرون دې هـــمه تـــور دی له کـــساده
زرقلـــب يې چـــې ظاهـــره بـريـــښنا کړې
شـــپه اوږده د بـــيلـتانه شوه نـــه کـــميږي
خـــدايه شام به دهـــجران کـــله ســـبا کړې
هـــډو کـــار دآشـــنايي درنـــه ونـــه شـــه
پـــه حيرت يم خـــدای زمـا څـله آشنا کړې
په خنـــدا چـې راته کړې کـــنځلی[2] ډيرې
داتـــرخې خـــبرې هـــم راتـــه حلـوا کړې
خـــوچې راغلې شورو شرپه جهان پـــريووت
خـــدای عـــالمـولـــره يوفـــتنه پـــيداکـــړې
چې په مـــرګ دپرواني خنداکـــړي شـــمعې[3]
عـــاقـــبت ولاړه درســـته شـــپه ژړا کـــړې
ددنـــيا په شـــان چـــې ته هم بيوفا يې
محبت تـــه کله مخ کړې کله شاکړې

---

(۱) اصل : چې په لاس سريوسی ورته ته رونما کړې
(۲) ښکنځلې
(۳) اصل: شمعه

"۳۳۴"

بویه داچې نوش دمینې می ناب کړې

نه چې ځان په دې ترخواوبو خراب کړې

سیه مست دمی دخم دلاندی پروت یې

نه دخدای ویره نه خلقونه حجاب کړې

هیڅ پیدا انسانیت دې هډونه کړ

دحیوان په دود یا څرکی [1] یا خواب کړې

دسحر رناخوره شوه لاوده یې

له غفلته ته ګمان پرې دمهتاب کړې

چې عمل پرې نه لرې نورڅه دپاره

مسلې په خوله بیا نې دکتاب کړې

درسته شپه دشاهدانو وروځې ګورې

سبا پاڅې مخ په لوري دمحراب کړې

شپه وورځ یې پروت په هووپه لعب کې

همیشه لوبې په چنګ وپه رباب کړې

عاقبت ورځ دحساب شته نه ویریږې

چې داهسې ګناهونه بې حساب کړې

دشراب دمحبت جرعه ونسکې [2]

بیهوده په میخانو کې ځان خراب کړې

"۳۳۵"

که دزړه وآئینې وته نظر کړې تماشابه دجهان لکه سکندر کړې

---

(۱) کوې

(۲) ونه چښې

نامعلوم به همه ګي درته معلوم شي که خپل ځان له خپله ځانه بيخبر کړې
دسنګدلو [1]په زړه آه که دې اثر کا بې شبهې لکه فرهاد سوری به غرکړې
په هغه صيد ځای درحم دی صياده چې په دام کې شکسته پې بال وپر کړې
هم په يوقدم به رسې ومنزل ته دوحدت په لوبې لاړې که ګذر کړې
مرور ګرزم له ځانه له جهانه يوساعت که ځان له مانه مرور کړې
په نظردې خوبان خواردي لکه ستوري بې نظيره خدای پيدا چې لکه نمر کړې
پوخ په عشق پې که پتنګ غوندې خاموش مړې خام پې لا لکه بلبل که شورو شر کړې
ورځ شي شپه چې مخ کړې پټ په شام دزلفو شپه شي ورځ چې پې عيان لکه سحر کړې

دخپل مخ په ښکلا وايه آفتاب رويه
کله ګور دمحبت به منور کړې

"۳۳٦"

ټول سبب پې دادی چې مدام راسره جنګ کړې
نوم مې محبت دی ته له دې نامه نه ننګ کړې
ويني ستا له لاسه يوعالم ژاړي بې رحمه
بس کړه په سرواوښو دې څهرې دډيرورنګ کړې
ښايسته په آرت زړه له غيروسره خاندې
ماچې وينی مخ هم راته بوټ کړې زړه هم تنګ کړې
نافهمي له عشقه ډيره لويه نادانې ده
پوه په مينه نه يې عبث لافې دفرهنګ کړې
دانه وايم ديرته څه يادرومه ومسجدته
هرپلو چې ياروي هغه لوري ته آهنګ کړې

---

(۱)

مـــست يم دالـــست خـــرابـاتـــي يم محتـــسبه
پرې بـه نه دم مې که مې سنګسار په خشت وسنګ کړې
بل نه څوک عاشق دی نه معشوق هم دواړه ته يې
شمع دمـــجلس شې چـرته چرته ځان پتنګ کړې
تـــله ددلآرامې وپـــالـــنګ تـــه آســـان نـــه دي
ســـرخپل په لاس واخلې هله قصدې [1]دپالنګ کړې
زړه مـــې کـــدورت پيداکـــړراشه مـــحبته
ته به مې صـــيقل دآئينی همه ګې زنګ کړې

"۳۳۷"

کـــه يودرنګ له مـــاسوايې ځان په څنګ کړې
تـــماشا بـه يـــې دمـــخ پـه هـغه درنګ کړې
صـــلح وجـــنګ دې دواړه يـــودې وعـاشق ته
ســـتا رضاورسره صلح کړې که جنګ کړې
چـــې باطـن دې هـــمه تـــور په کـــدورت دی
پـــه ظاهر دې څـــله سپينې جامې رنګ کړې
ريـــايـــي خرقـــه دې خـــپله په دارنـــګ کړه
چـــې پـدې رنګ کې پيدابل نام وننګ کړې
بـــې دزړه لـــه جـــذبه بيا بـــه يې نـــه مـــومې
که درســت عـــمر مصلې ورپسې لـنګ کړې
چـــې دلتـــنګ شې يوســـاعت چـــرې لـــه مانه
هـــغه وخت راباندې آرت جـهان تنګ کړې

---

(۱) قصدې = قصدې

کـــه پـــه هـــې شان دې حسن عـــالمګـیر دی
بـــادشاهان به تـــه په ځـان پسې ملنګ کړې
کـــه تـــــه چـــا دزنخـــدان لـــړې داهـــــې
ډیـــر عالم بـــه آخـــربـند په دا ګـــرنګ کړې
وهـــر چاته پـــه زړه نـــرم لـــکه موم شې
محبت وته زړه سخت په ځیر دسنګ کړې

"۳۳۸"

ته چـــې خدای لکه الف په قامت ســـم کړې
لـــکه دال الـــف قـــدان به واړه خـــم کړې
ســـتا ستم اوکـــرم دواړه مـــې مرغوب دي
بـــاقې تازده که کـــرم کـــړې که ستم کړې
چـــې دعـــشق په اوردې ځـــان وسه عـاشقه
نـــورلـه اوره ددوزخ څـــه لـــره غـم کـــړې
لـــه اوله چـــې تشـــریـــف دې راوړ عـــشقه
پـــوهیدم چـــې مـــې رسوابه پـــه عـالم کړې
زیـــات دمیـــنې بـــدي څـــه وایـــې ناصـحه
دابـــه ونشي چـــې عشق له زړه مې کم کړې
پـــوهیدم چې راشې درد به مـې څـه کم شي
داخـــبر نه وم چـــې زیـــات بـه مـې آلم کړې
ســـتارنځـوریم خوهـــم ســـتا په دم رغـیږم
پـــه دروغ رښتیا هـــرځـه چې په مادم کړې

چـــې داهسې کړې په مـــخ زلـفې پريشانې

تـــه پـــه مـــابانډۍ رنـا روځ به تـــورتـــم کړې

دقـــضاکا تبه څـوک لـــه دې خـــبروه

چې مـې نوم به محبت په لوح رقم کړې

"۳۳۹"

راغـــی عيد دقـــرباني ډيربه احـــسان کـــړې

کـــه نن ورځ ترخـــپله ځـانه مې قـربان کړې

درد لـــــرم دبـــيلـــتانـــــه نـــادان طـــبيبه

بـــې له وصـــله نورپه څـه به يې درمان کړې

يـــامـــــقلب القـــلوبـــــه زمـــا خـــدايـــه

دبـــتانو زړه رابـــانـــدې مـــهربـــان کـــړې

عـــشق مې ډيرآسان ګـــا نه ولې مـــشکل شه

دامـــشکل مې پـــه کـــرم سره آســان کړې

يارمـــې وخـــيژوې [1] بـــام وته لـــه فـــضله

لـــکه نـــمر پې [2] له افـــقه راعيـــان کـــړې

بـــل پلـــووته نظـــرمې پـــريشـــان نه کـــړې

خـــوخپل يارتـــه مې داستر ګې نګران کړې

پـــه تـــياره دبـــيلتانه زړه مـــې تاريـــک شـــه

پـــه جمال دمـــهرو يانـــو يې روښـــان کړې

زورمـــې وباسې لـــه دې کـــون ومـــکانـــه

پـــه خپل فـــضل زما ځـای په لامـکان کړې

---

(۱) اصل : وخېجوې

(۲) نمرې

اې دعـــشق دريا به څـوک لـــه دې خبروه
چې به ډوب په خپل امواج محبت خان کړې

"۳۴۰"

په هرسوال به مـې ايايا تر څـو کړې يوه روځ خوعـاقبت به راته اوکړې
مـــوانـکې ديـــقين پاځـــه زړپـيداکړه ولې ځان ډوب په امواج داند يښنو کړې
عاقـــبت هـــغه خـــبرې افـساني شي که هرڅودعشق خبرې په ورو ورو کړې
سروپای زه ستاد درد خاوروغـــوارم ته به کله داخلعت په ما پيرزو کړې
اې ښـــامـاره يې د زلـــفو عـــالم واړه اژ دهـاغـوندې ترحلقه به فرو کړې
يوانسان مسکين خوڅـــه دی که مزری وي هم دحسن په هيبت به يې پشوکړې

محبـــته که دې رنـــځ دمـــحبت دی
بيـــهوده څـه لره خيال در غيدو کړې

"۳۴۱"

کـــه زلال دعـــاشـــقی تيرتر ګـلو کـــړې
دحـــيات اوبـه بـــه زهـــر هـــسې تـــو کړې
ســـامري به خپلې کـــوډې کـــاندي هـيرې
دغـــمزې که ته ښـکاره ورتـــه جـادو کړې
ځـــادار چې کړې پيدا مـــاغـــوندې بـــل يو
هـــله تـــه زمـــا ومـــرګ وتـــه آرزو کـــړې
ومـــحراب پـــلوته بـــيا به مـــخ ونـــه کـــا
زاهـــد انوته ښـکاره که خـــپل ابرو کـــړې
چـــې دې اوښې کړې جـارې زما له سترګـو
عاقـــبت پدا دريـــاب به مـــې لاهـــوکـــړې

رڼا ورځ پـــه خلـقو بانـــدې توره شـــپه شي
په سپين مخ باندې پريشان چـــې تورګيسو کړې
دخـــپل زلـــف دمارخـــورلې ته پـــار ويـــې
روغ به شـــي که ته افسون ورباندې پوکړې
دګـــريوان که چـــاک مې وګـــنې ناصـــحه
داپـــرهار دزړه بـــه څـــرنګـــه رفـــو کـــړې
چـــې پيري دې ســـروقـــده قامـــت خـــم کا
دقـــمرې په شان بـه خـــود هـله کوکو کړې
دوحـــدت توره تـــيره چـــې دې پـــه لاس ده
دکـــثرت په مـــملکت ولـــې نه هنوکـــړې
وبـــې [1] رسي ترخـــولې دعـــشق پـــه اورکې
ځـان لـوګـی که ته پـــه دود دتمـاکو کړې
درقـــيب په زنـــګانه کـــه دې ســـرکـــينبود
ســـربه کـــوز زمالـــه غمـــه په زانـــو کړې
که دې کښيناوه [2] په څنګ کې غير ګلرويه
خـــار دغم دمـــحبت به پـــه پـــهلو کړې

"۳۴۲"

ســـتا رضـــا کـــارونه بدکـــړې اوکه ښه کړې
پـــه هـغه نوم به باله شـــې هر چې ته کـــړې
اندوهـــګين يې کړې غمګين يې کړې بې رحمه
څـه څه چارې چـې مدام زمـا په زړه کـــړې

---

(۱) وبې = وبه يې
(۲) کښيناوه

کـــه دچـــا دزړه رضـــاوي اوکـــه نـــه وي
خـــوچې ســـتا دزړه رضـــاوي هـــغه وکـــړې
پـــه پرده کـــې ددوســـتۍ پخـــپل دوســـتانـــو
هـــيڅ دښـــمن چې نه وي کړې هغه کړه کړې
چـــې په خوی کـــې دې جـــفاده خو کوې بـه
تـــه به هډو خـــپل خـــصلت مـبدل نه کړې
لاس وښـــپې [1] که مـــدام سره کړې په نکريزو
پـــه سرواوښـــوبه بسيار مـــخونه ســـره کړې
زړه مـــې ويـــنې هـــمګـــی دې کـــړله غـــمه
تـــردا زياته نـــور زما پـــه حال به څـه کړې
شهدې [2] کړې په خولـه دخاورو چې قابل وي
دشـــکرو دلايـــق خاورې پـــه خـــوله کړې
دحجـــاب کـــړې بهانه پـــه ورځ چـــې درشم
که په شپه دلره[3] درشـــم ځـان اوده کـــړې
تورووســـپين دمحبت چـــې دې په لاس دي
هسې نه وي مخ يې تورپه سپين ويښته کړې

"۳۴۳"

ولې مخ راته ښکاره لکه نمر نه کړې ولې شپه دبيلتانه مې سحر نه کړې
ولې مرګ ته دې نژدې له بيرحمۍ کړم ولـــې مـاوتـــه درحم نظر نه کړې
ولې تـــاج دالـتفات مې په سر نږدې ولـــې شاه دجهان خپل قلندر نه کړې

---

(۱) پښې
۲ شهدې = شهدې
(۳) درلره

ولې نه کړې شاه ګـدای خپل له کرمه ولـې سوری مې همایه په سرنه کړې
ولې شیر کړې پشونګړی رقـیب وماته ولـې ته مې په رقیب دلاورنه کړې
ولې ځـان څـخه مې نه رابـــولې یاره ولې غیر له خپله کوره بدرنه کړې
ولـې زړه مې لکه غل هسې په غلاوړې ولې هیڅ د زړه په وړه مې خبر نه کړې
ولـــې یو ځل راته وګورې بیا شاکړې ولـــې مخ ومـاته بار دیګرنه کړې
ولـــې غورې دمحبـــت په ســـخن نږدې
ولـــې ته یـــې په خـــبرو باور نه کړې

"۳۴۴"

زمـــا ستا عـالمو جوړې افـسانې کړې تـــه تراوســه دوصـال لابهانې کړې
که مې لاس ورسي لاس دهـغه پرې کړم چـې دې زلـفو لره چاجوړې شانې کړې
په ژړالکه یعقوب درپـــسې ړوند شوم پـه جهان مې ته یوسف د زمانې کړې
دآســـمان باغوانه تاپدې ګـــلزار کې ډیـــرې ورانې دبلـبلو آشیانې کړې
ماتسپې داوښولـوستې ستا په غـم کې تاپه مـخ مې هغه هـم دانې دانې کړې
هـم پدا چې ستانه دارڅوک مددوکا مـاتلاشې ډیرې تاپـسې ستانې کړې
زمـــا زړه دغشو نښـــې لـــره بیاموند کمان دارمې چـې تلاشې نښـانې کړې
توبه ګار له مینو شي وم ولې څه کړم ساقـي ډکې دشرابـو پـیمـانې کړې
چـــې دلدار دې شمع روی دی محبته
بویـــه داچې ته هم کار دپروانې کړې

"۳۴۵"

بې لـــه بویه دې ګلرخې دل افروزې لـه ژوندونه خپل راغـلی یم ترپوزې
یار آفتاب دی زه یې سوری یم زاهـده تري جـدایو قدم کشکې که مې بوزې

شپه وورځ مې زلف ورخ دې فـرح بـخش دي تـــه زمـا آرام جـان دشب ورو زې
دعـــاشق آه ونـــاله واوره دردمـــنده که له زړه يې طـلبګار دسـازو سوزې
چې دعشق وحسن جـنګ شي فـتح ستاده ته په هروخت په عاشق باند فيروزې
پـــه ديدار دخپل جـمال پـرده نشينې دواړه سترګې کړه زما خوښـــې اندوزې
دمـــعشوق په ديدن وړ نشوې عاشقه تل يې ګـورې هم مـشتاق يې لاهنوزې
که دعشق حرم ته يون کړې په ســـردرومـه طلـــبګاره که مـکې وته په ښپو ځې

ته مـــهې دعـــشق دسيندې[1] مـــحبته
چې پدا قعر [2]دریاب کې په لانبو ځې

"۳۴۶"

لکه غير په مـــا جـفا کابيرحمي کـــاندي يارهـــسې
ځـــنګه کړم پروردګاره چې يار هسي اغيار هسې
په ګفتار کې دې شوخي ده په رفتار کې چـالاکي ده
په خـــوبانو کې دچادی ګفتار هسې رفتار هسې
داپرده دخود بيـــنې دې ځـوپه مخ بـــاند[3] پـرته ده
مـــعشوقه چې ده خودبـينه دربه نه کادیدار هسې
چـــې دلعل له کـــوتې لاله امتـــياز پـــه نظـر وکـــا
جـوهري مې يوبيا نه مـوند ددنيا پـه بـازار هـسې
دمنصور په شان چې کيدې[3] سـرله شوقـه په داد باندې
پـــه لښکر دعاشقانو بل بـه نه وي سردار هـــسې
دفراق پـه نري رنځ کې څوک دې خدای مبتلا نه کا
بـــې دوصل له دارونه روغ بـه نشي بيمار هـــسې

---

(۱) سيندې = سيند يې
(۲) اصل : قهر
(۳) کښېږدې

کـــله بـــاغ دارم رســـي وبهـــار دې دکوڅـــې تـــه
په جنت کې به هم نه وي یقین وکړه ګلزار هسې
دهـــلک په مثال زړه مې لـــکه ګـــل پرزې پرزې کړ
ناچارې ده چـــې مابیا مـــوند له قسمته دلدار هسې
غم نشـــه دمحـــبت ده محبان یې مشتاقان دي
عاشقان هغه مې غواړې چې پیدا کا خمار هسې

"۳۴۷"

که عاصي دعاشقي په مـعـصیت شې بې پوښتنې ته داخل به په جنت شې
رتبـــه تیره به دې شـــي تر مـــلا یکه ولـــې هله چې باردار د امانت شې
کـــه دمی دحقیقت پیاله کړې نوشه بـې شبهې به مستقیم په شریعت شې
دمجازله عشقه ځان څـــوواقف نه کړې هـــومره کله به آګاه پـه حقیقت شې
صحبت هـــم لرې تاثیر که عـاشق نه یې مـې باید دعـاشقانو په صـحبت شې
دادې تـــوله سردردي دهوښـیاري ده لیونې شه هـــمیشه به په راحت شې
که دې بل لذت هیرنه کړزه ضـــامن یم که خبر څـــخو دمـینی په لذت شې
مزکه ګـــنج به دقارون درته برسیرکا که خلـوت نشین په ګنج دقناعت شې
سلامت به خپل ایمان په امان یوســـې
محـــبته که کـــافر دمحـــبت شـــې

"۳۴۸"

خبردار که دهـغو شونډو په خوندشې زه ضـــامن که بیا طالب دشهدو قند شې
برابر که زرپاشې په خاص وعـام کړې لکه نمر په درست جهان کې به څرګند شې
څـان اول له کمینې په خاورو خښ[1] کړه لـــکه ونه بـــه آخر ته سربلند شې

---

(۱) ښخ

ددنـــيا ودين له قـــيده به آزاد شـــې که بـــندي ديار دزلـفو په کمند شې
زړه دخلقو لکه خاورې به پامال کړې که داهـــې سوردحسن په ســمندشې
چـــې سورلی په آس دنازو کړې ظالمه پـه تاراج دهوش وصـبرلا دوچند شې
دشـــمنان زهر قاتل به هـــله ګوټ کا چـې له دوســتو سره ته په شکر خند شې
دښـــادي کلاه مـــې ورسي تر عـرشه يوســاعت چرې له مانه چې خورسند شې

محـــبته ستالـه عـــقله ډيـــر بعـــيد وو
چې عاشق په خود نمای وخود پسندشې

"۳۴۹"

مـــحـــتاجې ده ددنـــيا په سلـــطنت کـــې
بادشـــاهي کوه د فـــقر په دولـــت کـــې
جـــام دزهر د محـــبوب لـه لاسه نوش کړه
دالـــذت به چـــرته مـــومې په شربـت کې
چـــې قانع لکه صدف شوم دُرمې بـــيا موند
ګـــنج روزي مـې شه په ګنج دقناعت کې
کـــه بنادي غواړې دعشق لـه غـــمه غواړه
چې عشرت دی ډک دمينې په محنت کې
پـــه ســـيرت کې ددنيا ســـړی دواب دی
کـــه هر څـــوبنې آدم دی پـــه صورت کې
دمـــجاز مـــنزل اول په بنـــه شان طی کړه
بـــيا قـــدم کيده[1] په لارد حـــقيقت کې
دبـــې پت دنيا هم هيڅ وي هم يې دين هيڅ
کـــه عزت ددين دنيا دی خوپـه پـــت کې

---

(۱) کښيږده

ذات صفات يې هم په دا نه عين نه غين [1]شو

چـې يې ذات کړپوشيده په خپل صـفت کې

که طالب دمـحبت شـې بيا به مـومې

خدای رسول دين ودنيا په مـحبت کې

"۳۵۰"

شـه پيرو دزړه دعـشق په کـاروبار کـې

بـې رهـبره قـدم مـړده پـدا لار کـې

زه له شـوقه لکه ګـل څيرې ګـريوان کړم

چـې ته کيدې [2]ګـل له خيالـه په دستار کې

بې نصـيب هيـڅ سودونه کـابې لـه زيانه

کـه تمام عـمرې تيرشـي پـه بـازار کـې

يارمـشغول په صـيد دزړونو هـميشه وي

دښـکاري سـړي زړه ډير لـګي په ښـکار کې

امـتياز کـه درحمـت وغـضب نـه وي

تروبـه هـيڅ نه وه تفـريق په نـورونارکې

پـه مـخونـوبې قـدرت دخـالق ګـورم

خـدايې ويـنم دبـتانو پـه ديـدار کـې

په هر وار چې يې په لاس کښـې ويـنم توره

زه لـه ځـانه ناامـيد شـم پـه هـروار کې

بـيکـسان آزاريـې [3] پـه تاويـر يـرم

چـې خـطر دی دبـيکـسو په آزار کـې

---

(۱) اصل : غير

(۲) کښېږدې

(۳) آزاروې

دقـــفس زه عـــندليب يم بـــهار څـــه کړم

چـــې مـــحروم يم لـــه بهـــاره پـــه بـــهار کې

ګـــلزار څـــه کړم مـــحبته بـــې ګـــلرويه

په هيڅ رنګ نه لګی زړه مې په ګلزار کې

"۳۵۱"

دعاشق حرمت عزت دی په پـــيغور کې څه يې نسي محتسب دعشق په تورکې

هـــغه کلـــه ومـــهتاب وتـــه نظر کا **چـــې مهرو يه معشوقه لري په کور کې**

ددنـــيا غوغا محروم کـــړم له آرامـــه خوب کولی نشي څوک پـــه شروشور کې

پـــه اربع عناصر اورهم يوعنصر دی عـــشق له دې عنصره خيژي په څلور کې

چې قدرت کشش د زړه لري په مينه **داقدرت دی نه په زرکې نه په زور کې**

د مزار سنګ به ترسره يې پرتاو[1] کړم بيتابی که مـې ظاهـره کړه په ګـور کې

مـــحبت دعـــشق له ســويه خطر نه کا

خوپتنګ غوندې ځان ولي په بل اورکې

"۳۵۲"

رامـــعلوم ديار کرم شه پـــه ستم کې **بيامې موند عيش وعشرت په درد وغم کې**

ماژوندون په تورو زلفوکې يې بيامـوند دحيات اوبـــه موندی شي پـــه تورتم کې

وکعـــبې ته څله ځې بيا به يې مومـې که تلاش يې کړې دخپل زړه پـــه حرم کې

ددنيا مستان چې دي کاږه لـــه کبره واړه ســـم شي دهغو زلفو په خم کې

مرهم څه کړم دادعشق دتيغ پرهـاردی ددې زخم شفـانشته پـــه مـــرهـــم کې

که تـــه حور يافرښته نه يې تروولـې ســيال دې نشته په جمله بني آدم کې

چـــې نظير دې په عالم نشته بې مـثله لـــه عـــاله ته جـــدايې پـــه عـــالم کې

---

(۱) پرتاو = پرتاب

دم مې خیژي راشه څــه راباللدم کړه چــې رغــیږم ستالــه دمه په یودم کې
دم هم ستا وهم هم ستا په لار قــدم ږدم زه ثابــت یم ســتا دعــشق په دم قدم کې

محــبته دکــلام دې هــسې غــږدی
چې مشهور شه په عرب وپه عجم کې

"۳۵۳"

هــغه یارمې دی ځای کړی په خپل ځان کې
نه ځــاییږي چــې په مــزکه پــه آســمان کې
بــې لــه تا جــان جهــانه قــسم واخــله
یــوساعت که ژوندون غــواړم په جهان کې
نــظر نه کړم په چــمن کــې ویو ګــل ته
ســتا پــه رنګ نه وینم ګــل چې په بُستان کې
چــې لــه مــاتاب وطــاقت غــواړې نادانه
توانایي لــه کومــه راشــي پــه ناتــوان کې
ګــریوان څیرې وناصــح ته څه څرګند کړم
چې مې یوتار هــم پرې نه ښــوګــریوان کې
چــې دولت یې دوصــال بیا مــومــم چرې
زمــانه راځــخه یوســې پــه زمــان کــې
اوس پــه خوب راته وصــال یې حاصــلیږي
چــې یې خیال تل راسره وي په هــجران کې
غــم دعشق غواړم عشرت ته که مې زړه شي
چــې بــهار مې دی مــوندلی په خــزان کې

پـــه تلـــخي دځـــنکدن آګـــاه بـــه نـــه شم
که خوږي شوندې مـې کيدې[1] په دهـان کـــې
پـــه نيـــستي کـــې آزادي ده مـــحـــبته
ځو هستي ده هومره پروت يې په زندان کې

"۳۵۴"

تشنه لـب دې يم لـه ماکه په سلوکې رانژدې کړه خپلې داشوندې ملوکې
اې پـــاړوزه يم دزلـــفو مـــار خوړلی روغ بـه نه شم ځـله دم راباندې پوکې
محتسب که دې مـانع له مينو شي شي درته ښـايي چـې په ږيره يې وتوکې
شوندې ســري زړوکي شنه دې يادومـه شنه طـوطيان چې رابنکاره شي سرې مښوکې
په پالنګ زما دوړاندې ځـخوخوب کړه چـې زه ناست وهم په ښهو[2] دې نرمې موکې
هسې غـــږزمادعشق دی په عـالم کې لـــکه ستا دحسن دي په جمال کوکې
زړه مې ژوبل ستا ښو په هسې رنګ کړ لـکه ولګي په چـــادنـــيزو ځـوکې
دام درم ددا غ دعشق دې چې ترې بيامونډ
محـــبته زرخـــريد ته يـــې مـــملو کـــې

"۳۵۵"

چـې له فقره آکاهي لري په زړه کې کل دولـــت دباشاهي لـــري په زړه کې
که نيکي نه کړې هم اجر به يې مـومې دعالم چې نيکخواهي لري په زړه کې
هـغه کاندي ددنيا قـــصې دراز ې چـې دعقل کوتاهـي لري په زړه کې
وهـــيڅاته زړه به ســـپين دهـغه نشي لـــه ازله چې سياهي لري په زړه کې
هم هغه سړي دی امـر قـبول کړی چـــې خطردمـــناهي لري په زړه کې
دهـــادي په هـــدايت نشي پـه لارې **هـغه کس چې ګمراهي لري په زړه کې**

---

(۱) کښېږدې
(۲) پښو

پـه دریاب دعشق بیړی اچئ [1] ځله چـې یې بیم دتباهـي لري په زړه کې
سپاه ګیري که کړې نوی هـم سپاهـی دی چـه تل قدر دسپاهي لري په زړه کې

چـــې دعشق مرتبه زړه یې ده موندلې
مـــحبت عالي جاهي لري په زړه کې

"۳۵۶"

بادشاهـــي کوم دعشق په خـــاکساری کـــې
مـــاعزت بـیامـــوند دمـــینې پـــه خواري کې

په غـــفلت دزړه چـــې درسته شپه بـیدار وي
څـه حاصل به کـــازاهـــد په بـــیداري کـــې

کـه طلـب کړې رغـــیدن رنـــځور دیار شه
چـــې صـحت دی دمـــین په بیـــماري کـــې

پـــه دوســـتی کـــې یارلـــه یاره وفـــامومي
تاجـــفا راته عـــطا کـــړه پـــه یـــاري کـــې

چـــې دولت په درویـــشي کې درویش مومي
ســـرداران نه مـومي داپـــه ســـرداری کـــې

زړه کـــه اخلې په ســـاتنه یـــې هـــم پوه شه
چـې هـنردی ډیر پـــکار په دلـــداري کـــې

کـــه هوښیارې [2] ځـــان غافـــله لـــه دنیا کړه
چـــې غـــفلت دی ددنـــیا په هوښـیاري کې

کـــار دعـــشق پـــه ژونـــدانه درنـــه ونشـــه
عـــمر تیر دې کـــړعبث په بیـــکاري کـــې

---

(۱) اچوي

(۲) هوښیارې

چې په تا پسې عاشق دی بیقرار دی
په څه شان شي بې له تاپه قراري کې
محبته کانې ولې دې په آه کړل
څه اثر دی ستا په آه وپه زاري کې

"۳۵۷"

دځواني مستان هوښیارشي په پیري کې
نادانان تجربه کارشي په پیري کې
که هر څوک ځلمي توب په خوب اوده وي
عاقبت سړی بیدار شي په پیري کې
که هر څوبې شتابي وي په کارونو
په سکون وپه قرارشي په پیري کې
که هر څوپه سړي بار دمعاصي وي
چې توبه کا سبکبار شي په پیري کې
که هرڅو بې په ځواني کې حرمت کم وي
باعزت وباوقار شي په پیري کې
که هوڅو پندار په سرکې بې بسیار وي
کم له سره بې پندار شي په پیري کې
که هرڅو په مستي کوږ درومي له لارې
هم آخروته په لارشي په پیري کې
که هرڅو وي بداطوارهم بدکرداروي
خوش اطوار وخوش کردار شي په پیري کې

مـــحبته پيري ښـــه ده آخر هـــر څوک
په تـــوبه په اســـتغفار شي په پيري کې

"۳۵۸"

بـــې ميوداهسې چـــې مخمورې لـــري ســـترګې
يارمـــې په مستي ځـکه مـشهورې لـري سترګې
شوخ مې خداى دې نه کاچـــې شرابو ته نژدې شي
ولې دښـــايست پـــه مى معـــمورې لـري سترګې
هـــره شـــپه بلقيږي ولې څـــه رونـــق پـــيدا کا
ســـتوري چې دوړاندې بـــې نورې لـــري سترګې
حـــورې دجنت وي ښايسته ولـــې خوش چـشمه
کـــله ستا په شـــان دجـــنت حورې لري سترګې
هـــرعاشق به خـــپل لکه نرګـس هسې بـيمار کا
هـــغه نرګس چـــشم چې رنځورې لري سترګې
نـــه خوځي له سترګويې نګاه مـې يوساعـت هم
څـــه کړم دنـــظر مې چې مـنظورې لري سترګې
هـــډونـــظر نه کـــاپـــه احـــوال دبيـــد لانـــو
ګـــورې کله چـــاته چې مغرورې لـــري سترګې
کـــله هـــغه خوښ به دبـــهښت پـــه نـــنداره وي
څـــوک چې په ديدار د يارمسرورې لـري سترګې
چـــرته چې اوبه وي تـــږى هـــغه پـــلوګورې
چرته چې محبوب محبت هورې لري سترګې

"۳۵۹"

ســـترګې مې په مخ چـــې دخوبـــانو لګـیدلې

ټـولې ناکردې خـــوبه په مابـــاندې کـــیدلې

تـــن مې داوبو په سر په څـیر دخس روان شه

اوښـې چـــې زمـا لـــکه دریـــاب وبـهیدلې

تل چې ستا په غم مې څڅیدل داوښو څـاڅکي

ویـــنی مې د زړه هـــم ورسـره وڅـــڅیدلـې

خـــدای چې زه پـــیدا کړم وفادار له دې کبلـه

ستا ټـولې جـفامې پـــخپل ځـان وســهیدلې

خـــط دې په مخ راغـــی وایه اوس زمـا دلـبره

چـــرته هغه حـــسن چې به تـــه پرې نازیدلې

ومـــړه قاصـــدان که له جـهانه کاغـذورک شه

وړانـــدې چـرې چـــرې ســـتانامې رارسیدلې

اوس هسې وحشي شوې نه پـوهیږم څه سبب دی

وړانـــدې خودا هـــومـره ته لـه مانه ترهیدلې

تـــیرشه هغه وخـــت چـــې لکه پرخه په ګلونو

مـــابه چې ژړاکـــړه مـــعشوقې به خندیدلـې

پرابه نـــزې غوټه دخـــاطر دې مـــحبته

هر مشکل لري مشکل کشای ولې بیدلې

"۳٦۰"

یا دعـــشق واورته مـاچوه منګولې [1] یا پـخپله پخپل ځـان کړه لنبی بلې

---

(۱) اصل: منکلی

لکه ستوري له سپوږمۍ سره روان وي ټـول خوبان درپسې ګرزي ډلې ډلې
ته بـــدمه وایه وچـــاته چې نه ښایي لـــه شیرینو شوندو ستاترخې کنځلی [1]
ډیر ښـــهرونه چې آباد ووپه دوستانو دمـرګي له لاسه واړه شول [2] ځنګلې
دعـــاشق واړه عقدې شي آخر حلې عـــشق یې کاندي پراسان همه مـشکلې
زړه مې شي چې لبان ښـــکل دهغه کس کړم چـې یې ښکلې شوندې ستا کړې وې ښکلې [3]
ستا د حسن وښایست ته نه رسیږي که هـرڅولري هوسۍ سترګې کجلې
دخوږوشوندوچې خوله دې لاله [4] راکړه دجـــهان راته مـزې دې وبـخښلې [5]

محـــبت دغـــلامانو دې غـــلام دی
د کرم نـــظر پـرې نه کړې ولې ولې

"۳۶۱"

بـــې له تا په کـــارې نه دي زما ټولې مـعشوقې که دجهان شي راته ټولې
چې نظیردې پیدا نه دی په کونین کې درته ښایي که ته ځان بې مثله بولې
چـــامونډلـــې ده جـزاتر عـــمل زیاته هـغه نه ریبي غـنم چې کري شولې
ددنـــیا پـه کـــدورت مـکدر مـــشه اوبـه صافې خپلې ولې کړې خټولې
نه دچـا خپله دنیا شوه نه بـه ستا شي بـیهوده ورپـسې اخلې زلـې زولې
نـــظر کړه سسي او هـــیراو زلـیخاته معشوقې کړې عاشقي په زړه زمولې

محـــبت به دروندوي تردرسته جهانه
چـــې یې تله ده وزمـــینه څه یې تولې

"۳۶۲"

تل بـــاقی یې ته فاني بـــولې ځـــان ولـــې نیست نابـود کوې خپل نوم ونشان ولې
که محکوم یې دحاکم پـــه حکم کارکړه چـې عـمل پرې کړې لولې قرآن ولې

---

(۱) ښکنځلې
(۲) شوې
(۳) اصل : خکلی
(۴) راله
(۵) اصل: بخلی

دحجاب پـرده به لـــړې په شراب شي مشکل کار نه کړې په ځان خپل اسان ولې
تل کارونه کړې دفسق نوم پرې دعـشق ږدې فـــرق نه کوې دکفـرو ایمان ولـې
زړه زمـــا په نیم نګاه خپل ولـې ناخلې قـــیمتي متاع ته پـیرې ارزان ولې
مـــالـــداري ددرویشي په بـــدل اخلـې نفع خپله ځـان دپاره کړې زیان ولې
چې ســـامان دآخـــرت بې سامـاني ده لـټوې پدې جهان کې سامان ولې
چې نه زړه کې دې مـوجوده ده دلـبره په تلاش یې عبث غواړې جـهان ولې
هـــم تنګي هم فراغت وي لـــه قـسمته پـه ناحقه دې بدنام کړآسمان ولې
بیا دې زړه خپل دیوطفل په لاس ورکړ
مـــحبته شـــوې داهـــسې نادان ولـې

"۳٦۳"

یار په زړه چې لرې بیایې غـواړې ولې ګل په بردې لـکه پرخه ژاړې ولې
رزق پـــه تاترتامین دی څه فریاد کړې لـکه خرپه سبزه زار کې ناړې ولې
چې مسجود لرې په زړه کې بې بصره بـــیهوده دیرو حرم ته لاړې ولـــې
پـه حیات دې وي تیری داړې په خلقو اوس په خاورو پروت یې چینګې داړې ولې
کـــه بنده نه یې قـمري دخپلې سروې نه وبـاسې ترورځطوق له غاړې ولې
زړه رهـبر دې شه روان په سرد لارې مـــنتظر دبل رهـــبر ولاړې ولـــې
چې دحسن په جلوه دې خاکستر کړم تـــرولمن زمـا له خاورو نغاړې ولې
که ســـنګدله نه یې اې په ظاهر نرمې وعـاشق ته کړې خبرې لواړې ولې
بـــیا به نه مومې بې عشقه لـب شکره تویوې لـــه خولې په خیال یې لاړې ولې
آباد زړونه ورانـــوې پـه څـه له غـمه ودانې کړې هـــمیشه ویجاړې ولـې
په کـــلام دمـحبت هـــمسربه نه شې
عندلیب سره سیالي کړې خراړې ولې

"۳٦۴"

بیا د زړه په تـــالان څـه لره رادرومې زړه مې یودې وړپخوا اوس به څه مومې
کرشمې ښیوې دې زړه راڅخه غواړي ورې کړم وچـاته وسـاتم له کومې
اوس دزړه مرغه زما به څنګه خلاص شي چـــې دې کیښووې دزلفوورته لو مې
دساقي دجام شراب که دې ترخولې کړل پـه یقین چې د کوڅـر پیالې به شومې
زه یـــوازې یم آخـــر بـــه مـــې تالا کا چـــې عشوې غمزې دې دې راته مـــجومې
چـــې مې ولـــیده شها خپله مـوجوده دجـــهان شوې معشوقې راته معدومې

محـــبته زړه غافـــل مې وله[1] ورکړ
خرخـــښې فتنې یې نه وې رامعلومې

"۳٦۵"

پـــندانـــې دې دمـــالـــوچـــود انـــازنیـــې
واړه نـــرمې په صـــورت پـــه زړه ســـنګینې
څـخو زړه مې خـــوښ دلبره پـه خـــندا کړه
زه پـه غـــم کې دې تـــرکـــومـه ژاړم وینې
بـــیتابې مې ګـــوري بـــیا لـــه خـــپله درده
لـــه مـــاڅه پوښتې چـــې حال پـــخپله وینې
پـــه تنکی وریځ کې نمر غـوندې ښکار یږې
چـــې پـــه تن کپړې ته واغـونـــدې مـــهینې
مـــخ دې نوردی لاپـــرې نور عـــلی نورشي
چـــې ته کـــیدې[2] په پګـــړی طـــري زرینې

---

(۱) ورله
(۲) کښیږدي

دلـــيلا مـــجـــنون كيسي شـــوه لاړه تـــيره
اوس بـــيان كيـــږي زمـــا اوســـتا دمـــينې
نـــن په هجرووصـــل وژنې كه پريدې[1] مـــې
مـــخ دې سپين شـــه ته كـــوه خبرې سپينې
زړه مـــې يوور مـــستې شـــوخـــې دلآرامـــې
ســـروقـــدې ګـــل انـــدامـــې مـه جـــبينې
زه پـــــه رنګ دمحبت لارنګا رنګ شوم
چې محبوب مـې جوړې واغوستې رنګينې

"۳٦٦"

چـــې ومـــاتـــه پـــه خـــنداشـــوې دخـــاطـرعـــقدې مـــې واشـــوې
تـــورې زلفـــې تـــورې ســـترګـــې زمـــا ځـــان لـــره بـــلا شـــوې
خـــولـه خوراكـــړه كه دې شونډې دبـــيمار ومـــسيحـــا شـــوې
زړه مـــې دركړ چـــې دې خپل كړم ولـــې تـــه كـــلـه زمـــا شـــوې
زمـــا نـــشـــوې لـــه مـــالا ړې نه پـــوهـــيږم چـــې دچـــا شـــوې
كـــه جـــمال دې پـــټ دې ولـــې خلـــقې مـفـــتونـــې ســـتا شـــوې
بـــيا لـه كـــومـــه راغـــلې مـــستې چـــې آفـــت مې دتـــقوى شـــوې
مـــړپـــه مـــرګ دمـــفاجـــات شوم چـــې نـــاګـــاهـــه راپـــيدا شـــوې
چـــې مـين شـــوې مـــحبته
پـــه وګړې كې رسوا شوې

"۳٦۷"

چې بنـكاره راته هـــغه سترګـــې شهلا شـــوې
دواړه ځـان لـــره زمـــا تـــورې بـلا شـــوې

---

(۱) پريږدي

په قـيامت راته قـيامت شـوې غـرض دادی

يـوآفت يـې چـې ومالـره پـيدا شـوې

ويـل چاته کـړم نـظر پـه کومـو سـترګـو

دواړه سترګې چې زماوي محوې ستا شـوې

زه خـوتـاتـه ګـورم ته هـم ګـوره ماتـه

اوس چـې ستا شوم زه دلبره ته زما شـوې

داژړا درتـه زمـا څـه تـماشـا شـوه

چـې دې ولـيدم لـه ورايه په خندا شـوې

چـې نـظر پـه سـاقـي وکـړ زاهـدانـو

مـصـلې يـې تـرپـه مـيود مـينا شـوې

تـرنښتره هـم تـرسـرو صـنو بـره

ته بـالا پـدې مـوزون قـدو بـالا شـوې

تـه په حُـسن يې دوچـند تـرښـايسـته وو

په صـورت هم په سيرت کې چې زيبا شـوې

دور نکې دې له زړه نه ځي پدی باغ کې

مـحـبت لـره پيدا ګـل رعنا شـوې

"۳٦۸"

چې په تولو ښايسته وو کې چيده شوې دهـر يوصـاحب نظر پسنديده شوې

که جلوه دې کړې نه وې په صـفات کې ته په ذات به کلـه چاوته لـيده شوې

تـه زما دسـترګو تورته مې ليمه يې **ته مـې نورته مې بصرته مې ديده شوې**

لـکه والـوزي له چـا مـرغه نيولی هـسې ته زمـا له لاسه پريده شوې

مـــاپه سل جـــفا دې يومانې ونه کړ **ته پـــه لـــږ شکايت هومره رنجيده شوې**
چـــې پيوندمې لـــه تاوکړ زما نورې که له چاسره رشتې وې بريده شوې
رنګ دنمر څنګه زيړ نشي ستا په مـــخ کې ته غيرت دښـــايسته وو آفريده شوې
يوزمان هم نه بيليږې تر دلـــچسپې **ته زمـــا په زړه کې هسې چسپيده شوې**
لـــکه ګل چې دشبنم په نوغوړيږي هـــسې ته زمـــا په اوښو باليده شوې

مـــحبته چې پرې بار دزړونو پريووت
دواړه زلـــفې ددلـــبروخـــميده شوې

"۳۶۹"

کـــه دچـــا آشنا پـــه طمـــع ددنيا يې ولـــې لافې ددوستي کړې بيوفا يې
ددنـــيا دپاره ســـل ځـــايه ياري کړې **هـــډوچانه کړې معلوم چې يارد چايې**
چـــې د زړه ورپورې هـــسې دی ترلې دادنـــيا به ځـــووی ته ترڅو به پايې
چې دچا تعلق زيات حاجـــت يې زيات وي که بادشاه ددرسـت جهان شي هم ګدايې
غـــمزده که ددنـــيا يې پـــه غـمو نو ژاړه ځـــان خپل چـــې اخته په لوی بلا يې
نفع بيا مونده تړې چا چې ته به مومې **سودبه زيان کړې ددنيا که په سودايې**
بادشاهې ده استغنا چې پرې يې نړدې دولتمندې [1] لـه دنيا که بې پروايې
مـــعرفت لـــره پـيداشـــوې بې يقينه ته ګـمان کړې چـې دنيا لره پيدايې

محبته ګـفت وګوی عاشـــقانه کړه
ددنيا مذمت بـــس کړه څوبه وايې

"۳۷۰"

کـــه ګنجونه په منت بخښې لئيم يې **يو فـلوس که بې منت ورکړې کريم يې**
چې عاشق شوې نورحکمت څه لره غواړې **دغـــه مينه دې حکمت ده ته حکيم يې**

---

(۱) دولتمندې : دولتمندۍ

ددوي سياهي دې پرې نه وله له زړيه ته بدبخته دازل سيه کليم يې
پاڅه زرداروپې وکړه په شرابو اې رنځوره که په رنځ دغم سقيم يې
دمستانو کلام نغوړه که په هوښ يې مينو شي کوه په طبع که سليم يې
يووصال دی بل هجران دیار دی واوره پرسنده که دنعيم و دجحيم يې
که مينوش دحقيقت يې له ساغره معلوميږي چې په شرځ مستقيم يې
تکلم کوې دعشق که په خبرو له معشوق حقيقي سره کليم يې

له ازله زه مخصوص په محبت يم
محبته ته زما يار قديم يې

"۳۷۱"

اې چې هسې قوت ناک وپهلوان يې
راشه ښپې [1] وعشق ته ټينګی کړه که ځوان يې
دروازه دې ديقين کړه په ځان پورې
مقيد په قيد دوهم ودګمان يې
که آګاه نه يې له ځانه بد خصلته
بيهوده دخدای دپوهې په آرمان يې
په هيڅ شان دخدای به دوست نشې غافله
چې داهسې په غفلت دښمن دځان يې
که ځان وپيژنې هله به معلوم کړې
چې ته څله پيداشوی په جهان يې
که دزړه ژبه دې نشته پوچ ګويي کړې
چې دخولې په ژبه درسته ورځ ګويان يې

---

(۱) پښې

ددنـــيا په تماشـــو چـــې هـــسې غـــولېږې
لاســـواتـــرهلـــکانـــو هـــم نـــادان يـــې
تـــمام عمر دې خـــپل تيرکړ په غـــفلت کې
نه افـــسوس کـــوې تراوسه نه پـــښيمان يې
يـــوقـــدم وســـمې لاړې وتـــه نـــه ږدې
چـــې روان يـــې پـــه کـــږې لاړې روان يې
يـــوساعت هـــم وبهـــبود ته نظر نـــه کړې
روا دارهـــره کـــړې دخـــپل نقـــصان يې
خـــونه ورانه به دې وي بـــې محبـــته
مـــحبت که دې پـــيدا کړکورودان يې

"۳۷۲"

هم په رنګ هم په بوی فخر دزمن يې ګـله ته ګـل شهرت ددې چمن يې
که دې پـته خپله خوله لکه غنچه کړه خـوخاموش بـه يې آخر په خنديدن يې
شي ګار پرک دګـل چې پرې قدم ږدې ســرتر پايه زيات تر ګـله نازک تن يې
ګل په باغ کې پژمرده شي په خوورځې تـــه مـــدام تروتازه پداګـــلشن يې
سرتر پايه که ګلزار نه يې نور څـه يې چـې ګلروی وګـلرخسار وګـلبدن يې
لاله لب ونرګس چشم وسنبل مـوی يې پـه رنګ ګل په خوله غنچه په بوی سمن يې
که يوسف بينايي بـــخش ديعقوب شه ته زمـا جان بخش په بوی دپيراهن يې
لـــکه ګل هم دغه دوه درځـخه نشته تـــه په عهدوپه وفـا کې مـبرهن يې
هـــم پدا چې نوبهـــار يې ســـرتر پايه
مـــحبت دی ســـتا شيداته يې مين يې

"۳۷۳"

مـــعشوقه چـــې بيوفا ده هـغه تـــه يې چـــې جـــفالره پيداده هـــغه ته يې
پـه ياري کې چارې تل داغياري کړې چـــې آشناهـم ناآشنا ده هـغه ته يې
په تمام جهان کې شوردې دښايست دی چـــې يې هر پلو غوغاده هغه ته يې
قـــراري نه مـومـــي خـــلق له آشوبـه چـــې فتنه يې تل بـرپاده هغه ته يې
ســـتا د مخ شمس وقمر کله سيالي کا چې په حسن کې يکتاده هغه ته يې
يا آفـت يې يا قيامت يې غرض دادی چـــې په قـدبلا با لاده هـغه ته يې
دهـــر څيز يو مثل شته دی په عالم کې چـــې يې مـثله په دنياده هغه ته يې
نه رعـنا شته نه زيبا شته په جهان کې که رعـناده که زيبا ده هـــغه ته يې
چـــې وتاته پـه وفـــا دی هـــغه زه يم چـــې وماته په جـفاده هـغه ته يې

محبت مثال چراغ څه کا په کور کې
چـــې دده د کـــور رنا ده هغه ته يې

ي

"۳۷۴"

پـــه صـــيقل دمـــحبت د زړونـــو زنـــګ ځي
کـــه مورچې وي دمدت پـــه يوه درنګ ځي
نامـــردان دي چـــې دنفـــس په لاړې درومـــي
مـــرد هـغه دی چې له دې لاړې له ځنګ ځي
پـــه دانه ځـــي وګـــلشن ته مـــې ګـــلرويـــه
چـــې دوړاندې يې دګـل له مـخه رنګ ځـــي
عـــاقبت ســـرومال ځـــي دعـــشق لـــه لاړې
په وړنـــبي قدم يې ټـــول نامـــوس وننګ ځـي

پـــوخ عـــاشق په عـاشـــقي هـــغه بالـــه شي
چـې له شوقـه په بـــل اورلـکه پـتنګ ځـي
عـــجب زيب کـــالـــيوني چـــې ســـتالـــه دره
درست پـــه خاورو آلـــوده لکه مـلنګ ځـي
صـــوبه دارد عشق لـه زړه مې صبرو تاب وړي
باج ګـذار شوم چې له مزکې مې قلنګ ځـي
بـــيتابي مـــې دی ځـــوک هـــلته يې کـــا يادە
چـــې آرام دپـــاره يارمـــې پـه پالـــنګ ځـي
مـــحبت دې دنـــګاه په غـــشي وويشت
په ســـينه يې ســـتابانه لـــکه خدنګ ځي

"۳۷۵"

چې شهامي په څهره زلفې خورې ځي يوعـالم ورپسې کاناړې سورې ځـي
چـــې روانه شي پـه لار دحسن شاهـه مـــشتاقان ترڅې ورپـــسې پرې ځـــي
مـــحرومان هم په اميد ورپسې يون کا چـې له چاسره کاوشتي مسخرې ځي
پـــه درګاه يې دهـــغو خدمت قـــبلیږي چې سرونه په لاس ايښي دمجرې ځي
ټول وګـرې دسروويښواوښـــې توی کا چې په خوله يې ايښي پان وې شوندې سرې ځي
کـــه زرهـــيړه زوره وره ســـيلی راشي دسـوخته کله لـه دره يې ايرې ځي
دکـــږو ورځولينده چې کاندي غـرقه دبنـــو غـشي په زړه مې ترپرې ځي
پـه خندا چې شي روانه مهجوران هـم دوصال يې اميد وارشي په اسرې ځي
چې شهاکاندي ښکاره وروځي خمدارې
پـــه ځګر دمـــحبت تـــورې تيرې ځـي

"۳۷٦"

جان افزاو روح افـزامي شونډي ستا دي خطرې لـه مـرګه اوس کله زما دي
په څه شان وکاندي څوک خبره حقه پـدا دوز چې صواب ویل خطا دي
چـې په زړونوهـیځ اثر دمـینې نه وي هـغه زړونه نه دي کانې دبید یادي
لـکه ته لـرې پـه حُـسن اندازونه پـه خوبـانو کـې راوښـیه دچادي
څوک دنیا غواړي څوک دین غـواړي له خدایه مـاځار کړي ترخوبـانو دین دنیا دي
یامـحبوب په دنیا راکړې زمـا خدایه یامـې پورته له دنیا کړې دوه وینا دي
بـې له یاره په دنـیا وعاقبت کـې عـاشقان لـه دواړه کونه بې پروادي
زړونه مـفت دعاشقانو ولـې ناخلې دانقدونه چې درکړي خدای ویړیا دي

واړه ډک بوالهوسـان دي په دنیا کې
عـاشقان چې مـحبت کانا پـیدا دي

"۳۷۷"

هـد هدان قـرقره دار دي دهـمای دوړاندې خوار دي
جـنس یودهـمه سـپودی خُـنې پوچ خُـنې پـکار دي
دغـه سپي کوڅه ګـردي کا دغـه سپي دي چې دښکار دي
بـاز ټپس په یو صـورت دي ولـیکن بیل پـه اطـوار دي
دښکار غوښې خوري بـازونه ټـپسان تل مـردار خوار دي
هم هوسی دي په نورملک کې هـم پـه چـین وپه تاتار دي
هـغه صـرفـې لرې پـچې دغـه واړه مـشکـبار دي
په عـراق هـم دي آسـونه هم په نورملک کښې بسیاردي
دنـور ملک ولـې آسـونه هـسې کلـه پـه رفـتار دي

نـــيشكر دي پـه دنيا کـــې هـم نلـونه ډير بـيشمار دي
هـــغه ډک دي لـــه شکرو دغـــه تش خالي بـيکار دي
مـــحبته جـــدا هـــر څه
پـيدا کړي کرد ګار دي

"۳۷۸"

چـــې دزړه ســـترګې دچا ديار پـــه لـــور دي
په جـــهان کښې دهـــغه سترګـې څـلور دي
دمـــليـــح حـــسن دې پـــاتـــې دي لاتـــرې
غـــه مـاهيان چې ساکـــنان دآب شـــور دي
چـــې يې اورم په عـــالم کـــې افـسانې شـــوې
زما ســـتادعـشق قـــصې چـــې کوراکور دي
بـــيهوده خپـله کـــاسه کـــړې ورته وړانـــدې
کـــنډولي دآســـمانونو خـــود نـــسکور دي
نـــن دهـــجرشـــپه سـبا ورځ بـه دوصـــل وي
غـــم بنـادي ســـره هـر کـــله خوروروردي
زه عـــاشق يم هـــيڅ مـــې بې لـــه وفـــا نه زده
بـــيوفـــا بـــوالهوســـان وي هـــغه نـــور دي
ســـپين به نشي درته زړه دهند دخلقو
محـــبته ددې تـــورو زړونه تور دي

"۳۷۹"

دواړه وروځې ســـتا چې دتيرې تورې په څيردي
تاوته دي وروځـې ولـــې ماوته شـــمشير دي

يـــودمـــيني حرف خـــومـــي ياد دی مـعـــلمه

لـــوستي چې مې نوروو هـغه واړه زما هيردي

څـــه يې کړم که ډيردي نعـمتونه په جـهان کې

بې لـه شکر لـبې هر خواړه راته ګـنډ هير دي

وبـــاسې که ته مې په راتـــله خـــپل وبه بـاسې

زه تـــرې وتی نشم ســـتا غـمونه راچاپير دي

زور رابـاندې راوســت رقـــيبانو چـــې ته لاړې

راشه بې لـــه تا دا پشونګړي رابـاندې شير دي

عـــشق ظاهر دولت دی بې بـــصره ولـې ناخلې

ړوند پـــه سترګو مـشه خزانې درته برسيرډي

حال مې راشه واوره دمجنون قصه به څـه کړې

تير حـــکايتونه چـــې شـــوپريده هـغه تير دي

جنګ دغه دی غواړي پهلوان دعـــشق ولاړ دی

را دې شي مـيدان ته که ســهراب رستم دلير دي

بـــارپـه هـــر آدم دي ګـناهـــونه مـــحـــبته

فرق دی هم داچې په چا پاودي په چاسير دي

"۳۸۰"

پـــه طـرف درقـــيبانو تل قـــدم ږدي دريغه يار زمـاپـلوته قـدم کم ږدي

تربـــخيله لابـد تر هـــغه کـــريم دی **چې په چاباندې منت دخپل کرم ږدي**

چـــې بخيل يوه کنجـــکه چاته ورکا **هـــم هغه وخت په خپل ځان نوم دحاتم ږدي**

بار بـــردار مې خپل ګڼي له دې کبله پنډ زما دزړه په سرد دردوغم ږدي

په ښايست چې ډيرنازيږي لـه غروره يارپـــه سرباندې دستارخپل کلـه سم ږدي
مـــلايک تر هـــغه ځـــاية کله رسـي ترســـدې هورته که ښـه[1] ږدي خوآ دم ږدي
زه افـــسر دبادشـــاهي وهـــم په لته چـــې قدم زمـا په سر هغه صنم ږدي
ريـــايي ســـفرې [2]هـــډونه قـــبليږي شيخ عبث قـدم په لارې دحرم ږدي

چـــې ګـــلرويه مـــخ پنهان کا محبته
لکـــه ګل په زړه داغونه دعالم ږدي

"۳۸۱"

چې دې ورکړل وخوړل هـــغه دې خپل دي
هـــرچـــې تا کړل ذخيره هـــغه دبـــل دي
يود مـــال وي غرضـي يل دخدمت [3]خـــپل
دمـــخـــدوم ودخـــادم سره غولـــول دي
چـــې يې ســـوی دجهنم تـــراوره زيات دی
يـــود وه داغـــه هم دهـــجرلکه سل دي
ســـتمـــونـــه دې آســـمانـــه ستـــمګـــاره
پـــه بل چـاوي کـــله کلـــه په مـاتل دي
تـــل کـــنځل [4]کـــوه ومـــاته لـــب شکرې
لذت بخش زما دزړه خوستا کنځل[5] دي
پـــه څـــه رنـــګه يې وچـــاوته ښـــکاره کړم
چې دعـشق داغونه پټ مې په کوګل دي
مـــحبته خود خـــاطر به دې پـــريشان شي
چـــې وزلفو ته يـــې هـــسې دې کتل دي

---

(۱) پښه
(۲) سفرې = سفريې
(۳) خدمت
(۴) (۵) ښکنځل

"۳۸۲"

کـــه شـــمشاد وصـــنوبر په قـــامت ســـم دي

چـــې يې ګـورم ســتاتر قـده پـورې خم دي

هـــغه بـــايـــلي چـــې غـــمونـــه ددنـــيا کـــا

هـــغه وګـــتي چـــې تل دعـــشق په غـــم دي

هـــسې ډيردي چـــې بـدنـــام په بـې ننګۍ شي

چـــې له نـــنګه نوم پيدا کا هـــسې کـــم دي

کـــه درون بيرون يـــې وســـوزي ايرې شـــي

چـــې دعشق لـه اوره تښـتي هـغه ګـرم دي

چـــې ته لاړې پـــه فـــراق کـــې دې ياران مـــې

مـــحـــنتونـــه رنـــج وغـــم درد وآلـــم دي

پـــه افـــسر دعـاشـــقي چـــې ســـربلـــند شو

هـــم هـــغه پـــه دوه جـهـــانه مـــحترم دي

چـــې په پـــټوســـترګـــو ســـير دجـهان کاندي

زړه يـــې جام جـــهان نمای دی هـغه جم دي

کـــه شاهي غـــواړې ګـــدای دعـــشق د درشه

ګـــدايان يې بـــادشـــاهـــان دکـــل عـالم دي

غـــوخ په تيغ دمحـــبت مې شعر اوري

چـې اشعار مې په پرهار دزړه مرهم دي

"۳۸۳"

اړولـــي دې دچـــا په کُـــشت وخـــون دي

چـــې چشمان دې نن پدارنـــګه ګـلګون دي

په جهان ډيرې ليلا دزمانې شته
ولې واړه ستا په عشق لکه مجنون دي
په هيڅ وخت کې وهيچاوته سم نه وي
تل کاږه چې ګرد شونه دګردون دي
په حساب په شمار ظلمونه يې رانغله
چې ترشماره تر حسابه ډير افزون دي
سرې لالې [1] شي سرراوباسي له خاکه
کشته ګان دې ډير په مزکه چې مدفون دي
لالې [2] هم لري غم ستادسر ولبانو
چې په داغ د زړه له مزکې رابيرون دي
که دولت غواړې دعشق کړه مزکه خپله
چې هم هلته خبن [3] ګنجونه دقارون دي
شراب سکي [4] دخرابات دپيرله اذنه
پيدا کار رندان له پيره خپل ماذون دي
چې مې وليده قدونه ددلبرو
محبته ستا مصرع هسې موزون دي

"۳۸۴"

ستا څهره قرآن کتاب درې واړه يودي
ستا خوله عطر وګلاب درې واړه يودي
څه تعريف دې دسروشونډو دبهار کړم
لب لا لا [5] لعل خوشاب درې واړه يودي

---

(۱) سره لاله
(۲) لاله
(۳) بخ
(۴) چينې
(۵) لاله

يونـــظر چې کـــړې تمـــام عـالم بـيخود شي
ستانګـاه جـــادو شـــراب درې واړه يـــودي
پـــه نـــالـه مـــې دســـرود نغـــمه ده واوره
دانـــغمه چـــنګ ورباب درې واړه يـــو دي
دعـــشق اور داهسې وسول اوس چې ګـورم
زړه ځـګر مـــې او کـــباب درې واړه يو دي
دجـــفا په سنـــګ مـې ولـــې نه پـــوهـيږې
زمـــا زړه بنـيښـه حـــباب درې واړه يودي
مـــحبته خـــلق لاهـــودې کـــړپه اوښـو
اوښې ستا باران درياب درې واړه يو دي

"۳۸۵"

ستا خبرې که شکرې نه دي خـه دي **که شکرې ستا خبرې نه دي خه دي**
چې په ماغوندې ګـــداى الـتفات کاندي **که شهـي غريب پرورې نه دي خـه دي**
سيم وزرخه کړم چـې بنې ترسـيم و زره **که زړبـــو شې سيمين بړې نه دي خه دي**
چې تړې ماه په زړه داغي دي دامـهرويې پـــه انوار که نورقمرې نه دي خه دي
ناکـــردې چې هـــسې کا په عـاشقانو **مـعشوقـې که زوره ورې نه دي خه دي**
چې سايه په خلمو کاندي که داجـونه **ســر په سرپرې پيکرې نه دي خه دي**
په افسون چې زړه دخلقو پـدا شان وړې ســترګـې ستا که سحر ګرې نه دي خه دي
وروځـــې ستا چـې خونريزي کادعالمو لـه شمشيره که همسرې نه دي خـه دي
محـــبته تا په شـــعر ګـوهر بار خـــپل
کـــه پـــيبلې مرغلـرې نه دي خـه دي

"۳۸٦"

بـــيدردان بـــلا وهلي دي که نه دي بې غمان له عقله پلي دي که نه دي
چې خپل زړونه يې له عـشقه ودان نه کړل ويجاړ کړي هـغو کلي دي که نه دي
بيهوده دنـــيا دارانو په ځـان بـاندې مـحنـــتونه راوسـتلي دي که نه دي
نيک مـردان لـکه مرغه بې بال وپره وآســمان ته الـوتلي دي که نه دي
رهـــروان چې ګڼي سهل تله په لارې پـــه طريق دمـينې تلي دي که نه دي
شهسوارا نودعـشق واګې دمطلب خپل بنـه مضبوط په لاس نيولي دي که نه دي
چـــې دمينې له شرابو توبه ګار شول لـه ايمـــانه جاروتلـــي دي که نه دي
په عـــاشق بوالهوسان به غـالب نشي پشونګړي مزري ته غلي دي که نه دي

روان شوي چـــې په لارد محبت دي
ومـنزل ته رســـيدلې دي کـــه نه دي

"۳۸۷"

ډير علـــمونه دعارفـــو په سـينه دي چې تعليم يې زړه په زړه وي درسي نه دي
نيک ته نيک بنکاريږي بد ته بدځرګند شي خـــپل اعمال وهر سړي ته آئينه دي
ستا دمينې که سبب نه دی نوځه دی خپل پردي چـې واړه راته پـــه کينه دي
طـــالبان چې په طلب دیار روان شي کـــله اړپـه پـنجـشنبه پـه آدينه دي
ناريـــنه بدکـــار په ځـای دي دزنانو پـــاکې بنـځې پـه مـقام دنارينه دي
که هرځوقـهر درياب وي ډوب به نشي دهـيلي واړه بـچي چـــې شبينه دي
دزمـــزم په اوبو هـــډوپاک بـه نشي نـــاپاکان چـې په مکه ومـدينه دي
واړه يودي که زړه نه ترې ورپـورې پـوشاکونه که زرين که پـشمينه دي

لوی مقام لري چې زړونه ددردمـنو
محـــبته دنامـــه دې نـــګينه دي

"۳۸۸"

که باطن وته نظر کړې نظارې دي پټې کړې که خپلې سترګې نندارې دي
چې يې ګورم لکه نورهسې بلقيږي رخسارې دي سترا که دواړه مه پارې دي
زه ګلزار ته څله درومم بوالهوسه چې ګلزار مې دخوبانو رخسارې دي
مزدوران دي په اجرت مخلصان نه دي عابدان چې وجنت ته يې اسرې دي
واکسير ته کړه نظر حقيقت بين شه چې په اصل کې د زرخاورې ايرې دي
قيل وقال دعشق کړه هوولعب پريږده چې خبرې نورې وشتي مسخرې دي
ناداران کله زيبا معشوقه مومي چې مثل دي دامشهور دخوار وخرې دي
عجب وخت دی مړني دي چې په کوزه دهغو په سرنن کاندي قرقرې دي؟
دعاشق مال و دولت درد ومحنت وي که څوک داغواړي راځخه ذخيرې دي
دحجاب پرده له مخه څخو واخله تانتلي دې دمخ په نندارې دي

داسرخي نه ده دپانو محبته
خونخواري کا چې يې شوندې هسې سرې دي

"۳۸۹"

تل ذکرونه کړه دمينې چې حالې دي څه به کړې نورې خبرې چې قالې دي
می دعشق زړه به دې داغ کابوالهوسه چې داتيز لکه شراب پرتګالې دي
ګل دباغ څه کړم چې يې له ګلرخانو داغ ګلونه مې په زړه دنهالې دي
که تورکانې نه دي نورځه دي دلبره هغه زړونه چې له درده دي خالې دي
دآفتاب رويو په حُسن څه نظر کړم له خورشيده يې مخونه په سيالې دي
خود زيبا يې نه په تازيب دکالو شي زيبايش دنازيبا معشوق کالې دي
که نظر کړې واړه ډک دي له رحمته جمالې يې دي صفات که جلالې دي

تل فتنې وخرخښې کاکه يې ګوري دجـهان خلـقې واړه جـنجـالي دي
محـبته ډک په اوښـودي باڼه ستا
که اوريځي تـورې داپـشکالي دي

"۳۹۰"

داکـم عقل چې لـه عـشقه بې بهرې دي
ځـناور دي يـاطـفلان دګـهوارې دي
که عـشق اور نه دی حيران يم داکوم اوردی
چـې زمـا پـه زړه يـې ډکې شرارې دي
تـه آفـتاب يې په ښـايـست دهـمه واړو
کـه سپوږمی ده په آسمان که ستارې دي
ډير مخلوق چې په کوڅه کې يې شهـيد شه
دسـرونـو هـلته جـوړې مـنارې دي
سـتا دزړه سـخته قـلعه بـه کړم مـفتوحه
چـې نالې مـې په دې ځای کې غبارې دي
وخـبروتـه دې ځـرنګـه غـوږ نـږدم
چـې خبرې دې دغـوږمې ګوشوارې دي
په جهان کې دې دعشق داهسې شور دی
مـحبت مـحبت هـر طرف نارې دي

"۳۹۱"

که مـې کړې نه وی [1] تاسـره ياري پـه ما خـله بـه راتله هـسې خواري
ځوهوښـياروي هومره رايشي پرې غم دسـړي دځـان بلاشي هـوښياري

---

(۱)

تـــل يـــې وي زمـــا پلـــووته نګـاه **چـې مدام نظر په ښکار وي دښکاري**
نـــه پوهـــيږم په زړه غـــم لرم دچـا چې زما له سترګو نه ځي خونبار ي
په فـــراق دې دعـاشق دی دااحوال **بيدار پروت تمامه شپه ستوري شماري**
څـه حاجت عاشق معشوق ته دريبار زړه خود کـــاندي دمـينو ريبـاري
ځان غولوم ډيرولې څه کړم بې لـه تا پـه هيڅ شان نه ځـي زمـا بـيقراري
کـــوم جهان عـــشق راته وښـــوالهـي چې مې شوه له درست جـهانه ويزاري
ترهـغه تندرست وم څـوراڅـخه وې چـې ته لاړې پـــه ماراغـــله بيماري

محـــبته دګـــلروی په وصـــل هم
نه ځـي ستا لکـــه بلبل آه وزاري

"۳۹۲"

چـې ترمرګه مړپخواشي هغه نه مري تل تر تلـه يې بقـا شي هـغه نه مـري
په عـــالم کې چې دچا دنيکۍ غـږ شه نوم يې پاتې په دنيا شي هغه نه مري
ګوښه ونيوه هر چا چې له دې خلـقو **تل ژوندی لـکه عيسی شي هـغه نه مـري**
عشق جهان دی بل چې څـوک پيدا يې کاندي دادنيا ورته عـقبی شي هـغه نه مري
ستا په توره کې شايد آب حيات دی **چې شهيد په توره ستا شي هغه نه مري**
چې عاشق شي تل حساب يې خدای روزي کا په جـهان که فـناراشي هـغه نه مري
دجـــهان دعـشق عـجبه کار خانه ده چـې مولود پکښې پيداشي هغه نه مري
می دعشق آب حيات دی که چـانوش کړه طويل عمرې [1] خضرآساشي هغه نه مري

هـــميشه کـــلام باقـــي وي محـــبته
په کلام چې څوک ګوياشي هغه نه مري

---

(۱) عمرې = عمريې

"۳۹۳"

مـــهرومه آســـمان دپاســـه دي که ســتوري
هـــره شپه پـه غـــتو سترګـو درته ګـوري

لکـــه قـــهر پـه مـريـــونو خـــاوندان کـــا
معـــشوقـان خپل عـاشقان داهـــسی زوري

عـــجب داچـــي دي بـــيرون ترشش جـــهته
اوکـــه بياګـوري موجـود دی په هرلوري

څـه عـــجب که بـياطوفان په جـهان راشي
چـــې باران غـــوندې زمـا دااوښې ووري

قـــوت ناک په خپل قـــوت دې غره نـــشي
عشق پـه دم کې زوره ورکاندي کمزوري

چې خپل جنس لري کاسد څه به سودا کړي
بدکـــالی کله څـوک پـيري يايي پلـوري

ډير مـــلوک چې تخت نشين وتا جداران وو
مـــيني وګـرزول ښپې ابل سر ســـرتوري

لـــکه ونـــه په ســـيلی وخـــوځـــي ټـولـــه
پـه هـــواد هـــجر زړه مـــې هـــسې ښوري

محـــبت په هـــوس نشـــي مـــحبته
بوالهوس له مينی ځان ولې نه ژغوري

"۳۹۴"

که مشـــغول شـــوې په کار ونـــودوګـړي
خـــپل کارونه به دې پاتـــې شـــي نيمګـري

رقـــيبان خس وخـــاشاک دي څه يې ګورې

پـه جـــهان کې هـــسې ډير ګـرزي بـادورې

کـــه پـه شونډو يې داخپـــلې شونډې کيدې[1]

ته بـــه هم لکه عـــيسى ژوندي کـــړې مړي

رابه نـــورې خورڅمر چې اصـل يې تريخ وي

زرغـون کـــله شـــي انـــاردنـــيم پـــه زړې

مـــسلم چـــې په لويې کـــې لـکه غـر شوې

ولـــې غـــرهم عـــاقبت خـــووبـــه لـــورې

که نيک کار کړې که بدکارکړې اختيار ستادی

رابه شـــي دوړانـــدې ستا کـــارونه کـــړي

زلـــفو ستالـــه هـــره ماره بيخـــطر کـــړم

اوس مـــاران راته ښـــکاريـــږي لـــکه پـــړي

دنـــيا دارسيم وزر زيات ګڼي تر هر څه

مـحبـــت وته کـــمتر دي تر خـــسړي

"۳۹۵"

زړه مې هـــسې خال وخط يې پـــټ پنهان وړي

په شـــپه مـال دچا په غـــلا لـکه دزدان وړي

کـــه فرياد نه کـــا عـــاشق بـــيچاره څـــه کـــا

ظلـــم ستاتر کومـــه پورې په خپل ځان وړي

لـــه پنـــجې دبـــنو زړه مـــې هـــغه ســـترګـــې

لـــکه بـــاز چـــې زرکه يوســـې پـــداشان وړي

---

(۱) کښېږدې

ستاسودازده آخر به يې پاره کا
له جنونه چې پنجه پخپل ګريوان وړي

تل په مخ يې تارپه تار زلفې پرتې وي
دهندو نازونه ګوری مسلمان وړي

ستا عاشق به په درياب دعشق څه زيست کا
چې يې خس غوندې دابحربې پايان وړي

داد چا پيه لاس چوګان دښايست راغی
چې دحسن ګوی له نمره په ميدان وړي

غلامان هسې فرمان دخداوند نه وړي
عاشقان چې دمعشوق لکه فرمان وړي

مخ دښکليو په آخر وخت يې ونه ليد
له جهانه محبت دغه آرمان وړي

"۳۹۶"

که خوله راکړې لب شکره هرحاجت مې روا کيږي
ته حاتم د زمانې يې زما طمع له تاکيږي

ته مسجود دزمانې يې شابه هيڅوک درته نه کا
بې ادبه هغه کس وي چې قبلې ته يې شاکيږي

دايازِ محمود قصه مې چې ولوسته شوه معلومه
په اخلاص چې څوک خدمت کاکه بنده وی مولا کيږي

هوسناک به عاشق نشي اوهوس به عشق و نشي
دا ربستيا هغه دروغ دي دروغ کله ربستيا کيږي

څو کعبه مقابل نه وي فاسد نمونځ دنمانځ ګذارشي

چې قبله دمخ دې وينم هله نمونځ مي ادا کيږي

پـــليدي چـــې ده ظاهـــره په اوبوســـره شي پـــاکه

نجاســت چې دباطن دی بې له عـــشقه نه پاکيږي

نن دپلارکسررا يادشه زړه مې وايي چې تضمين کړه

هـغه کسر دادی واوره چې تضمين يې له ماکيږي

«وحافظ ته دعاکانئ چې هوري له سختو خلاص شي

ډير نجـــات د ګـــنهکارو د مـومن په دعـا کيږي»

مجنون تيرشه فرهاد تيرشه په صحرا دعشق اوس زه يم

څـوچې بن دمـــحبت دی يومزري به پـــيدا کـــيږي

"۳۹۷"

ستا په غـم کې به ژوندون مې څنګه کيږي چې خوناب دزړه له سترګو مې بهيږي

روغ په څه شان به دازخم کړې طـبيبه پـه پرهـار دزړه دارو چې نه لګيږي

بې حـــجابه په لحدمـــې هـم تيرنه شه دريغـه دريغه چې تراوسه لاشرميږي

دمـــريد زړه چې رهبر دلارې نه وي پـــه پـــيرانو ومـــنزل ته نه رسـيږي

په سل کاله مې ارمان له زړيه نه ځي بې لـــه ياره چـــې يودم عمر تير يږي

که له درده يـــې تارې وهم مـعذرويم چې پرهـار په زړه دچاوي خوخو کيږي

که په غم يې شم خاموش ســـهيدی نه شم اوکـــه چرې په فـرياد شم زهيريږي

چـــرته شپه خودې بېګاده رونا کړې چـــې دې سترګې خواب آلودې معلوميږي

چې له خدايه ملقب په محبت شوم

زمـــا بـــې له مـــحبته نـــه تيريږي

"۳۹۸"

په نیکی بدي دهیڅا هیڅ نه کیږي هرچې خدای کا په بنده هم هغه کیږي
دهجران په رنځ رنځور دی بې له وصله په دارو درمان رنځور دی نه ښه کیږي
ستاپه مخ یوه شکوه نه شم کولی البته حجاب دمخ له مخه کیږي
ملاقات یې شوی نه دی ځکه نه شي کنه نورکارونه شوي همه کیږي
زما زړه لکه ښیښه ستا لکه کاڼی داجوړښت به زما ستا څرنګه کیږي
مرګ ته هم وایې وصال رامعلو میږي **چې زه ومرم ستاوصال به هله کیږي**
خدایه ورک هغه بی درد کړي له جهانه د درد منوچې په مرګ یې سخه کیږي
اختلاط کوي بې زړه عالمو څه زده ته یې پوه یازه پو هیږم لکه کیږي
هغه شوخ چې دنګا غشي ګذار کا
ورته زړه د محبت خود نخښه [1] کیږي

"۳۹۹"

داپه خلقو کې چې اوس آشنایي کیږي اشنایي یې مه بوله رسوایي کیږي
پارسایي شوه اوس داهسې چې ترفسقه فضیحته لاسوا پارسایي کیږي
هیڅوک نه پوښتي صلاح له دانایانو **دنادانو په هر ځای خود رایي کیږي**
ددانا کا رونه واړه نادانې شي **چې نادان کاندي هغه دانایي کیږي**
چې توانا ووناتواني وربانديې راغله چې ناتوان وو دهغو توانایي کیږي
چې یواز یې ګرزیدل اولس داران شول روځ په روځ داولس دارتنهایي کیږي
هریو خردی مزین په زین دزرو هرزمان دنا زیبا زیبایي کیږي
په عبرت که نظرو کړې محبته
پدا وخت کې تماشا دخدایي کیږي

---

(۱) اصل : نښه

"۴۰۰"

مـــحبت لـــه محـــبته نه مـــړيـــږي لايـــې مينه ســـواکيږي څـــوزړيږي
مينې اوس خوټې دغم تيشه کړه پورته چـــې دزړه مـــې عمارت واړه نړيږي
که لـــه غمه يې ساړه آهـــو نه اخلم چې پداراضی دی لايې زړه سړيږي
يې له تاځرنګه خوب راشي چـــې خيال ستا **لـــکه مالګې مې په ستر ګو کـــې وړيږي**
په راتلو دې پدارنګ خاطر مې واشه لـکه ګل چې بهار راشي وغوړ يږي
زړه زماغـمګين کړې بياوايې چې خانده څـنګه وخاندي دچاچه زړه زړيږي

مـــحبت همدم زمـــا په هـر نـــفس دی
پرې به نږدم مـــينه څومې ســـاه غړيږي

"۴۰۱"

خـــبردار بنده به هـــله له مولاشـــي چـــې غافل له دې دنيا وما فيها شي
که لاس پورته له دنياوله عـــقبی کړې داجهان هغه جهان به دواړه ستاشي
په خودي بـــنده له خدايه لـــرې وزي چې خودي شي لـرې خدای پخپله راشي
خط چې وتوکيده نور دې دمـــخ زيات شه **چې سپورمی وي په هاله کې ښکلې لاشي**
زلـــزله د زړه که څخو کړم ظـــاهره اوس بـه دامزکه آســمان وته بالاشي
څو دې مخ پټ کړی نه دی له اغـــياره مـــخ دياربـه درته کلـــه هـويدا شي
چـــې تياره دتوروزلـفـو شوه راباندې **اوس که خدای کاندې په مخ به مې رناشي**
په هرزيان کې به دې ســودوي خريداره په بازارد محبت که دې ســودا شي

ترقـــيامته په مـــيدان د محـــبت کې
کله ځوان به مـحبت غوندې پيداشي

"۴۰۲"

د راتلـــه يې چـــې زمـــا خـــونه آباد شـــي

دانامرادزړه مـــې به هـــله پخـــپل مـراد شي

حـــې دمينې عـــمارت قـــايم پـــه زړه کـــا

پـــه دوه کـــونه دهـــغه محـــکم بنـــياد شي

دقـــيامت په ســـخته ورځ په خداى باور کړه

چـــې دعشق په غـــم کې مري هغه به بنـاد شي

زاويـــلا که ستا پـــه غـــم کې کړم معذوريم

ګـــل چـــې ووينـــي بلـــبله پـــه فـــرياد شـــي

پـــه دنيا ځـــې لـــه ډيـــوې ډيـــوه بلـــيږي

چـــې شاګرد شي څـوک دچا هله اوستاد[1] شي

کـــه بـــقا غـــواړې لـــه اصـــله جدامـــشه

چې سروباسي حـــباب عمرې[2] بـــرباد شي

کـــه ته نوم پـــه بـــدي ياد نـــه کړې دمـــړيو

ســـتابـــه هـــم آخـــرته نوم په نيـــکوياد شـــي

معـــشوقه شـــيرين دهـــانه هـــغه مـــومـــي

بيـــصرفي چـــې پـــخپل سرلـــکه فـرهاد شي

زړه ســـنګين به ســـتا هم ورته پاتې نشي

چـــې په آه دمحـــبت نرم فـــولاد شـــي

"۴۰۳"

ســـتا په مخ کې ښه ادارانه اشعار شي چـې طوطي آئينه ويني په ګفتار شي

---

(۱) استاد

(۲) عمرې= عمرې

که ادنی اعلی رتبه غواړي خپل سرخوري دمیړي چې اجل رایشی پردارشي
وآسمان وته نظر په غوروکړه هم هغه مومي لوبي چې نګونسار شي
پیري درغله غافله ولې ناست یې چې سحر شي مسافر کوچ ته تیار شي
دځواني قوت دي لاړهم په هوښ نه شوي دکیفي چې نشه کوزه شي هوښیارشي
دصدف په شان په لږکه قناعت کړې دغه لږبه لکه دُردله[1] بسیار شي
حرص کم کړه چې محفوظ شي له زحمته اغیږلی شي هغه چې بسیار خوارشي
مخارج په اندازه دمدا خل کړه که اوبه له غره رانشي وچ رود بارشي
که طالب یې دعزت هنر پیدا کړه په جوهر سره دتورې اعتبار شي
زاهد شپه چې رونې[2] وینې دخلق سکې[3] لکه ماشي خونخواري له شب بیدار شي
شي مقبول به دمومن که دې په غاړه دسلیمان تسپو په شان محکم زنار شي
دتسپو امام چې وزي له حسابه په زمره دامامانو کې په شمارشي
له سیلی دحوادث نشي بې ځایه لکه غرچې څوک په عشق کې استوارشي
په کیمیا دعشق به زرشي هم هغه زړه چې سیماب غوندې له غمه بیقرار شي
که ځان وچ لکه لرګی کا څوک په عشق کې لکه ونه به تازه په برګ وبار شي
چې یې ځي اوښې له غمه دګلرو یې دهغه سینه تختته دآبشار شي
چې دمینې کاندي کار په نورو کارو لکه لاس درعشه دارلاس یې بیکار شي
پس له مرګه هم کرم دکریم نه ځي دهمای پرمګس ران دشهریار شي
صبرغم په عیش بدل کاکه صابر شي وخلیل غوندې به اور درته ګلزار شي
سست بنیاد پاینده چانه دی لیدلی په لږبادکه ډیرلوګی وي تار په تار شي
توره شپه دغم چې راشي په چاباندې رفیقان یې هم جداترې سایه وارشي
په عدم که راحت نشته طفل ولې چې پیدا شي له ژړایې سریکار شي

---

(۱) درله = درته

(۲) رونوي

(۳) چښې

بال وپر دعشق پيدا لکه مرغه کړه چې داهر پست وبلند درته هموار شي
زراعت دخيرلري برکت هومره که يوه دانه څوک وکري خروار شي
يوپه يواولس په لس وي محبته
مګر خير چې اجرډيرې ترمقدار شي

"۴۰۴"

چې له دره يې بدرشي در به درخاورې په سر شي
مقدر هر کار چې نه وي نه په زورونه په زرشي
زلفې واخلې چې له مخه هله شام به مې سحر شي
دلسوخته په آه لاسوزي اور چې پوکړې تازه تر شي
چې څوک سوی د زړه پيدا کا دآفتاب تر څايه ورشي
چې خوږه خبره وکړي زړه مې خوږلکه شکر شي
ستا دلاس که خاروخس وي راته ګل دپيغمبر شي
وابه نورم ستاله مينې که جهان راته لښکر شي
چې په حرص وي يا په طمع سړی هلته کوروکرشي
که شاه مُحسن وربښکاره کا
محبت به قلندر شي

"۴۰۵"

چې شهيد ديار دمينې په خنجر شي په درجه دشهيد انوکې اکبر شي
چې مشتاق ديار دشونډو وي زاهده تسلي دهغه کله په کوثر شي
هم دعشق په اورخود سوزي هم مې سيزي زړه زما کله سپند کله مجمر شي
ته مکار يې دجهان زه ساده دل يم په دروغوکړې وعده زما باورشي

آشنايې چې څوک پيداکاندي له عـشقه بيګانه له خويش ويار [1] وبرادر شي
څومې لاس نه رسي خولې ته يې هـوس کړم حيا راشـي چې مې لاس ورباندې برشي
په محشر که ليونی دی هـای و هوکا يوقـيامت تازه قايم به په محشر شي
پـه شوکت دسـتاګدای که نظر وکا شـهر يار دزمـانې بـه قلـندر شي
هلته څوک ورتلی شي بې له سربازانو **مـرد هغه دی چې ديارتر کوڅې ورشي**
په درګاه دخدای مقبول به هم هـغه وي دبـتانو چې په چـا باندې نظـر شي

چـې تاووينې اې هـوښ ربای دخلقو
محـبت له خپـله ځانه بـيخبر شي

"۴۰۶"

بـې له تاهر يو نامـرد په مـا دلـير شي چې ته نه يې پشونګړی راباندې شير شي
هـغه غـرونـړئ [2] چـې اتفـاق کا **شي هـاتي ورته ناچار چې ماشي ډير شي**
مـقرر لـکه پـشوبـه يې کا غـلی سپې ګيدړ که ترمزري واړه چاپير شي
که ښادي لاړه غم راغی صـابر اوسـه **چـې ښـادي تيره شوه غم به دې هـم تير شي**
که يوه نکـته دميـنې سـړی زده کا هـريو علـم چې يادوي واړه هـير شي
شاه ګدای شي چې يو پـوچ حرکت وکا دغـه پورته زور چـې ښکته راشي زير شي
سپک خصلت سړی پرېباسـي تردون والې که حرمـت يې وي دمن په قدر سيرشي
شيريني څه کړم چې بې له شيرين لبې که شکرې وخورم هـم راته ګـنـد هـيرشي

دعـاشق چې مـينه ورسي کمال ته
سرتر پايه محبـت زما پـه څير شي

"۴۰۷"

چې کنځل [3] يې له خندا سره آميزشي **دائر وه خوارۀ عـجب چاشني انګيز شي**

---

(۱) اصل: ياور
(۲) ونړوي
(۳) ښکنځل

هـــم هغو لره دوزخ دی پـــیدا شوی چـــې دمینې لـه شرابویې پر هیزشي
پـه زاړه جمال به خپل یوسف څه ناز که که بنـکاره ورته داستاحسن نوخیزشي
چې ابلق دنګاه خپل په جـولان کاندي **هـــمیشه یې هـم زما په زړه مهمیز شي**
ســـتاله لـــړه تغـــافله ســـنګـــین دلـه دښـــینې په شان دازړه مې ریز مریز شي
دلا ویز خودی چې عطرکړې پرې پورې تورګیسودې پدا بوی لادلا ویزشي
له پنجې به یې خلاص نشې چـــرته تښتې کشکې خلاص که څوک له مرګه په ګریزشي
کـــه خبره حقه څـوک لکه حسین کا دامـخلوق به یې یزید غوندې خونر یزشي

چې هـــوا دوصـــال راشـــي محبته
لا آتش د مـحبت په زړه مې تیز شي

"۴۰۸"

په دعوې کې یوقـاضي دوړاندې ورشي چـــې یووړشه عاقبت دویم به پرشي
هـــم ګـــتنه په بازي ده هـــم بـا یلنه له چوګانه کله ګوی هرکله ورشي
ځـان فاني کړه که بقا د ابد غـوارې هـغه نه مري چې پخواتر مرګه مړشي
که رومي وي شي زنګي په عـاشقي کې ســپین مخونه له غباره دغم خړشي
چـــې په عقل وي کوتاه فرومـایه دي په قامت لکه نښتر څه شوکه که لوړشي
واشرافـــو لـره تش اشارت یـــس دی کمینه ووته تنبیه په ډانګ لـوړ شي
پـــه کوځـــه به دې تر هـغه حده ژاړم څـوزماپه اوښوخاورې یې چیغړ شي
ترخه نه لګی کنځل[1] هډو د بنکلیو زهـــر هم دښـــایسته له لاسه نغړشي

په حلقه دزلفو خپل محبت بند[2] کړه
چـــې علاج دلیونـــو په زنځیر کړشي

---

(۱) بنکنځل

(۲) اصل : بنده

"۴۰۹"

چې پابند دخط وخال شي مـحبت يې پـه زوال شي
رنګ وبوی ته نظر مـه کړه چې دې مينه پـه کمال شي
کار چې عشق پـه يوه دم کا نه په مياشتې نه پـه کال شي
چې ديار په غم کې خوښ وي دهـغه زړه بې مـلال شي
پـه دنـيا پروايـې نـه وي مـستغنی لـه زرو مـال شي
بل مـذکور نه کا هـيڅوک خودعشق په قـيل وقال شي
په دولـت دخـپلې مـينې که محتاج وي هم بې سوال شي
ددنـيا فـکـرونه نه کـا دشهی خپـلې پـه خيال شي
هـم له ژبې هـم لـه [1]زړيه ذکروفـکرې[2] اشتغال شي
پـه اندوه کې يې عـشرت کا څې پرې غم راشي خوشحال شي
شي مـصروف په کار دمـينې نورهـر کار ورته جنجال شي
نور دعـشق پـر جـلوه وکا زړه يې رون لـکه مشال شي
لـکه نمـر دعـشق لـه اوره چې تل سوزي بې مثال شي
پـه حرم کې يې حرمـت وي چې په تيغ دعشق حلال شي
چـې دمـينې غـوټـه واکا ورته حـل تمام اشکال شي
ورځرګند په حال دعـشق کې هـم ماضي هـم استقبال شي
که کم بـخت وبـدا حوال وي بـختور وخوش احـوال شي
هـم دعـشق لـه بـرکته ګيند اطلس شړي يې شال شي
چـې عـاشق شي تر اشرافـه پـه حـسب بـه ارذال شي
کـه اوبـه يې وي خـټولـې صـافـې تـرآب زلال شي

---

(۱) اصل: هم زړيه

(۲) فکريې

که هـر څوسړی په خوی کې بـد کردار وبـد اعمال شي
چـې عاشـق شـي مـحبته
نیک اطوار ونیک خصال شي

"۴۱۰"

چـې دعـشق بناقایمه په کوڅـل شي عـمارت دزړ به هـله بې خلل شي
زړه مې هله به قرارشي په آغوش کې چـې دلبر مي همکنار وهم بغل شي
په هغو باندې قیامت هغه ساعت وي دوه مین په هرزمان چې خبـله [1]بیل شي
چې وي یار څنګل ودان راته بسکاریږي بـې له یاره وداني راته څـنګـل شي
سـتاله لاسه زهـر ماوته شربـت وي بـې له تاشربت هم زهـر هلا هل شي
عشق د زړه رنځ دی سړی په بل هـیئت کا درسـت صورت په عاشقي کې مبدل شي
رنځ دعشق چې هډو نه راځي په فـهم کې څـه علاج یې دطـبیبو په اټکل شي
زړه زمـا چې دغـمو نوزنګ پـیدا کړ پـه شرابو دسـاقي به یې صـیقل شي
که هرڅویې په شیرین شربت نهال کړې پـه لذت دنـیشکر به کلـه نل شي
خـبر دار اوسه دنیا قـمار خانه ده نیکنامـي بایلي هغه چې بدعمل شي
درست جهان که پـه خلاف مـې اتفاق کا پرې غـالب به شم که یار راسـره مل شي
خپل ترخه په عـشق خواږه کړه محبته
چې حنظل په مـحبت سره عسل شي

"۴۱۱"

زړه مـې پـه یاروتاړه چـې یاربه زما مـل شي
دانه پوهـیدم چې به هـم دی دزړه مې غـل شي
بـحر ددنیا نه دی دریـاب، بلـکه سراب دی
خیال وخواب مـعلوم کاندي چې څـوک یې په اټکل شي

---

(۱) اصل: ذبله

زیست ســره مې ده قــضیه رفـع یې په تیغ کړه
هر چې وي فیصل کیدونی هم نن دې فیصل شي
ستا په خــموشي مې غوټې پــریوتې پـه زړه کې
خولـه په خندا پرانزه چې هر مشکل مې حل شي
هیڅ پکــښې شک نشته چې دعشق په تیره توره
میرد شهــیدانو دی چــې ذبـح څـوک اول شي
غــیر لکه اغزی له مینــځه ورک نه شه ګلرویه
هــیڅرې ونه شه چـې وصــال دې بــې خلل شي
اور دې دفــراق زما پـه زړه بــل شه ویــریږم
هسي نه چــې دااورپـه تمام جــهان کې بل شي
عــشق که هر څواور دی ولې تــل نارې وهـمه
خــدایه لــه دې اوره دې زمــا سـینه مـنقل شي
لــوی جنجال شي راته پــــرانتل یې محــبته
زلفې دمحبوب چې یې په مخ باندې و لول شي

"۴۱۲"

چــې دزلفو یې ویښــته درهــم بـرهــم شي
ورقــونه مــې د زړه بـرهــم درهــم شــي
هغه زړه چې خدای دعشق په صیقل صاف کړ
آئینه شــي د سکــندر هــم جام دجــم شي
پــه شراب دمــینې جــام دزړه مــعمور کړه
چـې ښـکاره پکښــي وتاته درسـت عـالم شي

لاس وښپې[1] سترګې وغوړ دحیوان هـم شته
چـې پـیدا پـه زړه کا عـشق هـغه آدم شي
کـه دعشق په اور جـانباز لـکه پتنګ شي
عـاشقـي پـه تـا بـه هـله مـسلم شـي
چـې په عـشق کـې خـطره کاله آتـشه
پـه فـرقـه دعـاشـقانو هـغه کـرم شـي
هـرسړی چې په بنـادي ډیـر ډیربنـادیږي
هم هـغه بـسیار بسیار غمـجن پـه غـم شي
پـه پـرهـار دعـاشـقانـو لـه معشوقـه
که زنـګار وي هـم له لاسه یـې مرهم شي
یارپه سـرد محـبت کـه قدم کیږدي[2]
پاس په سربه دهـر چـاد ده قدم شي

"۴۱۳"

چـې قانع لکه همای په استخوان شي دهـغه طالب دسوري بادشاهان شي
پـیرزال به شي دوړاندې رسـتم هـم مـقابل که یې دمـینې پـهلوان شي
بادشاهـان په عشق قـبوله کـدایي کا **که تواناوي هم پداځای‌کې ناتوان شي**
نوردعشق دچا په مخ چې لـکه نمر وي له انواره یې روښان تمام جهان شي
هغـه مومي هـغه زلـفې عـنبر ینې **چې یې رنګ دمخ په رنګ دزعفران شي**
که دحال له تماشوسترګې کړې پـتې **استقبال ماضی به ټول درته عیان شي**
دبـتانو پـه څـهره نظـر دغور[3] کړه چې قدرت دخدای وتاته نمایان شي
قـصه خوان که داتازه قصه کاجـوړه **زمـا سـتا یو عجیبه به جوړ داستان شي**

---

(۱) پښې
(۲) کښیږدي
(۳) اصل: غوړ

یوزمـان په جدایي کې شي سل کاله **په وصال که وي سل کاله یوزمان شي**
ماپه اوښو کړظاهر څوک خبر نه وه **چې به پس تر نوحه بیا پیدا طوفان شي**
بنه ګفتار چې کاطوطي په قـفس پریو زي روشني دطبیعت دځـان تـاوان شي
لکه شمع که څوک سوی دزړه پیداکا تاریک کوربه یې تمام ورته روښان شي
که یوسـف یې وجـمال وته نظر کا آئینه غوندې په مخ به یې حیران شي

مـحبته ځـان د زړه په ویـنورنګ کـړه
زیات قیمت به دې تر لعل دبدخشان شي

"۴۱۴"

ترهـغه چې تسکین بـخش یې دلـدار نشي
نـاقـرار زړه بـه زمـا پـه قـرار نشـي
خـلاص به نشـې لـه درد و نـومـحنتونو
څـودې زړه پـه رنـځ دمـینې بیمار نشي
په سـودا دعـشق کـه زړه مـې لیونی شه
خدای دې کاتر عـمره پورې هوښیار نشي
پـه عوض دزویې ځـان مـوروپـلار ورکا
دګـناه بـدل پـه مـور وپـه پـلار نـشي
پـدا قـدردې اقـراربـې اعـتبار شـه
چـې دې فـرق په اقـرار وانـکار نـشي
چې په دام دعشق څوک پریووت خلاص ترې نشه
پـدې دام کـې دې هـیڅوک ګرفتار نشي
لـه خاطـره یې جـفا را بانـدې مـه کـړه
چـې په مـاسـخې پـوره داغـیار نـشي

زړه دچـامـه زيـروه کـه مـسلمان يـې

زړه کـعبه ده خـبردار چې مسمار نشي

بـختور به هـسې څوک وي مـحبته

چـې يې زړه له خـپله ياره آزار نشي

"۴۱۵"

زور جـداوي زير جـدازيرزور به نشي فرق يې دی دسروښې ښه[1] سربه نشي

که هـر څـوکړې هـنر ونه حکمتونه پـه هـزارتد بيره خاورې زربه نشي

که په ملک دعراق وګرځي سل ځله پـه رفتار دعراقـيانو خـر به نشي

که هـر څويې زرغونه کړې په شربتو کال کوندې پـه شيرينی کې کوربه نشي

که يوسف ماه دکنعان وه ته آفـتاب يې دسپورمی رڼا په شان دنمر به نشي

چرې کوڼ هم شي چې وي سامـع په غوږو هـرچه بې غوږوسميع دی کربه نشي

مابه سردیار ترښپو[1] دلاندی کيښـود ولې څـه کړم چې مې لاس پرې بربه نشي

مـلک دمينې په همت چې مـسخر کا پـه هر چابه يې بري وي لربه نشي

که هرڅوپه عشق کې څوک عالي مقام وي

محـبته سـتاتر ځـايه وربـه نـشي

"۴۱۶"

چـې دخلقو تل غيبت کـاندي بدګوی شي

په قـيامـت به يې وربوز دخـر بشوی شي

يـوه ورځ بـه پـرې طـوفـان دفـناراشي

لکه نـوح څه شوکه څوک په عمر لوی شي

چې څوک غـواړي خپل ژوندن پس له دوسـتانو

خـوهـم دې له چـې دواړومـرده شوی شي

---

(۱) پښه

(۲) پښو

پـــه ژړاکـــې وي عـــزت دعـــاشـــقانـــو
چـــې يې اوښـــې پـــه مـــخ راشي آبروی شي
چـــې شي پټ هـــغه ګـــوهر مـــې له چشمانو
دُرداوښـــو مـــې لـــه ســـترګـــو واړه توی شي
پـــه يوتـــريخ حـــرف جـــداشي يارلـــه ياره
پـــه طـــلاق مـــفارقـــت دزن وشـــوی شـــي
عندليب طوطي سکوت دواړه اختيار کا
هـــغه دم چې مـــحبت په ګفتګوی شي

"۴۱۷"

يکـــبينی ده داحـــد پـــيژند ګـــلي دوبـــيني ده شرک وکـــفرواحولي
بـــيلی[1] لـــه ځـــانه يار په دوبـــيني ولـــې کـــيږې ځـــان د پـــاره ذلـــلي
ددريـــاب اوبه په ډانګ نشي جـــدا کـــه هر څـــوپکې خلـــل کا خللي
ديوه درياب څرګـــند وي ډيرامـــواج هـــغه ړوند دی چې انکار کاله جلي
هـــيولا يـــودی صـــورت مـــتعدد کـــه حکيم يې پـــدا وکړه تســـلي
چې په زړه راشي دچا دشرک زنګ بـــې وحدته يې نشـــي مـــصقلي
کثرت شک وحدت يقين دی شي کافر په يقين کې چې سړی شک راولـــي
لاالاالله ويـــل پـــه خـــولـــه بـــيا دغير موجـــود ګڼل ده دغلي
مـــحبته ده مـــنکر لره پکـــار
دنـــبي ژبه يـــاتـــوره دعـــلي

"۴۱۸"

ستاپه خيال کې درســته شپه کله ځـملي شب بـيدار وي ستا دسترګو تا نتلي

---

(۱) بيلوي

دعشق سورچرته پياده دعـقل چـرته دسـورو سـيالي کـولـی نشي پـلي
آباد زړه می واړه وران کا ستا غمونه کړي غـارت يې چې داړه راشي پـه کلي
زاهـدان به په طـريق دعـشق رانشي هـلـونه راځـي په لار بـې لاړې تللي
حـې دمی دزور بـرداشت نشي کولی زهـد اختيار کا زاهـدان بلاوهـلي
وعـيسی او وادريـس وته نظر کړه پـه همت سړي آسمان ته دي ختلي
په وزر وکه مرغـان پاس په هـوائـي عـاشقان دي بـې وزروالـو تلـي
حوخهل سربه وخوري نوربه هيڅ نه وکا چې کمزوري زوره ورته نشي غلي

کـل اغـزي به جدانه کړي محبته
رنځ راحـت سره له ځايه دي ترلي

"۴۱۹"

حـسرده بيامـومـي هـله بيغمي چـې پيداکاندي لـه ياره مـحرمي
ـرنه څه وښکوم قاصده خپل احوال چـې زمـا حقيقت نه دی قلـمي
نه آسـمان لري نه مـزکه داقـابـو زما زړه دی چې غـمونه يې زغمي
سکرخدا مې کا خوشحال په آخرت پـه دنيا يې چې را نه کړه خورمي
ړه همدم په جهان نه غواړم بل څوک خدای دې راکاندي له عـشقه همدمي
چار پايان دي خواب وخور لره پيدا عـاشـقي لـره پـيدادي آدمـي
وايه خود هغه انسان دی که حيوان چـې دعـشق لـه درده نه وي آلـي
که هرڅه مې کم شي هيڅ نه لرم غـم خدای په عـشق مې دې رانه ولې کمي
که شي ټينګ وپهلوان و ته دعـشق هـم دغـه ده سـهرابي ورسـتمي

محبته اوس دې شعـر دی هر يو
دلپـسند دعـربي وعـجـمي

"۴۲۰"

بـــې له تانه ځي د زړه مـــې پريشاني راشه اې دوران خاطـر مـــې ودانې
دريغه ورمې کړ زړه خپل لکه مـــرغه يو هـــلک وته لـــه ډيـــرې نادانې
خـــبردار که غشي ووت له لـيندې رابـــه نشي بـــيرته بـيا پـــه پښـيماني
کـــور ودانه نه پوهـيږم چې په څـــه مـستعد زمـــا دزړه يـــې پـــه ورانې
شوی نه وې که روان پخپلو بنـــپو[1] پـــه مـاځله بـــه راتله سـرګـــردانې
مه نازيږه په قوت خپل چې په عـــشق پکار نه رائـــي دچـــاپـــهلو انـــي
مرګ خوښه دی داژوندون وي ځـــنکدن چې بې يارە شـــي دچازنده ګـاني
ګوری نفس وته ونه سپارې خپل ځـــان لـه ليوه به نـــشي کار دچـوپـــاني
چې ستا مخ ته کړم نظر راشي په مـــا لـکه بت په غـــټو سترګـو حيراني
زما ستا په دوراوس نه وايي ځـــوک افـــسانه د آدم خان و درخـــانـــي

محـــبته پـــريږده اوس هـــوسنا کـــي
په پـــيري مـــه کړه کـــارونه دځـوانې

"۴۲۱"

مـخ لکه چې ســـتادی په دانور چرته آفتاب وي
زلفې لکه ســـتادي چـرته هسې مـــشکناب وي
شـــه پـداســـبب عـــرق عـــرق له خـــجالـــته
ستا لـــکه خوله ده پـــدا بوی کلـــه ګـلاب وي
ســـتا دسرولبانو څـــه تشـــبيه ورکړم لـه لـــعلو
رنـــګ دلعل چـــرته پداهـــسې آب وتـــاب وي
ورځ په موږه شپه شوه راځرګندې لکه نمـرکړه
څـــوبه دې دزلـفو پـروت په مخ باندې نقاب وي

---

(۱) پښو

کوڼ شم چې مطرب سرود آغـاز کابـې له یاره
اورم نه دچـــنګ نغـمه نه غـوږمـې په ربـاب وي
څـو چې تاپرده دخـــودي نه ده لـرې کـــړې
داپـــرده دیاراوســـتاتر مینځ به تـــل حجـاب وي
دم غـــنیمت شـــماره چې بـــزرګانو دي ویلي
خیال ګـنه راتلونی هرچـې تیرشي هغه خواب وي
ام الـــخبایث دي په پـــرهیز اوســـه لـه مـــیو
ولـــې بیـــخطرې سکه[1] دمینی که شـــراب وي
سترګـــه وازه څـه کړم پدې ســـیندکې محبته
دریـــغه چې بقا د عـــمر لږلـــکه حـــباب وي

"۴۲۲"

دهـــر چا چې کورپه مـــخ کې دسیلاب وي
هـغه کس بـه همـــیشه خانه خـــراب وي
یوه ورځ به مـادخـــس په څـیر لاهـــوکـــا
که داوښـــومې جاری هـــې دریاب وي
خـــوف یې نه ځي په هجران و په وصال کې
دعـاشـــق زړه هـمیشه پـه اضـطراب وي
چـــې یودم آزاد لـــه بـــنده دخـــودی کـــا
مـــشغولا دمعـــشوقـې وي یاشراب وي
هـــرسړی چـــې غـــم دیار لـــري په زړه کې
نه یې خور وي نه یې نوش وي نه یې خواب وي

---

(۱) چښه

شـــپه وورځ نغـــمې دخـــپلي نـــايې اوري
دعـــاشق دغـه ســـرود دغـــه رباب وي
نـــور خوبان لـکه ســـپوږمۍ شـــي بې رونقه
چې ستا مـخ يې مـخامخ لـکه آفـتاب وي
نور ثـــواب به عاشـــق څـــه ګـتي تر دازيات
چې درست عـمرې له غـمه په عذاب وي
هـــرمره ډک وي مـــعاني دې په هـــر لفظ کې
کـــه يـــوه خبره وکـــړې يوکـــتاب وي
زه دعـــــا دمـــحبت غـــوارم لـــه خـــدايه
اميد واريم چې به خواست مې مستجاب وي

"۴۲۳"

چې مرګ حق دی عاقبت هر څوک وفـات شي
ته په عـــشق ومـره مـدام به دې حـــيات شي
هـــرعابـــد چـــې پـــخواونيو دخـــودۍ بـــت
مـعبودان يـــې په هـــردم لات ومـــنات شي
پـــه هـجران کې هـــره ورځ ورځ دقـيامت وي
په وصـــال کښې هـره شپه شپه د بـرات شي
شي عـــبث صوم وصـــلوت چې مـــينه نه وي
بـــې لـــه عـشقه بيـــهوده حـــج وزکات شي
چې نيست هـست ګـني اوهست ته وايي نيست دی
پـوه هـــغه ســـړی په نـــفی وپه اثـــبات شي

زه نصـــيب دزليـــخالـــه كـــومـــه راوړم

چـــې په خوب کې مې ورسره مـلاقات شي

غـــنيمت بـــه واخـــلم زه غـــنيم به مـــړکـــړم

کـــه مـقبول يارته ددې زړه مې سوغات شي

رحـــم وکړه څـــو مشـــتاق دې لـــه حـــسرته

پـــه افـــسوس شي په ژړاشي پـــه هـيهات شي

دالبنـــکر چـــې دکـــثرت دي مـــحبته

په يودم به دوحدت په توره مات شي

"۴۲۴"

شـــهيد شـــوی چـــې پـــه تيغ دمـــحبت وي

هـميشه بـه پـرې نازل دخدای رحمت وي

تـــمام عـــمر تر هـــغه ساعـــته ځـــار کـــړم

چـــې يوازې مـــې له تاســـره صـحبت وي

يـــار پـــه مـــينه راغـــی صـــبرو تحـــمله

بـارې سـتاسې دې له مـانه اوس رخصت وي

چـــې قـــامت يې تر قـــيامته هـــم سوا دی

په راتلـــو يې هـم په ماباندې قـيامت وي

چـــې په کړه وړه کې وي بنـه بنه يې مه وايه

بنـــه هغه چې بنه په خوی وپه خصلت وي

خـــوله يې ماته شه چې ســـتا ترخوږو شونډو

که څـــوک وايي دشکر وزيات لـذت وي

زه تـــوبه لـه مـــينو شـــي کـــړم ولې شيخه
کـــه دپـــير دمـــيخانې هـــم اجـــازت وي

کـــه حرمت دی خودهـر ســـړي په پت دی
دبې پـــت به په جـــهان کې څـه حرمـت وي

الـــوده وي سرتر پايه په ســـرواو ښو
محـــبت پخپلو وينو تل لـــت پت وي

"۴۲۵"

د دلـبر وپه غـم څـويې زړه آباد وي ترهـغه پورې خاطر دعاشق ښاد وي
احتياج څـه دی ددام زمـــا و زړه ته خود دا صيد په انتظارکې دصياد وي
اوس ديار جور وجـفاسره مې خوی شه زهـرهـم هـيڅ ضررنه کا چې معتاد وي
زه اسيرچې تل دعـشق ېم خوشحال اوسـم په قـفس هـغه تنګيږي چې آزاد وي
زړه مدام مې په بـلاد عـشق اخته کا هـميشه د زړه له لاسه مې فرياد وي
داوبو په سرچې جوړلـکه حباب شي ددې هـسې عمارت به څه بنياد وي
لـکه ګل وي چې يې ژبې لاندې ژبه پـــه خبـره دهـــغه څـــه اعـتماد وي
چې په تاشيداوي اې پـــه خولـه شيرينې سرې [1]مات به هميشه لکه فرهاد وي

آخـــر نـــرم بـــه په آه دمـــحبت شـــي
که هر څويې زړه کرخت لکه فولاد وي

"۴۲۶"

الـــبته هـــغه لـــبان به دلـــپسند وي چې يوه شونډه شکرې بله قند وي
نشته هيڅ داهـــسې خوږ بې له خوبـانو نيشکر غـوندې شيرين يې چې بندبند وي
قـــسم واخـــله له مـــابې دستاله زلفو که لـه چـاسره رشته يامې پيوند وي

---

(۱) سرې

خوري سوګـند زما دســر په فـراغته چې رضايې د دروغوپه سوګند وي
چــې ترپلاره نيکنامــي زياته پـيدا کا مقرر چې پلار دپلار هغه فرزند وي
چــې دخلقو پـرورش دپــاره ګرزي **دآسمان په نشان هـم هـغه سربلند وي**
هــر آزاد چې په هـيڅ دام نه اسيريږي **شي بـندي به که د زلـفويې کمند وي**
دعاشق په شان چـې سوی لـری په زړه کې آفـتاب ځکه په تمام جهان څرګند وي

معلوميږي چې دعشق دولت يې بيامونډ
محــبت چې بې دولــته دولــتمند وي

"۴۲۷"

که ګرمي وي خوپه ورځ دهـربازار وي يوبـازار دمــينې تودلـيل ونهار وي
زلف ورخ دمحبوبانوعجب جنس دی **چـې عالم شام وسحرې[1] خريدار وي**
ســتم وړشــي داغــزي دګــل دپاره يار دپـاره وړم جـفا چې داغيار وي
غم مـې نشته که تمام عالم اغـيار شي لـه اغياره څه پرواده که يار يار وي
چې ګدای چرته حاجت لـره روان شي پـرې دسپيوغپيده شوروکو کار وي
لــيوني په هــلکانو کې چې ګـډشي لـه چاپيره يې دکانې پرې ګذار وي
وصــل يې هډو نشي مـوندبې رقيبانو په بهار کې هم له ګله سره خاروي
چــې وي دخل يارکــره درقيــبانو **خواه نخواه عـاشق ددوی به منت باروي**
هــوښياري زياته سړی بـې حميت کا غـول خواره شي کلاغان چې ډيرهوښيار وي
سپک ترخسه يې ګڼم په عـاشقی کې که پـښوونه داندوه مې په سربار وي
نور هم غم که لږوي لږوي ډير وي ډيروي **مګر غم دعشق که کم وي هم بسيار وي**
تابه ســتايم په هــررنــګ لکه بلبله **که پـه خولـه مې لـکه ګـل ژبې هزار وي**
کــار دمينې هــــريۏ خام نشي کولی عـاشقي کاندي هغه چې پخته کار وي

---
(۱) سحرې

چې وغم وته لار ورکا په خاطـر کې دهـغه عاشق معـشوق وته به لار وي
چـې ديار کوځه بهار لـري واعـظه کلـه باغ به دجـنت پدا بهار وي
تل آرمـان به دجـنتِ لـکه آدم کا پاتې شوی دخپل يارچې ترې ديار وي
دچشمانو نورمې زيات لکه رانجـه کا ستادلارې چې په سترګو مې غبار وي
نن چـې وار دې دی موندلی کا رتمام کړه خدای خبرچې وسبا ته دچا وار وي
پرهيزګاروم وليکن چې يار ساقـي شه له پرهيزه اوس زما دې استغفار وي
که سکون يې که قـراريې زمـا ته يې بې لـه تامی نه سکون وي نه قرار وي
زرپـکار وي دمـينوصـدقې لـه مـال دولت بې له مينه څه پکار وي
کـه هر څـومې هـميشه دلآزاري کا لـه دلـبرو زړه زمـا کله آزار وي
هـغه خاندي په تسپودتسـبيح خوانو چـې په ناړه ستا د زلفويې زنار وي
هـغه تل باغ وبهار لـري په کور کې چې محبوب يې ګل اندام وګلرخسار وي
پس له مرګه مې مدفون هـسې ځای کړئ چـې مزار مـي ددلبر په رهګذار وي

افـلاطون لقـمان هغه وي محـبته
چې له عشق ومـحبته خـبردار وي

"۴۲۸"

صـنوبر هـسې ويـاروته ولاړ وي خدمـتګار لکه سردار وته ولاړ وي
نامـردان ځان غـړئ[1] لـه هـره کاره مردهغه دی چې هرکاروته ولاړوي
دګـدای دې هـسې لـويه استانه وه چـې بادشاه يې ودرباروته ولاړ وي
وي عـزت مـې په فـرقه دعـاشقانو ستا غمونه چې مـا خواروته ولاړ وي
ستا دمـخ په تماشـا هـسې ولاړ يم نندارځـي لکه ګـلزار وته ولاړ وي
خـوبان هسې وي ولاړ زمـا په فـکر صـيادان لکه چې ښکار وته ولاړ وي

---

(۱) غړوي

لکه نمر څـخوله بامه خپل جلوه کړه مـشتاقـان دې ودیداروته ولاړ وي

محـــبت چې لیونی دی دنیا څه کا

ددنیا فـــکر هـــوښیار وته ولاړ وي

"۴۲۹"

که رضـــا دپاک الله ده څومې دم وي **ستاپه عـــشق کې به ثابت مې دم قدم وي**

جام دمی راته ښکاره درسته خدایي کړه تردازیات به څـه کمال دجـام جم وي

ستا د تورې چې زخمي یم لاغو څیږم شي پـرهارلره مې مالګه که مرهم وي

چې پـه غم کې یې خوښیږم دعاغواړم الهـی په زړه مـې تل دمینې غم وي

دهرشي زیاتي کمی په جهان شته دی **مګرعشق خوچـې شي زیات بیاکله کم وي**

دنیازرده دین جنت دی مینه خدای ده ته هـغه پکښـې کړه غـوره چې ا هم وي

محبت یم که مالک دملک ومـــال شم

عـــشقبازي راته تر هـــمه مقـــدم وي

"۴۳۰"

هـــمیشه مې پیوسته ســـروزنګون وي بې له یاره تل زماخاطر محزون وي

عاقـبت به په قدم یې جـــبین کیږدم[1] **ســرنثاربه یې ترښـــهوکړم که ژوندون وي**

لـــکه څان به ګرد شونه را عـــطا کا **تردازیات بـه نورځه مهر دګردون وي**

زمـــانه لـــه دوه میـــنو خـــالي نشي هـمیشه په جهان یو لیلا مجنون وي

وهـغوته چې رښـتیني عـــاشقان دي پـــه دنیاو په عقبی دوزخ بیلتون وي

په نکریزو لاس دې سره بار دیګـر کړل ګوری بیابه نن دچادې کړی خون وي

لکه ګل چې چاک ګریوان لري له غـمه زړه یې وي پـاره پاره وینې لړمون وي

خلاص به نشي هـډو څوک د مـرګ له لاســه که پـــنهان په سل کوټو کې اندرون وي

---

(۱) کښیږدم

محبـــت رشته لـه مهـــرو مينې کاندي
دهـــر چاله خپله جـــنسه پيوستون وي

"۴۳۱"

څـه ژوندون به مې دمينې په لنبو وي دآتش پـه منځ دخس عمر به څووي
ته بې مثله هسې روغ شوې چې پوهيږم خود صانع به سـتا دمخ په نندارو وي
لکه عشق په زړه مې دم په دم زياتيږي افـزايش داورهـم هسې په ورو ورو وي
دعـشق رنځ لرم دارودرمان يې څه کړم چـې دارنځ کله قـابل درغـيدو وي
دلا پـــه حرف تـــل حلالـه يې[1] مې ستاپه ژبه شه حرام که لفظ داو وي
زه خوغوارم چې قدم مې په سرکيږي دې[2] ولـــې کله به دې دا په ماپيرزو وي
کـــه بې علم جـــاهلانوته شاعـــر شې وعـــالم وته جـاهـل په ګـفتګـو وي
که ومورِک [3] وته پشولـکه مـزرى شي دمـزري دوړاندې هـم هغه پشو وي

ســـرمـدام دســـر بلنـــد و مـــحبته
په کلام کې ستا دوړاندې به فرو وي

"۴۳۲"

عـــاشقان لـه بود وبـــاشه آسوده وي غم ديارخوري له معاشه آسوده وي
دهـــيچا پکار دعـــشق خبره ناوري لـــه صلاحه له ګـنګاشه آسوده وي
خاکستري[4] **فرش خبنته يې بالـــين شي** لـــه بالښـــته له فـراشه آســوده وي
نه يې غم وي دافلاس نه نعمت غـــواړي لـــه منعمه له قـــلاشه آســوده وي
ددنيا لـــه خلقو لاس دطلـب پـرې کا بنپې[5] کاماتې له تلاشه آسوده وي
نه له چاسره کا جنګ نه خرخبنـې کا لـه کينې ولـــه پرخاشه آسوده وي
غـوږپه فحش وبد ويل دهـيچانه ږدي لـــه بدګـويه له فـحاشه آسوده وي

---

(۱) حلالوي
(۲) کښيږدي
(۳) اصل: مکک
(۴) خاکستريې
(۵) پښې

وي محفوظ په پيراهن دعـــرياني خپل لـــه لـباســه له قـماشه آسـوده وي

په کـــلام کـــې محبت لکه آفتاب دی

لـــه آفـــرينه له شـــاباشـــه آسوده وي

"۴۳۳"

چـــې په عشق کـــــې فـــرزانه وي وعـــالـــم تـــه ديـــوانـــه وي

يـــگـــانـــــه دخـــدای هـــغه دی چـــې له خـــلـقه بـــيگـــانه وي

چـــې هـــوښـــيار وځـــان ته وايـــي تل پـــه مـــيو مـــســتانـــه وي

چـــې شي ډوب په ســـيند دميـــنی دهـــر بـــــحـــر دردانـــه وي

عـــيش روزي بـــه دهـــغه شـــي چـــې له غـــمه هـــمخانه وي

دبـــلا غـــشـــي چـــې راشـــي هـــم عـــاشـــق يې نښـــانه وي

دام درم د داغ دمـــيـــنـــــې دعـــاشـــقـــو خـــزانـــه وي

ځـــان جـــهان عاشـــق يې څـــه کا ځـــان جـــهان يې جـــانانه وي

حـــال دهـــر چـــا مـــحـــبته

چـې ماضـــي شي افسانه وي

"۴۳۴"

چـــې خالي له مـــحبته ديـــار نه وي دهـــغه به يوساعـت هم قرار نه وي

وشهی ته يې مـــوجره[1] کله قبليږي چې يې سرپريکړی پروت په دربار نه وي

څـــو قـــبول نه کا اغـــزی د مغيلانو دهـــغه حاجي کعبې وته لار نه وي

يوه ورځ به عاقبت پرې خزان راشي هـــميشه به شگـفته داگـلزار نه وي

هغه زړه له پريشانی بـــه تار په تار وي چـې پېيلی يې د زلـــفو په تار نه وي

عاشـــق نه کاندي ويسا پـه دنيا دارو دهـــوښـــيارو ليونو سـره کار نه وي

---

(۱) مجرا

څو چې يار دی منتظر دمرګ مې مشه مـړبه هله شم رقیبه چې یارنه وي
په پرهار خپل څه مرهم کیږدم [1] طـبیبه چې مې هیڅ مرهم کارګر په پرهار نه وي

چـې دعـشق دولـت يې نه وی مـحبته
په دنیا کې به بل هسې څوک خوار نه وي

"۴۳۵"

وعاشق ته د دوزخ هـیڅ ویره نه وي خطرنه کاندي له اوره دعشق سوي
په شروع دعشق ومرګ وته نژدې شوم داآغـازې[2] دی انجام به يې لاڅه وي
او ده ویښ شي ولـیکن نه بیداریږي **لـکه بت په غـتوسترګو چې اوده وي**
ډیرې سـرې وینې بـه توی کړي پدې لاسـو په نکریزو چې دې سـره کړل خپل ورغوي
څو دشرک تورواڼی لرې له زړه نشي غـزاوشوه که په ږیره سپین ویښته وي
عـاشق کله وي بیغمه چې عاشق شي تل غمونه په حصه کې هم دده وي
زړه اوژبـه مـوافـق وي دمیـخوارو رایې شي په خوله هغه چې يې په زړه وي
هم صحبت دنیکونیک شي ګرچه بدوي هـم صحبت دبد وبدشي ګـرچه بنـه وي

محـبته مري هغه چـې ژوندون غـواړي
چـې پـخواتر مرګـه ومـري تل به ژوي

"۴۳۶"

زما ستا به داصـحبت وي که به نه وي له روزګاره به مهلت وي که به نه وي
داصـحبت دیوه دم غـنیمت شماره خدای زده بیابه فـراغت وي که به نه وي
نـن خوست دې دبوسې وماته وکړ هـمیشه به دې داست وي که به نه وي
زړه لـه تامې به کړپورته ولې دریغه چې دعشق به اجازت وي که به نه وي
نن خووایې سـبا خوله به دله[1] درکړم ولې ګـانده به فرصت وي که به نه وي

---

(۱) کښیږدم
(۲) آغازې = آغازیې

اوس خوښه خصلت لري مخې له ګورم چې به ستا هسې خصلت وي که به نه وي
چې قامت دې له ماپټ شي راته وايه چې راباندې به قیامت وي که به نه وي
سرويړيا مي دله [1]درکړاوس وتا ته پيداهم به مې قيمت وي که به نه وي
چې باز پرس له محبته شي په حشر کي
ستا جمال به يې حجت وي که به نه وي

"۴۳۷"

عاشقان چې معشوقان هورې وي
بلبلان چې ګلستان هورې وي
عاشق موندشي دمعشوقو په ټولې کې
هربو راچې ګل پريوان[2] هورې وي
ليونی يې اختلاط نه کا له خلقو
مجنونان يې چې بيابان هورې وي
نصيحت که دناصح ناورم معذوريم
زړه زما چې مې جانان هورې وي
هم په تاټولی وي جمع دخوبانو
لښکريان چې يې سلطان هورې وي
لکه ستالب ودندان هسې دچا دي
لعل ودر چې يې وي کان هورې وي
سرمې پروت وي په ميدان کې ستا دزلفو
البته ګوی چې چوګان هورې وي
کښت د زړه نه سرسبز يږي يې له اوښو
زراعت شين چې باران هورې وي

---

(۱) درته

(۲) پريمان= فريمان

دګلشن همیشه کاروي له ګلونو
محبت چې محبوبان هورې هورې وي

"۴۳۸"

زه به پرینږدم دمینې بادشاهي چې له عشقه ده زما عالي جاهي
یوساعت محبوب له مانه کړې جدا دحبیب له برکته الهی
ته آفتاب یې په کمال دنیایست توب څوک جمال ته دې کتی شي کماهي
چې عاشق یم دی له عشقه مې ژوندون عشق دریاب دی ناپایاب زه یې ماهي
زه به وانه وړم هرګز له مینو شي که هر څوشي دشرابو منا هي
په محشر کې به هم ستاوي شاهدان زه بیکس یم زما څوک به لې ګواهي
په کونین کې هم هغه وي آسوده چې دعشق پرې باندې راشي تباهي
دریغه اوښومې دسترګو ستا په غم کړه مخلوطه سفیدي وسیا هي
یو دعشق په طریق یون دی هدایت نورپه هرې لارې تله دي ګمراهي

یاربه راولي که خدای کا تر بیګاه
محبته ستا ناله سحر ګاهي

"۴۳۹"

چې مې وکړه آشنا یي څه پرواد رسوایي
چې وصال راکاحیات نورمې وژني جدایي
طالع نه کاندی مدد **و مې کړه بخت آزمایي**
کشکې یارکاندی بدل په وفا بیوفا یي
عاشق نه پیري هرګز بادشاهي په ګدایي

چـــې دعشق لري هوس هغه پريږدي خود رايي
دابد نوم چې دی خودرای پـــه عاشق کلـــه ښايي
تل دمـــينې پـــه ســـودا عـــاشقان وي ســـودايي
وي مشغول پکاردعشق پـريږدي شغـــل دنيايي
شي بهـــتره ترهـــر څـه ورتـــه خپله شـــيدايي
بـې له عشقه ګڼي هـيڅ څـه شيخي څـه مـلايي
ځـــان کابې ســـروسامـان واخلي بـې ســـروپايي
شـــي په زړه ورته خوږه بـــې برکي بـــې نوايي
له جنونه خپل وی خوښ شـــي ويزار لـــه دانايي
اختلاط پـريږدي دخلـق وی خوشحال پـــه تنهايي
ودانې تـــه نه کـــامـــخ هـــميشه وي صـحرايي
مـــی دعـشق نوشي مدام يـــوپلو کـــا پـــارسايي
دهـــر چا کـــړي تسـلي اې دلـبره هـــر جـايي
درست جهان دې کړ روښـان لـــکه نمر په روښـنايي
په هررنګ کې کړي ښـکاره رعـــنايـــي و زيـــبايي
ويـــنی تاپـــه هـــر طرف چـــې لري څوک بينايي
له کـــمنده دې دعـــشق څوک نه غواړي رهايي
هـــمه ســتادي آرزومـــند واړه ســـتا تمـــنا يـــي
عـــاشـــقي پـــخپل تلاش چـــامونـــدلې ده بـايي
څوک يې نه مومي په کسب
مـحـــبت دی عـــــطايـــي

"۴۴۰"

زړه په هـــرســـاعت مينـــه ديارمې فـــرمايي
زه هـــم هغه کار کړم چې دی کارمې فرمايي
يارچـــې څـــه ارشاد کا په لـــيمه يې قـبلوم
زه يې ګـنهم سهل چـــې دشـــوارمـــې فرمايي
هـــرچـــې ليـــڅني دي راتـــه وايـــي لـــيوني
هـــرچې هوښـــياري لري هـــوښيار مې فرمايي
ماخـــوبه زاهده په لاس واخـــيستې تســـې
څـــه کړم تورې زلـفې يې زنار مـــې فـــرمايي
زه خو محتـــسبه وکړم درنګ پـــه مـــينو شي
پـــيردمـــيخانې ولـــې تلوار مـــې فـــرمـــايي
نه دچـــاويل کړم نه مـــې کار دی چـــاسره
هـــم هـــغه کوم چـــې خپل دلـدار مې فرمايي
پـــيرمې دطريق دی هـــم رهـــبر مې دی هغه
هـــرمرشد چې تلـــه دعـشق په لارمې فرمايي
ځوان د محبت يم هم هغه کړم کاروبار
هـــرچې محبـــت په کاروبارمې فرمايي

چاربيتې

"۱"

ته يـــوځله خـــومې ترکـــوره راشه چـــې غـــم رانشي بيا زما په خونه

* * *

سـبـــا بيګازه ستا په خـــيال کې يمه بـــانه دې تور په زړه کې ياد ومـه
ته راشـــه جانه ستا بـــنو له غـــمه ترڅـو به ځـي زما په زړه سيخونه

ته

يو ځله

نه لـــه دوزخه دی زمـــا په زړه غم نه لـــه سـختونه دقـيامـت ويريږم
پـــه هر زمان په هر ساعت په هردم لـــه تا امـــان غـوارم ديار بـيلتونه

ته

یوځله

تـــه خووتـــلـــو ته اوس تیار ولاړې بـــیا راته وایې چـې ته څـله ژاړې
خـــــداې دې نه کا که دلبره لاړې پـــه مابه راشـــي دجـــهان غمونه

ته

یوځله

څـــه مې پوښتې له ډیره درده غـمه په رنګ دګل زه خپل ګریوان څیرمه
چـــې راپه یادې شـــي زما صـــنمه هـغه دې سرې شونډې لکه ګلونه

ته

یوځله

شپه (مې) شب قـدر به شهی هله وي چې راشي ته اودغـیردخل نه وي
ته دســـپورمی په شان اوتاسره وي **پـه رنګ دستوریوستا همزولې جونه**

ته

یوځله

یوازې زه نه یم داټـول وګـــــړي دي ســـتا د تورې واوبـوته تړي
که غواړي سرزما یوسر خوځه دی **تمام مـــخلوق به درکا خپل سرونه**

ته

یوځله

چـــې کبربددی ډیر پداجـــهان کې **نور راشه څه کمی دی ستاپه شان کې**
محبت ځان کړخاورې په میدان کې چې ســـتا پرې ولـګي دآس ســمونه

ته
يو ځله

"۲"

نه بـادشاهي غواړم نه تاج اونه تخت تاغواړم اې د درست جهان ملوکې

* * *

پـــري يې اوکـــه دجـنت ته حورې چې په خوبي په حسن بې قصورې
داوروځـې ستا دي که تيرې دي تورې بـانه دې دي که دنيزو دي ځوکې

نه

بادشاهي

ترحـــورې به يـــې په مـــزکه باندې **خداى دې هـــې شپه روزي مې کاندې**
چې ته خوب کړې په کټ زمـا دوړاندې زه ناسـت وهم په ښپو[1]**دې نرمي موکې**

نه

باشاهي

چـې شنې جوړې اغـوسـتې ته راتللې مـــاپه داژبه ســـتا به ښـپې [2]ځټلې
اوس مې يادېږي[3] خوله دې پان خوړلې چې شنه طوطيان ووينم سرې مښوکې

نه

بادشاهي

چـــې کرم غواړم په غضب هله شې چـې مـهر کړم طلب په قـهر ته شې
پـــه لار درحـــم ووفـــا رابه نه شې بـــيرحـــمي بيوفـــايي بـــسلو کې

نه

بادشاهي

---

(۱) پښې
(۲) پښو
(۳) اصل:يادېژي

کـمان دســحر مــه کړه بدګــمانه داکــوډي ستا دمــحبت دې جانه
عــاشق دې اوس رغـيږي واوره مانه که ته لــه خپلې خولې پرې دم وپوکې

نه

باشاهي

لغتنامه

د نواب محبت خان ديوان ځينې داسې پښتو، فارسي، هندی او عربي لغتونه لري چې ښايي ځينو لوستونکيو ته پرې پوهېدل ګران وي نو ځکه مې له عامو لوستو تکيو سره دمرستې په خاطر د ديوان ځينو لغتونو ته له عامو فرهنګونو څخه معناوې ورکړې دي. همداراز داهم بايد يادې کړم چې د نواب په ديوان کې ځينې داسې لغات هم وو، چې ما يې زما تراس لاندې فرهنګونو کې معناوې پيدا نه کړې.

- دوشاله (غ ۱) : شال، دوپټه شال، دوبره شال، کشميری شال، ښځينه شال (تشريحی قاموس)

- کونين(غ ۲) : دوه جهانه، دنيا و آخرت (تشريحی قاموس).

- باريابٔ (غ ۲)؛دباچا حضورته ورتګ؛د پاچا په حضور مشرف کېدل.

-ثقلين (غ۳) : دواړه جهانه، دنيا و آخرت (تشريحی قاموس).

- شهرګ (غ۳) : ښارګ: د مرۍ غټ رګ، حبل الوريد: د غاړې لوی رګ چې د زړه څخه سرته پکې وينه ځي او په غوڅو لويی انسان مري.

- شها،شهی(غ۳): محبوبه ، معشوقه، (تشريحی قاموس).

- طره (غ۳) : شمله، جوغه، شلکی (تشريحی قاموس).

- قدسيان (غ۴) : ملايکې، پرښتې (تشريحی قاموس).

- مفاجات(غ۹):ناڅاپه راتلل، نابېره حمله کول، بې خبره پرچا ننوتل (عميد)

-زهرخند(غ ۹) : د قهر او غضب خندا (عميد).

- دوڅار (غ ۱۰): څرګند، ښکاره، جوت (تشريحی قاموس).

- تارو (غ۱۱): يو مرغه دی، چې دمړۍ په اندازه غټوالی لري، رنګ

يې ځړ او تورتورتکي لري (تشريحي قاموس).

- تنزری(غ۱۱) : تمخری، تمرزی یوه مرغی ده، چې خونده وره غوښه لري(تشريحي قاموس).

- اعجاز (غ ۱۱):فوق العاده کارکول،معجزه ښوول (تشريحي قاموس).

- هېر (غ ۱۳) ځل، کرت (زړه پانګه).

- ترو (غ۱۵) : ترې، ترينه، له، ورڅخه ، ځنی (تشريحي قاموس).

- هډو (غ ۱۵) : هرګز، بالکل(ظفر)

- واګې (غ ۱۵) : جلب.

- لغام (غ ۱۵) : لجام : لګام = قيضه.

- خرام (غ ۱۵) : د ناز رفتار.

- به (غ۱٦) : ښه، غوره، په زړه پورې.

- شندې(غ ۱۷) : ملنډې، ريشخند.

- کاسد (غ ۱۷) : بې رونق، بې رواج.

- پاييدل(غ ۱۸) : تر زياتې مودې پورې پايښت او ژوندی کول، ژوندی پاتې کيدل، اوسيدل، مېشتېدل (تشريحي قاموس).

- ورد (غ ۲۱): ذکر، دعا، د قرآن هغه برخه چې هر ه ورځ او هره شپه يې څوک لولي.

- ويړيا(غ ۲۴) : وړيا، بې بيې.

- کندی کودری (غ ۲٦) کندی: دوړيو بياسته ، دوړيوپړی؛ کودری: کودړی، کودی (تشريحي قاموس).

- لوني (غ ۲٦):شيندي، پاشي،مصدر يې لونل،شيندل، اچول، پاشل دی.

- شرار (غ ۲٦) : د شرجمع، بدکاره، فسادي،

- بـامنِ (غ ٢٦) : بـامبر، پنـډت، بـرهمن د هنـدوانو مـذهبي مشـر (تشريحي قاموس).

- درم : (غ ٢٦) : درهم، ديوې لرغونې يونانۍ سکې نـوم دی، چـې ديوې ټنګې ارزش يې درلود (تشريحي قاموس).

- دينار (غ ٢٦): يوه سکه چې په روميانو، عربـو او عجمـو کـې يـې رواج درلود. په اسلامي شريعت کې دينـار د سـروزرو هغـه مضـروب دی، چـې يومثقال تول ولري. (تشريحي قاموس).

- جاروزه (غ ٢٧) : اصـلي معنـا يـې توبـه کـول، خـو مجـازي يـې: ګرزيدل، ستنېدل (زړه پانګه).

- اننی معکما (غ ٢٧) : په تحقيق چې زه له تا سوسره يم .

- ورژني (غ ٢٩): مصدر يې و رژل دی چې د قيمه کول، وريتـول او سرځول معناوې ځنی مرادېږي (ژبپانګه).

- اِعراب (غ ٢٩): سم بيان؛ فصيحې خبرې کول او هم دحروفو او کلمو حرکاتو، لکه : پيښ، زور او زيره مداوشد په معنی راځی (عميد).

- اسلوب (غ ٣١) : لاره ، روش، طريقه، روش، شيوه (عميد).

- زيريدل (غ ٣١): خوابدی ، غمجنيدل، خپه کيدل.

- سالک (غ ٣١) : پيرو، پارسا، زاهد، د صـوفيانو پـه اصـطلاح هغـه چاته سالک ويل کيږي، چې دپير او مرشد په لارښـوونه خـدای پـه لارکـې سـير وکړي،دنفس دپاکۍ پراوونه اودسيرو سلوک مراتب يې وهلي او تيرکړي وي (عميد).

- مجذوب (ع ٣١) : جذب شوی، عاشق، زړه بايللی (عميد).

- سوا (غ ٣٣) : زيات، علاوه (فيروز اللغات)

- ستی (٣٦) : پاکه ښځه، هغه ميرمن چې له خپل مړه ميړه سره يو

خای خان سیزي؛ د پاربتی لقب (هندی – اردو لغت).

- آزار(غ ۳۸): رنځ ، مرض ، درد (عمید).

-بحاث (غ ۳۹): ډېر بحث کوونکی ؛ کنجکاو (عمید).

-روح القدس(غ ۴۰): پاکه اروا؛ پاک روح (عمید).

- قلنگ (غ ۴۱): مالیه ، باج، کلنگ، د ملنگ نذرانه (تشریحی قاموس).

- داج (غ ۴۱): تیاره ؛ ډېره تیاره شپه (عمید).

- د راج (غ ۴۱) : د زړکي په څېر یو ما رغه دی، چې وزرې یې تور او سپین خالونه لري. غوښه یې خونده وره ده (عمید).

- زجاج (غ ۴۱) : ښیښه (عمید).

- سراج (غ ۴۱) : څراغ (عمید).

- راج (غ ۴۱): ۱- سلطنت، حکومت ۲- اختیار ۳- دربار، شاهی دربار(فیروز اللغات).

- قوج (غ ۴۲): قیچ، قوچ، جنګي ګډ، یوډول مړ چې کاږه او غښتلي ښکرونه لري.

- حرم(غ ۴۲): د کعبې شریفې دننه؛ د کعبې شریفې چارچاپېر (عمید).

- دیر (غ ۴۲): سومعه، هغه خای چې راهبان عبادت پکې کوي (عمید).

- عوج (غ ۴۲): په پخوانیو داستانو کې راغلي دي چې یو لوړ دنګ سړی و، موسی کلیم پرپنډی پرهمساوۍ او مړ یې کړ، څوک چې لوړقد ولري، له هغه سره یې تشبیه کوي (عمید)

-بروج(غ ۴۲) : د برج (میاشت) جمع (عمید).

-لجوج (ج ۴۲): جنګړه، لجباز، په عناداو مخالفت کې سرزوری.

- صبیح (غ ۴۴): ښایسته، پې مخی، د جمال خاوند (عمید).

-فسیح (غ ۴۴) : پراخ ، پراخ ځای (عمید).

- فرسخ (غ ۴۶) : فرسنګ، عربان درې میلوته یو فرسخ وایي.

-برزخ (غ ۴۶) : د دوو ځیزونو په منځ کې حایل، د دنیا او آخرت ترمنځ عالم؛ له مرګه ترقیامته؛ هغه څه چې دوو مخالفو ځیزونو ترمنځ حایل وي.

- تیزل (غ ۴۸): پرې سپریدل، په قاموسونو کې د ځغلول په معنی راغلی دی؛ (زړه پانګه) محبت خان هم په وروستی معنی استعمال کړی دی..

- اشرار(غ ۵۵) : بدان، بدخلک، بدکاران.

- ابرار (غ ۵۵) : نیکان، نیک خلک.

- ستار (غ ۵۵) : د عیبونو پوښوونکی، پرده پوښ، د الله تعالی له صفاتو څخه یو صفت.

- غفار (غ ۵۵) : بخښونکی، دلوی‌ځښتن له صفاتو څخه یو صفت.

- پاړو (غ ۵۶): پاړوګر، هغه سړی چې د ما رانو اوده لري.

- عندلیب (غ ۵۶) : بلبله، بلبل هزارد استان.

- کرخت (غ ۵۸): بې حسه؛ بې شعوره؛ د بدن غړي چې سست وي.

- ساون (غ ۵۹) : دهندی ځلرمې میاشتې نوم (هندی – اردو لغت) د هندوستانی کال څلورمه میاشت،د برسات میاشت (فیروز).

- کوثر(غ ۶۲) : په جنت کې دیوه رود نوم.

-عرعر (غ ۶۲): یوه لوړه اوتنه وره ونه ده، چې لوړوالی یې تر شلو مترو پورې رسیږي.

- رندانه (غ ۶۳): بې باکه؛ بې قیده، د متصوفینوله نظره هغه څوک چې باطن یې له ظاهره پاک او سپیځلی وي.

- تکی (غ ۶۴):په زړه پانګه کې یې دنخښې منځ دایره، معنی ورکښلې ده.

- سفله(غ ٦٤) : پست، تیټ، ناکس او پست فطرت.

- بټپر (غ ٦٩) مړز (زړه پانګه)

-کوډې (غ ٧٠) : جادو.

- کُوټر (غ ٧٠): انګور.

- کال کونډې (غ ٧٠): په زړه پانګه کې د دولت لوانې دیوبیت په استناد دالغت راغلی دی او معنی یې ورته د ستمبول، کچه ختکی کښلې ده. خود محبت خان له بیت څخه ښکاری چې کالکونډی ونه لري او ختکی ونه نه لري، نو ځکه دابه انګوروته ورته وي او دانې به یې ترخې وی.

- خناس (غ ٧١): شیطان، بدکاره ، او شیطان صفته سړی.

- شناس (غ ٧١): = شناز.

- قرطاس (غ ٧٢): کاغذ.

- څربښت(غ ٧٢): چاغوالی؛ څاربه ، څورب، غټ، غوښن (ویږیرمه).

- ا ماس (غ ٧٢) : پړسوب.

-بیت (غ ٧٢): کور.

- بخره (غ ٧٣): برخه .

- دوال (غ ٧٣): دیوال، دیوار.

- څړه (غ ٧٥) : یوازې ، تنها- ګوښی (زړه پانګه).

- کرګس(غ ٧٦) : کجیر، یوغټ الوتونکی مرغه دی، قوی منبو که لري اوغښتلې منګولې لري (تشریحی قاموس).

- فریدون(غ ٧٧): د پیشدادیانو د سلسلې یو پاچا و . (فرهنګ معین).

- کیکاووس(غ ٧٧): د کیانیانو د سلسلې دویم پاچاو (فرهنګ معین).

-فلوس (غ ٧٧): فلس : تورې پیسې، وړې پیسې، فلزی سکه.

- پېرل، پېري(غ ۷۷): = پېرودل = اخيستل .
- چشم خروس(غ ۷۷):کنايه ده سروشرابو ته چې د خُراسانو په رنګ وي.
- عبوس (غ ۷۷): ډير تريووچولی؛ دو چولي ګونځې.
- قمطرير(غ ۷۷): شديد، سخت، ګران.
- معاد(غ ۷۸) : بېرته ګرځېدل؛ بازګشت؛ د بېرته ګرځېد وځای، د آخرت عالم.

معاش (غ ۷۸): ژوند؛ ژوندکول، د ژوند کولو وسيله.

قلاش (غ ۷۸): وړې، تيټ.

مهوش(غ ۷۹): ښايسته، ښکلی، لکه سپوږمی.

- رصاص (غ ۸۰) : سرب ، قلعی.
- غواص (غ ۸۰): او باز؛ هغه څوک چې د صدف او مرغلرو د را ايستو لپاره تر اوبو لاندې ځی.
- استخلاص (غ ۸۰): خوشی کول ،آزادول، خلاصول.
- مرتاض(غ ۸۲): رياضت کښ، هغه څوک چې د نفس د صفايی لپاره رياضت کوي
- اغماض(غ ۸۲) ، سترګی پټول.
- انبساط (غ ۸۲) : پلنيدل، خلاصيدل.
- انقباض (غ ۸۲) : نيولی ، نيولی شوی، نيول.
- سواد (غ ۸۲): تورواليد ضد، په عام ډول د ليک لوست توان درلودل.
- بياض (غ ۸۲): سپينوالی، سپين، په عام ډول دفتر ته هم ويل کيږي.

- بساط(غ۸۲): د او ارو لو هر څيز، لکه فرش، دسترخوان او پراخې زمکې ته هم وايه شي.
- مستحسن(غ ۸۲): نيک، د منلوړ.
- اخلاط (غ ۸۲): سره نغښتی، يوځای شوی. کله وډشوی؛ پخوانو: وينې، بلغم، صفرا او سوداته اخلاط اربعه ويلی.
- محظوظ (غ ۸۵): خوشبخت، بهره مند.
- صهبا(غ ۸۵): سره اوسپين، سره اوسپين سره کله؛ خمر، انګوري شراب چې سره والی ته مايل وي.
- استانه (غ ۸۷) : درګاه ، مجازی معنی يې دربار او بارګاه ده.
- خشوع(غ ۸۸): فرمانبرداری کول، له خواری او زاری چاته داطاعت سر ټيټول.
- خضوع(غ ۸۸): تواضع کول، تواضع.
- متبوع(غ ۸۸) : پيروي شوی.
- ایاغ(غ ۸۹): جام، له ترکی څخه اخيستل شوی دی.
- کلاغ(غ ۸۹): کارغه، کوړاغ.
- اُلاغ (غ ۸۹): خر، له ترکي څخه اخيستل شوی دی.
- ګزاف (غ ۹۰): ډير، بې شمېره، بې حده.
- چنه(غ۹۰) سپر.
- وضيع (غ ۹۱): پست، ټيټ.
- ربيع (غ ۹۱): پسرلی، د پسرلي موسم .
- خريف(غ ۹۱): منی، د مني فصل.
- تاليف (غ ۹۱): په الفت کې سره را وستنه، د دووځيزونو ټو لول او

سره یوځای کول (تشریحی قاموس).

- اِشراق: غ ۹۲): ځلیدل، روښانیدل، د لمر راختل.
- پاسي (غ ۹۲): په هندي کې د : په دارخیژول (پهانسی) او نورې معنا- وې هم لري.
- انا (غ ۹۲): زه (عربی).
- میثاق (غ ۹۲): عهد، پیمان.
- فایق(غ ۹۳): ډېرښه، وچت، اعلی، لوړتیا لرونکی (ظفر).
- سارق (غ ۸۳): غل .
- منجنیق (غ ۹۵): یوه آله ده، چې پخوا به یې په جنګونو کې د اور اویاکاڼو د غوځارولو لپاره کاروله.
- دقیق (غ ۹۵): ګران، سخت، پیچلی، باریکه نکته.
- لولاک (غ ۹۶) که چیرې ته نه وای.
- فتراک (غ ۹۶): هغه تسمه چې د آس د زین شاته یې ځړوي او څه پرې پورې تړي.
- ژواک (غ ۹۶): ژوند ، ژوندون. (ویژیرمه).
- فرحناک(غ ۹۶): ښاد، خوشحال (عمید).
- نرناحقه (غ ۹۸): ناحق ، پرناحقه (ژبپانګه).
- څخو (غ ۱۱۱) لږ اندازه، لږ څه (زړه پانګه).
- حد (غ ۱۱۱) : د مجرم او ګناهکار شرعي مجازاتول، لکه د شرابخور په شلاخو وهل.
- هذب (غ ۱۱۸): شکنجه شوی، په رنځ و عذاب کې.
- ذابح (غ ۱۲۳): حلالوونکی، ستونی غوڅوونکی.

- دواب (غ ۱۲۳): څلوربولي، باروړونکي حيوانات (عميد).
- پريوش (غ ۱۲٦) دپري په څېر، لکه پري، پري مخی، پري پيکره.
- سلاسل (غ ۱۲۹): زنځيرونه، سلسلې.
- بوټ (غ ۱۲۹): په زور را ايستل شوی (وييزيرمه).
- ويسا : محبت خان ورته آخرته (ه) ورکړې ده، د ډاډ او باورمعنی لري.
- اِکسير (غ ۱۳۷): د کيميا ګروپه اصطلاح هغه جوهر چې د جسم ماهيت تغييروي؛ په مجازي معنی هر ګټه ور ځيزته اِکسير وايی؛ د متنصوفينو په اصطلاح د کامل پيرنظر چې د شخص ماهيت تغيير وي.
- چوګان (غ ۱۴۱): هغه لرګی چې توپ پرې وهی، لاستی يې سم او نری وي او سريې پلن او کوږ وي.
- سمور (غ ۱۴۲): د ګيدړې په څير غوښه خوړونکی حيوان دی، پوستکی يې پوست، تورواڼی ته مايل سوروي؛ له پوستکي يې د دستکشو او نورو ژمنيو کالیو د استر لپاره کار اخلي.
- سنجاب (غ ۱۴۲) : له پيشووړوکی تي لرونکی حيوان دی؛ پوستکی يې ګڼ پاسته شينوالي ته متمايل ويښتان لري؛ له پوستکي يې د ژمنيو کالیو د استر لپاره کار اخلي.
- خاتم (غ ۱۴۳): ګوتمی، د ګوتمی غمی.
- غُراب (غ ۱۴۸): کارګه = کارغه، کوړاغ.
- هپه (غ ۱۵۰): په غلوپسې په چيغه وتل (وييزيرمه).
- ايذا (غ ۱۵۹): اذيتول، آزار رسول.
- پيرزال (غ ۱۵۹): زوړ، زياتره د زړو ښځو لپاره راځي.
- آشوب (غ ۱٦۴): فتنه ، شوروغوغا.

- لخت جگر (غ ١٦٤): دځيگر ټوټه.
- هپه (غ ١٦٦): زړه پانګه کې يې (هپه) ته کښلي دي: هغه ډله چې په غلو پسې وتلې وي، خو د محبت خان په غزل کې هپه دا معنی نه لري؛ په ظفر اللغات کې يې هپه د کوښښ په معنی اخيستی دی.
- جپه (غ ١٦٦): ذکر، وظيفه تسبيح ويل، ورد(هندی- اردو لغت).
- پشکال (غ ١٦٦): برشکال د باران موسم .
- برسات (غ ١٦٩):دباران موسم (فيروز) برشارت: د اساړه له ١٥ مې د بهادون د مياشتی تر ١٥ مې (هندی-اردو لغت).
- صهبا(غ ١٦٩): سره او سپين سره ګلوشوي، انګوري شراب چې سره والي ته متمايل وي.
- ماوت (غ ١٧٠): دهند د نيمې وچې ديوې فوکلوري کيسې (ېدماوت) يو قهرمان .
- الست (غ ١٧٣): آيانه يم، دازل ورځ ، هغه زمان چې ابتداً نه لري.
- صفدر(غ ١٧٩): د جنګ په ورځ د دښمن د صف برهموونکی، صف ماتوونکی، زړه ور، جګړن.
- دارالسلام (غ ١٨٠): د سلامتی سرای، جنت، د بغداد او دمشق د ښارونو لقب.
- طلعت (غ ١٨١): رويت ، ديدار.
- هټ (غ ١٨٥): د کان .
- بې وټ (غ ١٨٥): بې غشه.
- زمچ (غ ١٨٦)زمچ : يو ښکاري الوتکی دی چې له بازه کوچنی وي او رنګ يې سور والي ته متمايل وي، ښايي ترمتی سړی زمچ وبولی.

- سهېدل (غ ۱۹۰): تشعشع کول، وړانګې خپرېدل؛ خپرېدل (ژبپانګه).
- عسس (غ ۱۹۷): ساتونکی، ګزمه، د شپې ګرزېدونکی.
- پارسا (غ ۲۰۱): پرهیزګار، زاهد، پاک لمنی.
- رعنا (غ ۲۰۱): خودبینه، ځان جوړونکې بڼځه، نادانه او سسته بڼځه.
- کنډ (غ ۲۰۲): د محبت په دې غزل کې (کنډ) د(قند) خوږو په معنی راغلی دی.
- پنډ (غ ۲۰۲): راټول ، راجمع، راغونډ.
- ارهنډه(غ ۲۰۲): دیوې ونې نوم دی، چې په تودو سیموکې پیداکیږي (تشریحی قاموس).
- څنډ(غ ۲۰۲): محبت خان په خپل غزل کې (سنډ = سو نډ) د څنډ په لیکدود راوړی دی، سونډ زنجیل ته وایه شی او هم سونډ یونبات دی چې لبنتې یې تر دوومترو پورې اوږ دیږي. د افغانستان په شرقی سیمو کې دالبنتې د میزان په میاشت کې ریبي او بیا ددې لبنتو ګیډی د اوبو په ډنډونو کې بڼخوي؛ تر څو ورځو وروسته د سونډ له لبنتو تارونه راباسي او رسی ترې جوړوي .
- فندق (غ ۲۰۵): د بیرې په شان یوه سره میوه او هم د ګوتوسرونه چې په نکریزو سره وي (ظفر).
- سروپای (غ ۲۰۵): خلعت (زړه پانګه)؛ خلعت: ګنډل شوې جامه چې دیوستر شخص له خوا چاته انعام ورکول کیږي (عمید).
- قلاش (۲۰۹): تیټ، پست.
- علم (غ ۲۱۰): رایت، پرچم، بېرغ، نښان، نښانه.

- ترو (غ ۲۱۱): نو (زړه پانګه).
- رجال اللغيب (غ ۲۱۲): ابدال، صالح خلک.
- ناکرده کار (غ ۲۱۳): د محبت خان په بيت کې د نوکار او نابلد معنی ورکوي.
- خلاملا (غ ۲۱۴): صاف، بی ريا، رښتونی. (تشريحی قاموس).
- پاړه (غ ۲۱۶): تشريحی قاموس چې دغه لغت ته کومې معناوې کښلې دي يوه پکی (لويه غلطی) ده، امکان دې ولري چې د محبت په دې غزل کې راغلي (پاړه) دغه معنی وښندي.
- خراړه(غ ۲۱۶): خړرنګې مرغی، سپيره مرغی، سا رايي مرغی.
- هول (غ ۲۱۶): خوف ، ويره، ډار، بيم.
- مښګيرک (غ ۲۱۸): يوښکاري مرغه دی چې مړکان اوخزنده ښکار کوي، مرکبه کلمه ده: (مړ + ګيرک) (زړه پانګه).
- شهباز (غ ۲۱۸): ستر سپين باز، دبازيوډول، چې د قوي مښوکې او پياوړ و پنجالو لرونکی‌وي، پرونه يې زيړ خرمايي يا سپين وي، دالوتونکو د ښکار لپاره روزل کيږي (عميد).
- نوخيزه(غ ۲۱۹): تازه راوتلې، نوې ځوانه؛ تازه نيالګی (عميد).
- سالوس (غ ۲۲۳): مکار، هيله ګر، رياکار، غولوونکی (عميد).
- ناقوس (غ ۲۲۳): ډيرسترزنګ، چې معمولاً په کليسا وو کې وي (عميد).
- لخت دل (غ ۲۲۴): د زړه ټوټه.
- قد عرعر (غ ۲۲۵): عرعر يوه ښايسته او تناوره ونه ده؛ لوړوالی يې ۲۰ مترو ته رسيږي (عميد) قد عرعر د عرعر هسې د لوی قامت لرونکی.

- اوفوبالعهد (غ ۲۲۸): په وعدې وفا کول.
- دلق (غ ۲۲۹): خرقه ، پوستین، د د رویشی جامه.
- ساهو (غ ۲۳۸): آزاد، نړه، سوچه، بادار (وییزبرمه).
- قسط (غ ۲۴۰): ۱- برخه ، حصه ۲- محصول ۳- انصاف ۴- د قرض په ډول څه ورکول (ظفر).
- سخط (غ ۲۴۰) : پرچا خښمېدل.
- نمط (غ ۲۴۰): طریقه، روش ، رویه.
- شط (غ ۲۴۰) : د رود کرانه، لوی رود چې بحرته ورتوییږي.
- مضغه غ ۲۴۱ دغوښی توټه، څه شی چی په خوله کې ژوول کیږي.
- څپیاکه (غ ۲۴۴): (۱) تپی،(۲) دو مبکی (تشریحی قاموس).
- متیاکه (غ ۲۴۴): کلک ، بی ثمره، بی حاصله (زړه پانګه).
- سکه (غ ۲۴۵): ۱- نو، ځکه، ګویا، لکه چې (زړه پانګه) ۲- زیاته تنده(زړه پانګه).
- موزي (۲۴۶): ناراسته، لټ (ظفر اللغات).
- څورب (غ ۲۴۶): چاغ، مزی، غټ (تشریحی قاموس).
- ابلق (غ ۲۴۶): هر دوه رنګه څیز، په ځانګړی ډول تور او سپین ؛ هغه اسپ چې په بدن کې یې سپین ټکي وي.

- څڅ (غ ۲۴۶)؛ کپ ، کف، سپين پوک شی چې کله کله د اوبو د پاسه لیدل کیږي، یا په خاصو مواردو کې دانسان او حیوان تر خولې راوزي (تشریحی قاموس).

- تأمل (غ ۲۴۹): فکر کول، درنګ کول، دقت کول (عمید).

- طهور (غ ۲۴۹): پاکول، هغه څه چې دپاکی سبب کیږي.

- هیږه (غ ۲۵۰): کرته، خله (زړه پانګه).

- نحن اقرب الیه (غ ۲۵۱) : تاسوته نزدې یو.

- نص (غ ۲۵۲): معتبر کلام، صریح او څرګند کلام چې یوازې یوه معنی ځنی استنباط شي (عمید).

- ځبله (غ ۲۶۵): یوتربله، په خپل منځ کې (زړه پانګه).

- شناس = شناز (غ ۲۶۶)؛

- نغرل (غ ۲۶۹) : په سرابی خوړل، زعمل ،د غصی زعمل.

- قالوبلی (غ ۲۷۱): وې ویل بلی. د آدم (ع) سورة ته اشاره.

- ستوه (غ ۲۷۲): ستړی، خسته، نیولی، تنګ شوی (عمید).

- کرخت (غ ۲۷۸): بی حسه، بی شعوره (عمید).

- ترمې ترمې (غ ۲۹۲): خورووړ، دانه وانه (وییزیرمه).

- برقع (غ ۲۹۳): روبند، نقاب، هغه تکه چې ښځې پرې ځپل مخ پټوي (چادری).

- بصل (غ ۳۰۰): پیاز (عمید).

- ریب (غ ۳۰۴): شک، ګمان، تهمت (عمید).

- عبیر (غ ۳۰۴): خوشبویه دارو، له مښکو، کافور مخلوط جوړشوي دارو (عمید).

- پوتي (غ ۳۰۸): لمسی (فیروز اللغات).

- تنبل (غ ۳۰۴): تمبل ، دریه، داریا، چمبه، دریاګی (پښتو تشریحی قاموس).

- رصاص (غ ۳۱۶): قلعی، سرپ (عمید).

- ټکلی (غ ۳۱۹): تبرایستل، ټګی کول، کرکه کښل (وییزیرمه).

- کوثر (غ ۳۳۲): هرډیرشی، ستر او خیرسوونکی سړی او په جنت کې دیو شهرنوم.

- سپیازې (غ ۳۲۵): بې ځایه (تشریحی قاموس).

- څړه (غ ۳۲۷): یوازې، ګوښی، ځانله (وییزیرمه).

- دولاب (غ ۳۲۷): د څاه څرغ، هره هغه آله چې پريو محور وځرخي (عميد).

- چور (غ ۳۳۱): غل، ناسور، پوښلی سوری، هغه سپينوالی چې د نکريزوله ايښوولو وروسته پاتې شی (فيروز).

- سخ (غ ۳۳۲): خوښي ، خوشحالي، نيکمرغي ، بخت (وييزيرمه).

- پهر(غ ۳۳۲): د (پ) په زور، دشپې ورځې اتمه برخه ؛ د (پ) په زير تردې وروسته(فيروز).

- بوټ(غ ۳۳٦): په زور راايستل شوی (وييزيرمه).

- فرهنګ (غ ۳۳۴): علم، پوهه، ښوونه او روزنه، ديوقوم يا ملت علمی او ادبی آثار (عميد).

- دير (غ ۳۳٦): صومعه، هغه ځای چې راهبان پکښې اوسي او په عبادت اخته وي (عميد).

- رفو (غ ۲۴۱): ديوې شليدلې يا سوری شوې جامې يا ټوټې داسې سره ګنډل، چې په آسانی سړی پرې پوهيدلی نشي.

- وحدت(غ ۲۴۱): يګانه ګی، د کثرت ضد، عرفانی اصطلاح ده چې د عرفاوو په فرهنګ کې خپله معنی لری، محبت خان هم دغه اصطلاح په عرفانی معنی راوړی ده.

- کثرت (غ ۲۴۱): ډیروالی، ډیریدل، کثرت هم په عرفان کې خپله معنی لری او محبت خان دغه اصطلاح هم په عرفانی معنی استعمال کړې ده .

- پشو نګړی (غ ۲۴۳): پشنګوړی، د پشي بچی .

- ستانه (غ ۳۴۳):روحانی، بزرګ، د روحانی کورنۍ غړی (تشریحی قاموس).

- قعر (غ ۳۴۴): تل.

- شکر خند (غ ۳۴۷): خوږه خندا، مسیدل، د شوندو لاندې خندا (عمید).

- سهل (غ ۳۵۹): زغم لرل، تحمل کول (زړه پانګه).

- ترهیدل (غ ۳۵۹): ببریدل، ویریدل، ډاریدل، و ار خطاکیدل.

- ختول (غ ۳۶۱): له ختو سره ګډ، خیرن، ناپاک (ژبپانګه).

- زمول(غ ۳۶۱): مړاوی، کمزوری (زړه پانګه).

- فلوس (غ ۳۷۰): د فلس جمع ده او د فلس معنا یې کښلی ده پشیز؛ تورې ایکی، فلزي سکه چې زیاتره په عراق کې رایجه ده.

- مورچی (غ ۳۷۴): مورچه، مورچل، سنگر (ژبپانګه).

- خدنګ (غ۳۷۴): یوه ونه ده چې کلک لرګی لري او له دې لرګي څخه نیزه، غشی او د آس زین جوړوی(عمید).

- وشتې (غ ۳۷۵) ټوکې، مسخرې (زړه پانګه)

- هدهد (غ ۳۴۷): د سلیمان مرغه، خاکی رنګه الوتونکی دی، چې زیړ، تور او سپین خالونه لري؛ له کوترې وړوکی دی (عمید).

- قرقره (غ ۳۷۷): څوښدی ، طره، جیغه ، تاج او هم یو ډول زانه.

- سوره (غ ۳۸۰): د سلارونه: وایی چی په اووم آسمان یا جنت کې د عرش ښي خواته یوه ونه ده.

- هورته (غ ۳۸۰): هلته، هله، آخوا، زیات (ژبپانګه).

- شمشاد (غ ۳۸۲): یوه ونه ده چې ګردې وړې پاڼې لري او تل شنه وي، لرګې یې ډېر کلک وي چې د ظریفو لرګینو څیزونو په جوړولوکې ترې کار اخیستل کیږي.

- صنوبر (غ ۳۸۲): دناجوله کورنۍ څخه یوه ونه ده، چې تل شنه وي؛ زینتی ونه ده؛ لوړوالی یې تر ۳۰ متروپورې رسیږي.

- ګردون (غ ۳۸۳): څرخ، آسمان ته هم ویل کیږي (عمید).

- جاروتل (۳۸٦): توبه کول ، جارایستل، ستنېدل (زړه پانګه).

- نتل (غ ۳۸۷)؛ مهارول، ایلول، زبونول (زړه پانګه).

- ځبله (۴۱۲): یوتربله، په خپلو کې، په خپل منځ کې (زړه پانګه).

- هلاهل (غ ۴۱۳): افسانه یی او موهوم حیوان دی چې وژونکی زهرلری او د انسان وجودته په رسیدو سره سړی مري او یوډول زهري بوټی هم دی چې له ریښې څخه یې د ږدن دانی په اندازه وخوړل شی سړی وژني.

- کُوَر (غ ۴۱۴): انګور .

- خربشوی (۴۱٦): خنزیر، سوډر، سپک، بې آبه .

- عندلیب (غ ۴۱٦):بلبل هزار د استان.

- ذلل (۴۱۷): ضرر، تاوان، تاوان، نقصان.

ام الخبایث (۴۲۰): د مر دار یو اوپلید یومور.

یادونه: ډیروورسته راته ښکاره شوه، چې څولغتونه تکرار راغلي دي.

PROPERTY OF
ACKU
14049

Pashto Poetical works of Nawab Muhabat Khan of Lucknow

Compiled
By
Zalmay Hewadmal

Published
By
Academy of Sciences of Afghanistan

Education press
2005